# پیشگفتار

الله متعال را شکر گذاریم که بعد از یک وقفه‌ی نسبتا طولانی؛ اینک یک بار دیگر ژورنال تحقیقی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی را به نشر می رسانیم، به خصوص که این شماره در بعد کیفی و کمی؛ از شماره های گذشته متفاوت می باشد. مقالات پژوهشی این شماره بیشتر از پیش اند واز گوناگونی موضوعات برخوردار اند و زیر سه دسته بندی کلان قرار گرفته اند:

- افغانستان شناسی
- منطقه و جهان
- فکر و فرهنگ

در شرائطی که پایان دادن به جنگ و برآورده شدن مصالحه و آشتی بین جناح های درگیر؛ ضرورت مبرم داخلی و خواست جامعهء جهانی می باشد، بیشترین مقالات ما روی قضیهء صلح و پیشرفت اقتصادی افغانستان در کنار گسترش همکاری های منطقوی متمرکز می باشد. در کنار این، به مسایل فکری و فرهنگی نیز پرداخته شده است، زیرا کشمکش های فکری یکی از گفتمان های مطرح در جامعهء ما بوده و پرداختن به آن، به شکل علمی و اکادیمیک و به دور از افراط و تفریط، یکی از نیاز های مرحلهء انتقالی ای می باشد که جامعهء ما در حال گذار از آن است.

هدف وجودی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی؛ ارزیابی و توسعه‌ءی پالیسی ها از طریق گفتگوهای سازنده و پژوهش های دقیق و بی طرفانه می باشد. مرکز در پی آنست تا با ارائه ی پژوهش های علمی و طرح های استراتیژیک پیرامون افغانستان و منطقه، برای بلند بردن سطح دانش و معرفت و توانایی های عرصهء تفکیر استراتیژیک در کشور، عمل نماید.

امیدواریم که مقالات این شماره در سطح ارزیابی پالیسی ها و تصحیح آن در داخل و خارج کشور مورد استفادهء مراجع پالیسی ساز، مسئولین و جهات ذی ربط قرار گیرد. در کشوریکه کار پژوهش و ارزیابی پالیسی ها و ارائهء طرح های علمی به دور از سیاست بازی ها و مصلحت اندیشی ها؛ هنوز امری نا آشنا و نا مانوس می باشد، جا دارد که ازین دستاورد علمی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی قدردانی صورت گرفته و از آن استفادهء بجا صورت گیرد.

جا دارد که از سوی خود اصالتاً و از جانب مرکز مطالعات وکالتاً صمیمانه سپاس نماییم از تمام شخصیت های اکادیمیک ایکه لطف نمودند و مقالات تحقیقی شانرا در دسترس ما قرار دادند، آنهم در حالیکه مرکز مطالعات در بدل مقالات تحقیقی و نوشته های نویسندگان هیچگونه مزدی نمی پردازد. از اعتماد تمام دوستانیکه لطف نموده تحلیل را بخاطر نشر مقالات ارزندهء شان برگزیدند، سپاس نموده آرزومندم که چاپ این مجموعه، گام مخلصانه‌ای در راه آرامش و آبادی وطن به حساب آید.

همچنان، جادارد که از محترم احمد بلال خلیل؛ محقق ارشد مرکز و مدیر تحریر ژورنال تحلیل صمیمانه اظهار سپاس نمایم که تلاش شباروزی ونو آوری های شان، زمینه آنرا فراهم کرد که ژورنال تحلیل با همه کاستی هایش، با این پیرایه‌ی دیدنی و کیفیت بالا به دسترس خواننده‌ی گرامی میرسد.

ما از صمیم قلب سپاسگذار خواهیم بود اگر اهل پژوهش و خوانندگان محترم، ضمن مطالعهء مقالات، مارا متوجه کاستی هایی سازند که از توجه ما به دور مانده است. همچنان، امیدواریم خوانندگان گران قدر، انتقادات سازنده و نظریات صائب شانرا بخاطر بهبود ژورنال در آینده با ما شریک سازند.

و من الله التوفیق

**نصیر احمد نویدی**

رئیس مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

# سریزه

په نړېواله کچه د امریکا د مخ پر کمېدونکي ځواک له کبله د نړېوال نظم او نړېوالې حکومتولۍ جوړښتونه دا ځل له تاریخ څخه په فهم د کوم بل راپورته کېدونکي زبرځواک له خوا نه ننګول کېږي، بلکې دا ځل د لېوالتیا ځای دی، چې دمګړۍ د لوېدیځ په لاسونو جوړ شوی نړېوال نظم او د حکومتولۍ جوړښتونه په خپله د دوی – [لوېدیځ] په تېره بیا د امریکا – له خوا تر ګواښ لاندې دي. د امریکا متحده ایالات چې له تېرو څو لسیزو راهیسې د نړېوالتوب او آزادې سوداګرۍ مشال پورته نیولی و، نن یې دغه مشال په خپله غورځولی دی، او چین چې له تېرو دوو لسیزو راهیسې له دې وضعیت څخه ډېره ګټه پورته کړې او د یو راپورته کېدونکي ځواک په نامه یادېږي، نن د کاپیتالیستي نړۍ د سرلاري شعارونه په سوسیالیستي ژبه زمزمه کوي، او ځان د خپل ولسمشر [شي جین پېنګ] په ژبه د دغې نړۍ ژغورونکی او اتل بولي.

له همدې ځایه ویل کېږي چې د یوویشتمې پېړۍ دویمه لسیزه د شلمې پېړۍ او ان په خپله د دغې روانې پېړۍ د لومړۍ لسیزې په پرتله ډېر تفاوت لري. په روانه پېړۍ کې د ځواک انډول د بدلون په حال کې دی. په دې پېړۍ کې د ځواک انډول له لوېدیځه ختیځ ته روان دی او له همدې کبله دغه پېړۍ د ځواک د انتقال یا لېږد په نامه هم یادېږي. دغه راز زموږه نړۍ نوره امریکایي نړۍ نه ده پاتې او نه هم نور نړېوال نظم یو قطبي پاتې دی. نړۍ اوس د "امریکایي پېړۍ" پرځای د "آسیایانو د پېړۍ" پر لور روانه ده او یو قطبي نظام پر دوه قطبي او څو قطبي نظام بدلون موندلی دی.

دغه راز «لوېدیځ» هم نور «لوېدیځ» نه دی پاتې. هغه لوېدیځ چې په پېل کې د جغرافیې نوم و، وروسته یې د یو کلتور بڼه خپله کړه او په سړه جګړه کې بیا پر یوې سیاسي آېډیالوژۍ بدله شوه، اوس نوره یوه نه ده پاتې. په امریکا کې د ټرمپ له ولسمشرېدو راهیسې، د امریکا او اروپایي ټولنې اړیکې او د اروپایي ټولنې اړیکې بیا د امریکا متحده ایالاتو له رقیبانو – ایران او چین – سره دغه فرضیه نوره هم نږدې ثابته کړې، چې «لوېدیځ» هم نور د «یو لوېدیځ» په توګه د ماتېدو پر ګړنګ ولاړ دی.

د دې ترڅنګ، د یوویشتمې پېړۍ په روانه دویمه لسیزه کې، په نړېواله کچه د پاپولېزم عروج او یو پر بل پسې د پاپولیستي اجنډاوو تر نامه لاندې په یو شمېر هېوادونو کې د مشرانو ټاکل کېدل، د نشنلېزم بیا ژوندي کېدل، له نړېوالتوب یا ګلوبلایزېشن څخه د آزادې نړۍ شعار ورکوونکو تېښته [له اروپایي ټولنې څخه د

انگلستان وتنه، او همدغه راز له یو شمېر ترونونو څخه د امریکا وتل]، زیاتېدونکې کډوالي، د تروریزم او د تروریزم پر وړاندې د جګړو د ماهیت بدلون (په تېره بیا lone wolf بریدونه او Hybrid جګړې)، د چاپېریالي ګوابنونو زیاتېدل، په افریقا کې د «ایبولا» مرض پراختیا، او د نړۍ په یو شمېر سیمو کې د روانو کړکېچونو او بحرانونو پای ته نه رسېدل – لکه فلسطین، افغانستان، سوریه، یمن او کشمیر – تېره او روانه لسیزه نه یوازې له بې ثباتۍ سره مخ کړې، بلکې د دې پېړۍ پر درېیمه لسیزه به هم ژورې اغېزې وکړي.

زموږ سیمه او افغانستان به هم د دې بدلېدونکي نړېوال نظام له اغېزو څخه پاک نه وي. دغه تاثیرات به زموږ په سیمه کې د نورو سیمو په پرتله زیات وي. ځکه موږ د نړۍ د راپورته کېدونکي ځواک (Rising Power)چین ګاونډي یو؛ له هغې روسیې سره په یوه سیمه کې پراته یو، چې په تېره یوه لسیزه کې یې عملاً د امریکا یو قطبي نظام ننګولی دی، دا یې که په ختیځه اروپا کې د ځواک ښودنه وي [په اوکراین او ګرجستان کې] او که په منځني ختیځ کې له خپلو متحدینو ملاتړ [د سوریې له بشار الاسد او ایران څخه ملاتړ]؛ له هغو دوو اتومي ځواک لرونکو هېوادونو – پاکستان او هند – په ګاونډ کې واقع یو، چې له ۱۹۴۷ز کال راهیسې په خپلو منځونو کې کړکېچنې اړیکې لري او په افغانستان کې د دوی ترمنځ رقابت او ان په اصطلاح نیابتي جګړو د دغه هېواد پر امنیت او سولې ژورې اغېزې کړې دي. د دې ترڅنګ اوسمهال زموږ په سیمه کې د امریکا او چین په مشرۍ د سیمې پر دوو بلاکونو وېشنه – د امریکا، هند، جنوبي کوریا او جاپان بلاک او د چین، روسیې، پاکستان او ایران بلاک – د چین د ورېښمو لاره، د چین په ختیځ سویل سمندرګي کې زیاتېدونکي اختلافات، د چین-پاکستان اقتصادي حوزه، له امریکا سره د ایران زیاتېدونکی کړکېچ یو څو هغه بېلګې دي، چې په راتلونکي کې به زموږ پر هېواد یا بدې او یا هم ښې اغېزې وکړي.

له دې واراخوا، په افغانستان کې د ناامنېو زیاتېدنه، د جګړو ماهیت بدلېدل [په ښارونو کې پراخېدونکې جګړې او شمالي ولایتونو ته د جګړو او ډلو – په تېره بیا د دولت اسلامي یا داعش ډلې – انتقال]، د سولې پروسې پېچلي کېدل، د داخلي منابعو کمبود او پر بهرنېو مرستو د هېواد تکیه، د قوي رهبرۍ تشه، د پراخو ملي سیاسي ډلو او ټولمنلیو مشرانو نه شتون، او د افغانستان د سولې پر پروسې او امنیت د سیمه‌ییزو هېوادونو د خپل منځیو اړیکو اغېزې یو له هغو څو مواردو دي، چې افغانستان به یې له کبله ونه شي کولای په دې اوسنېو او راتلونکو سیاسي جغرافیاوي لوبو کې روانه لوبه په خپله ګټه روانه کړي.

په داسې یو مهال کې، چې د سیمه‌ییزو او نړېوالو سیاستونو جغرافیه او لوري د بدلېدلو پر لور روان دي، افغانستان لا خپلو ناامنیو او بې ثباتیو ته کومه حل‌لاره نه ده موندلې او نه یې هم په سیاسي، اقتصادي،

حکومتولي او امنیتي برخو کې پراخې او شته ننګونې له منځه وړي؛ دغه حالت د تینک ټانکونو یعنې د فکر مرکزونو او څېړنیزو مرکزونو ارزښت زیاتوي، بلکې داسې وضعیت له دوی دا تقاضا هم کوي، چې د خپلو سپارښتنو او غوره حل‌لارو له لارې له پالیسۍ جوړوونکو سره مرستندوی واقع شي.

له بده مرغه په افغانستان کې تر ډېره پرېکړې یوازې د بندو دروازو تر شا کېږي. د خلکو مشارکت او مشورې پکې ډېر کم ځای لري او په دغو کې د ستراتېژیکو مرکزونو ونډه هم له نشت سره برابره وي. د پرېکړو په بهیر کې د ستراتېژیکو مرکزونو صفر ونډه په عمده توګه د دوو لاملونو له کبله ده: لومړی، په اکاډمیکو مرکزونو کې د تصمیم نیوونکو کمه لېوالتیا. دویم؛ په خپله د اکاډمیکو او ستراتېژیکو مرکزونو د نشراتو او خپرونو ضعف او نیمګړتیاوې.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز هم له همدې ځایه دا هڅه کوي، چې له یوې خوا د اکاډمیکو، فکر مرکزونو او د پرېکړو نیوونکو ترمنځ دغه واټن راکم کړي او له بلې خوا د دغو مرکزونو نشرات، تحلیلونه او سپارښتنې د معیاري کېدو او پیاوړي کېدو پر لور بوځي، څو پرېکړه نیوونکي او پر پرېکړو اغېزه لرونکي ترې ګټه واخلي. په همدې تړاو دغه شپږ میاشتینی ژورنال یا مجله د مرکز د هڅو یوه بېلګه ده.

په مجموعي توګه د تحلیل ژورنال په اوسنۍ ګڼه کې له بهرني سیاست څخه نیولې تر اقتصادي نښلون، سیمه‌ییزو اړیکو، ښاري پراختیا، سولې، امنیت او اسلامېزم یا اسلامپالنې تر موضوعاتو پورې لیکنې/مقالې راغلي دي. خو په مشخصه توګه دا ژورنال درې برخې لري:

په لومړۍ برخه کې د افغانستان‌پېژندنې په تړاو موضوعات راغلي، چې د هېواد د سیاسي، اقتصادي، او اجتماعي برخو په تړاو پکې د څېړونکو او متخصصینو مقالې خپرې شوي دي. دویمه برخه بیا سیمې، او سیمه‌ییزو او نړېوالو قضیو ته ځانګړې شوې، چې په دې برخه کې هم، هغه مقالې خپرې شوي، چې ارزښت یې تر ټولو ډېر او پر افغانستان یې اغېزې جوتې وي. په وروستۍ برخه کې فکري بحثونه شوي، چې په دې کې بیا د اسلامي ثقافت مضمون، د سیاسي اسلام د ناکامۍ او د منځلاري اسلام په تړاو بحثونه شامل دي.

په پای کې موږ له ټولو هغو لیکوالانو او څېړونکو د زړه له کومې مننه کوو، چې د تحلیل ژورنال اوسنۍ ګڼه یې په خپلو ارزښتناکو لیکنو ونازوله، او وخت ناوخت یې زموږ پوښتنو کروېږنو ته په سړه سینه ځوابونه وویل. دغه راز هیله لرو، چې دوی به له تحلیل ژورنال سره خپله قلمي همکاري تلپاتې وساتي او داسې به د هېواد په دولت-جوړونه کې مرستندویه واقع شي.

د دې ترڅنګ، د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز پټېيلې، چې د تحليل ژورنال راتلونکې ګڼه د خپلواکۍ د بېرته اخيستلو سلمې کاليزې ته ځانګړې کړي. له همدې ځايه موږ د ټولو هغو اکاډميکو، څېړونکو او متخصصينو څېړنيزو مقالو ته سترګې په لاره يو، چې په دې درېيو برخو – افغانستان پېژندنه، سيمه او نړۍ، فکري بحثونه – کې مقالې ليکي او ترڅنګ يې د کتابونو مخکتنې هم ترسره کوي. که څه هم موږ په دې ګڼه کې ونه شواى کولاى، چې د کتابونو مخکتنې وکړو خو په راروانو ګڼو کې د څېړونکو او تحليلګرانو له داسې ليکنو هرکلی کوو. موږ به د تحليل ژورنال په راتلونکې ځانګړې ګڼه کې د پورته درېيوو برخو په ګډون د لاندې مشخصو موضوعاتو په تړاو د څېړونکو له مقالو هرکلی وکړو، چې د ۱۹۱۹-۲۰۱۹ دورې په تړاو وي:

- امنيت او سوله؛
- د افغانستان تاريخ؛
- د افغانستان اقتصاد؛ سيمه‌ييز نښلون؛ ترانزيټ او سوداګري؛ او حکومتولي...
- د افغانستان سياسي ډلې؛ يا بېلابېل نظامونه لکه اسلامپالي، ديموکراسي، کمونيزم؛
- د افغانستان بهرنۍ سياست؛ له بهرنۍ نړۍ – په تېره بيا له سيمه‌ييزو او اسلامي نړۍ – سره اړيکې؛
- افغان-انګليس درېيمه جګړه؛ افغان-شوروي جګړه؛ افغان-امريکا جګړه؛
- کلتور او ټولنه؛ کډوالي؛
- ادبيات او رسنۍ؛
- نړېوال قانون او نور....

موږ هيله لرو، چې د تحليل دغه ژورنال به د هېواد په علمي ډګر کې تشې ډکې، د لوستونکو تنده ماته، د دولت-جوړونې په بهير او په اوسني بد وضعيت کې د ستونزو د اواري او حل‌لارو په موندلو کې مرستندوى واقع شي.

په درناوي

**احمد بلال خليل**

د تحليل ژورنال مسؤل مدير

# سیمه او نړۍ

# د سیمې جیوپولیټیک وضعیت او د چین – افغانستان اړیکې

**عبدالکریم خُرم**[1]

[**یادښت:** دغه لیکنه د هغې وینا پوره متن دی چې د عبدالکریم خُرم لخوا د ستراتېژیکو او سیمه‌یيزو څېړنو مرکز په هغه کنفرانس کې واورول شوه چې په انترکانتیننتل هوتل کې د چین او افغانستان پر اړیکو جوړ شوی و. د یادولو وړ ده، چې په دغه سیمینار کې د ستراتیژیکو او سیمه‌یيزو څېړنو مرکز له‌خوا د افغانستان او چین پر دوه اړخیزو اړیکو کتاب هم خپور شو. اداره]

## مقدمه

په نوي یمه لسیزه کې کله چې ما په فرانسه کې تحصیل کاوه چین د زیاترو سیاسي، اقتصادي او جیوپولیټیک بحثونو او څېړنو موضوع وه. له هغو بحثونو مې دوې جملې په ذهن کې پاتې دي، چې یوه یې دا وه: «کله چې چین ویښ شي، دنیا به ولړزوي»[2] او بله دا چې «څه خوند به وکړي چې موږ دوو میلیاردو تخرګونو ته عطر تولید کړو».

دغه دوې جملې د چین په اړه د غرب امید او اندېښنې بیانوي. که څه هم چې اروپا په دې برخه کې له امریکا متفاوته ده؛ خو بیا هم دغه جملې په کُلي توګه غربي ذهن د چین په هکله بیانولی شي، یعنې ګټې ته یې تمه او له زوره یې وېره.

غربي نړۍ له هغه وخته، چې له چین سره یې رابطه پیدا شوې، لومړنی فکر یې دا و چې له دغه لوی بازار څخه حد اکثر ګټه اوچته کړي. خو که چین د دنیا بازار ته خپل توکي صادروي او یا هم په یو ستر قدرت بدلېدلو سره د بین المللي روابطو په اصولو کې تغییر راولي یا د قدرت موازنه تغییروي دا یې بیا خوښ نه دي.

---

[1] عبدالکریم خُرم د پخواني ولسمشر حامد کرزي په لومړۍ دوره کې د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر او وروسته د پخواني ولسمشر حامد کرزي په دویمه دوره کې د دفتر رییس هم پاتې شوی دی. ښاغلی خُرم له تېرو څو لسیزو راهیسې د سیمه‌ییزو هېوادونو سیاستونه څاري، او په دې تړاو یې خپلې لیکنې د وطن پخوانۍ مجلې په ګډون په بېلابېلو خپرونو کې نشر کړي.
[2] د نړېوالو اړیکو او تاریخ په کتابونو کې دغه جمله د فرانسې مشهور فاتح ناپیلیون ته منسوبېږي.

زه د چین متخصص نه یم، خو له چین سره علاقه لرم. ځکه چین زموږ ګاونډی دی، موږ ته یې تر اوسه زیان نه دی رسولی، د نړۍ ستر قدرت دی، څه په سیاسي او څه په اقتصادي برخه کې.

د چین او افغانستان د اړیکو څېړل ایجابوي، چې لومړی د سیمې نننی جیوپولیتیک حالت وڅېړل شي. همدارنګه دا ممکنه نه ده چې د چین او افغانستان اړیکې مطالعه شي پرته له دې چې لومړی د چین او امریکا او چین او پاکستان اړیکو ته یوه کتنه وشي. دا په دې علت چې امریکا په افغانستان کې اوږدې لري او نظامي او سیاسي حضور یې ډېر پراخ دی. که په لنډو ټکو کې وویل شي، نن امریکا د افغانستان پر هر څه حاکمه ده. له بلې خوا پاکستان د افغانستان په مسایلو کې حد اقل له څلوېښتو کلونو راپدېخوا مستقیماً دخیل دی او لاس پکې لري او همدا هېواد په سیمه کې د چین ډېر نږدې ملګری او شریک هم دی.

## په سیمه کې نوی جیوپولیټیک وضعیت

ــ د سړې جګړې پای د نړۍ په جیوپولیټیک وضعیت کې د یوې نوې دورې پیل و.

د شوروي اتحاد له ړنګېدو دمخه یعنې د سړې جګړې تر پای ته رسېدو دمخه د نړۍ د سیاست مرکز اروپا وه. ټولې نړیوالې سیاسي لوبې پر اروپا متمرکزې وې.

رنسانس اروپا راوینبه کړه. صنعتي انقلاب د اروپا د هژمونتیا د وسایل برابر کړل. د څو پېړیو په جریان کې د نړۍ سیاست ته، د بین المللي روابطو اصولو ته، د نړۍ تجارت ته اروپا شکل ورکاوه. دوې نړیوالې جګړې چې په شلمه پېړۍ کې پېښې شوې، په اصل کې اروپایي جګړې وې. د سړې جګړې سرلاري که څه هم امریکا او شوروي اتحاد وو؛ خو د دواړو موضوع اروپا وه.

د سړې جګړې پای د نړۍ په جیوپولیتیک وضعیت کې د تغییر نقطه وه. له دې وروسته په طبیعي توګه توجه او لوبه د نړۍ پر یوې بلې برخې متمرکزه شوه، چې هغه آسیا او په آسیا کې بیا د منځني ختیځ، منځنۍ آسیا، د هند سمندر، د بنګال خلیج؛ په خلاصه توګه د هند او د چین سیمې دي.

هند او چین د نړۍ تر ټولو لوی نفوس لرونکي هېوادونه دي. د دغو هېوادونو هم نفوس وده کوي او هم اقتصاد. په دغو دواړو هېوادونو کې متوسطه طبقه په چټکتیا د ودې په حال کې ده. کله چې په یو هېواد کې متوسطه طبقه وده کوي، معنی یې دا ده، چې مصرف پکې زیاتېږي او د مصرف زیاتېدل په خپل وار د اقتصاد د ودې باعث ګرځي. اقتصادي وده د انرژي منابعو ته ضرورت لري. په دې توګه د هند او چین اقتصادي رشد په کلکه په تېلو، ګاز او تر یو حده په سکرو پورې تړلی دی.

د یوې څېړنې له مخې د چین د تېلو تقاضا له ۱۹۹۵ څخه تر ۲۰۰۵ پورې یعنې یوازې په لسو کلونو کې دوه برابره شوه او داسې پتېیل کېږي چې په راتلونکو لسو او شلو کلونو کې به دوه برابره زیاته شي. چین همدا اوس په روزانه توګه ۷،۳ میلیون بېرله خام تېل واردوي. د چین د تېلو د وارداتو تر نیمايي زیاته برخه له منځنی ختیځ نه د هند بحر او بیا د «ملکا تنګي» څخه په تېرېدو واردېږي.

همدا اوس د نړۍ ٪۷۰ تېل له منځني ختیځ څخه د آرام سمندر پر لور لېږدول کېږي. د څېړنو پر اساس هغه ٪۵۰ زیاتوالی چې په نړۍ کې به د انرژي د مصرف په برخه کې تر ۲۰۳۰ پورې منځته راشي، نیمایي یې یوازې په چین او هند پورې اړه لري.

چین په دې لټه کې دی، چې د تېلو او ګازو په واردولو کې له بحري لارو پرته نورې بدیلې لارې هم پیدا کړي. دغه لارې به عمدتاً له مرکزي آسیا او د پاکستان له طریقه د تېلو او ګازو واردولو لارې وي. د پایپ لاینونو او په ځینو مواردو کې د رېل ګاډي په واسطه. په هغه سیمه کې چې له منځنۍ آسیا نه تر جنوبي آسیا پورې عموداً او د چین له غربي څنډې تر مدیترانې پورې افقاً پرته ده د پایپ لاینونو زیاتې پروژې د کاغذ پر مخ موجودې دي چې ځینې یې عملي شوې هم دي.

د پنتاګون د یوې څېړنې پر اساس همدا اوس چین هره ورځ له قزاقستان څخه د پایپ لاین په واسطه څلورسوه زره بېرله تېل واردوي. همدارنګه له روسیې څخه د چین ان شرقي ساحل ته هره ورځ د پایپ لاین په واسطه درې سوه زره بېرله تېل رسول کېږي، چې پر دوه برابره کولو یې کار روان دی.

د قزاقستان او چین ترمنځ د ګاز پر پایپ لاین کار روان دی، چې هر کال به لس میلیارد متر مکعب ګاز له قزاقستان څخه چین ته انتقال کړي.

له ترکمنستان څخه همدا اوس د پایپ لاین په واسطه هر کال څلوېښت میلیارده متر مکعب ګاز صادرېږي.

دې ته ورته پروژې ډېرې دي. ځینې ترسره شوي او ځینې تر کار لاندې دي. همدارنګه چین د پاکستان د ګوادر بندر په جوړولو کې سرمایه ګذاري وکړه. له دغه بندر څخه به د چین تر کاشغره پورې پایپ لاینونه، سړکونه او د رېل ګاډي پټلۍ اعمار شي. چین د ګوادر – کاشغر پر اقتصادي دهلېز یا پر CPEC ۵۷ میلیارد ډالره پانګونه کوي. ګوادر بندر به د چین لاسرسی عرب سمندرګي ته آسانه او لاره به یې لنډه کړي. په دې توګه به د هند د سمندر لارې ته چې له ګواښونو ډکه ده یو بل بدیل هم پیدا شي.

چین پوهېږي، چې په ۱٦مې پېړۍ کې چې کله د ملکا تنگی پرې وتړل شو؛ څه زیانونه یې وگالل. دا وېره نن هم له چین سره موجوده ده، نو د گوادر لار او د منځنۍ آسیا لارې د چین لپاره حیاتي اهمیت لري.

که خبره راټوله کړو، په هغه سیمه کې چې له سړې جگړې راوروسته دوره کې د دنیا سیاسي لوبه پکې روانه ده، د شرق خوا ته یې چین پروت دی او د غرب خوا ته یې د منځني ختیځ مسلمان هېوادونه.

چین د نړۍ دوهم اقتصاد او په چټکۍ پرمخ روان دی، نو د انرژي یعنې د تېلو او گازو ضرورت یې ورځ تر بلې اضافه کېږي او منځنی ختیځ د نړۍ د انرژي یعنې د تېلو او د گازو د تولید تر ټولو لوی مرکز دی. همدا د ودې او ځواکمن کېدو پوتانسیل دی، چې دغه سیمه یې د نړېوال سیاست د تمرکز په جغرافیه بدله کړې ده.

## د تمدنونو د ټکر نظریه او زموږ د سیمې جیوپولیټیک وضعیت

ساموئېل هانتینگتون په ۱۹۹۳ کې «د تمدنونو د ټکر» په هکله یوه تحقیقي مقاله ولیکله، چې بیا یې په کتاب واړوله. هانتینگتون د هاروارد پوهنتون استاد، د فارن پالیسي نشریې مؤسس و، او د جیمي کارتر په حکومت کې یې د ملي امنیت په شورا کې د متخصص او کارپوه په حیث کار کاوه. دی وایي شلمه پېړۍ د ایډیولوژیو د ټکر پېړۍ وه یعنې کمونیزم، نشنلیزم او لیبراله دیموکراسي؛ خو دغه جگړه د سړې جگړې له پای سره ختمه شوه. بله دوره به د تمدنونو د ټکر دوره وي. یعنې جگړې به د مختلفو تمدنونو ترمنځ ونښلي. دی په نړۍ کې اته تمدنونه په گوته کوي، په هغو کې غربي تمدن چې لوېدیځه اروپا او شمالي امریکا په بر کې نیسي، کنفوسیوسي تمدن چې له چین څخه عبارت دی او اسلامي تمدن چې ټول مسلمان هېوادونه سره راغونډوي.

هانتینگتون غربي تمدن ته چې پر نړۍ حاکم دی تر ټولو لوی گواښ د اسلامي تمدن او د چین تمدن گڼي. په تمدني جگړه کې د ماتې خوړلي تمدن نه یوازې برلاسي، اقتصادي ځواک او نظامي قوت مضمحل کېږي بلکې ټول ارزښتونه او فرهنگ یې هم له گواښ او له منځه تلو سره مخامخ کېږي.

د نوموړي په نظر که اسلامي تمدن او د چین تمدن سره لاسونه ورکړي غربي تمدن ته د فاجعې حیثیت پیدا کوي. دی د دغو دواړو تمدنونو د همکارۍ نښې هم بیانوي مثلاً وایي (د مقالې د لیکلو په وخت کې) چین په نظامي برخه کې عراق، لیبیا، الجزایر او ایران سمبال کړي. شمالي کوریا، سوریې او ایران ته یې مرسته کړې. د دغه گواښ په مقابل کې هانتینگتون د غربي تمدن په چوکاټ کې د اروپا او امریکا د نږدېوالي غوښتنه کوي او د همکاریو د پراخېدو سپارښتنه یې کوي، او دغه همکاري ختیځې اروپا او لاتینې امریکا ته غځول ضروري بولي.

هغه سیمه چې پاس مې ورته اشاره وکړه او د سړې جګړې را وروسته مې د نړۍ د سیاسي تعاملاتو مرکز وباله پخپله شرقي څنډه کې چین لري او په غربي څنډه کې منځنی ختیځ، یعنې د عربي او مسلمانو هېوادونو مجموعه.

افغانستان، د دغې سیمې او د دغو دوو قطبونو په منځ کې واقع دی. د دغې سیمې په غربي اړخ کې د افریقا له شاخه چې له یمن، عراق، لیبیا، سوریه، افغانستان، پاکستان پورې پرته ده د سړې جګړې تر ختمېدو وروسته القاعده وزېږېده. دغه سیمه د خپلمنځیو جګړو سیمه شوه، مسلمانان یو له بل سره په جنګ واوښتل. د سپتمبر د ۱۱مې تر پېښې وروسته د دنیا دې برخې ته د امریکا پښه را داخله شوه، لومړی افغانستان او بیا عراق کې امریکا مداخله وکړه.

وروسته د عرب پسرلي وضعیت لا نور کړکېچن کړ. منځنی ختیځ او عربي نړۍ په داخلي جنګ کې د اضمحلال او ویجاړۍ تر سرحده ورسېدل.

وروستۍ مرحله د داعش راپیدا کېدل وو. په منځني ختیځ کې داعش موجود بحران او بې ثباتي نور هم عمیق کړل. دا د مسلمانانو د انحطاط دوره بللی شو.

زما نتیجه ګیري دا ده چې له یوې خوا د اسلامي تمدن او کنفوسیوسي تمدن د همکارۍ مخه ونیول شوه، چین ته د انرژۍ د اکمالولو اصلي مرکز په جګړو او بې ثباتیو کې ښکېل شو. له بلې خوا چین ته د انرژي د رسولو بحري او ځمکنۍ لارې په بحراني او بې ثباته هېوادونو کې راوستل شوې.

په افغانستان کې طالبان او القاعده باعث شول، چې د امریکا پښه دلته را داخله شي. له ۲۰۰۱ وروسته لنډه آرامي راغله. خو ژر بیا جګړو زور واخیست. د جګړو شدت باعث شو چې امریکا خپل نظامي حضور دلته لا قوي کړي او د اډو په جوړولو لاس پورې کړي.

دلته پر هغو اتحادونو بحث نه کوم، چې امریکا په ختیځه برخه کې د چین پر وړاندې جوړ کړي چې مهم هېوادونه یې استرالیا، جاپان او هند دي؛ ځکه چې دا مو د بحث موضوع نه ده. له دغو هېوادونو صرف فیلیپین اوس له امریکا فاصله نیولې او چین ته نږدې شوی. دغه اتحادونه ټول د چین د اکمالاتو، د وارداتو او صادراتو بحري لارې ګوابني.

که څه هم چې د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو پخوانی وزیر «هنري کېسنجر» وایي د سړې جګړې د ایسار کولو یا محاصره کولو نظریه کومه چې د شوروي اتحاد په ضد عملي شوه نن ورځ له چین سره د کارولو

نه ده. دی وايي د شوروي اتحاد اقتصاد ضعيف و، د غربي هېوادونو له اقتصاد سره تړلی نه و، د شوروي اتحاد زور فقط نظامي زور و. نو د شوروي محاصره کولو او ايسار کولو پر نړېوال اقتصاد اغېزه نه کوله.

حال دا چې نن ورځ د چين اقتصاد د نړېوال اقتصاد يو ديناميک فکتور دی او چين د غربي نړۍ او د امريکا د متحده ايالاتو قوي تجارتي شريک ګڼل کېږي. کېسنجر زياتوي د چين او امريکا ترمنځ دوامداره شخړه او کړکېچ به نړېوال اقتصاد او د دنيا ډېرو هېوادونو ته نه جبرانېدونکي تاوانونه ور واړوي. خو کسينجر په عين وخت کې تاکيد کوي چې د جنوب ختيزې آسيا هېوادونه او د چين ګاونډيان په سيمه کې د امريکا د حضور غوښتونکي دي او دا د خپل استقلال لپاره يوه «ګرنټي» بولي. کسينجر همدا راز د چين د پوځي لګښتونو او د نظامي قوت د پياوړي کېدو په هکله تشويش ښکاره کوي او څرګندوي چې امريکا غواړي د دغه تقويت کولو په موخه او په کچه پوه شي.

کېسنجر وايي فعلي نړېوال نظام عمدتاً د چين له شراکت او مداخلې پرته جوړ شوی دی. په همدې علت چين کله ناکله ځان دغه نظام ته ژمن نه احساسوي، کله چې د دغه نظام ځينې اصول د چين په ګټه نه وي له هېوادونو سره په معاملو کې د الترناتيف اصولو په وضع کولو لاس پورې کوي، لکه له برازيل او جاپان سره يې چې د پيسو د جدا چينلونو د جوړولو اقدام وکړ. نو که دغه کار په مختلفو برخو کې تکراراً عملي شي نتيجه به يې د يو بل نړېوال نظام چې ځانته به خپل اصول ولري د منځته راتلو باعث وګرځي. او دقيقاً دا د امريکا هماغه اساسي اندېښنه ده چې د ساموئېل هانتينګتون نظريې ته هم ورګرځي. ځکه غربي نړۍ وېرېږي هسې نه چې يو بل تمدن پخپل پيشرفت سره موجود غرب محوره نظام ته بديل نظام جوړ کړي چې په دې کې به اصلي قرباني د امريکا نړېواله هژموني او برلاسي وي.

نو که څه هم چې کېسنجر د «پاسفيک ټولنې» پيشنهاد کوي؛ خو زه فکر کوم چې دا به ممکنه نه وي. امريکا د چين وده او اقتصادي پيشرفت مني؛ خو تر هغه سرحده چې دغه پرمختګ د امريکا برلاسي ته په ګواښ بدل نه شي او د الترناتيف نظام د منځته راوړو سبب و نه ګرځي.

## آيا اوس د پاکستان او مرکزي آسيا نوبت دی؟

پاکستان د چين نږدې ملګری هېواد دی. د دغو دواړو هېوادونو دوستي د ټولو فصلونو دوستي بلل کېږي. پر افغانستان د شوروي اتحاد د يرغل په وخت پاکستان له امريکا سره مرسته وکړه ترڅو په کابل کې کمونيستي حکومت را وپرځول شي. هغه وخت د غربي نړۍ، عربي هېوادونو، پاکستان، چين او خصوصاً افغان ملت ګټې سره ورته او شريکې وې. مګر له ۲۰۰۱ کال راهيسې وضعيت بله بڼه اختيار کړې.

په پېل کې، تر کومه چې د طالبانو د حکومت راپرځول موخه و، ځکه چې د القاعده په ملاتړ متهم شوي وو، ټوله نړۍ په یوه خوله وه. خو وروسته وضعیت بدل شو او امریکا چې له تروریزم سره د مبارزې په پلمه تر افغانستانه رارسېدلې وه، د خپلو لویو ژیوستراتېژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره یې دلته تروریزم تقویه کړ او په دې بهانه یې پوځي اډې جوړې کړې. په دې ټوله لوبه کې یو وار بیا پاکستان له امریکا سره همکار پاتې شو. په دې مرحله کې د پاکستان ګټې د چین له ګټو سره همآهنګي نه درلوده؛ ځکه چې چین په افغانستان کې سوله او ثبات غوارړي حال دا چې پاکستان د امریکا په خدمت کې رادیکالیزم او ترویزم ته وده ورکوله.

خو څو ټکي دي چې د پاکستان پر خلاف د امریکا د متحده ایالاتو نوی توند دریځ توجېه کوي: امریکا پر پاکستان په دې نه ده قهرېدلې، چې ګواکې د طالبانو یا حقاني شبکې ملاتړ کوي اصلي او مهم علت یې د پاکستان او چین ترمنځ نږدې اړیکې دي چې اوس د ګوادر – کاشغر اقتصادي دهلېز یا د چین-پاکستان اقتصادي حوزه CPEC په پروژه منتهي شوې. دغه ۵۷ میلیارد ډالري پروژه چین ته ستراتېژیک اهمیت لري او د دغه هېواد د انرژي اکمالاتي لارو استقلالیت او تعدد تضمینوي. دا هغه څه دي چې د سیمې جیوپولیتیک بدلوي او چین ته د قدرت په نړېواله لوبه کې د برلاسۍ دروازه پرانیزي. خو برعکس د چین مهارولو لپاره د امریکا امکانات ډېر کموي. که پاکستان د امریکا د غوښتنې مطابق ځان اصلاح نه کړي د امریکا غضب به پرې نازل شي.

د افغانستان پخواني جمهور رئیس حامد کرزي په ۲۰۰۹ کال کې د امریکایانو طرحه چې پر اساس یې باید اجرائیه ریاست جوړ شوی وای و نه منله او قوي مرکزي حکومت یې حفظ کړ، له بلې خوا نوموړي BSA یا امنیتي قرارداد له امریکا سره لاسلیک نه کړ. دغه قرارداد د امریکا اډو ته په افغانستان کې رسمیت وربانښه او دغه هېواد ته یې په عین وخت کې د عسکرو د کمولو او په سیمه کې د استخباراتي لوبو د تنظیمولو زمینه برابروله.

اوس نوي حکومت دغه دواړه امریکایي شرطونه په ځای کړي او د امریکا د وروستیو طرحو عملي کولو ته یې زمینه برابره کړې. خو ستونزه دا ده چې دغه کار حد اقل له پنځه کاله ځنډ سره ترسره شو. په دې جریان کې د سیمې هېوادونو ته ډېر هغه حقایق په ډاګه شول چې پنځه کاله د مخه پرې نه پوهېدل. اوس که څه هم افغانستان کې داعش ډله فعاله شوه خو روسانو په سوریه کې له داعش سره د جګړې تجربه حاصله کړې او په ماهیت یې پوهېدلي دي.

چین چې یو وخت به یې د BSA په هکله خوشبیني ښودله په ړنو سترګو ولیدل چې د دغه تړون له لاسلیک سره په افغانستان کې تروریزم لا پیاوړی شو او نوې تروریستي ډلې یې راوټوکولې.

دغه وضعیت د امریکا په وړاندې په سیمه کې د شک او مقاومت یو بلاک عملاً ایجاد کړی. که پاکستان له دغه بلاک سره یو ځای شي، په داسې حال کې چې هم د چین اقتصادي دهلېز له دغه هېواده تېرېږي او هم د امریکا او ناټو اکمالاتي لار، دا به امریکا ته په دواړو اړخونو کې ستراتېژیکه ماته په برخه کړي.

زما په نظر د پاکستان په هکله د امریکا وروستی شدید دریځ د دې لپاره نه دی چې نوموړی هېواد د تروریزم ملاتړ او پالنه کوي بلکې د دې لپاره دی چې پاکستان مجبور کړي له نوي سیمه‌ییز بلاک سره یو ځای نه شي او اجازه ورنکړي چې CPEC عملي بڼه اختیار کړي. د امریکا دفاع وزیر په ښکاره وویل چې هېواد یې د CPECمخالف دی او دا چې دا دهلېز له متنازع سیمو تېرېږي. له متنازع سیمو د جیمز متیس موخه د هند او چین ترمنځ په کشمیر کې هغه سیمه ده چې دواړه هېوادونه یې د مالکیت دعوا لري.

په افغانستان کې د داعش چټکه وده او بیا د هېواد شمالي سیمو ته یې رسېدل هم د چین او هم د روسیې او منځنی آسیا لپاره د خطر زنگ دی.

په افغانستان کې داعش ځان د نړېوال خلافت د خراسان ولایت بولي. خراسان یعنې د افغانستان په پولو کې محدود نه پاتې کېدل. په داعش او نورو تروریستي ګروپونو کې چې د افغانستان په شمال کې مېشت دي د ETIMیا شرقي ترکستان پر جنګیالیو برسېره نور بهرني جنګیالي هم موجود دي. دا روښانه ده چې د نوموړو ډلو موخه له افغانستانه بهر فعالیت کول دي، افغانستان دوی ته د جبهې شا او د اډې حیثیت لري. که داعش نوره وده هم کوي تر آمو هاخوا د مرکزي آسیا هېوادونو ته به وراوړي. په دې توګه به له مرکزي آسیا څخه چین ته د انرژي د رسولو ځمکنۍ لارې هم وګواښل شي.

## چین او افغانستان

په داسې وضعیت کې تر هر څه د مخه چین په افغانستان کې سولې او ثبات راوستلو ته ضرورت لري. چین په دې برخه کې ډېر څه کړي دي. د څلور اړخیزو ناستو QCG سلسله د چین په ابتکار پیل شوه. دغو ناستو پایله نه درلوده. وروستۍ ناسته په چین کې په دري اړخیزه توګه ترسره شوه یعنې چین، پاکستان او افغانستان سره کښېناستل ترڅو د پاکستان او افغانستان ترمنځ اړیکې ښې کړي او سولې ته لاره اواره کړي. دې ته هم ډېره تمه نه کېږي ځکه چې افغان حکومت د امریکا د تصمیم متابعت کوي او امریکا تراوسه په افغانستان کې د جنګ دوام غواړي.

د افغانستان د خرابېدونکي امنیتي وضعیت او دا چې داعش د افغانستان شمال ته په سرعت لاره خلاصه کړه د چین اندېښنې راپارولي. چین ته د تروریستانو د وراوښتو د مخنیوي لپاره بیجینګ په بدخشان کې د یوې

سرحدي لېوا د جوړولو پیشنهاد وکړ چې له افغان قوتونو جوړه شي او مصارف یې چین پر غاړه واخلي. دا ټول ښه اقدامات دي. خو زما په نظر مثبته نتیجه به له ځانه سره ونلري. ځکه دغه اقدامات عوامل له منځه نه وړي او علتونو ته توجه نه کوي.

څنګه کېدای شي QCG ته تمه ولرو حال دا چې امریکا خپلې ستراتېژیکې ګټې په دې کېویني چې په افغانستان کې جګړه او بې قانوني دومره پراخه شي او مرکزي حکومت دومره تضعیف شي چې دغه خاوره د تروریستانو د تربیې په یوې اډې بدله شي.

له بلې خوا یوه سرحدي لېوا به د امریکایي هغو اډو په شتون کې چې تروریستان روزي څومره مقاومت وکولای شي؟

دا په داسې حال کې چې امریکا په افغانستان کې اوس د نا محدود وخت لپاره د پاتې کېدو خبرې کوي. د متحده ایالاتو د ملي امنیت په ستراتېژۍ کې چې د ولسمشر ټرمپ لخوا تېر ډسمبر اعلان شوه چین رقیب هېواد بلل شوی او بالآخره په تازه مورد کې جنرال جیمز متیس د خپل هېواد د نوې دفاعي ستراتېژۍ د اعلانولو په وخت کې وویل چې امریکا وروسته له دې خپله دفاعي توجه د تروریزم ضد جګړې باندې نه بلکې د لویو قدرتونو یعنې چین او روسیې په مقابله متمرکزه کوي.

زما په نظر اساسي حل هغه وخت موندل کېدای شي چې په افغانستان کې د امریکا شتون له سره تعریف شي، نوي حدود ورته وټاکل شي او له تروریزم سره د امریکایي جګړې حساب کتاب له واشنګټن څخه وغوښتل شي. له بلې خوا په افغانستان کې باید داسې حکومت موجود وي چې په پټو سترګو د امریکا هرڅه ونه مني او په اول قدم کې د افغانانو ملي منافع په نظر کې ونیسي.

# تهدید های امریکا علیه ایران؛ امنیت شکننده و سناریو های پُر مصرف[1]

**فاطمه الصمادی[2]**

*[ضمن این مقاله؛ کشمکش جاری میان امریکا و ایران مورد ارزیابی همه جانبه قرار گرفته است. روی وضعیت جاری و سناریوهای آیندهء این کشمکش در منطقهء خلیج بحث صورت گرفته و تمام احتمالات، از مذاکرات گرفته تا جنگ اقتصادی و بالآخره رویارویی و تصادم، به شکل علمی و بیطرفانه مورد بحث و ارزیابی قرار گرفته است. اداره]*

## مقدمه

تا هنوز هم احتمال شعله ور شدن جنگ همه گیر بین ایران و ایالات متحده امریکا خیلی ضعیف و غیر قابل ترجیح است؛ اما این حالت به معنای نفی کامل برخورد و وقوع جنگ بوده نمی تواند؛ زیرا ممکن است در نتیجۀ یک عمل و عکس العمل، چنین حادثۀ اتفاق افتد، یا هم ممکن است امریکا ضربات محدودی را متوجه ایران ساخته و بعضی مواقع را مورد هدف قرار بدهد. ولی هیچ ضمانتی وجود ندارد که این ضربات محدود، که شاید تحت درفش های دروغین اجراء گردد و یا هم در «حدود تنگی» پلان گذاری شود، در همان حدود خود باقی بماند. بلکه حتماً از حدود تعیین شده تجاوز خواهد کرد و به مناطق خارج ایران سرایت خواهد کرد و حتی خلیج عربی و اطراف آن از پی آمد های این هجوم احتمالی و عکس العمل ناشی از آن، در امان نخواهد بود. این برگۀ که در دسترس شما قرار دارد، شماری از سناریو های مطرح درین قضیه را تحت مناقشه قرار گرفته و نقاط ضعف هر کدام آنها.

---

[1] این مقاله برای اولین بار در سایت مرکز مطالعات الجزیره به زبان عربی به نشر رسیده و بعداً توسط عبدالبصیر مومن حکیمی برای ژورنال تحلیل به زبان دری ترجمه شده است. ژورنال تحلیل؛ این مقاله را غرض فهم بهتر کشمکش های جاری میان امریکا و ایران، به نشر می رساند.

[2] خانم فاطمه الصمادی محقق ارشد در مرکز مطالعات الجزیره می باشد.

## نه جنگ و نه صلح!

طی چند دهۀ گذشته قاعدۀ «نه جنگ و نه صلح» بر روابط امریکا و ایران حاکم بوده است، بدون این که اداره های پی در پی امریکایی سناریوی برخورد عسکری با ایران را از برنامه ها و پلان های عسکری و نظامی خویش حذف نمایند؛ با وجود این که انتخاب جنگ در برنامه های حکومت های امریکایی، در تبعیت از حوادث و دگرگونی های جاری، گاهی در اولویت و گاهی هم در اخیر لیست قرار می گرفت. در مقابل، بعضی کوشش هایی در ایران به هدف تعدیل و تغییر خطاب سیاسی در برابر امریکا به راه افتاد نیز بی نتیجه ماند؛ درین راستا هاشمی رفسنجانی مورد هجوم بی سابقۀ قرار گرفت. او زمانی که اظهار داشت که امام خمینی می خواست شعار «مرگ بر امریکا» را توقف دهد؛ مورد تکذیب صریح قرار گرفت. چنانچه در یاد داشت های که به نام «صراحت نامه» در سال 2013 م به نشر رساند، اظهار داشت که خمینی در رابطه با کنار گذاشتن شعار «مرگ به امریکا» نظر مثبت داشت[3]. مؤسسۀ انتشارات آثار خمینی از رفسنجانی به شدت دفاع کرده و اظهار داشت که این یاد داشت ها به خط خودش نوشته شده و کاملاً قابل اعتماد می باشد و می توانیم مطابق آن عمل کنیم[4]، اما در مقابل آن فرمانده سپاه پاسداران در آن زمان، محمد علی جعفری سخنان رفسنجانی را «فریبکارانه» خواند.[5]

همچنان برخورد های زبانی مشابهی در رابطه با اشغال سفارت امریکا در تهران نیز صورت گرفت؛ حادثه اشغال سفارت امریکا که در آن زمان به نام «لانۀ جاسوسی» امریکا نامیده شد، حادثۀ ایست که به عنوان یک اسطوره در مناسبت های مختلف از آن یاد آوری می شود. اما این اسطوره همزمان با آغاز گفتگو ها با امریکا، که در چوکات برنامۀ اتومی ایران صورت گرفت، یکبار دیگر مورد بگو مگو ها و درخواست های بازنگری قرار گرفت. این قضیه بار دیگر باعث بالا گرفتن مناقشات و اتهامات گردید، به خصوص به تعقیب نشر یاد داشت هایی از سوی وزیر خارجۀ اسبق ایران، ابراهیم یزدی این اتهامات بالا گرفت، او گفته بود که خمینی مخالف

---

[3]هاشمی رفسنجانی: امام(ره) موافق حذف شعار "مرگ بر آمریکا" بودند"، 9 مهر 1392 (تاریخ بازدید: 16 دیسامبر 2017م (http://www.entekhab.ir/fa/news/131389/%D9%87%D8%A7%D8%B4%D9%85%DB%8C-%D8%B1%D9%81%D8%B3%D9%86%D8%AC%D8%A7%D9%86%DB%8C-%D8%A7%D9%85%D8%A7%D9%85%D8%B1%D9%87-%D9%85%D9%88%D8%A7%D9%81%D9%82-%D8%AD%D8%B0%D9%81-%D9%85%D8%B1%DA%AF-%D8%A8%D8%B1-%D8%A2%D9%85%D8%B1%DB%8C%DA%A9%D8%A7-%D8%A8%D9%88%D8%AF%D9%86%D8%AF

[4]اسناد موافقت امام با حذف مرگ بر امریکا" روزنامه اعتماد، شماره 2801 ،92/7/21ش، ص(۱).

[5]فرمانده سپاه پاسداران: ادعای موافقت امام با حذف شعار مرگ بر آمریکا، فریبکاری است!، رادیو فردا، 21 مهر 1392، (تاریخ بازدید: 16 دیسامبر 2017م (https://www.radiofarda.com/a/25135663.html)

هجوم بر سفارت بود و حتی امر کرد تا اشغال کنندگان را از آنجا اخراج نمایند. روزنامۀ کیهان درین رابطه نوشت: این تزویری جدید است که از سوی «نهضت آزادی» در حق تاریخ صورت می گیرد.[6]

خلاصه این که تمام کوشش هایی که در رابطه به تغییر جایگاه این حادثه در اندیشه های انقلابی ایرانیان، صورت گرفت، به ناکامی انجامید و «تسخیر» لانۀ جاسوسی، بر اساس خطاب سیاسی ایرانی، به عنوان «انقلاب دوم و بزرگتر از انقلاب اول» به حیث نقطۀ تحولی در مسیر انقلاب باقی ماند و چنانچه امام خمینی[7] می گفت: این حادثه توانست که رکن اساسی و اولین رکن حکومت اسلامی را برپا دارد و اولین بیان استقلال سیاسی را اعلان کند، این حادث بیانگر شجاعت و جرئت جوانان انقلابی در مقابله با جبروت امریکا بود؛ زیرا اشغال لانۀ جاسوسی، بر اساس گفته های آیت الله خامنه ای ایالات متحدۀ امریکا را ذلیل ساخت.[8]

با داخل شدن دونالد ترامپ به قصر سفید، دشمنی و بیانه های خصمانه بین دو طرف بالا رفت و خارج شدن امریکا از اتفاق اتومی که در سال 2015 م به امضاء رسید، از سرگیری تحریم های اقتصادی شدید و قرار دادن سپاه پاسداران انقلاب در لست سازمان های تروریستی از نشانه های بارز روابط دو کشور بعد از به قدرت رسیدن ترامپ بود. به تقیب این تحریم ها، قدرت نمایی ها در منطقۀ خلیج آغاز یافت و طی آن پیام های تهدید آمیز مبادله گردید، در بعضی از پیام ها به وضاحت گفته شد که امنیت خلیج فارس خیلی شکننده بوده و نیاز به نزدیکی های مختلفی دارد تا مبادا منطقه دامنگیر جنگ‌ی ناخواستۀ شود و تر و خشک را به آتش بکشد.

تحریم های امریکا علیه ایران و به خصوص سلسلۀ اخیر این تحریم ها، جریان سیاسی ایران را، که طرفدار گشایش و نزدیکی با غرب و خواستار حل مشکلات در روابط با امریکا بود، به حاشیه راند. زیرا حالت اختناق آور ایران، سرنوشت اتفاق اتومی بعد از خروج امریکا و سیاست های خصمانۀ امریکا هرگز به این جریان اجازه نمی داد که از دیدگاه های خویش به دفاع برخیزد؛ دیدگاه ها و صدا هایی که بعد از به قدرت رسیدن روحانی و بستن پیمان اتومی ایران و دور شدن تحریم های اقتصادی علیه ایران، به گوش ها می رسید.

در "بهار" روحانی، قبل از آن که به آتش بی عقلی های ترامپ بسوزد، مفکرین ایرانی و از جمله محمود سریع القلم تبارز نموده و این سخن را مطرح ساختند که ایران بدون پیوستن به راوبط بین المللی به «غروب ابدی»

---

[6]جدیدترین تحریف گروهک نهضت آزادی؛ امام مخالف تسخیر لانه جاسوسی بود! ("صحیفة کیهان، 14 آبان 1396، (تاریخ بازدید: 8 جنوری 2018http://kayhan.ir/fa/news/118371:

[7]چرا حضرت امام خمینی(ره) قاطعانه از تسخیر لانه جاسوسی آمریکا حمایت کردند؟ سایت رسمی رهبر ایران آیت الله خامنه ای 1396/8/17 ش، (تاریخ بازدید: 8 جنوری 2018م)

http://farsi.khamenei.ir/speech-content?id=38129

[8]از سخنرانی آیت الله خامنه ای به تظاهر کننده گان(۲۰۱۰)م به مناسبت سی و یکمین سالگرد اشغال سفارت امریکا در تهران.

مواجه خواهد شد. لذا این کشور به یک استراتیژی ملی نیاز دارد که مطابق خواسته های شرایط جدید بوده باعث دگرگونی فرهنگی، پخش عقلانیت و رسیدن به فهم مشترک از ماهیت نظام جهانی جدید، باشد. نظریه پردازان جریان روحانی «سرمایه گذاری خارجی» را شرط اساسی هر نوع پیشرفت و تحول قرار داده بودند. اما این "سرمایه گذاری خارجی" که در نظر گرفته شده بود، همان غرب بود و بر مبنای این دیدگاه، صلح بین ایران و امریکا بزرگترین فرصت را می دهد تا تجارت و سرمایه گذاری خویش را وسعت بخشد. و این نکته مستلزم تغییر اساسی در سیاست خارجی ایران بود.[9]

برای این جریان سیاسی ممکن بود که دایرۀ نفوذ خویش را وسعت بخشیده و دایرۀ دشمنی با «شیطان بزرگ» را کوچک تر سازد، البته در صورتی که سلسلۀ تخفیف تحریم ها جریان می یافت و به تناسب آن پیشتیبانی اقشار مختلف جامعه، که در نتیجۀ تحریم ها زیر فشار بودند، افزایش می یافت. اما سیاست امریکا در مقابل ایران و بکار گیری شمشیر تحریم ها این جریان را به صورت کامل کنار زده و به نهایت محتوم آن قریب ساخته است.

در داخل ایران سیاسی ساختن بحث ها و جدال در رابطه به تأثیرات تحریم های اقتصادی بالای این کشور، نتوانست این حقیقت را پنهان سازد، که اقتصاد ایران با ضربات کمر شکنی مواجه گردید و یگانه مخرج و افقی که در فضای اقتصاد ایرانی با بستن پیمان اتومی باز شده بود، با خروج واشنگتن از این پیمان و اعادۀ تحریم ها و در پیش گیری سیاست بیشترین فشار، دوباره بسته شد. راپور های رسمی ایران نیز این حقیقت را واضح ساخته و از عقب گرد فعالیت های اقتصادی سخن می گوید که همراه با برگشت تحریم های اقتصادی، آغاز یافته است.[10] در یک نگرش گذرا در می یابیم که برگشت تحریم های اقتصادی و تقلیل صادرات نفت ایرانی از یک بحران اقتصادی انذار می دهد و به هیچ صورت نمیتوان از محدود بودن تأثیر آن، در کشور زراعتی که اقتصاد آن روی تولید نفت متکی است، سخن گفت. بانک بین المللی پول پیشبینی می کند که

---

[9] فاطمة الصمادي، العقوبات الاقتصادية عنوان الصراع السياسي في إيران(تحریم های اقتصادی عنوان کشمکش سیاسی در ایران )، TRT عربي، 20 جون 2019، (تاریخ بازدید: 20 جون 2019)
https://www.trtarabi.com/opinion/%D8%A7%D9%84%D8%B9%D9%82%D9%88%D8%A8%D8%A7%D8%AA-%D8%A7%D9%84%D8%A7%D9%82%D8%AA%D8%B5%D8%A7%D8%AF%D9%8A%D8%A9-%D8%B9%D9%86%D9%88%D8%A7%D9%86-%D8%A7%D9%84%D8%B5%D8%B1%D8%A7%D8%B9-%D8%A7%D9%84%D8%B3%D9%8A%D8%A7%D8%B3%D9%8A-%D9%81%D9%8A-%D8%A5%D9%8A%D8%B1%D8%A7%D9%86-18935?fbclid=IwAR1imls_si9yhvm65_gFv-tm5S4mkrcvkmUwtKgKNU7FSXJYMUW62EHtvnc%20

[10] برای مطالعه بیشتر این منابع را ملاحظه فرمایید:
https://chmb.mporg.ir/FileSystem/View/File.aspx?FileId=66901c1d-e1c0-4a00-8606-1dda60485c30

نرخ تورم درین کشور به 40% و عدم رشد اقتصادی 6 % خواهد بود. این حالت با کم شدن توان خرید شهروندان و برداشتن نرخ های کمکی یا سبسایدی از دهها اجناس مورد ضرورت عامه همراه خواهد بود.

قبل از تحرکات نظامی بر ضد ایران، محاصرۀ اقتصادی شدت گرفت؛ چنانچه در هشتم جون سال 2019 م رئیس جمهور امریکا، ترامپ تحریم هایی را اعمال نمود. این تحریم های جدید تمام واردات و صادرات ایران را هدف قرار داد و تهدید نمود که اگر تهران روش خود را تغییر ندهد، این تحریم ها تشدید خواهد یافت[11]. مقامات قصر سفید اعلان کردند که: ترامپ فرمانی صادر کرده و بخش های آهن، فولاد، المونیم و مس را در ایران مورد هدف قرار داده است، زیرا این بخش ها بزرگترین صادرات ایران، بعد از نفت بوده و تقریباً ده فیصد صادرات این کشور را تشکیل می دهد.

ایران هدف قرار دادن صادرات نفت این کشور و تلاش به خاطر مسدود ساختن کامل آن را به مثابۀ اعلان جنگ علیه این کشور دانسته و وزیر خارجۀ این کشور محمد جواد ظریف اظهار داشت که هیچ فرقی بین جنگ نظامی و اقتصادی وجود ندارد و در فضای متشنج کنونی احتمال هر اتفاقی وجود دارد که در آن صورت منطقۀ خلیج بیشترین ضرر را متحمل خواهد شد[12].

گرچه ترامپ راپوری را که نیویورک تایمز نشر نمود، نفی کرد[13]. این راپور حاکی از آن بود که مسئولین امریکایی بحث روی برنامۀ نظامی و ارسال حدود 120 هزار عسکر به شرق میانه را آغاز کرده اند تا جلو هر نوع هجوم ایرانی و یا هم اقدام در ساخت سلاح اتومی از جانب ایران را سرکوب نماید. اما چیزی که نفی آن ممکن نیست، موجودیت گروه متنفذی در داخل قصر سفید است که همواره حکومت این کشور را به سوی برخورد عسکری با ایران تشویق می کند.

---

[11] سلام كيالي، بداية التصعيد مع إيران وتسارع الأحداث.. هل من حرب؟، ایورو نیوز، ۲۰۱۹/۰۵/۱۷:
https://arabic.euronews.com/2019/05/17/after-the-escalation-between-iran-and-the-us-is-there-any-possibility-for-war

[12] قناة العالم، ظريف: الحرب الاقتصادية الاميركية ضد ايران ارهاب(جنگ اقتصادی امریکا علیه تروریزم)، ۱۳ جون ۲۰۱۹م
https://www.alalamtv.net/news/4267051/%D8%B8%D8%B1%D9%8A%D9%81-%D8%A7%D9%84%D8%AD%D8%B1%D8%A8-%D8%A7%D9%84%D8%A7%D9%82%D8%AA%D8%B5%D8%A7%D8%AF%D9%8A%D8%A9-%D8%A7%D9%84%D8%A7%D9%85%D9%8A%D8%B1%D9%83%D9%8A%D8%A9-%D8%B6%D8%AF-%D8%A7%D9%8A%D8%B1%D8%A7%D9%86-%D8%A7%D8%B1%D9%87%D8%A7%D8%A8

[13] برای مطالعه بیشتر این منابع را ملاحظه فرمایید:
https://arabic.euronews.com/2019/05/14/trump-denies-us-military-considering-120000-troops-to-counter-iran-threat

## تشنج در آب های خلیج

در نتیجۀ حضور بی سابقۀ نظامی در خلیج و تهدید های متقابل امریکایی و ایرانی، می بینیم که تمام منطقه بر لبۀ پرتگاه خطرناک برخورد نظامی قرار گرفته است[14]، به خصوص این تشنج زمانی سیر صعودی را به خود گرفت که ترامپ به ریاست قصر سفید رسید:

- در ماه نومبر 2018 م واشنگتن تحریم هایی را روی صادرات نفت ایران بعد از آن اعمال کرد که ترامپ خروج یکجانبه از پیمان اتومی با ایران را اعلان نمود که در سال 2015 م بین ایران و شش کشور بزرگ جهان به امضاء رسیده بود.
- در ماه اپریل سال 2019 م قصر سفید اعلان نمود، مدتی را که برای هشت کشور جهان در رابطه با خرید نفت ایرانی تعیین کرده و درین زمینه استثنایی را قایل شده بود، با فرا رسیدن ابتدای ماه می سال 2019 م به پایان می رسد و تهدید نمود که هر کشوری که تحریم ها علیه ایران را نادیده بگیرد، مورد مجازات های اقتصادی قرار خواهد گرفت.
- در ماه اپریل سال 2019 م امریکا با اقدام بی سابقۀ سپاه پاسداران انقلاب ایران را در لست سازمان های تروریستی قرار داد و این اولین باری بود که واشنگتن به صورت رسمی، یک قوت عسکری کشور دیگری به حیث سازمان تروریستی قلمداد کرد.
- ایران در جواب این اقدام امریکا؛ اردوی آن کشور را سازمان تروریستی قلمداد نمود.
- در 9 ماه می سال 2019 م ایالات متحدۀ امریکا به خاطر قدرت نمایی بیشتر کشتی هواپیما بردار، بم افگن های بی 52 و موشک های پاتریوت را به شرق میانه فرستاد و مسئولین امریکایی این قدرت نمایی خود را مقابله با تهدید های ایران در برابر مصالح امریکایی و قوت های نظامی امریکا عنوان کرد.
- در 10 ماه می سال 2019 امریکا اعلان نمود که بوئینگ بی-۵۲ استراتوفورترس به پایگاه نظامی امریکا در کشور قطر مواصلت نمود و ارسال این هواپیما ها را نیز بخشی از مقابله با تهدید های ایرانی اعلان نمود.
- در 12 ماه می سال 2019 م کشور امارات اعلان نمود که چهار کشتی تجارتی درین کشور مورد هجوم «عملیات تخریبی» قرار گرفته است. این هجوم در امارت فجیره نزدیک تنگناه هرمز انجام یافت که گذرگاه مهم و اساسی گاز و نفت جهانی را تشکیل می دهد.

[14] برای مطالعه بیشتر این منابع را ملاحظه فرمایید:

https://arabic.euronews.com/2019/05/13/strait-of-hormuz-the-world-s-most-important-oil-artery

- در 15 ماه می سال 2019 م کشور المان و هالند عملیات تمرین عسکری در عراق را زمانی به حال تعلیق در آورد که امریکا از وجود تهدید هایی از سوی قوت های طرفدار ایران سخن گفت؛ ولی کشور المان بعد از ارزیابی هایی که انجام داد، ازین فیصلهٔ خویش باز گشت.
- در 16 ماه می 2019 م کشور بریتانیا سطح تهدید هایی را که متوجه قوت ها و هیئت دپلوماتیک این کشور در عراق وجود داشت، جدی خواند و آنرا ناشی از خطر های ایران دانست. ایالات متحدهٔ امریکا کارکنان سفارت خویش در بغداد را انتقال داد و با نظر داشت ترس ها و بالا گرفتن تهدید ها، امر نمود تا مؤظفین غیر اساسی را از نمایندگی های دپلوماتیک در عراق، بیرون آورند.
- در 13 ماه جون سال 2019 م دو نفت کش جاپانی در آب های بحر عمان منفجر گردید و کارمندان و کارگران آن نجات داده شدند. واشنگتن ایران را مسئول این حادثه خواند و آن کشور این اتهام را به شدت نفی نمود.
- در 20 ماه جون سال 2019 م سپاه پاسداران ایران هواپیمای جاسوسی امریکایی به نام «گلوبل هوک» را در جنوب ایران سقوط داد و اعلان نمود که هواپیمای مذکور داخل قلمرو هوایی این کشور شده بود.

## سناریو ها

### گفتگو های مجدد

**الف- مذاکرات همه جانبه:** ترامپ پیام هایی متعددی به ایرانی ها فرستاد و مفاد آن «گفتگو های بدون قید و شرط» بود. این پیام ها از سوی بلند ترین مرجع تصمیم گیری (مقام رهبریت)به شدت رد گردید[15]. حتی اگر کلمات و جملاتی را مورد دقت قرار دهیم که آیت الله خامنه ای در رد دعوت ترامپ بکار برد، و نخست وزیر جاپان، شینزو آبی آنرا با خود حمل کرد، می بینیم که کلمات و جملاتی را در زبان فارسی بکار برده که کمترین حد احترام هم با خود نداشت و عمداً جملاتی را استعمال کرده که دال بر توهین و بی ارزشی جانب مقابل دارد.

خطاب خامنه‌ای بعد از به قدرت رسیدن ترامپ، همان قناعت هایی را منعکس می سازد که قبلاً در مورد ایالات متحده امریکا ابراز داشته و امریکا را گذشته ازین که رئیس آن چه کسی است، کشور غیر قابل اعتماد

[15] بی بی سی عربی، خامنئي: ترامب شخص لا يستحق تبادل الرسائل معه(خامنه ای: ترامپ شخصی است که ارزش تبادل نامه ها را ندارد.)، ۱۳ جون ۲۰۱۹م
http://www.bbc.com/arabic/middleeast-48623194

می خواند[16]. خامنه ای پشتیبانی از گفتگوهایی را، که در سال 2015 م منتج به پیمان اتومی گردید، فقط به خاطری اعلان نمود که اکثر رئیس جمهوران ایران تأکید داشتند که گفتگو با امریکا و رسیدن به توافقنامۀ می تواند در حل مشکلات اقتصادی ایران مؤثر باشد. به همین علت، با وجود این که می دانست و باور داشت که طرف امریکایی کاذب است، در رابطه با گفتگو ها چراغ سبز نشان داد تا مبادا بگویند که مرشد انقلاب در برابر گفتگو هایی قرار گرفت که ممکن بود مصالح ملی ایران را تضمین کند. و اینک برگشته و در ارزیابی از پیمان اتومی می گوید که: قبول گفتگو ها یک خطای محض بوده است[17] و زمانی که علی اکبر صالحی رئیس سازمان اتومی ایران به سوی مذاکرات بر می گردد، شاهد سخن واضحی در رابطه به موقف خامنه ای هستیم، او که همیشه ازین گفتگو ها در شک و تردید بود، حتی در مدتی که به صورت سری در کشور عمان جریان داشت این شک و تردید خود را ادامه داد و برای ادامۀ گفتگو ها شرط هایی را وضع نمود[18].

خامنه ای مانع قویی را در برابر گفتگو های شامل با ادارۀ ترامپ وضع نمود و سپاه پاسداران ازین مانع با قوت تمام ازین فیصله پشتیبانی نمود. به خصوص که پیشنهادات سابقه در رابطه با گفتگو ها عنوانی را اختیار کرد که همانا نفوذ ایران در خارج بود و این قضیه مستقیماً بدوش سپاه پاسداران قرار داشت که فقط چند ماه قبل در لست سازمان های تروریستی قرار گرفته بود. همچنان گفتگو های شامل به معنای قرار دادن برنامه های  موشکی ایران روی میز مذاکرات بود و این چیزی است که ایران هرگز آمادۀ پذیرش آن نمی باشد.

با شکستی که اتفاق اتومی ایران بدست ترامپ مواجه شد، هیچ کسی در ایران این جرأت را نخواهد داشت که بار دیگر از گفتگو های مجدد با واشنگتن سخنی بگوید، گرچه وجاهت سیاسی آن به صورت آشکار به نظر آید. و حتی آیندۀ روحانی که از گفتگو ها بیشترین دفاع را نمود، مورد تهدید قرار گرفت.

---

[16] العربیه، خامنئي يلوّح بإغلاق مضيق هرمز ويهاجم واشنطن: غير أهل للثقة(خامنه ای به بستن تنگه هرمز تهدید نموده و واشنگتن را لایق اعتماد نمیداند)، ۲۱ جولای ۲۰۱۸م

https://www.alaraby.co.uk/politics/2018/7/21/%D8%AE%D8%A7%D9%85%D9%86%D8%A6%D9%8A-%D9%8A%D9%84%D9%88%D8%AD-%D8%A8%D8%A5%D8%BA%D9%84%D8%A7%D9%82-%D9%85%D8%B6%D9%8A%D9%82-%D9%87%D8%B1%D9%85%D8%B2-%D9%88%D9%8A%D9%87%D8%A7%D8%AC%D9%85-%D9%88%D8%A7%D8%B4%D9%86%D8%B7%D9%86

[17] یورو نیوز، رهبر ایران: در مذاکرات برجام اشتباه کردم، ۲۰۱۸/۰۸/۱۳م

https://fa.euronews.com/2018/08/13/khamenei-bans-direct-talks-with-us-says-iran-deal-was-a-mistake

[18] برای مطالعه بیشتر این منابع را ملاحظه فرمایید: رازهایی جالب در کتاب خاطرات «دکتر صالحی»/ از دستگیری جاسوس فوردو تا شناسایی دانشمند هسته‌ای در اردن:

http://www.ion.ir/news/355762/

**ب-** قاطعانه نمی توان گفت که ایران این گزینه را نیز به صورت مطلق رد خواهد کرد، و به خصوص این که در گذشته ها تحت عناوین مختلف آنرا انجام داده است، مانند عراق و افغانستان و ... و این حالاتی است که سپاه پاسداران و فرماندهٔ فرقهٔ قدس، قاسم سلیمانی نقش بارزی در گفتگو ها داشت. اطمینان و اعتماد بزرگی که خامنه ای بالای سپاه پاسداران نشان می دهد و اطاعت و ولای که شخص سلیمانی نسبت به جایگاه مرشد و شخص خامنه ای دارد، گفتگو های جزئی را در بین سایر سناریو ها ممکن و قابل ترجیح می گرداند. باید به خاطر داشت که این گونه گفتگو ها به شکل سری صورت گرفته و قضایای معین و مشخصی را در بر خواهد گرفت و درین گونه مذاکرات ایران کارت های را که در اختیار دارد، در مقابل دست آورد های معینی بکار خواهد برد و شاید تخفیف تحریم ها یکی ازین دست آورد ها باشد. و شاید هم معضلهٔ یمن و یا خروج نیرو های امریکایی از افغانستان و گفتگو ها با طالبان عناوین آن باشد.

## برخورد

**الف: جنگ تمام و کامل:** گرچه ایران این سناریو را بعید می داند ولی به صورت کلی آنرا نادیده نگرفته است؛ و این سناریو در استراتیژی امریکا نیز حاضر بوده و حتی در پلان های که از سوی اداره های پیش از ترامپ طرح شده بود، این سناریو مد نظر قرار داشت، گرچه تیزی و شدت آن در دورهٔ حکومت بارک اوباما اندکی تقلیل یافته بود. علایم و نشانه ها حاکی از آن است که گروه بارز در ادارهٔ امریکا، که در رأس آن بولتن و پومپیو قرار دارد، تمایل بیشتر به همین انتخاب دارند و گرچه این سناریو بهترین انتخاب در لست سناریوهای ترامپ نیز قرار دارد، اما قبل از تابستان 2020 م قابل اجراء نخواهد بود.

علی الرغم این که قطعاً توازن قوا به نفع امریکا می باشد، اما عکس العمل ایران در مقابل امریکا، اهداف خیلی زیادی را مورد هجوم قرار خواهد داد و در مقدمهٔ آن اسرائیل و پایگاه های امریکایی خواهد بود که ایران را از چهار طرف در محاصرهٔ خود قرار داده است. این پایگاه ها گرچه تهدید خیلی جدی را متوجه ایران ساخته است، اما هدف قرار دادن مصالح امریکا را برای ایران ممکن ساخته است و اگر ایران مورد هجوم قرار گیرد، هیچ تردیدی در هجوم متقابل برضد این پایگاه ها از خود نشان نخواهد داد. همچنان واضح است که عربستان سعودی و سایر کشور های خلیجی از آثار ویرانگر جنگ برکنار نخواهند ماند که مستقیماً از سوی ایران مورد هجوم قرار خواهند گرفت و یا هم توسط هم پیمانان ایران در منطقه تحت ضربات قوی قرار می گیرند و تهدید حوثی ها بر ضد سعودی مثال کوچکی درین زمینه می باشد.

علاوتاً جنگ همه گیر بر ضد ایران، از مشروعیت بین المللی بر خوردار نخواهد بود، زیرا اروپا تا هنوز هم، علی الرغم ضعف موقف خویش، با سناریوی جنگ به شدت مخالفت می ورزد و به این باور است که جنگ خطرات امنیتی خیلی جدی را متوجه این منطقه ساخته و سیل مهاجرین را روانهٔ آن سرزمین خواهد ساخت. و طبعیی

است که این کشور ها توان استقبال تمام آنها را نخواهند داشت. و اما روسیه و چین، بنابر اهداف و اسبابی که هر کدام شان نزد خود دارند، ازین اقدام حمایت نخواهند کرد.

**ب- هجوم و ضربات محدود:** این سناریو بیشتر از هر سناریوی دیگر مورد بحث ادارهٔ امریکا بوده است که در هجوم و ضربات حساب شده و محدود خلاصه گردیده و مواقع استراتیژک ایران را مورد هجوم قرار می دهد. اما سرنگون ساختن هواپیمای جاسوسی امریکا نشان داد که ایران هر گونه هجوم را با شدت تمام جواب خواهد داد؛ همچنان نظام دفاعی این کشور بیشرفته تر از آن است که فکر می شد و رسایل و پیام هایی که اخیراً در منطقهٔ خلیج تبادله گردید، گویای این حقیقت است که راه انتقال نفت به هیچ صورت در امن نخواهد بود. بنابرین، ممکن است که جواب ایران در مقابل این حملات، هدف قرار دادن نفت کش ها و منابع آب نوشیدنی کشور های همجوار خواهد بود و این حالت سبب ادامهٔ این برخورد ها گردیده و هیچ کشور خلیجی از نتایج و پیآمد های ناگوار آن در امان نخواهند ماند.

**ج- جنگ با پشتیبانی امریکا:** شاید واشنگتن این را بهتر بداند که درفش جنگ و مقابلهٔ عسکری با ایران را به دوش نگیرد، اما از جنگ و برخورد هایی که دیگران مانند: سعودی، اسرائیل و امارات به راه اندازند حمایت و پشتیبانی کند. گرچه روزنامهٔ لوفیگارو فرانسوی خبر داد که افسران فرانسوی با افسران سعودی سیناریوی اشغال ایران را مورد بحث قرار داده اند، اما سعودی توان مقابله با ایران را ندارد و حملات روز افزون حوثی های یمن ضعف نظامی سعودی را کاملاً برملا ساخته و نشان داده است که سعودی نیاز به راه هایی دیگری غیر از مقابلهٔ نظامی با ایران، دارد و حتی اسرائیل نیز از آتش هجوم ایران در امان نخواهد ماند، زیرا ایران می تواند توسط حزب الله و گشودن جبههٔ جدید در غزه؛ اسرائیل را مورد حمله قرار دهد. به خصوص این که حماس و حرکت جهاد اسلامی به خاطر نابود ساختن «معامله قرن» که به خاطر تصفیه و پایان بخشیدن به قضیهٔ فلسطین برنامه ریزی شده است، چارهٔ جز مقابله ندارند.

ایران این را می داند که جنگ و برخورد برای این کشور، ویران کن خواهد بود؛ لذا از سال ها قبل حساب آنرا داشته است و در دهه های گذشته کوشیده تا منظومهٔ دفاعی خویش را به شکلی در آورد که هدف قرار دادن آن برای تمام اطراف کار مشکل و با مصارف گذاف باشد.

## جنگ اقتصادی

«جنگ اقتصادی» دقیق ترین توصیفی است که می توان بر عملکرد امریکا بر علیه ایران اطلاق کرد. شاید جنگ اقتصادی همه جانبه یگانه سناریویی قابل تطبیق در حال حاضر باشد؛ این جنگ در حول چند محور صورت خواهد گرفت:

**الف- تحریم های اقتصادی همه جانبه:** این تحریم ها به معنای محروم ساختن ایران از استفاده منابع اقتصادی خویش میباشد، به خصوص نفت و گاز که درآمد ملی این کشور بر آن متکی می باشد. این چیزی است که امروز در دایرهٔ قطع کامل صادرات نفت ایران، عملاً تطبیق می شود. اندازه گیری هایی صندوق جهان پول نشان می دهد که رشد اقتصادی ایران در سال های 2019 م و 2020 م در نتیجهٔ تأثیر این تحریم ها به شدت تقلیل خواهد یافت و صندوق جهانی پول متوقع است که نسبت رشد این کشور که مطابق راپور سالانهٔ 2018 به ۴ درصد می رسید، تا اپریل 2019 به منفی ٦ درصد خواهد رسید و این بد ترین نسبت از 2012 می باشد[19]. البته فرقی نمی کند که سپاه پاسدارن انقلاب، مطابق بحث مهندس کامیار، 10 الی 30 درصد اقتصاد این کشور را در اختیار دارد و یا مطابق اظهارات کیفان هاریس 60 درصد اقتصاد ایرانی را اداره می کند، در هر صورتی، بیشرین ضربهٔ اقتصادی متوجه این سازمان می گردد. به خصوص که بیشترین فعالیت های اقتصادی ایران روی همین بخش متمرکز می باشد.

این چالش ایران را مجبور خواهد ساخت که روی برنامه های جدیدی فکر نماید تا بتواند این تحریم ها را فروبرده و نتایج آنرا تحمل نماید. به خصوص که این تحریم ها در حالی اعمال می شود که نسبت بیکاری در این کشور به 13 درصد رسیده و روی قشر جوان بیشتر متمرکز می باشد.

**ب- ممنوعیت هایی تعامل اقتصادی با ایران:** این اقدامات یک سلسله عقوبت هایی را در بر دارد که شرکت های تجارتی را از تعامل تجارتی مانع می شود تا مبادا مورد تحریم اقتصادی امریکا قرار گیرند. این عملیه بر تمام شرکت های اروپایی، چینایی و هندی منطبق می باشد که به دنبال خروج واشنگتن از پیمان اتومی با ایران، یکی پی دیگری از تعامل های تجارتی با ایران عقب نشینی کردند. این عملیه باعث کم شدن قیمت ارزش پول ایران گردیده است، چنانچه طی یک سال اخیر ٦٠ درصد ارزش خود را از دست داده است.

**ج- مشکل نقل و انتقالات بانکی:** در 22 ماه فبروری 2019 م گروه ویژه اقدام مالی (در پول‌شویی) یا (FATA) برای ایران چهار ماه فرصت داد تا تعدیلات لازم را، در جهت مبارزه با پول شویی و جلوگیری کمک های مالی به تروریزم، به اجراء در آورد. بر اساس اعلان (FATA) کشور ایران تا جون سال 2019 م خارج لست سیاه باقی می ماند به این انتظار که تهران انضمام خود را درین سازمان جهانی اعلان و مورد قبول واقع گرداند چون «ایران تا جون سال 2019 م قوانین باقی مانده را که همگام با معیار های (FATA) می باشد به اجراء نیاورده است. این مجموعه در 21 جون سال 2019 م یک بار دیگر ایران را مهلت جدیدی تا اکتوبر 2019 م اعطاء کرد تا اقدامات لازم برای مبارزه با تمویل تروریزم و سفید سازی پول را تقویت بخشد تا سیستم ایرانی

---

[19] International Monetary Fund. "Regional Economic Outlook: Middle East and Central Asia Update," (April 2019), 8, see it online:< https://www.imf.org/en/Publications/REO/MECA/Issues/2019/04/17/reo-menap-cca-0419>

با معیار های بین المللی درین مجال تطابق یابد.» و بر اساس اعلانی که از سوی (FATA) صادر گردیده، ایران همچنان خارج لست سیاه باقی می ماند تا تهران این معاهدهٔ بین المللی را پذیرفته و درین سلک داخل گردد. کشور های اروپایی از ایران می خواهند تا به خواسته های این گروه جواب مثبت دهد تا بتواند کانال های مالی خویش را فعال سازد، به خصوص از تحویلات و انتقالات بانکی مستفید گردد. به همین سبب، مانع نقل و انتقالات بانکی ایران تا اطلاع مجدد، همچنان باقی خواهد ماند.

**د- تأثیر سیاسی و اجتماعی:** گاری هوفباور و گروه او در کتاب «بازنگری در تحریم های اقتصادی»[20] که مرجع اساسی طرفداران اعمال سیستم تحریم ها مبدل شده است، به شدت از تحریم های اقتصادی و تأثیر آن به دفاع برخاسته اند. در حال حاضر او و گروه همکارانش که دست بلندی در تحقیقات روی تأثیر این تحریم ها و اثر گذاری آن در سیاست خارجی، دارند. آنها نتایجی تحقیقات این گروه که روی 200 حالت این تحریم ها «بعد از جنگ جهانی تا امروز» انجام یافته است نشان می دهد که یک سوم این حالت توانسته است سلوک جانب واقع تحت این تحریم را تغییر دهد. و حتی پژوهشگران دیگری این نسبت را خیلی اندک اعلان کرده اند، چنانچه بر اساس اعلان «کریستان فون زوست» رئیس گروه تحقیقات امنیت و صلح در انستیتیوت لایبنیتس»[21] این نسبت به 5% می رسد.

و اما حالت احتجاجی در ایران، باید گفت که این حالت در رابطه با جامعهٔ ایرانی چیزی جدیدی نیست و می توان از مظاهرات و اعتراضات متعددی در ایران نام برد. بارز ترین این احتجاجات در 1996، 2009 و 2017 م بود. بعضی از کارشناسان، که در «سیمینار مرکز الجزیره در مورد ایران» سخنانی ایراد کردند، تمایل بیشتر به این باور دارند که اعتصاب ها به سبب تورم و خرابی حالت اقتصادی و پائین بودن معاشات از ابجدیات جامعهٔ ایرانی به شمار می رود و این حالتی است که متضمن توانمندی دولت در قبول و اعتراف به خواسته های مشروع مردم و بهتر سازی وسایل مسالمت آمیز در جهت تعامل با این حالت اعتراضی می باشد.

اما نمی توان تأثیرات این تحریم ها را بر جامعهٔ ایرانی نادیده گرفت. در پژوهشی که اعظم رجبی به خاطر کسب درجهٔ ماستری در دانشگاه تهران تحت عنوان «تأثیر تحریم های اقتصادی بر رفاه اجتماعی مردم» انجام

---

[20] Gary Clyde Hufbauer, Jeffrey J. Schott, Kimberly Ann Elliott, and Barbara Oegg, Economic Sanctions Reconsidered, Peterson Institute for International Economics, third edition,2009

[21] سابقه تحریم و تاثیر تحریم‌های آمریکا بر ایران، دویچه وله فارسي، 21مئ، 2018:
https://www.dw.com/fa-ir/%D8%B3%D8%A7%D8%A8%D9%82%D9%87-%D8%AA%D8%AD%D8%B1%DB%8C%D9%85-%D9%88-%D8%AA%D8%A7%D8%AB%DB%8C%D8%B1-%D8%AA%D8%AD%D8%B1%DB%8C%D9%85%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D8%A2%D9%85%D8%B1%DB%8C%DA%A9%D8%A7-%D8%A8%D8%B1-%D8%A7%DB%8C%D8%B1%D8%A7%D9%86/a-43865665

داد[22]، موضوع مورد بحث و اساسی درین تحقیقات، بررسی تأثیر تحریم های اقتصادی بر رفاه اجتماعی مردم بود. او آراء و نظریات مردم را از طریق بکار گیری همه پرسی و توزیع پرسشنامه ها انجام داد و فقط همان خانواده هایی را مورد سؤال قرار داد که در تهران زندگی می کردند و درین راستا فرد اول و سرپرست خانواده را مورد پرسش قرار داد. نتایج حاصله نشان می داد که ظروف زندگی مردم بعد از تحریم ها بدتر شده است، توان خریداری و درآمد آنها کمتر شده، دسترسی مردم به بعضی اجناس کمتر گردیده و خدمات صحی و درمانی و نوعیت آن عقبگرد زیادی داشته است.

در سیمیناری که از سوی جمعیت جامعه شناسان ایرانی در تهران برگزار گردید، اشتراک کننده‌گان سیمینار به این نظر بودند که تحریم ها اقشار مختلفی را مورد هدف قرار داده که مهم ترین آن عبارت از دایرۀ قیادت، نیاز های زندگی، ساختار های زیر بنایی، جامعه و توان های دفاعی می باشد. این تحریم ها کمترین تأثیر را روی دایرۀ قیادت «حلقات تصمیم گیری» گذاشته و بیشترین تأثیر آن روی جامعه و نیاز های اصلی زندگی بوده است. این تحریم ها ضربه محکمی را متوجه طبقۀ متوسط در ایران ساخته است، در حالی که سیاست اعطای کمک ها توانسته است طبقۀ فقیر را تا حد زیادی  نجات دهد و اما طبقۀ ثروتمند توانسته است که این بلند رفتن نرخ ها را در جهت کسب بیشتر فایده و سود بکار برد و این در حالی است که شعار بارز دولت در ایام انقلاب همان تأمین «عدالت اجتماعی» بود.

باید دانست که معضلۀ جنگ اقتصادی در رابطه با ایران، رابطۀ چندانی با ناتوانی این کشور در مقابل و مقاومت در برابر این تحریم ها و تأثیر آن بر روش سیاسی این کشور ندارد، بلکه به شکل اساسی مربوط با پی آمد های این جنگ اقتصادی بر جامعۀ ایران و توان نظام ایرانی بر فعال سازی سیستم تکافل منظم و رهبری مصارف و مقابله با فساد مالی می باشد.

---

[22]أعظم رجبي، "تاثير تحريم اقتصادي بر رفاه اجتماعي مردم"، تیزس ماستری، دانشگاه تهران، زمستان 1392 شمسي، برای مطالعه مختصر تیزس به لینک زیر مراجعه فرمائید:

https://thesis2.ut.ac.ir/thesisinfo/ThesisPdf15PagesFiles/2014-8/272753-15Page-.pdf

# د سیمې جیوپولیټیکي بدلونونه او پر افغانستان یې اغېزې (۲۰۱۴-۲۰۱۹ز)[1]

احمد بلال خلیل[2]

**لنډیز:** *افغانستان د منځنی آسیا، سویلي اسیا او منځنی ختیځ تر منځ پروت دی، او له دغو سیمو څخه په اقتصادي، سیاسي، نظامي او کلتوري برخو کې اغېزمن دی. همدا لامل دی، چې زموږ هېواد تل د جیوپولیټیکي بدلونونو قرباني شوی.*

*د ملي یووالي حکومت له جوړېدو وروسته، په سیمه کې یو شمېر جیوپولیټیکي بدلونونه رامنځته شول، چې په دغو کې د ایران او لویدیځ ترمنځ د ایران د اټومي پروګرام په تړاو هوکړه‌لیک؛ د خلیج ډیپلوماتیک بحران؛ د سویلي اسیا په تړاو د امریکا تګلاره؛ د چین لویې اقتصادي پروژې؛ په سیمه کې د داعش ظهور او رامنځته کېدل؛ او په خپله د ملي یووالي حکومت وو.*

*دغو جیوپولیټیکي بدلونونو بیا پر افغانستان دواړه منفي او مثبتې اغېزې وکړې. مثبته اغېزه یې د چابهار بندر تړون او د چین په لویو اقتصادي پروژو کې د افغانستان احتمالي یو ځای کېدل دی. خو په منفي اغېزو کې بیا د مسکو له‌خوا د متبادلې سولې پروسې پیلول؛ له افغان طالبانو سره د سیمه‌ییزو هېوادونو مرستې او د ډیپلوماسۍ لوړ پرواز؛ د افغان ولسمشر اشرف غني د تروریزم پر ضد د رامنځته کېدونکې سیمه‌ییزې اجماع پاشل کېدل؛ او په هېواد کې خرابېدونکی امنیتي وضعیت شامل دي.*

**کیلي: افغانستان؛ سیمه؛ جیوپولیټیک؛ دوه قطبه نړۍ؛ څو قطبه نړۍ؛**

---

[1] په دغه لیکنه کې د سیمې هغو جیوپولیټیکي بدلونونو او پر افغانستان یې اغېزو ته اشاره شوې، چې په ډېرې توګه د ملي یووالي حکومت پرمهال یا رامنځته شوي او یا یې هم په دغه پېر کې یې اغېزې تر ټولو زیاتې او جوتې وې. لیکوال

[2] احمد بلال خلیل د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز علمي غړی، او د دغه مرکز د تحلیل ژورنال مسؤل مدیر دی. د افغانستان په بهرني سیاست، معاصر تاریخ، اسلامپالنه، او سیمه‌ییزو جیو-اقتصادي او جیو-پولیټیکو بدلونونو کې لېوالتیا لري. ښاغلی خلیل د «افغانستان او چین؛ دوه اړخیزه اړیکې ۱۹۵۵-۲۰۱۵»کتاب لیکوال هم دی.

## لومړۍ برخه؛ مقدمه

له سړې جګړې وروسته دا لومړی ځل دی، چې په سیمه‌ییزه کچه د سړې جګړې د بېرته راګرځېدلو بحث د بل هر وخت په پرتله تود شوی. همدا لامل دی، چې د ډېرو په اذهانو کې پوښتنې منځ ته راځي، چې آیا زموږ سیمه د امریکا او د چین-روسیې تر مشرۍ لاندې پر دوو بلاکونو وېشل کېږي؟ او که نه؟

په تاریخي توګه دا لومړی ځل نه دی، چې زموږ سیمه د دوو نړېوالو ځواکونو د رقابت له کبله پر دوو بلاکونو وېشل کېږي. دوه نیمې لسیزې وړاندې تېره شوې «سړه جګړه» په دې تړاو وروستۍ هغه بېلګه وه، چې د شوروي تر مشرۍ لاندې کمونیستي نړۍ او د امریکا تر مشرۍ لاندې کاپیټالیستي نړۍ له یو بل سره په رقابت کې وو او د دوی دا رقابت د امپراتورېو په هدیره (افغانستان) کې اخر پای ته ورسېد او له کبله یې نړۍ نوره د امریکا تر مشرۍ لاندې یوه قطبه نړۍ شوه.

دغه مقاله په څلورو برخو وېشل شوې. په لومړۍ برخه کې یو شمېر هغو بېلګو ته اشاره شوې، چې په بېلابېلو پړاوونو کې د سیمې جیوپولیټیکي اغېزې پر افغانستان ښیي. په دویمه برخه کې د ملي یووالي حکومت له جوړېدو راهیسې په سیمه‌ییزه کچه د سیمو هېوادونو پر خپل منځي اړیکو راڅرخېږي. دریمه برخه بیا د سیمې وروستي جیوپولیټیکي بدلونونو ته ځانګړې شوې ده. په وروستۍ برخه کې بیا پر افغانستان د وروستېو جیوپولیټیکي بدلونونو اغېزې بیان شوي دي.

## جیوپولیټیک؛ پېژندنه

د جیوپولیټیک اصطلاح په لومړي ځل په ۱۸۹۹ز کال کې د سویډني سیاسي علومو کارپوه روډالف کجیلین (Rudolf Kjellén) له خوا وکارول شوه. وروسته بیا دغه اصطلاح عامه او د نړېوال سیاست او سیاسي علومو یوه مهمه برخه وګرځېدله.[3] جیوپولیټیک د دوو یوناني لفظونو مجموعه ده: جیو (geo) او پولیټیک(politike). جیو د ځمکې یا خاورې معنی ورکوي او پولیټیک بیا د سیاست.[4]

---

[3] Robert D Blackwill, The Geopolitical Consequences of the World Economic Recession- A Caution, Rand Corporation, 2009, Occasional Paper, See it online:<
https://www.rand.org/content/dam/rand/pubs/occasional_papers/2009/RAND_OP275.pdf>; Saul Bernard

که څه هم د نړېوالو اړیکو کارپوهان او یو شمېر اداري جیوپولیټیک تر ډېره د خپل لیدلوري له مخې تعریفوي. خو تر اوسه یو جامع تعریف نه لري. دلته به موږ د جیوپولیټیک په تړاو د یو شمېر قاموسونو، دایرة المعارفونو او د نړېوالو اړیکو د کارپوهانو تعریفونه وړاندې کړو.

### قاموسونه

د اکسفورډ انګلیسي قاموس د جیوپولیټیک تعریف په ډېره مختصره توګه کوي. د دې قاموس له مخې، «جیوپولیټیک؛ د جغرافیاوي فکټورونو له کبله د سیاست په تېره بیا د نړېوالو اړیکو اغېزمنتیا ته وایي».[5]

د پینګوین د نړېوالو اړیکو قاموس جیوپولیټیک بیا داسې تعریفوي، چې له کبله یې موږ په نړېوالو اړیکو کې د پېښو تحلیل، ارزیابي او؛ ان راتلونکی هم بیانولای شو. دا قاموس لیکي: «جیوپولیټیک د بهرني سیاست او تګلارو د مطالعه کولو یو مېتود دی، چې له کبله یې موږ د جغرافیاوي متغیراتو له لارې پر نړېوالو سیاسي چلندونو پوهېږو، تشریح کولای یې شو او؛ ان یې په تړاو وړاندوینه هم کوو».[6]

د مریم ویبسټر قاموس د جیوپولیټیک په تړاو بیا درې تعریفونه وړاندې کوي؛ خو د جغرافیاوي متغیراتو ترڅنګ اقتصاد او ډیموګرافي هم په جیوپولیټیک کې دننه کوي. د دې قاموس په اند:

1. «پر سیاست او د یوه هېواد پر بهرني سیاست د اغېزو د فکټورونو – په تېره بیا د جغرافیې، اقتصاد او ډیموګرافي – مطالعې ته جیوپولیټیک وایي.
2. یوه حکومتي تګلاره چې جیوپولیټیک یې رهنمایي کوي؛
3. د سیاست او جغرافیاوي فکټورونو هغه مجموعه چې له دولت او یا هم له ځانګړیو وسایلو سره تړاو ولري.»[7]

---

Cohen (eds), Geopolitics: The Geography of International Relations, Third Edition, Rowan & Littlefield: London, 2015, pp:15-16

[4] Oxford Bibliographies, Geopolitics- Geography, see it online:< http://www.oxfordbibliographies.com/view/document/obo-9780199874002/obo-9780199874002-0017.xml>

[5] Oxford Dictionaries, Geopolitics, see it online:< https://en.oxforddictionaries.com/definition/geopolitics>

[6] Evans, G & Newnham, J., (1998), "The Penguin Dictionary of International relations", Penguin Books, London, UK.

[7] Merriam-Webster, Definition of Geopolitics, see it online:< https://www.merriam-webster.com/dictionary/geopolitics>

د کېمبرج انګلیسي قاموس بیا جغرافیه له دې پراخ تعبیر څخه په ویستلو د یوه هېواد تر جسامت او موقعیت پورې ځانګړې کوي. دا قاموس د جیوپولیټیک تعریف په دې ټکو کې کوي: «د یوه هېواد د جسامت یا موقعیت هغو اغېزو ته جیوپولیټیک وایي، چې د دغه هېواد پر ځواک او له نورو سره پر اړیکو یې تاثیرات وښیي». او یا هم «هغه سیاسي بوختیاوې، چې د یوه هېواد او یا د نړۍ د یوې برخې له فزیکي مختصاتو څخه اغېزمن شي».[8]

## دایرة المعارف

د برېټانیکا دایرة المعارف نه یوازې دا چې د جیوپولیټیک تعریف وړاندې کوي، بلکې د جیوپولیټیک په تړاو د یو شمېر نظریو –مکېنډر نظریه – او له دې اصطلاح څخه اغېزمنې یو شمېر حکومتي تګلارې – په تېره بیا د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د جرمنیانو او جاپانیانو بهرنۍ چارې او د سړې جګړې پرمهال د امریکا د کمونېزم د حصار تګلاره – هم بیانوي. د برېټانیکا دایرة المعارف په اند «په نړېوالو اړیکو کې د ځواک پر اړیکو د جغرافیاوي اغېزو تحلیل ته جیوپولیټیک وایي». دغه راز د دوی په اند په اوسني وخت کې جیوپولیټیک د نړېوال سیاست په تړاو د مترادفې کلیمې په توګه هم استعمالېږي.[9]

د نړېوالو اړیکو پېژندنې په کتاب کې د جیوپولیټیک تعریف په دغو ټکو کې راغلی دی: «پر نړېوال سیاست او نړېوالو اړیکو د جغرافیې (انسان او فزیکي) د اغېزو مطالعې ته جیوپولیټیک وایي».[10]

## د نړېوال سیاست د کارپوهانو تعریفونه

که څه هم د جیوپولیټیک په تړاو ډېرو کارپوهانو خپل تعریفونه لیکلي؛ خو موږ دلته د یو څو تنو تعریفونه د موضوع د روښانه کولو په تړاو راوړو.

روډالف کجیلین (Rudolf Kjellén) چې د جیوپولیټیک اصطلاح اختراع کوونکی دی، په لاندې ټکو کې د جیوپولیټیک تعریف کوي:

---

[8] Cambridge Dictionary, geopolitics, see it online:<
https://dictionary.cambridge.org/dictionary/english/geopolitics>

[9] Encyclopeadia of Britannica, Geopolitics, see it online:< https://www.britannica.com/topic/geopolitics>

[10] Devetak et al. (eds), *An Introduction to International Relations*, 2012, p. 492.

«د جغرافیاوي ارګانیزم یا په فضا کې د یوې پدیدې په توګه د دولت تئوري ته جیوپولیټیک وایي». په دې تعریف کې دوه مهم ټکي دي، چې هغه پخپله د جیوپولیټیک دوه ټکي هم دي، یعنې ځواک او ځمکه.

وروسته، کارل هوشوفر(Karl Haushofer) چې نظریاتو یې د هټلر جرمني ډېره اغېزمن کړ، د جیوپولیټیک په تړاو وویل: «جیوپولیټیک د دولت نوی ملي ساینس دی، د جغرافیې پر پراخو اساساتو په تېره بیا پر سیاسي جغرافیې ولاړه یوه تیوري ده چې د ټولو سیاسي پروسو مکاني معینیت ښیي. له معینیت څخه موخه دا ده، چې بهرني لاملونه د سیاست اراده کنټرول کړي.

برنارډ کوهېن (BernardC.Cohen) چې پر جیوپولیټیکس یې یو پنډ کتاب کښلی، د جیوپولیټیک په تړاو وایي: «جیوپولیټیک د جغرافیاوي لیدلورو او چاپېریالونو، او د سیاسي پروسو د اړیکو شننې ته وایي. له جغرافیاوي چاپېریالونو څخه موخه جغرافیاوي عنصرونه، نمونې او څو بُعد لرونکې سیمې دي؛ او له سیاسي پروسو څخه موخه هغه ځواکونه دي، چې په نړېواله او سیمه‌ییز کچه نړېوال چلندونه اغېزمن کوي. او سیاسي پروسې بدلېدونکي دي، او دواړه یو بل اغېزمنوي. جیوپولیټیک د دغو اړیکو تاثیرات په نښه کوي.[11]

که په لنډه او عمومي توګه یې ووایو، نو د جیوپولیټیک اصطلاح چې اختراع هم شوه، او وروسته چې بیا د سیاسي علومو د یو شمېر پوهانو له‌خوا پرمختګ هم ورکړای شو او په دې برخه کې یې څېړنې او نظریې هم وړاندې کړې، یا خو پخپله جفرافیه پېژندونکي وو، او یا یې هم د سیاست په تېره بیا د بهرني سیاست او جغرافیې ترمنځ اړیکه په نښه کوله. له همدې ځایه ده، چې موږ وایو جیوپولیټیک یعنې د ځمکې سیاست.

په جیوپولیټیک کې یو شمېر عناصر تر ټولو زیات مهم رول لوبوي، چې په دې کې د یوه هېواد خاوره، سیمه‌ییز موقعیت، طبیعي منابع، ستراتېژیکې نقطې، ځواک (اقتصاد، انساني او نظامي ځواک او نور) راځي.

## افغانستان او سیمه‌ییز جیوپولیټیک

په تاریخي توګه افغانستان تل د خپلې سیمې د جیوپولیټیکي بدلونونو قرباني شوی دی. همدا لامل دی، چې د افغانستان اوسنی ولسمشر اشرف غني هم په کراتو په خپلو ویناوو کې وایي، موږ به نور دغه وضعیت بدلوو او خپل جیوپولیټیکي موقعیت به نور په خپله ګټه کاروو.[12]

---

[11] Saul Bernard Cohen (eds), Geopolitics: The Geography of International Relations, Third Edition, Rowan & Littlefield: London, 2015, pp:15-16

[12] عاشق الله رحیمزوی، غني: د طالبانو نه وړاندې باید د پاکستان سره سوله وشي، د امریکا غږ، ٦ وری ۱۳۹۴، په پرلیکه بنه:« https://www.pashtovoa.com/a/2694918.html»

که څه هم زموږ د بحث موضوع د افغانستان د جغرافیاوي موقعیت ارزښت بیانول نه دي؛ خو بیا هم افغانستان د سیمې په یوه داسې تقاطع نقطه کې پروت دی، چې امریکایي افغان پېژندونکی لویس ډوپري( Louis Dupree) یې د سوداګرۍ (ټرانسشیپمنټ) نقطع ګڼي؛ معاصر انګریز مورخ او فلسفي آرنلډ ټواین( ArnoldJ.Toynbee) بیا د نړۍ نیمې لارې باګرام ته سیخې ګڼي او د زړې نړۍ راتاوېدونکی هېواد یې ګڼي؛ علامه اقبال یې د اسیا زړه ګڼي، میکېنډر یې د خپلې (Heartland) تیورۍ داسې ځای بولي، چې له کبله یې پر نړۍ واکمني اسانه ده؛ دا رنګ یو شمېر نورو فیلسوفانو او مورخانو هم د افغانستان دغه جغرافیاوي موقعیت ته په کتلو په خپلو لیکنو کې اشارې کړي او دا موقعیت یې په ښه توګه درک کړی دی.

د افغانستان د همدې جغرافیاوي موقعیت له کبله ده، چې یو شمېر ستراتېژپوهان او جغرافیه پوهان اوس هم لا دې پایلې ته نه دي رسېدلي، چې آیا افغانستان د منځنۍ اسیا برخه ده، که له منځني ختیځ سره تړل شوی او که یا هم د سویلي اسیا نه شلېدونکې ټوټه ده؟ له همدې ځایه وه، چې د سارک په سازمان کې د افغانستان د بشپړ غړیتوب پرمهال هم د سویلي اسیا په سازمان کې یو شمېر هېوادونو او مورخینو د افغانستان د بشپړ غړیتوب پرضد همدا بحث راپورته کړ، چې افغانستان خو د منځنۍ اسیا او یا هم د منځني ختیځ هېواد دی، نه د سویلي اسیا! خو د هند د قوي ملاتړ له کبله بیا دا بحث کرار کړای شو او په پای کې افغانستان په ۲۰۰۷ز کال کې په دې سازمان کې بشپړ غړیتوب ترلاسه کړ.

دغه راز له دریو سیمو سره زموږ د همدې تړل شوي موقعیت له کبله ده، چې د منځنۍ اسیا، سویلي اسیا او منځني ختیځ پېښې پر موږ ژورې اغېزې ښندي. دا اغېزې له اقتصادي راکړې ورکړې نیولې تر سیاسي، کلتوري، دیني او ایډیالوژیکو ډګرونو پورې پراخې دي.

په اقتصادي برخه کې افغانستان د ورېښمو لارې تر تاثیر لاندې پاتې شوی. د چین له مدنیته پیل شوې د دغې زړې اقتصادي او ترانزیتي لارې، چې ان تر افریقا او اروپا پورې غځېدلې وه، ډېری برخه پر افغانستان تېرېدله. تقریباً د ورېښمو لارې څلور شاخونه پر افغانستان تېرېدل. یو ښاخ به له چین څخه د پامیر او بدخشان له لارې افغانستان ته داخلېده. بل ښاخ به د اوسني تاجکستان له لارې د افغانستان بلخ ته راکوزېده. درېیمه لاره د ترکمنستان له لارې د افغانستان هرات ته راښکته کېده او څلورمې لارې له هند څخه منشاء اخیسته او بیا به د پېښور او کندهار له لارې افغانستان ته داخلېدله.[13] هغه مهال د افغانستان اقتصاد

[13]عزیز احمد پنجشیري، افغانستان و راه ابریشم، کابل: انتشارات سعید، ۱۳۷۸

په ډېری توګه د همدې زړې اقتصادي او ترانزيتي لارې څخه په مثبته توګه اغېزمن شوی وو. له دې وراخوا، څنګه چې افغانستان په وچه کې راګير هېواد شو، نو د نورو هېوادونو په پرتله تر ټولو زياته سوداګري يې د منځنی آسيا، سويلي آسيا او منځني ختيځ له هېوادونو سره وه او ده.

په پوځي ډګر کې هم، پر افغانستان پوځي يرغلونه له درېيواړو لورو څخه شوي او که چېرې وروستېو دوو زرو کلونو ته نظر کړو، نو په دې بهير کې که د نورو سيمو په پرتله پر افغانستان تر ټولو زيات استعماري يرغلونه وي شوي، نو له نورو سيمو پرې کم هم نه دي شوي. د مقدوني سکندر اعظم څخه نيولې د چنګېز، تيمور شاه (ګډ تيمور)، مغولو، صفويانو، انګرېزانو، شورويانو او امريکايانو تر بريدونو پورې؛ ټول د افغانستان د جغرافياوي موقعيت له کبله وه. لومړنېو فاتحينو پر افغانستان له دې کبله بريدونه کول، چې هند ته پر لارې پروت وو او د دروازې حيثيت يې درلود. خو وروستنېو بيا په خپله د افغانستان جغرافياوي موقعيت ته پاملرنه وکړه او د افغانستان نيول يې د خپلو ګټو خوندي کېدل وګڼل.

په فرهنګي او تمدني ډګر کې هم، افغانستان له منځنی اسيا، منځني ختيځ او سويلي اسيا سره ژورې اړيکې لري. منځنی اسيا، چين او جاپان ته د بوداييزم دين په خپرولو کې د افغانستان د باميانو، ګندهارا، هډې، باګرام او يو شمېر نورو بودايانو رول لوبولی. په سويلي اسيا کې د اسلام د دين په خپرولو کې يې رول هم تر ټولو زيات جوت دی، ځکه په هند کې د افغانانو لهخوا د اسلام دعوت د دوو لارو وشو: د جهاد او صوفيزم له لارې. د فارسي ژبې په ترويج کې افغان مېشته امپراتوريو رول درلود، او هم د اموي او عباسي خلافتونو پرمهال په اسلامي فقه کې د افغاني علماو رول هم تر يوه ځای منعکس کېږي (په دې تړاو د استاد خليل الله خليلي يوه رساله د يادونې وړ ده، چې د هغو لغماني فقهاو په تړاو يې ليکلې، چې په بغداد کې مېشت او نوم يې ويستلی وو). دغه راز د افغانستان پر لرغونو ژبو د هندي سنسېکرت او بودايي او هندي دينونو اغېزې هم تر ټولو زياتې دي او اوس هم د پښتو په يو شمېر کلماتو کې سنسېکرتي رېښې موندل کېږي. د پښتو او فارسي شعرونو هم د هندي اشعارو اغېزه منلې او هغه شعرونه چې له دغو اغېزو بهره من دي، اوس زموږ په ادب کې د هندي مکتب په نامه يادېږي.

په ايتنيکي (توکميز) لحاظ هم، افغانستان د منځنی اسيا، منځني ختيځ او سويلي اسيا سره ژور تړاو لري. پښتانه، چې د هېواد لوی توکم دی، د سويلي اسيا په هند او پاکستان کې هم مېشت دي. دغه راز تاجک، ازبک او ترکمن هم په منځنی اسيا او منځني ختيځ کې له خپلو توکميزو سره ژورې اړيکې لري.

په بل اړخ کې دلته تر ډېره فکري او ایډیالوژیکي خوځښتونه هم له منځني ختیځ، منځنۍ اسیا او سویلي اسیا پل راوړی. لکه په افغانستان کې د مشروطیت پر غورځنګ د ایران د مشروطیت غورځنګ او په ترکیه کې د ځوانو ترکانو خوځښت اغېزې. د سړې جګړې پر مهال افغانستان ته له منځني ختیځ او سویلي اسیا څخه د اخوان المسلمون او جماعت اسلامي سیاسي او اډیالوژیکي افکارو راتګ. دغه راز له منځنۍ اسیا (هغه مهال شوروي اتحاد) څخه د کمونېزم راتګ او اوس له امریکا څخه د ډیموکراسۍ، بیان ازادي، او کاپیتالیستي اقتصاد (ازاد بازار) سېستم یوازې هغه بېلګې دي، چې له کبله یې زموږ هېواد ترې اغېزمن شوی دی.

## دویمه برخه: په سیمه‌ییزه کچه د هېوادونو د خپل منځي اړیکو ارزونه

له سړې جګړې وروسته، د امریکا متحده ایالات په نړۍ کې یوازینی زبرځواک و، چې د نړۍ په تاریخ کې او د نړېوالو اړیکو په ډګر کې د بې ساري ځواک څښتن و. خو له ۲۰۰۹ز کال وروسته، د امریکا دا ځواک په تدریج په کمېدو شو. په ختیځې اروپا کې د اوکراین او ګرجستان د کړکېچونو او په منځني ختیځ کې د سوریې بحران پر مهال د امریکا کمېدونکی ځواک ټولو ته څرګند شو. له همدې ځایه ده، چې د نړۍ آسیایي مفکرین، په تېره بیا د چین ستراتېژپېستان له ۲۰۱۲ز کال راهیسې نړۍ نوره یوه قطبه نه ګڼي. په نړېواله کچه د امریکا متحده ایالاتو دا کمېدونکی ځواک او په بل اړخ کې د چین، هند او روسیې راپورته کېدا د یو ځل بیا لپاره دغه بحثونه تاوده کړي، چې له سړې جګړې وروسته زموږ سیمه یو ځل بیا پر دوو بلاکونو وېشل کېږي؛ خو دا ځل به یې له سړې جګړې سره توپیر دا وي، چې د دغو دوو ګروپونو وېش به پر ایډیالوژیکي کرښو ونه شي، بلکې دا ځل به د وېش تر شا جیوپولیټیک خپل رول ولوبوي.

د همدې بحث په امتداد د نړېوالو چارو یو شمېر شنونکو پاکستان، چین، ایران او روسیه په یو بلاک کې وګڼل او هند، جاپان، او امریکا یې په بل بلاک کې. په ملګرو ملتونو کې د پاکستان پخواني سفیر منیر اکرم د هند، افغانستان او ایران ترمنځ د چابهار د ترانزیتي تړون له لاسلیکولو وروسته د یوې مقالې په بڼه دا بحث راپورته کړ. ورپسې جوخت په پاکستاني رسنېو کې دغه بحث لا پسې پراخ کړای شو. په نړېواله کچه هم، په یو شمېر نړېوالو مجلو او تحلیلي ویب‌پاڼو کې هم، د سیمې وېشل کېدا او د دوی ترمنځ د رقابت په تړاو مقالې خپرې شوې.

دا چې زموږ سیمه پر کوم لوري روانه ده، او د دوو بلاکونو د غړو هېوادونو په خپل منځ کې څه ډول اړیکې دي، په لاندې برخو کې ورته اشاره کوو، له هغې وروسته به په سیمه کې د بدلېدونکو جیوپولیټیکي بدلونونو په تړاو سم پوهه شو او هم به په آسانۍ وکولای شو، چې د دغو بدلونونو اغېزې پر خپل هېواد وارزوو:

## د پاکستان-روسیې اړیکې

پاکستان او روسیه د سړې جګړې پرمهال رقیبان وو. خو دا حالت اوس بدلېدونکی دی او د دواړو هېوادونو ترمنځ امنیتي اړیکې د پراخېدلو پر لور روانې دي. په ۲۰۱۴ز کال کې روسیې له پاکستان څخه بندیز پورته کړ او له روسیې څخه یې د وسلو پېرلو ته اجازه ورکړه. په همدې کال د دواړو هېوادونو ترمنځ په دفاعي او نظامي برخو کې همکاري پیل شوه. له همدې کبله پاکستان په ۲۰۱۵ز کال کې له روسیې څخه څلور ایم آی ۳۵ جنګي چورلکې واخیستې. په همدې کال د پاکستان لوی درستیز راحېل شریف هم روسیې ته په سفر ولاړ. دا د پاکستان-روسیې د دوه اړخیزو اړیکو په تاریخ کې لومړی ځل و، چې د پاکستان لوی درستیز روسیې ته سفر کاوه.

په ۲۰۱۵ز کال کې روسیې په پاکستان کې تقریباً تر ۲ میلیاردو ډالرو پورې پانګونه وکړه، څو له کراچۍ څخه لاهور ته د غازو یو نل‌لیکه وغځوي. دغه مهال په پاکستان کې اقتصادي ستونزې ډېرې وې او د پاکستان-چین اقتصادي حوزې ترڅنګ دا پروژه د پاکستان د اقتصادي پیاوړتیا په معنی و.

په ۲۰۱۸ز کال کې روسیې او پاکستان د خپلو دوه اړخیزو اړیکو په تاریخ کې په لومړي ځل پوځي تمرینات پیل کړل.که څه هم دغه ګډ پوځي تمرینات ډېر محدود وو؛ له دواړو خواو څخه تقریباً ۲۰۰ پوځیانو پکې ونډه واخیسته او وړې وسلې پکې وکارول شوې؛ خو بیا هم په سیمه‌ییزه کچه دا د پالیسۍ د بدلون څراغونه ورکول.

په ۲۰۱۸ کال کې د دواړو هېوادونو سوداګري ۸۰ سلنه زیاته شوه، او دغه راز په دې کال کې د پاکستان او روسیې د لوړ پوړو نظامیانو او د استخباراتو ترمنځ د یو بل هېوادونو ته سفرونه او له یو بل سره کتنې هم زیاتې شوې. د همدې کتنو په پایله کې د ۲۰۱۸ز کال د اګسټ په میاشت کې دواړو هېوادونو په یوه هوکړه‌لیک هم سره سلا شول، چې له مخې به یې روسیه د پاکستان نظامي سرتیري روزي.[14]

له دې وراخوا، روسیې له پاکستان او چین سره یوځای د افغانستان د امنیتي وضعیت او سولې پروسې په تړاو د مسکو پروسه پیل کړه، چې وروسته بیا پکې د سیمې نور هېوادونه هم ور زیات شول.

[14] The News, Russia to train Pakistani troops, 8 August 2018, see it online:<
https://www.thenews.com.pk/latest/352364-russia-all-set-to-train-pakistani-troops>

## د پاکستان-امریکا اړیکې

که موږ د پاکستان او امریکا د دوه اړخیزو اړیکو د تېرو اوو لسیزو تاریخ ته وګورو، نو جوته به شي، چې په دې بهیر کې اسلام آباد-واشنګټن دوه-اړخیزو اړیکو لوړې او ژورې لیدلي. خو یوه خبره پکې حتمي وه، چې د سیاسي ګوندونو د حکومتونو په پرتله دغه دوه اړخیزې اړیکې په پاکستان کې د نظامیانو د حکومتونو پرمهال پیاوړې وې. د ایوب خان، ضیاء الحق او جنرال مشرف پرمهال سیاسي اړیکې او له اسلام آباد سره د واشنګټن نظامي او اقتصادي مرستې هم د بل هر وخت په پرتله تر ټولو نږدې او زیاتې وې. خو له تېرو دوو کلونو راهیسې (۲۰۱۶-۲۰۱۸) د پاکستان او امریکا ترمنځ اړیکې خړې پړې شوي. امریکا اوس‌مهال په سیمه کې د روسیې د بیا راپورته کېدا او د چین فکتور له کبله هند ته ډېر ارزښت ورکوي. له هند سره یې نظامي اړیکې ډېرې نږدې شوي. د بېلګې په توګه له ۲۰۱٦ز کال راهیسې د امریکا او هند د دفاع وزیرانو ترمنځ شپږ ناستې شوي او دغه راز په دې وروستیو کې دواړو هېوادونو د نظامي-لوجستیکي هوکړه لیک هم لاسلیک کړ، چې له امله به یې امریکا د هند هوایي هډې د اضطراري حالت په وخت کې استعمالولای شي.

په ۲۰۱٦ز کال کې له پاکستان سره د امریکا نظامي او اقتصادي مرستې له یو میلیارد ډالرو څخه زیاتې نه وې، دا په داسې حال کې ده، چې په ۲۰۱۱ز کال کې امریکا له پاکستان سره ۳،۵ میلیارد ډالره اقتصادي او نظامي مرستې کړې وې او له ۲۰۰۷ز کال راهیسې دا د امریکا لخوا له پاکستان سره تر ټولې کمې مرستې وې.

د ډونلډ ټرمپ د سویلي اسیا په تګلاره کې هم، پر پاکستان توندې نیوکې شوې. د پاکستان لپاره دا د درېیو لاملونو له کبله د اندېښنې وړ وه:

**لومړی**؛ ډونلډ ټرمپ په مخامخ ډول پاکستان په خپله وینا کې یاد کړ او ویې ویل: «موږ پاکستان ته په میلیاردونو ډالر ورکوو خو په عین وخت کې دوی هغه چا ته پټنځایونه ورکوي، چې موږ ورسره په جګړه کې ښکېل یو. دا باید ژر تر ژره بدلون ومومي»؛

**دویم**؛ په افغانستان کې د هند د زیاتېدونکي رول څخه د امریکا او ډونلډ ټرمپ ملاتړ او غوښتنه؛

**درېیم**؛ په افغانستان کې د امریکا تت او مبهم راتلونکی. ځکه د ټرمپ په وینا د امریکا دښمنان باید د امریکا د پلانونو او تګلارو څخه خبر ونه اوسي.

خو وروسته، چې څنګه امریکا په افغانستان کې د زلمي خلیلزاد په مشرۍ له افغان طالبانو سره د سولې خبرې اترې پیل کړې، نو د پاکستان او امریکا اړیکې د ښه کېدو پر لور ولاړې، او ان د امریکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ وویل: «دوه اړخیزې اړیکې د ښه کېدو پر لور روانې دي». د دې ترڅنګ د پاکستاني چارواکو په اند د امریکا ولسمشر د پاکستان ولسمشر عمران خان ته یو لیک هم واستاوه او د افغانستان د سولې په پروسه کې یې ترې مرسته وغوښته. د وروستیو معلوماتو له مخې برېښي، چې پاکستان؛ لکه څنګه یې چې د ۲۰۰۱ز کال پرمهال افغانستان ته د امریکایي سرتېرو له راتګ سره همکاري وکړه، دا ځل به له امریکا سره له افغانستانه د امریکایي سرتېرو په وتلو کې هم همکاري وکړي.

## د پاکستان-چین اړیکې

پاکستان او چین دوه ستراتیژیک ملګري دي. دواړه له پخوا پیاوړې او ښې اړیکې لري. له تېرو څو کلونو (۲۰۱۴-۲۰۱۹) راهیسې دا اړیکې همداسې پیاوړې پاتې شوي، بلکې چین پاکستان ته د خپلې ملګرتیا څو ځله امتحانونه هم ورکړي او پکې بریالی شوی هم دی. له همدې ځایه ده، چې د پاکستان ډېری خلک چین ته په درنه سترګه ګوري او چین په پاکستان کې د پیاوړي نرم ځواک څښتن دی.

چین په ۲۰۱۵ز کال کې له پاکستان څخه د ورېښمو نوې لارې یوه مهمه برخه تېره کړه او د چین-پاکستان اقتصادي حوزې په نامه یې ونوموله. په دې اقتصادي حوزه کې به چین له ۴٦ میلیارد ډالرو څخه زیاته پانګونه وکړي، له همدې کبله ده، چې دغه اقتصادي حوزه اوس په سیمه کې د لوبې بدلوونکې پروژې په توګه هم یادېږي. امریکا او هند له دې پروژې څخه په ښکاره مخالفت وکړ او دا پروژه یې له متنازعو سیمو څخه تېرېدونکې وګڼله. په بل اړخ کې د لوېدیځ یو شمېر هېوادونه چې د امریکا له متحده ایالاتو سره نږدې اړیکې لري، هم د چین د ورېښمو لارې ته د شک په سترګه ګوري. د دې پروژې پلي کول یوازې چین ته ګټه ورکوونکې ګڼي او په بل اړخ کې د دې وېرې او اندېښنې هم څرګندوي، چې هسې نه، د دې پروژې تر شا اصلي موخه د نړېوال نظم بدلون وي!! له دې وراخوا، د چین په دې پروژې د قرضې د جال په توګه هم نیوکې کېږي.

چین په ملګرو ملتونو کې د پاکستان لپاره د هند د هغو قراردادونو په لاره کې هم خنډ شو، چې له مخې یې شونې وه، چې د جیش محمود مشر مسعود اظهر د یو تروریست په توګه وپېژندل شي. دغه راز چین د اټومي عرضه کوونکو په ډله کې هم د هند د غړیتوب په لاره کې لوی خنډ واقع شو او له کبله یې هند د امریکا د

قوي ملاتړ باوجود په دې ډله کې غړیتوب ترلاسه نه شو کړای. د چین دوه عمده شرطونه وو: لومړی دې هند پر این پي ټي تړون لاسلیک وکړي. دویم، پاکستان ته دې هم په دې ډله کې غړیتوب ورکړای شي.

## د پاکستان-افغانستان اړیکې

د ملي یووالي حکومت له جوړېدو سره، د کابل او اسلاماباد ترمنځ دوه اړخیزې اړیکې د پاکستان له زېړېدو راهیسې بې سارې وې. افغان حکومت په تېره بیا افغان ولسمشر اشرف غني پاکستان ته ډېر امتیازات ورکړل، د بېلګې په توګه اقتصادي او ترانزیتي، له هند سره د ثقیلو وسلو رانیولو قرارداد بندول، د نظامي روزنې په موخه پاکستان ته افغان سرتیري استول، له آی ایس آی سره د افغان ملي امنیت هوکړه‌لیک (چې وروسته بیا د افغان حکومت له خوا دا ډول اوازې رد شوې او دا یې د هوکړه‌لیک په تړاو هوکړه‌لیک وګاڼه)، او یو شمېر نور. په عمده توګه د دې امتیازاتو تر شا موخه دا وه، څو پاکستان وهڅوي په ریښتینې توګه په افغان سوله کې همکاري وکړي. خو دغو هڅو یوازې د مري پر خبرو اترو او بې پایلې څلور اړخیزو خبرو اترو منتج شوې.

له تېر یو کال راهیسې (۲۰۱۷ز)، د پاکستان-افغانستان اړیکې د ملي یووالي حکومت د نورو وختونو په پرتله تر ټولو کړکیچنې دي. دغه مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د تورخم خونړۍ پېښه هم وشوه، چې له کبله یې له پاکستان څخه د افغان کډوالو بېرته راستنېدنه چټکه شوه او افغان حکومت هم اوس چمتووالی نیسي، ترڅو خپل ډېری کډوال له پاکستان څخه د (خپل وطن؛ ګل وطن) په غړ بېرته راستانه کړي (په پاکستان کې له افغان کډوالو سره بد وضعیت، د افغان کډوالو پر لور د ځایي خلکو په چلند کې بدلون او په پاکستان کې د دوی تت راتلونکی نور هغه عوامل وو، چې میاشت په میاشت افغان کډوال یې هغه مهال وهڅول، څو هېواد ته بېرته راستانه شي).

له دې وړاندې افغان حکومت پر پاکستان د خپلې ترانزیتي اتکا کمولو په موخه له ایران او هند سره یوځای د چابهار تړون لاسلیک کړ، په دې وروستېو کې یې له چین سره د رېل له لارې سوداګري هم له منځنۍ اسیا څخه پیل کړه او شونې ده چې په نږدې وختونو کې د لاجوردو له لارې له اروپا سره سوداګري پیل کړي. د افغان حکومت لخوا دغه ټول ګامونه د پاکستان له اتکا څخه د وتلو جدي هڅې دي.

د ۲۰۱۸ز کال پرمهال، د پاکستان او افغانستان ترمنځ اړیکې په ډېره ټیټه کچه دي؛ ځکه افغان حکومت ځان له پاکستان سره په یو نااعلان شوې جګړه کې ښکېل وباله، په هېواد کې د روانې ناامنۍ عمده لامل پاکستان او په پاکستان کې افغان وسله‌والې ډلې ګڼل کېږي. خو د ۲۰۱۹ز کال په دویمه ربعه کې پاکستان ته د

افغان ولسمشر اشرف غني سفر دغه دوه اړخیزې اړیکې یو څه ورغولې. دا چې آیا غني هغه څه غوښتل، ترلاسه کړل او پاکستان به پر خپلو هغو ژمنو چې له افغان ولسمشر سره وکړې راتلونکي وختونه ځواب کړي.

## د پاکستان-هند اړیکې

که څه هم د هند او پاکستان اړیکې په تېر تاریخ کې په ډېرو کمو وختونو کې عادي بڼه درلودلې؛ خو بیا هم د ۲۰۱٦-۲۰۱۹ز کلونو پرمهال په تېره بیا د هند پر پټانکوټ هوايي ډګر له بریده وروسته د هند او پاکستان اړیکې خړې پړې شوې او له همغه مهاله راهیسې د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي د پاکستان پرضد په یوه داسې پالیسي کار پېل کړ، چې له کبله یې هندي ځواکونو په «سرجېکل بریدونو» کې رانښکاره شوه.

دغه راز د هند تر ولکې لاندې کشمیر کې د حزب المجاهدین د یو قومندان -برهان واني- وژنه د ډهلي-اسلام آباد پر اړیکو اغېزه وکړه. د پاکستان لومړي وزیر د حزب المجاهدین دغه قوماندان «شهید» وباله او هند بیا د پاکستان د «شهید» کلیمې کارونه له تروریزم څخه د پاکستان ملاتړ وباله. پاکستان ډېره هڅه وکړه، چې د کشمیر قضیه په نړېواله کچه یو ځل بیا راپورته کړي؛ خو تر اوسه له ناکامۍ سره مخ شوی دی (پرته له هغې، چې د امریکا ولسمشر ټرمپ د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره په کتنه کې د کشمیر په تړاو څرګندونې وکړې).

د کشمیر په یوري هندي پوځي هډه باندې د کشمیري ځوانانو برید د ډهلي-اسلام آباد ترمنځ اړیکې نورې هم خرابې کړې. د هند دننه یې د پاکستان-ضد روحیه نوره هم وپاروله او په هند کې د بي جې پي پر حکومت فشارونه زیات شول. له همدې ځایه وه، چې هندي ځواکونو د پاکستان تر ولکې لاندې په کشمیر کې پوځي عملیات یا په هندي اصطلاح سرجیکل بریدونه ترسره کړل.

د ۲۰۱۷ز کال پرمهال د پاناما ګېټس او یو شمېر نورو قضیو له کبله د پاکستان پر لومړی وزیر نواز شریف فشارونه زیات شول او له کبله یې ده له وزیر اعظمۍ استعفی وکړه. دغه مهال د پاکستان پوځ او نواز شریف ترمنځ د پاکستان چین اقتصادي حوزې او له هند سره په روابطو اړیکې خرابې شوې. همدا لامل وو، چې د پاکستان په اجتماعي رسنېو کې د نواز شریف او مودي ترمنځ پر نږدې اړیکو نیوکې وشوې. د ۲۰۱۸ز کال د پاکستان د پارلماني ټاکنو پرمهال د پاکستان تحریک انصاف ګوند یوه مشهوره نعره پورته کړه «مودي کا جو یار هی غدار هی» (د مودي چې څوک ملګری دی، غدار دی).

کله چې د پاکستان د تحریک انصاف ګوند د پاکستان پارلماني ټاکنې وګټلې، نو عمران خان وروسته د کورتهاپور حوزې پرانیستلو ته د هند د بهرنیو چارو وزیره راوبلله. خو د هغې له خوا دغه سفر رد شو. د کورتهاپور حوزه به په هند کې د بابه نانک ډېره او په پاکستان کې د ګردواره دربار صاحب کورتهاپور سره ونښلوي.

د دې ترڅنګ د ۲۰۱۹ز کال په فبروري میاشت کې د هند تر ولکې لاندې د کشمیر په پلوامه کې یو ځل بیا پر هندي سرتېرو برید وشو، چې له کبله یې له ۴۰ زیات هندي سرتیري ووژل شول. پاکستان مېشتي جیش محمد ډلې د دې برید مسوولیت واخیست؛ خو د پاکستان حکومت دغه برید وغنده. په بل اړخ کې د هند حکومت بیا په دې باور و، چې د دې برید تر شا د پاکستان لاس دی. دا فکر له دې ځایه سرچینه اخلي، چې د ډېری کسانو په اند د پاکستان نظامیان په هند او کشمیر کې خپله تګلاره تر ډېره د غېر دولتي کسانو پرمټ مخکې وړي، چې لشکر طیبه او جیش محمد ډلې په دې کې راځي.

د دې برید له کبله په هند کې د مودي پر حکومت فشار زیات شو او له کبله یې هند د پاکستان په بالاکوټ سیمه کې بمونه وغورځول. د پاکستان پوځ هم د هند برید وغنده او له کبله یې د دواړو هېوادونو ترمنځ جګړه پیل شوه. د جګړې په دویمه ورځ پاکستان د هند دوه الوتکې وویشتې، یو پیلوټ یې ژوندی ونیوه. د پیلوټ نیولو او بېرته خوشې کېدو د دې جګړې شدت راکم کړ.

دا چې ولې هند پر پاکستان بریدونه وکړل، څو عمده عوامل یې درلودل:

**لومړی**؛ د ۲۰۰۸ز کال د بمبۍ د خونړي بریدونو پر مهال په هند کې حاکمه ډله د کانګرس وه، او دوی هغه مهال حاکمه ډله له دې کبله تر فشار لاندې نیولې وه، چې ولې یې پاکستان ته ځه ونه ویل. ځکه نو اوس په خپله له خپلو خبرو او تېرو توندو څرګندونو تر فشار لاندې وه.

**دویم**؛ مودي له دې وړاندې د ۲۰۱۶ز کال پرمهال او د اوړي برید څخه ۱۱ ورځې وروسته هند په پاکستان کې سرجیکل بریدونه ترسره کړل، چې بیا د پاکستان د حکومت له خوا دغه ادعا رد هم شوه. دا ځل په هند کې ترې د ورته بریدونو تقاضا زیاته شوه.

**دریيم**؛ په هند کې د ۲۰۱۹ز کال د اپرېل او مۍ میاشتو پرمهال پارلماني ټاکنې شونې وې. له همدې ځایه د هند حاکم بي جې پي ګوند وغوښتل د دا ډول پاکستان ضد تګلارو له کبله ټاکنې وګټي. همدا لامل وو، چې په پای کې د پاکستان د بالاکوټ پر سیمه بمونه وغورځول او په پارلماني ټاکنو کې یې بیا له خپلې دې کړنې څخه ډېره ګټه پورته کړه. وروسته یې بیا پارلماني ټاکنې وګټلې هم.

## پاکستان-ایران اړیکې

د ۲۰۱۴ز کال راهیسې د پاکستان-ایران اړیکې له سختو شېبو تېرېږي او په ډېرى توګه د بې باوريو ښکار دي. په ۲۰۱٦ز کال کې ایران د پاکستان بلوچستان پر لور څو توغندي وتوغول؛ خو دا لومړی ځل نه و، چې ایران داسې کوي، بلکې د ۲۰۱۴ز په وروستېو او په ۲۰۱۵ز کال، او ان په ۲۰۱۸ز کال کې يې هم ورته کار ترسره کړی وو.

دغه راز په پاکستان کې د هند د استخباراتو غړي کولبوشن يادوف له نیولو سره دغه اړیکې نورې هم خړې پړې شوې؛ ځکه د پاکستان د رسمي دریځ له مخې د هندي استخباراتو دې غړي د پاکستان پرضد د ایران خاوره استعمال کړې وه. له همدې ځایه د پاکستان د کورنېو چارو وزیر چودري نثار علي خان خپل ایراني سیال ته یو لیک واستاوه، او د کولبوشن يادوف په اړه يې ترې نور معلومات او د هندي استخباراتو پر وړاندې د سختو ګامونو اخیستلو غوښتنه وکړه.

د دې ترڅنګ له ایران سره د افغان طالبانو پخواني مشر ملا اختر محمد منصور اړیکې او ایران ته څو ځله سفرونه او د ایران-هند-افغانستان لخوا د چابهار تړون لاسلیکول بل هغه څه شو، چې د اسلام آباد-تهران ترمنځ يې بې باوري زیاته کړه. خو د چین-پاکستان اقتصادي حوزې سره د ایرانیانو یوځای کېدنه، د یمن په جګړه کې د پاکستان ناپېیلتوب، او د بلوچانو د موضوع د بېرته تودېدلو له کبله شونې ده چې د دواړو هېوادونو ترمنځ همکاري زیاته شي. ځکه دواړه ایرانیان او پاکستانیان د بلوچانو له ستونزې اندېښنه لري.

په ۲۰۱۸ز کال کې یو ځل بیا د پاکستان-ایران سرحد ته څېرمه د ایران ۱۲ سرتیري اختطاف شول. په همدې موخه د ایران د بهرنېو چارو وزیر جواد ظریف پاکستان ته د خبرو اترو لپاره راغی. وروسته د ۲۰۱۹ز کال فبرورۍ په میاشت کې په پاکستان کې مېشتې ایرانۍ جیش العدل ډلې د ایران د سپاه پاسدارانو پر یوه موټر برید وکړ، چې له کبله يې ۲۷ غړي ووژل شول. په غبرګون کې ایران د پاکستان سفیر احضار کړ. دا وضعیت تر اوسه همداسې د بې باورۍ ښکار دی؛ خو د ایرانیانو په اند د دا ډول پېښو تر شا د درېیمو لوریو لاس دی. که څه هم په رسمي توګه دغه درېیم لوري نه تعریفېږي خو بیا هم اشاره تر ډېره د ایران مخالف سعودي ته وي.

که څه هم د پاکستان-ایران اړیکې دومره هم نږدې نه دي، لکه د ملي یووالي دورې (۲۰۱۴-۲۰۱۹)ز کلونو پرمهال چې له چین او روسیې سره د پاکستان نږدې اړیکې دي؛ خو په ټوله کې په سیمه کې د امریکا شتون، د داعش ډلې ظهور او له چین او روسیې سره د دواړو هېوادونو ښې اړیکې د دې باعث کېږي، چې دواړه په یو

بلاک کې شته وي. د دې ترڅنګ په پاکستان کې حکومت او نظامیان هم دا هڅې کوي، چې د سعودي او ایران ترمنځ په روان رقابت کې په رسمي ډول یو ډول ناپېیلتوب وښیي. دا هم د دې چانس زیاتوي، چې دواړه دې په یو بلاک کې شته وي.

## د افغانستان-امریکا اړیکې

د حامد کرزي د دویمې دورې په پای کې د کابل-واشنګټن اړیکې د ۲۰۰۱-۲۰۰۹ز کلونو په پرتله خړې پړې شوې. خو د ملي یووالي حکومت له جوړېدو سره، دا اړیکې بېرته ورغېدلې. افغان حکومت او امریکا امنیتي تړون لاسلیک کړ، چې له مخې به یې په افغانستان کې تر ۲۰۲۴ز کال پورې امریکایي سرتیري په خپلو هډو کې پاتې شي.

دغه راز واشنګټن له افغانستان سره نظامي او اقتصادي مرستې هم روانې وساتلې. د وارسا ۲۰۱٦ز کال په کنفرانس کې امریکا تر ۲۰۲۰ز کال پورې په کلني ډول له افغان امنیتي ځواکونو سره د ۳٫۴۵ میلیارد ډالرو مرستو ژمنه وکړه او د بروکسل ۲۰۱٦ز کال په کنفرانس کې یې هم له افغان حکومت سره د مرستو ژمنه کړې وه.

د دې ترڅنګ افغان حکومت د افغانستان او سویلي اسیا نوې تګلاره پر لور د ډونلډ ټرمپ له نوې تګلارې هم هرکلی وکړ؛ ځکه:

**لومړی**؛ امریکا د جګړې ګټلو هوډ کړی؛ له دې وړاندې د بارک اوباما تګلاره تر ډېره د سرتېرو پر ایستلو ټینګار کاوه؛

**دویم**؛ افغان حکومت پر پاکستان د امریکا نوي فشارونه له خپلې تګلارې سره همغږې ګڼي؛

**دریيم**؛ افغان حکومت په امنیتي ډګر کې له پراخو ننګونو سره مخ ده. د امنیتي ځواکونو تلفات پکې کال په کال زیاتېږي او دغه راز تر حاکمیت لاندې ځمکه یې هم په تدریجي ډول کمېږي. په یوه داسې وخت کې که امریکا په افغانستان کې خپل اوږدمهالی شتون مبهم پرېږدي او د سرتېرو د ایستلو پروګرام تم کوي، نو دا به د افغان حکومت لپاره له زیري ښخه کمه نه وي.

همدا لامل دی، چې افغان حکومت چې اوس‌مهال تر ډېره پر امریکايي مرستو متکي دی، هم د امریکا په یو شمېر هغو کړنو چې له کبله یې په هېواد کې ورځ تر بله امنیتي ځواکونه او ملکیان په نښه کېږي تر ډېره چُپ دی.

خو د افغانستان او امریکا ترمنځ دغه نږدې اړیکې د ۲۰۱۸ز له نیمايي راهیسې د بې باوریو پر لور رواني دي. د دې بې باوریو عمده دلیل د امریکا د سولې نوې تګلاره ده، چې د زلمي خلیلزاد تر مشرۍ لاندې یې پرمخ بیايي. افغان حکومت هڅه کوي، چې په څه ډول د امریکا پاتې کېدل په افغانستان کې وځنډوي او د سولې پروسه په خپلو لاسونو کې واخلي. خو د افغان طالبانو او خلیلزاد د پنځم پړاو خبرو اترو وروسته دغه بې باوري زیاته شوه، او افغان ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب په همدې موخه امریکا ته واستاوه. حمدالله محب هم، مخامخ پر امریکا او ډونلډ ټرمپ له نیوکو ډډه وکړه او ټوله پړه یې د سولې خبرو اترو په تړاو د امریکا پر ځانګړي سلاکار زلمي خلیلزاد واچوله، چې دی غواړي افغان حکومت منزوي کړي، او د خپل قدرت لپاره دغه هر څه کوي.

## د هند-امریکا اړیکې

په هند کې د نرېندرا مودي له واک ته رسېدو سره سم، د امریکا او هند اړیکو نوی موج واخیست. نرېندرا مودي له ۲۰۱۴ز کال راهیسې څلور ځله امریکا ته سفر وکړ (دوه په نړېوالو کنفرانسونو کې ګډون او دوه نور بیا رسمي دولتي سفرونه وو). دغه راز د ۲۰۱٦ز کال په جنورۍ کې بارک اوباما هم د نرېندرا مودي په غوښتنه د هند د جمهوریت ورځې په لمانځغونډه کې برخه واخیسته او په دا ډول اوباما د امریکا لومړنی ولسمشر شو، چې په خپله ۸ کلنه دوره کې یې هند ته دوه ځله رسمي سفرونه وکړل او د هند د جمهوریت ورځې د پرېټ یا رسم ګذشت په مراسمو کې برخه واخیستله.

په سیمه‌ییز سیاست کې یو نوی ګام هغه مهال پورته شو، چې کله د هند د دفاع وزیر مانوهار پارېکار امریکا ته په یوه رسمي سفر ولاړ او هلته یې له خپل سېال ایشټن کارټر سره نظامي-لوجستیکي تړون لاسلیک کړ. د دې تړون له مخې به دواړه هېوادونه د یو بل له هوا، اوبو او ځمکې څخه د اړتیا په وخت کې ګټه واخلي؛ خو بیا هم د امریکا دفاع وزیر، په هند کې دننه د مخالفتونو کرارولو او د سیمې د هېوادونو د اندېښنو کمولو په موخه، په ګډ مطبوعاتي کنفرانس کې وویل چې «د دې تړون معنا دا نه ده، چې موږ به د یو بل په هېوادونو کې پوځي اډې ترلاسه کوو». په ۲۰۱٦ز کال کې امریکا ته دا د هند د دفاع وزیر دویم سفر و او په مجموع کې یې په ۲۰۱٦ز کال کې د امریکا له دفاع وزیر سره شپږمه کتنه وه.

په بل اړخ کې په همدې کال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري هم هند ته په خپل څلورم رسمي سفر ولاړ او هلته یې د هند له لومړي وزیر، د هند د ملي امنیت له سلاکار وزیر او د هند د بهرنیو چارو له وزیرې سره وکتل. په دې ناستو کې څلور مهمې خبرې وشوې: لومړی؛ د امریکا او هند دوه‌اړخیزې اړیکې به نورې هم پیاوړې شي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر په اند، باید دوه‌اړخیزه سوداګري ۵۰۰ میلیاردو ډالرو ته ورسېږي او امریکا به په راتلونکي کال کې د اټوم تامینوونکو په ډله کې د هند د غړیتوب په تړاو هلې ځلې وکړي. دویم؛ امریکا یو ځل بیا د ښو او بدو "ترهګرو" توپیر ونه مانه او جان کیري په خپلو خبرو کې وویل: «ترهګر، ترهګر دي!» (د نوموړي اشاره پاکستان ته وه، چې پاکستان باید د لشکر طیبه، جیش محمد او افغان طالبانو په تړاو هم جدي ګامونه پورته کړي). درېیم؛ په سوېل سمندرګي کې پر آزادې سوداګرۍ او تګ راتګ ټینګار، چې دا هم د چین د سوېل سمندرګي قضیې د وروستیو پېښو په غبرګون کې وه. څلورم؛ د افغانستان په تړاو د افغانستان-امریکا-هند درې اړخیزې خبرې اترې بیا پیلول.

د ډونلډ ټرمپ له راتګ سره هم، د هند پر لور د امریکا تګلارې بدلون ونه خوړ، بلکې له هند سره د اړیکو پر پیاوړې کولو او په افغانستان کې د هند د اقتصادي رول پر زیاتولو ټینګار وشو. همدا لامل دی، چې ډونلډ ټرمپ د افغانستان او سویلي اسیا پر لور په خپله وینا کې وویل: «د افغانستان د ثبات په برخه کې د هند مهمې مرستې ستایو؛ خو هند له امریکا سره په سوداګرۍ کې میلیاردونه ډالر ترلاسه کوي او موږ غواړو چې هند له موږ سره په افغانستان کې نوره مرسته هم وکړي، په تېره بیا د اقتصادي مرستو او پرمختیا په برخو کې».

له دې وراخوا، د امریکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ په افغانستان کې د هند پر تګلارې هم نیوکې وکړې او هغه هم په افغانستان کې د هند د «کتابخانې» جوړول – شاید موخه یې د پارلمان ودانۍ جوړول وي – یې تر طنز لاندې ونیوه. د دې ترڅنګ د امریکا او هند ترمنځ نوې ناندرۍ چې د ۲۰۱۸ز کال په پای او د ۲۰۱۹ز کال په لومړیو کې سر راپورته کړ، د سوداګرۍ بېلانس قضیه وه. که څه هم اوسمهال دغه قضیه د امریکا او چین د سوداګرۍ جګړې له کبله تر ډېره نده راپورته شوې خو شونې ده چې په راتلونکي کې سر راپورته کړي (که چېرې ډونلډ ټرمپ د یو ځل بیا لپاره په ۲۰۲۰ز کال کې د امریکا ولسمشریزې ټاکنې وګټي).

د امریکا او هند ترمنځ د دې وروستیو نیوکو پرته د امریکا او هند اړیکې له یو بل سره د بل هر وخت په پرتله ډېرې نږدې دي. داسې برېښي، چې هند تر ډېره خپله د ناپېیلتوب زړه تګلاره پرېښې وي او اوس په رسمي توګه د امریکا په بلاک کې شامل وي. دا په عمده توګه یو مشترک ټکی لري: چین. له روسیې، پاکستان او ایران پرته همدا چین به د دواړو ترمنځ د راتلونکو اړیکو مسیر ټاکي.

## د امریکا-چین اړیکې

په ۲۰۱۱ز کال کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن په فارن پالیسي مجله کې د امریکا پاسفیک پېړۍ تر نامه لاندې مقاله وکښله. په دې مقاله کې کلنټن استدلال کړی وو، چې څنګه چې له عراق او افغانستان څخه امریکایان خپل سرتیري وباسي، او امریکا په تېرو لسو کلونو کې په دې دوو ځایونو کې خپل ډېر وسایل استعمال کړل، باید په راتلونکو لسو کلونو کې ځیرک واوسو چې خپل وخت او انرژي په سمه توګه استعمال کړو، ترڅو په نړېواله کچه خپله رهبري او ګټې خوندي او خپل اقتدار پراخ کړو. له همدې ځایه ده، چې د امریکا لپاره په راتلونکې لسیزه کې تر ټولو مهمه دا ده چې خپله ډیپلوماتیکه، اقتصادي، ستراتیژیک او نوره پانګونه د اسیا په پاسفیک سیمه کې وکړي. دا همغه سیمه ده، چې چین پکې پروت دی.

وروسته د امریکا ولسمشر بارک اوباما هم په ۲۰۱۴ز کال کې د آسیا د بیا متوازن کولو تګلاره اعلان کړه، چې یو شمېر چینایانو بیا دا تګلاره د چین حصار ګاڼه. د امریکا د ریښتینولۍ د تیورۍ سرلاری جان میرشیئمر هم د امریکا Pivot to Asia تګلاره تر ډېره د چین حصار بولي.

که څه هم د امریکا او چین ترمنځ تر اوسه کوم مخامخ ټکر نه دی تر سترګو شوی؛ خو بیا هم دواړه لوري د اختلافاتو عمده ټکي لري. د بېلګې په توګه د امریکا لپاره تر ټولو ستوغه له چین سره د سوداګرۍ ستونزه ده. د واشنګټن په اند چین قصداً د خپلو پیسو ارزښت کموي او په دې ډول په سوداګرۍ کې لاسبرتیا مومي. د دې ترڅنګ له تایوان سره نظامي مرستې، د تبت له مذهبي پیشوا دلای لاما سره د امریکایي لوړ پوړو چارواکو کتنې، د شمالي کوریا اتومي پروګرام، په سویلي کوریا کې د امریکایي میزایلونو نصبېدل، د چین سویل سمندرګي قضیه کې د ازاد تجارت تر عنوان لاندې د امریکا مداخلې، په چین کې انساني حقونه او په یو شمېر نورو برخو کې دواړه هېوادونه قوي اختلافات لري. خو بیا هم د دغو اختلافاتو سره، چین له امریکا سره د خپلو اړیکو په تړاو د «د سترو ځواکونو ترمنځ د اړیکو نوی ماډل» اصطلاح وکاروله. خو د سوداګر ډونلډ ټرمپ تر مشرۍ لاندې امریکا له چین سره د سترو ځواکونو ترمنځ د اړیکو له دې نوي ماډل څخه په ډډې شو، ځکه دی چین تر ټولو زیات د امریکا ملي امنیت او د نړېوال نظم لپاره ګواښ بولي.

د امریکا د همدغو اندېښنو له کبله ده، چې د امریکا د دفاع وزارت په سپین کتاب کې هم چین ته د یو ګواښ په سترګه وکتل شول، او دا چې د چین د پورته کېدا په لاره کې خنډونه جوړ کړي، امریکا لومړی د ورېښمو پر لارې نیوکې وکړي او اوس د ټکنالوژۍ په برخه کې د امریکا په پوهنتونو کې د چینایي زده کړیالانو د داخلو په لاره کې لوی خنډونه جوړ کړي؛ ځکه د امریکا په ګمان، یوازینی هغه ډګر چې امریکا پر چین لاسبرتیا لري،

هغه د لوړې ټکنالوژۍ برخه ده او که چین پرې په دې ډگر کې هم لاسبرى شو، نو د امریکا لاسبرتیا ختمه وبوله.

د چین یو شمېر ستراتېژستان هم د نړۍ اوس‌مهالنۍ نړیوال نظام د امریکا او چین ترمنځ پر دوو قطبونو وېشلی گڼي، نه څو قطبه نظام. دواړه هېوادونه یو بل ته د گواښ په سترگه گوري؛ که څه هم تر اوسه دواړه په کومه جگړه کې نه دي دننه شوي؛ خو نیابتي جگړې او د دواړو ترمنځ نرمې جگړې (لکه د سوداگرۍ جگړه) شونې دي.

## د امریکا-روسیې اړیکې

د جورج ډبلیو بُش د دورې په پرتله (د جورجیا او په پولېنډ کې د امریکا له‌خوا د میزایلونو لگولو پرته) د بارک اوباما په دوره کې د امریکا او روسیې ترمنځ نه یوازې دا چې ډېر ټکرونه ولیدل شول بلکې له یو بل سره د دواړو هېوادونو اختلافات هم ژور شول. د ۲۰۱۱ز کال په پای کې چې کله په روسیه کې (مقننه) ټاکنې وشوې او په پای کې یې د ولادمیر پوتین پرضد مظاهرې وشوې، نو پوتین دا د امریکا په اشاره وبللې. له ۲۰۱۱ز کال څخه تر ۲۰۱۳ز کال پورې څو ځله روسي الوتکو د امریکا خاورې ته دننه شوې. په ۲۰۱۳ز کال کې ایډورډ سنوډن چې د امریکا ډېر کاغذونه یې افشا کړل، په روسیه کې پناه واخیسته. په ۲۰۱۴ز کال کې د اوکراین په قضیه کې د امریکا او روسیې اختلافات پیل شول او له همدې ځایه د دواړو هېوادونو اړیکې د سړې جگړې وروسته تر ټولو ښکتني پوړ ته ورسېدلې. د سوریې په قضیه کې هم دواړو هېوادونو ترمنځ اختلافات زیات شول، مسکو په سوریه کې نظامي عملیات وکړل او وروسته بیا امریکا هم په سوریه کې هوایي بریدونه وکړل. مسکو د ملگرو ملتونو د امنیت شورا کې هم څو ځله د سوریې پرضد د امریکا قراردادونه ویټو کړل. له همدې ځایه ده، چې لومړي په سوریه کې د امریکا او روسیې اخ و ډب تر ډېره د نیابتي جگړې بڼه خپله کړه او وروسته له بشار الاسد څخه د روسیې قوي ملاتړ له کبله شونې شوه، چې امریکا نور له دې ځایه ووځي.

په امریکا کې د ۲۰۱٦ز کال ولسمشریزو ټاکنو له پایلو وروسته داسې رپوټونه هم خپاره شول، چې روسیې د امریکا په ټاکنو کې لاسوهنه کړې. ځکه ډونلډ ټرمپ د روس پلوي په توگه یادېده؛ خو د روسیې ولسمشر ولادمیر پوتین دا تورونه رد کړل او دا یې د هیلري کلنټن د ډلې له‌خوا له یوې جوړې شوې افسانې سره تشبیه کړل.

د ډونلډ ټرمپ له راتګ سره ډېرې هیلې کېدې، چې د امریکا او روسیې اړیکې به بېرته ورغېږي؛ خو دا دی، د ډونلډ ټرمپ د ولسمشرۍ دوره هم د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې نه دي رغېدلې. بلکې برعکس په یو شمېر مواردو کې دا اړیکې نورې هم ترېنګلې او پیچلې شوې. واشنګټن په سوریه کې هوایي بریدونه وکړل، د مسکو پر اتو کمپنیو یې بندیزونه ولګول.

د امریکا او روسیې دې ترېنګلیو اړیکو پر افغانستان هم سیوری وغوړاوه (یادونه یې د دې ژورنال د عمران ذکریا په مقاله کې شوې) او روسیه لومړی په افغانستان کې له امریکا سره خپله همکاري بنده کړه او په دویم قدم کې یې د افغان سولې په تړاو خپله پروسه پیل کړه.

## د افغانستان-روسیې اړیکې

د افغانستان او روسیې ترمنځ له ۲۰۰۱ز کال وروسته اړیکې بېرته عادي شوې؛ که څه هم دغه مهال مسکو له افغان حکومت سره یو شمېر نظامي مرستې هم وکړې؛ خو بیا هم دوه اړخیزې اړیکې ډېرې تودې نه وې. د حامد کرزي په دویمه دوره کې، د لومړي دورې په پرتله اړیکې نږدې شوې؛ ځکه افغان حکومت د سوریې او اوکراین په قضیو کې د مسکو له دریځ څخه ملاتړ وکړ.

وروسته، چې کله په افغانستان کې داعش ظهور وکړ؛ نو په لومړي سر کې مسکو د اشرف غني او حنیف اتمر د تروریزم پر وړاندې سیمه‌ییزې اجماع رامنځته کولو په تړاو مثبت ځواب ورکړ او له افغان حکومت سره یې د نظامي مرستو ژمنې وکړې (د هیلکوپترو مرستې)؛ خو کله چې په سیمه کې د داعش تر شا د امریکا او افغان حکومت د ملاتړ سازشي نظریې پیاوړې شوې، نو د دې له کبله مسکو اندېښمنه شوه او په څرګنده توګه یې پر امریکا نیوکې پیل کړې. یو ځل افغانستان ته د مسکو ځانګړي استازي وویل که امریکا او ناټو په افغانستان کې د داعش پرضد ناکامه شي نو مسکو به په دې تړاو بې تفاوته پاتې نه شي. دغه راز مسکو د افغانستان په شمال کې د امریکا پر زیاتېدونکو ډرون پروازونو هم نیوکه وکړه او ویې وویل په دې اړه باید له مسکو سره معلومات شریک شي.

له همدې ځایه وه، چې د مسکو او طالبانو ترمنځ اړیکې پیل شوې او مسکو د افغانستان په تړاو د مسکو پروسه پیل کړه. دغه کار افغان حکومت په غوسه کړ او دوه‌اړخیزې اړیکې یې خړې پړې کړې. خو وروسته د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني د خپل روسي سیال په بلنه مسکو ته ولاړ او د دغه سفر پرمهال دوه مهم پرمختګونه وشول، چې تر یو څه ځایه یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې باورۍ زیاتېدونکې واټن راکم کړ: لومړی، روسیه به له افغانستان سره په بېلابېلو برخو لکه نظامي-تخنیکي برخو کې مرستې ته

چمتووالی ونښود. دویم، د مسکو پروسې په دویمه ناسته کې به د افغانستان ترڅنګ هند، او ایران هم ونډه اخلي. هغه چې وروسته بیا وشول هم.

خو په ټولیزه توګه د ملي یووالي حکومت د لومړي کال په پرتله په وروستېو کلونو کې له روسیې سره د کابل اړیکې نه یوازې سړې دي، بلکې په لومړي ځل د افغانستان د سولې په تړاو د مسکو ډیپلوماسي فعاله شوې. د افغانستان په تړاو یې له چین او پاکستان سره درې اړخیزې ناستې وکړې او وروسته یې بیا د مسکو په پروسه کې بدلون ورکړ. له دې واراخوا یې د ۲۰۱۹ز په لومړیو کې د افغانستان د بېلابېلو ډلو او مطرحو شخصیتونو او د طالبانو ترمنځ خبرو اترو ته یې د اسانچاري په توګه هم زمینه مساعده کړه.

## د افغانستان-چین اړیکې

که څه هم په افغانستان کې د چین لېوالتیا له ۲۰۰۹ز کال راهیسې مخ پر زیاتېدو ده. خو بیا هم په مجموع کې د چین د وربښمو د نوې لارې طرحې، په افغانستان کې د امریکایانو وتل او پوځي حضور کمېدل، په سیمه په تېره بیا په پاکستان او منځنۍ اسیا کې د چین د وربښمو لارې خوندیتوب هغه څه دي، چې د ملي یووالي حکومت پرمهال په افغانستان کې د چین لېوالتیا او ښکېلتیا ان د دواړو هېوادونو ترمنځ د ډیپلوماتیکو اړیکو له پېلیدو راهیسې تر ټولو زیاتې پیاوړې شوي دي.

له همدې ځایه ده، چې په لومړي ځل له افغانستان سره د چین د مرستو حجم زیات شو، په لوړه کچه د لوړ پوړو چارواکو تبادله زیاته شوه، د بیجینګ لهخوا د افغانستان او پاکستان ترمنځ د منځګړتوب رسمي هلې ځلې وشوې، د افغانستان په سوله کې د مري او څلور اړخیزو ناستو کې د ناظر په توګه او د اورومچي په ناسته کې د (اسانتیا برابرونکي) په توګه ونډه درلودله، د چین د وربښمو په لاره او د اسیا د زیربناوي پانګونې بانک کې یې افغانستان ته غړیتوب ورکړ، افغان لوري ته د تحصیلي بورسونو ورکړه او د افغانستان او چین ترمنځ د پلاوو تبادلې زیاتې شوې، او تر ټولو مهم له افغانستان سره یې د دوه اړخیزو اړیکو په تاریخ کې په لومړي ځل نظامي مرستې هم پېل کړې او دغه راز دې ته هم چمتو شوه، چې په واخان کې د افغانستان د یوې لېوا د جوړولو مالي او تخنیکي ملاتړ وکړي.

## د هند-چین اړیکې

د هند له خپلواکۍ وروسته، د هند او چین اړیکې نږدې وې او دواړو هېوادونو به د ملګرۍ په موخه د «چیني-هندي بهاي بهاي» (چین او هندوان وروڼه وروڼه دي) شعار پورته کاوه؛ خو کله چې د هند او چین ترمنځ

سرحدي قضیه راپورته شو او له تبت څخه دلای لاما په تېښته بریالی شو او په هند کې یې پناه واخیسته، نو له هغې ورځې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې ترېنګلې شوې. په ۱۹۶۲ز کال کې دواړه په سرحدي جګړه کې هم ننوتل. دې جګړې د سیمې پر جیوپولیټیک وضعیت اغېزه وکړه او پاکستان یې چین ته نږدې کړ. خو دواړو هېوادونو د ۱۹۹۰ لسیزې پرمهال سرحدي قضیه شاته وغورځوله او دوه اړخیزې اړیکې یې تر ډېره اقتصاد محوره کړې.

د ۲۰۱۶ز کال په اپرېل میاشت کې چین په ملګرو ملتونو کې د هند د هغه قرارداد په لاره کې خنډ واقع شو، چې له مخې یې شونې وه، د جیش محمد مشر مسعود اظهر د یوه "ترهګر" په توګه وپېژندل شي او د ملګرو ملتونو په تور لېست کې شامل شي. دغه راز د همدغه کال په جولای میاشت کې هند له ډېرو هڅو او خوځنده ډیپلوماسۍ سره سره ونه توانېد، چې په NSG (Nuclear Suppliers Group) یا د اټوم تامېنوونکو ډله کې غړیتوب واخلي. هند په دې برخه کې چین تورناوه، چې د غړیتوب په لاره کې یې تر ټولو زیات خنډ جوړ کړی او چین بیا په دې اند وو، چې د دغې ډلې د قانون له مخې، هر هغه هېواد چې NPT (Nuclear Non- Proliferation Treaty) یا د اټومي وسلو د پراختیا د مخنیوي تړون یې نه وي لاسلیک کړی، د دې ډلې غړیتوب نه شي ترلاسه کولی او هند باید لومړی دغه تړون لاسلیک کړي. وروسته بیا هند هم د همدغو دوو لاملونو له کبله، د چین د دوو پروژو (یو کمربند؛ یوه کرښه او د چین-پاکستان اقتصادي حوزې) پرضد په ښکاره توګه څرګندونې وکړې.د دې ترڅنګ هند د مسعود اظهر د قضیې په غبرګون کې له دلای لاما سره د نږدې اړیکو اویغوري مسلمان رهبر د ډولکن عیسی ته د ویزې ورکولو ګواښ وکړ. خو وروسته یې بیا ډولکن عیسی ته د هند ویزه ورنکړه خو دلای لاما ته یې اجازه ورکړه، چې د اروناچال پردیش سیمې ته ولاړ شي؛ چین نه یوازې دا چې په تبت کې له دلای لاما اندېښنه لري، بلکې دا سیمه هم خپله بولي (اروناچال پردیش اوسمهال د هند تر کنټرول لاندې ده او له چین سره پوله لري).

که څه هم پورته یادې شوې قضیې او پېښې، چې د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ز کلونو پرمهال پېښې شوي، تر ډېره د دواړو هېوادونو پر اوږدمهاله اړیکو اغېزه نه شي لرلای، دا تر ډېره د نورو قضایاو زېږنده ده. هغه څه چې د دواړو هېوادونو د راتلونکیو اړیکو برخلیک معلوموي، په لاندې توګه دي:

لومړی؛ د دواړو ترمنځ پر سرحدي کرښه اختلافات

دویم؛ سوداګري

درېیم؛ په سیمه کې رقابت.

## درېيمه برخه: جيوپوليټيکي بدلونونه

### 1. د اټومي پروګرام پر سر د اېران او ۱+۵ هېوادونو هوکړه‌ليک

له تېرو څو لسيزو راهيسې د ايران د اسلامي انقلاب اړيکې د سيمې له يو شمېر هېوادونو په تېره بيا له سعودي، اسرايلو او لويديځ سره د ايران د اتومي پروګرام له کبله اغېزمنې شوې. ځکه دغه هېوادونه يو اټومي ايران د خپل امنيت لپاره ستر ګواښ ګڼي. د ايران اټومي پروګرام د امريکا په همکارۍ هغه مهال (۱۹۵۷) پيل شو، چې کله امريکا او ايران په منځني ختيځ کې ستراتيژيک ملګري وو[15]. خو په ايران کې د اسلامي انقلاب له برپا کېدو وروسته، د تهران او لويديځ په تېره بيا له واشنګټن سره د تهران اړيکې خړې پړې شوې. د ايران د همدې اټومي پروګرام له کبله وه، چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا او امريکا له‌خوا پر ايران يو شمېر بنديزونه ولګېدل. د ۲۰۰۳ز کال د مې له مياشتې راهيسې د امريکا او ايران ترمنځ د اتومي پروګرام پر سر د خبرو اترو سلسله پېل شوه[16]؛ خو دا خبرې اترې به کله تم کېدې او کله به بيا پېل شوې او دواړه لوري پکې کومې موافقې ته نه رسېدل.

په ايران کې د منځلاري حسن روحاني د ولسمشرۍ د ټاکنو له ګټلو سره، د تهران او واشنګټن ترمنځ د ايران د اټومي پروګرام پر سر خبرې اترې بيا پېل شوې. دغه راز حسن روحاني خپل د بهرنيو چارو وزير (جواد ظريف) داسې څوک غوره کړ، چې د ايران د اتومي پروګرام د ډيپلوماسۍ په تړاو يې خپله د دکتورا رساله هم ليکلې وه. له همدې ځايه وه، چې لومړۍ د امريکا او ايران ترمنځ پر يوه شپږ-مياشتني لنډمهالي تړون موافقه وشوه او بيا د سويس په لوزان ښار کې د ايران او ۱+۵ هېوادونو ترمنځ پر يوه اوږد مهالي تړون ابتدايي توافق وشو. له څلورو مياشتو تېرېدو وروسته، دغه ابتدايي توافق بيا د ويانا په جامع او بشپړ تړون کې بدلون وموند.

د دغه تړون له کبله امريکا له ايران څخه اقتصادي او نور هغه بنديزونه لرې کړل، چې د ايران د اټومي پروګرام له کبله پرې لګېدلي وو. د ملګرو ملتونو د امنيت شورا هم ورته چلند خپل کړ.

---

[15] Iram Khalid &RehanaSaeedHashmi, Iranian Nuclear Deal: Future Perspectives and Implications for the Region, Pakistan Vision, Vol. 15, No.1

[16] په ايران کې د سويس سفير ټيم ګلډيمان د ايران هغه وړانديز امريکا ته ورسوه، او پکې يې د نورو ډېرو معاملاتو ترڅنګ د اتومي پروګرام پر سر د خبرو اترو د پيلولو غوښتونکي هم شول. وګورئ:

Holly Dagres, Timeline: Iran's Nuclear Program, The Cairo Review, see it online: https://cdn.thecairoreview.com/wp-content/uploads/2014/12/CR10_Timeline.pdf

د منځني ختیځ په کچه دا یو لوی تحول وو. له همدې ځایه دغه تړون سعودي او اسراییل په اندېښنه کې واچول. دوی یو اتومي ځواک لرونکي ایران او یو داسې ایران، چې اقتصادي بندیزونه پرې نه وي او په ایران کې بهرنیو پانګه‌ونو ته لاره پرانېستل شي، څخه په وېره دي؛ ځکه د دوی په ګمان دا ډول پرمختګ به په سیمه کې د دوی ګټې له ګواښ سره مخ کړي. که څه هم د امریکا د پخواني ولسمشر بارک اوباما په دوره کې د امریکا د دفاع پخواني وزیر اېشټین کارټر اسراییل او سعودي ته د دوی د اندېښنو د کمولو په تړاو سفرونه وکړل؛ خو بیا هم له اسراییل او سعودي سره د امریکا اړیکې خړې پړې شوې. د امریکا په ولسمشریزه ټاکنو کې د ډونلډ ټرمپ بریالیتوب اسراییل او سعودي وهڅول، چې له امریکا سره نوې اړیکې بیا پیل کړي. له همدې ځایه وه، چې ډونلډ ټرمپ هم خپل لومړنی بهرنی سفر سعودي ته وکړ او امریکا-سعودي تقریباً د ۴۰۰ میلیارد ډالرو تړونونه لاسلیک کړل (په دې کې یوازې ۱۱۰ میلیارد ډالره یوازې پر سعودي د امریکایي وسلو د پلورلو تړونونه وو)[17].

خو وروسته په امریکا کې د ډونلډ ټرمپ له ولسمشرېدو سره، امریکا لومړی له دغه تړونه ووتله او بیا یې پر ایران اقتصادي بندیزونه ولګول. ټرمپ دغه چلند ځکه خپل کړ، چې د ده په ګمان ایران لا هم خپل اټومي پروګرام متوقف کړی نه دی، بلکې د اتومي وسلو جوړولو په لاره کې دی. د دې ترڅنګ ده غوښتل په دغه تړون کې د ایران توغندي هم شامل کړي. خو بیا هم ټرمپ او د امریکا نور هغه اېتلافیان په تېره بیا سعودي او اسراییل چې وایي ایران د اټومي پروګرام پر سر په توافق عمل نه کوي، کوم سم او قانع کوونکي دلایل نه دي وړاندې کړي. د امریکا له وتلو سره، ایران لا هم په دغه تړون کې له پنځو هېوادونو سره پاتې دی.

## 2. له ۲۰۱۴ م کال وروسته په افغانستان کې د امریکا تګلاره

د ملي یووالي حکومت د جوړېدو د ۲۴ ساعتونو دننه، افغان حکومت له امریکا او ناټو سره امنیتي تړونونه لاسلیک کړل. که څه هم په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو د پاتې کېدو او د اډو تر حده د واشنګټن تګلاره روښانه وه؛ خو بیا هم له ۲۰۱۴ز کال څخه تر ۲۰۱٦ز کال تر پای پورې له افغانستان څخه د امریکایانو د سرتېرو د ایستلو پروګرام څو ځله بدلون وموند.

[17] Zainab Fattah, Guid to $400 billion in Saudi-US Deals: Black Hawks to Oil, Bloomberg, see it online: https://www.bloomberg.com/news/articles/2017-05-22/guide-to-400-billion-in-saudi-u-s-deals-black-hawks-to-oil

دغه راز د ډونلډ ټرمپ له ولسمشرېدو سره هم، د افغانستان په تړاو د امریکا تګلاره تر ډېره روښانه نه وه؛ خو د اتو میاشتو ځنډ وروسته ټرمپ د افغانستان او سویلي اسیا په لور د امریکا تګلاره روښانه کړه. دا تګلاره تر ډېره په لاندې ټکو راڅرخېږي:

1. امریکا له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو د ایستلو پروګرام ته د پای ټکی کېښود او دا یې له شرطونو سره ونښلاوه (که افغان حکومت د حکومتولۍ او اداري فساد پرضد مبارزه کې مرسته وکړي)؛
2. د پاکستان پرضد درېځ نیول او په افغانستان کې د هند د ونډې زیاتول؛
3. خو تر ټولو مهمه په افغانستان کې د امریکا د شتون راتلونکی تت او مبهم وښودل شو.

که څه هم لومړۍ دوه خبرې د امریکا د تېرو تګلارو برخې هم وې (خو دومره توندې نه وې)؛ خو بیا هم دا وروستۍ برخه به په سیمه‌ییزه کچه د روسیې، چین، ایران، پاکستان او د منځنۍ اسیا یو شمېر هېوادونو غبرګونونه راوپارول.

د دې ترڅنګ، کله چې د ۲۰۱۸ز کال تر پایه پورې، په افغانستان کې د امریکا جګړه او د سویلي اسیا په تړاو نوې تګلارې کومه پرېکنده نتیجه ورنکړه، نو د امریکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ په اداره کې د افغانستان د جګړې ختمولو په تړاو بحثونه راګرم شول. له همدې ځایه، د امریکا ولسمشر د افغانستان د سولې په تړاو خپل ځانګړی استازی افغان-امریکایي زلمی خلیلزاد غوره کړ، ترڅو له افغان طالبانو سره د سولې په تړاو خبرې اترې پیل کړي او په امریکا کې د ۲۰۱۹ز کال د ولسمشرېزو ټاکنو وړاندې له طالبانو سره په یوه هوکړه لیک هم ورسېږي. د دغو کرښو تر لیکلو پورې زلمي خلیلزاد له طالبانو سره د سولې په تړاو اووه ځله لیدلي خو لا هم دواړه لوري کومې موافقې ته نه دي رسېدلي.

## 3. په منځني ختیځ کې د داعش ظهور او په افغانستان کې یې رامنځته کېدل

داعش یا په عراق او شام کې اسلامي دولت ډله لومړی د القاعدې غورځنګ برخه وه؛ خو د اسامه له وژل کېدو وروسته یې ورسره لاره بېله کړه. دغې ډلې د ۲۰۱۴ز کال د جون په میاشت کې د خلافت اعلان وکړ او خپل لومړی خلیفه یې ابوبکر البغدادي وټاکه. په افغانستان او پاکستان کې هم دغې ډلې د خپل شتون رسمي اعلان د ۲۰۱۵ز کال په جنورۍ کې وکړ او د خراسان ولایت لپاره یې خپل مشر حافظ سعید خان او معاون یې عبدالرووف خادم غوره کړل. که څه هم تر اوسه د داعش ډلې درې مشران د امریکا په ډرون بریدونو کې وژل شوي؛ خو بیا هم دغې ډلې تر اوسه په افغانستان کې خپل شتون ثابت ساتلی دی.

په منځني ختیځ کې د داعش ظهور په نړیواله کچه تاوده غبرگونونه راوپارول. ځکه د عراق او سوریې دننه د خپلو سختو تگلارو او وحشتونو له کبله یې د نورو پام راواړوه. د داعش د همدې تگلارو له کبله له عراق او سوریې ډېر خلک اروپا ته کډه شول او په اروپا کې یې د کډوالۍ بحران رامنځته کړ. دغه راز د داعش له ظهور وروسته په اروپا کې (lone wolf) بریدونه هم زیات شول، چې په ډېرى توگه به یې مسوولیت د داعش ډلې اخیسته.

په افغانستان کې د داعش ډلې زیږېدل، یو شمېر ولسوالۍ تر خپلې ولکې لاندې کول او ان د افغانستان شمالي سیمو ته یې تگ یوه معما گڼل کېږي. که څه هم افغان حکومت او په تېره بیا امریکایي سرتېري د هېواد په یو شمېر برخو کې د دغې ډلې پرضد عملیات کوي، خو بیا هم په سیمه په تېره بیا پاکستان او روسیه کې دغه اندېښنې شته دي، چې شاید د دغې ډلې تر شا د امریکا لاس وي.

### 4. د چین لویې اقتصادي پروژې

په ۲۰۱۳ز کال کې شي جین پینگ د چین نوی رئیس جمهور وټاکل شو. د ده له راتگ سره د چین د لویدیځ پر لور د بیجینگ پاملرنه زیاته شوه؛ ځکه ده د وربښمو نوې لاره، چې چینایان یې د یوه سړک او یوې کربښې په نامه یادوي، د ایستلو هڅه وکړه. د چین د وربښمو دغه نوې طرحه په عمده توگه درې مهمې برخې لري: لومړی؛ له چین څخه د وچې له لارې اروپا ته لاره. دویم؛ د سمندر له لارې اروپا ته لاره. درېیم؛ له بېلابېلو هېوادونو سره شپږ اقتصادي حوزې، چې یوه یې هم د پاکستان-چین اقتصادي حوزه ده.

په دغه اقتصادي لویه پروژه کې تقریباً ٦٠ هېوادونه رانغاړل شوي او د اکانومیست مجلې د اټکل له مخې تر نامحدود وخت پورې به د دغه پروژې مجموعي پانگونه د ۴ او ۸ ټریلیون ډالرو برابره وي. دا په سیمه‌ییزه کچه تر ټولو لوی اقتصادي بدلون دی. له همدې ځایه، د نړیوال سیاست یو شمېر مفکرین د چینایانو دغه نوې پروژې د نوې نړیوال نظم سره هم تشبیه کوي.

### 5. په افغانستان کې د ملي یووالي حکومت

د ۱۳۹۳لمریز کال ولسمشریزه ټاکنې دویم پړاو ته ولاړې او د ولسمشرۍ لپاره د داکتر عبدالله او اشرف غني ترمنځ مقابله وشوه. په دویم پړاو کې د رایو او د ټاکنو د پایلو پر سر د دواړو کاندیدانو ترمنځ ناندرې راپورته شوې، چې د څو میاشتو اختلافاتو وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري په منځگړتوب دغو اختلافاتو ته د پای ټکی کېښودل شو او له امله یې د ملي یووالي حکومت رامنځته شو.

د ملي يووالي حکومت له راتګ سره د کابل بهرني سياست تغيير وکړ. دا دوه محوره تګلاره وه: لومړی؛ له سيمه‌ييزو هېوادونو سره اړيکې پراخول. دويم؛ له امريکا او ناټو سره امنيتي تړونونه لاسليکول.

که څه هم د ملي يووالي حکومت د لومړي کال دننه داسې هيلې راټوکېدلې، چې په هېواد کې به د «تروريزم» پر وړاندې سيمه‌ييزه اجماع رامنځته شي؛ خو وروسته، د داعش ظهور په تړاو سازشي نظريو له کبله دا ډول هيلې ورژېدلې او افغان حکومت يوازې د امريکا تر محور لاندې پاتې شو.

دغه راز د ملي يووالي حکومت د بهرني سياست دوه نور مهم بدلونونه د يمن په جګړه کې د سعودي په ملاتړ اعلاميه ورکول او د تېرو اوو لسيزو په پرتله پاکستان ته ډېر نږدې کېدل وو. خو دغو پرمختګونو هم د ملي يووالي حکومت ته هغه ډول ګټې ورنه کړای شوې، لکه څرنګه چې يې پتېيلې وه.

### 6. د خليج ډيپلوماتيک بحران

په ۲۰۱۸ز کال کې په خليج کې د قطر او نور عرب مېشته هېوادونو ترمنځ ډيپلوماتيک بحران رامنځته شو. بحرين، سعودي، مصر او عربي متحده ايالاتو د لسو دقيقو دننه يو په بل پسې له قطر سره ډيپلوماتيکې اړيکې پرې کړې، دغو هېوادونو له قطر څخه خپل سفيران راوبلل، د قطر سفيرانو ته يې هم له دغو هېوادونو څخه د وتلو وويل او دغه راز له دغو څلورو هېوادونو څخه يې د قطري وګړو د وتلو اعلان هم وکړ. په عمده توګه د دې بحران تر شا عمده عوامل په لاندې ډول وو:

**لومړی**؛ په سيمه‌ييزه کچه د قطر او سعودي رقابت

**دويم**؛ په اسلامي نړۍ کې د يو شمېر اسلامپالو (اخوان المسلمون، طالبان، حماس او نور) څخه د قطر ملاتړ

**درېيم**؛ له ايران سره د قطر نږدې کېدونکي روابط.

## څلورمه برخه: پر افغانستان يې تاثيرات

افغانستان په وچه کې پروت او کمزوری هېواد دی، چې له منځنۍ اسيا، سويلي اسيا او منځني ختيځ سره مخامخ پولې لري. له همدې ځايه زموږ هېواد د نورو هېوادونو په پرتله تل د سيمې جيوپولټيک قرباني کېږي.

دا چې زموږ په سيمه کې د تېرو پنځو کلونو وروستي جيوپوليټيکي تغييرات به پر هېواد څه اغېزې وښندي، په لاندې برخو کې ورته اشاره شوې ده:

### 1. د چابهار بندر تړون

د ایران-لویدیځ ترمنځ د اټومي هوکړهلیک وروسته، د ۲۰۱٦ز کال د مې پر ۲۳مه نېټه افغانستان، هندوستان او ایران په تهران کې د چابهار ترانزیټي تړون په یوه داسې مهال لاسلیک کړ، چې د چابهار پر بندر عملي چارې پېلېدل د ۱۹۵۵ز کال راهیسې ځنډېدلې وې. که څه هم د سړې جګړې پرمهال لومړی د ګوادر او چابهار ترمنځ مقابله وه. بیا په ایران کې د اسلامي انقلاب له راتګه وروسته پرې کار پېل نه شو او له ۲۰۰۱ز کال وروسته پر ایران د اتومي بندیزونو له کبله وه، چې هند او یو شمېر نورو هېوادونو هم په دغه بندر کې له پانګونو ډډه کوله.

همدا لامل دی، چې څرنګه له ایران څخه د بندیزونو پورته کولو خبره وشوه، افغانستان، هند او ایران د چابهار بندر د عملي چارو پېلولو پسې متې رابډ وهلې او ژر یې د چابهار بندر تړون لاسلیک کړ. هند هم، ژمنه وکړه، چې په دغه بندر کې به تر ۵۰۰ میلیون ډالرو پورې پانګونه کوي. د سیمې دغه جیوپولیټیک بدلون (د چابهار بندر تړون لاسلیکېدل) هغه څه و، چې پر افغانستان یې مثبته اغېزه وکړه. ځکه چابهار د افغانستان ترانزیټي لارې متنوع کړې. له دې وړاندې د افغانستان ډېری ترانزیټ او سوداګري د پاکستان له لارې کېده او پاکستان به ډېری مهال له دغه حالت څخه د سیاسي وسیلې په توګه ګټه اخیستله.

خو وروسته، چې کله امریکا له ایران سره له اتومي هوکړه لیک ووت، او امریکا پر ایران یو ځل بیا بندیزونه ولګول نو په افغانستان کې یو شمېر اندېښنې پیدا شوې، چې شاید دغه نوی تحول به چابهار هم اغېزمن کړي. خو ډېر ژر په افغانستان کې د امریکا سفارت وویل، له دغو بندیزونو افغانستان مستثنی دی او کولای شي، چې په چابهار بندر کې پرمخ ولاړ شي.

## 2. د طالبانو د ډیپلوماسۍ لوړ پرواز

د ملي یووالي حکومت له جوړېدو راهیسې، په سیمهییزه کچه د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ رقابت زیات شوی. طالبانو له سیمهییزو هېوادونو لکه روسیې، چین، ایران، او د منځنۍ اسیا او منځني ختیځ له یو شمېر هېوادونو سره خپلې ډیپلوماتیکې اړیکې پراخې کړې. دا تر ډېره د سیمې د بدلېدونکي جیوپولیټیک له کبله وه؛ ځکه په افغانستان کې د داعش ډلې ظهور پروني دښمنان اړ کړل، چې له یو بل سره اړیکې ولري. له همدې ځایه وه، چې له طالبانو سره د روسیې او ایران ډیپلوماتیکې اړیکې پراخې شوې.

دا چې طالبان ولې روسیې او ایران ته نږدې شول، درې عوامل لري:

لومړی؛ د کندز د دوه ځله سقوط پرمهال، طالبانو په خپلو اعلامیو کې د شمال د دغه لوی ښار سقوط د افغانستان د شمالي ګاونډیانو لپاره د ګواښ په توګه معرفي نه کړل. بلکې خپله پخوانۍ ژمنه او تګلاره یې روښانه کړه، چې د دوی فعالیتونه او اجنډا یوازې د افغانستان تر پولو محدود دي.

دویم؛ د داعش خراسان ډلې پرضد د داعش د عراق ډلې مشر ابوبکر البغدادي ته د طالبانو د پخواني مشر ملا منصور لیک، د داعش او طالبانو اختلافات او بیا له یو بل سره جګړې؛

دریم؛ په افغانستان کې د داعش ډلې ترشا د افغان حکومت او امریکا د ملاتړۍ توطیه‌ګرې نظریو پیاوړي کېدل هغه بل لامل و، چې په پای کې یې له طالبانو سره د روسیې او ایران پر اړیکو اغېزه وښندله.

### 3. د مسکو د سولې پروسه

له سړې جګړې وروسته، په پوست امریکایي نړېوال نظام کې دا لومړنی ځل و، چې د ملي یووالي حکومت پرمهال په افغانستان کې د روسیې او امریکا رقابت او اختلافات د پردې پرمخ راغی. دا رقابت او اختلافات لومړی د روسیې له‌خوا په افغانستان کې د امریکا پر پوځي حضور او تګلارې نیوکې وې. وروسته د داعش ظهور له کبله اندېښنې ځرګندول او په وروستي قدم کې د افغانستان د سولې په تړاو د افغانستان د حضور او مشورې پرته له چین او پاکستان سره یوځای د مسکو پروسه پېلول وو.

په عمومي توګه له ۲۰۰۱ز کال وروسته تر ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ز کال پورې امریکا په دې بریالۍ شوې وه، چې په افغانستان کې د طالبانو پرضد جګړه کې د سیمې هېوادونو اجماع رامنځته کړي. له همدې ځایه وه، چې په نړېواله او سیمه‌ییزه کچه له امریکا سره مخالفو هېوادونو لکه چین، روسیې او ایران هم په افغانستان کې د امریکا له تګلارې ملاتړ وکړ. خو له ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ز کال وروسته، د سیمې یو شمېر هېوادونو لکه پاکستان د امریکا پرضد له افغان طالبانو ملاتړ پېل کړ.

وروسته له ۲۰۰۹ز کال څخه تر ۲۰۱٦ز کال پورې هم، د سیمې ډېری هېوادونه په دې همغږي شول، چې په افغانستان کې سوله اړینه ده او پر سولې به یې ټینګار کاوه. که څه هم یو شمېر نورو هېوادونو لکه جرمني، ناروې، قطر، سعودي، پاکستان او چین هم د افغانستان د سولې په قضیه کې په مخامخ توګه له افغان حکومت او افغان طالبانو سره ښکېل و؛ خو بیا هم د افغانستان په تړاو د سولې پروسه تر ډېره د امریکا او افغان حکومت پر مشرۍ روانه وه. خو د ۲۰۱٦ز کال په پای کې، په مسکو کې د افغانستان د سولې په تړاو روسیې

د روس، چین او پاکستان درې اړخيزه غونډه راوبلله. خو د افغان حکومت او يو شمېر نورو هېوادونو لهخوا پرې نيوکې وشوې، همدا لامل و، چې وروسته بيا د افغان حکومت ترڅنګ پنځه نور هېوادونه هم د دغې پروسې دويمې ناستې ته راوبلل شول. په درېيمه ناسته کې د امريکا په شمول ۱۱ هېوادونه راوبلل شول؛ خو امريکا پکې ونډه وانه خيستله.

د افغانستان په تړاو د مسکو د ناستې د پېليدو تر شا عوامل د امريکا او روسيې ترمنځ دغه اختلافات په سيمه کې د داعش ظهور او پراخېدنې، په نړېوال سياست کې د روسيې او امريکا ټکر (په تېره بيا په سوريې او اوکراين کې) او د دغه فکر او ويرې شتون چې امريکا په سولهييزه توګه د افغانستان د جګړې حل نه غواړي وو. د دې ترڅنګ د امريکا او افغان حکومت لهخوا د افغانستان د سولې په قضيه کې د روسيې منزوي کول به شايد بل هغه لامل و، چې روسيه يې وهڅوله ترڅو يوه داسې پروسه پېل کړي، چې د افغانستان د سولې په قضيه کې يې ښکېله کړي. ځکه د ملي يووالي حکومت وړاندې د افغانستان د سولې پروسه کې په مخامخ توګه افغان حکومت، امريکا، پاکستان او په غير مستقيمه ترکيه، ناروې او جرمني ښکېل وو. خو د ملي يووالي حکومت وروسته، چين، پاکستان دخيل کړای شو. د ارومچې، مري او څلور اړخيزې ناستې يې بېلګې دي. د افغانستان د سولې په قضيه کې د روسانو ډېره لېوالتيا د افغانستان د راتلونکي نظام او په سيمه کې د مسکو د ګټو خونديتوب دی.

## 4. له طالبانو د يو شمېر هېوادونو ملاتړ

د يو لړ جيوپوليټيکي بدلونونو له کبله لکه په نړېواله کچه د امريکا هېجمونيک ځواک کمېدل، په افغانستان کې پوځي اډې ترلاسه کول، د داعش تر شا په ملاتړ تورنېدل، له روسيې سره په اوکراين او سوريه کې اختلافات ژور کېدل او په افغانستان کې يې د نظامي حضور د موخو پټوالی هغه څه وو، چې له امريکا سره يې د سيمهييزو هېوادونو واټن زيات کړ. همدا لامل دی، چې له طالبانو سره د يو شمېر هېوادونو لکه روسيې او ايران اړيکې هم پراخې شوې او هم له طالبانو سره د دغو هېوادونو لهخوا د مرستو خبرونه هم په رسنيو کې خپاره شول. د بېلګې په توګه د ۲۰۱۷ز کال د مارچ په ۳۰مه نېټه امريکايي جنرال جوسيف وټېل د امريکا

سنا مجلس ته په خپله وينا کې له طالبانو سره د روسانو نظامي مرستو په تړاو امکان څرګند کړ[18]. وروسته د ۲۰۱۷ز کال په اپرېل مياشت کې د امريکا بل جنرال جان نېکولسن هم ورته امکان وښود[19].

## 5. د غني د تروریزم پرضد د سیمه‌ییزې اجماع په لاره کې خنډ

اشرف غني له ولسمشرېدو راهيسې دوه محوره ډيپلوماتيکي ستراتيژي پر لاره اچولې، چې لومړی يې ترې موخه د خپل حکومت بقا ده او په دويم کې بيا د طالبانو ځپل يا د خبرو اترو مېز ته راوستل دي.

***لومړی محور؛ له لویدیځ سره اړیکې جوړول***

د حامد کرزي د دويمې دورې پرخلاف، د اشرف غني بهرنی سياست د لويديځ په تېره بيا د امريکا پر پلويتوب راوڅرخېد. د ملي يووالي حکومت له امريکا او ناټو سره امنيتي تړونونه لاسليک کړل. بهرنيو سرتېرو ته يې بيا د شپنيو عملياتو د ترسراوي اجازه ورکړه ، چې کرزي (په خپله دويمه دوره او اوس هم) ردول او په سختو ټکو کې به يې غندل.

د دې ترڅنګ، د ملي يووالي حکومت د امريکا پر هغو بريدونو، چې ملکيان او افغان امنيتي ځواکونه يې پکې ښکار کړل، چوپ پاتې شو. د بېلګې په توګه افغان حکومت د امريکا پر هغه بريد چې له کبله يې د بې پولو ډاکټرانو روغتون په نښه شو، امريکا باندې نيوکې ونه کړې او بيا يې ورته چلند د کندز د دويم سقوط پرمهال هم غوره کړ.

که څه هم افغان حکومت په دې تړاو اعلاميې خپرې کړې؛ خو دا بيا د امريکا پرضد نه وې او نه هم دوی په نامه ياد شول. که چيرې دا ډول پېښې د حامد کرزي په دويمه دوره کې شوې وای نو هغه به يوه شېبه هم نه وه ضايعه کړې او واشنګټن به يې غندلای وای.

[18] TOLO News, US General Accuses Russia of Assisting Taliban, 30 March 2017, see it online:< http://www.tolonews.com/node/40311>

[19] ABC News, Russia may be aiding Taliban, US general in Afghanistan says, 24 April 2017, see it online:< http://abcnews.go.com/International/russia-aiding-taliban-us-general-afghanistan/story?id=46989830>

د ملي یووالي حکومت د خپلې همدغه تګلارې له کبله د امریکا د پوځیانو د وتلو پر پروګرام اغېزه وښندله. دغه راز واشنګټن او اروپایي اتحادیې له ملي یووالي حکومت سره په مالي، نظامي او ډیپلوماتیکي برخه کې ملاتړ وکړ. په خپله په امریکا کې امریکایي چارواکو وویل، د ملي یووالي حکومت پرمهال د واشنګټن-کابل اړیکې د حامد کرزي د دورې په پرتله ښې دي[20]. د سپینې ماڼۍ د مطبوعاتو سکرټرې هم د اشرف غني ستاینه وکړه او دی یې له کرزي ډېر غوره وباله[21].

***دویم؛ د ترورېزم پر وړاندې د سیمه‌ییزې اجماع رامنځته کول***

له امریکا او ناټو سره د اړیکو له پیاوړي کولو وروسته، اشرف غني وغوښتل، چې د وسله‌والو ډلو پرضد جګړه کې د سیمه‌ییزو هېوادونو اجماع رامنځته کړي. په همدې موخه یې لومړی سعودي او بیا چین ته سفر وکړ. وروسته یې پاکستان، ترکمنستان، ایران، روسیې، هند او یو شمېر نورو هېوادونو ته هم سفرونه وکړل.

خو په سیمه کې د داعش ظهور د افغان ولسمشر اشرف غني د سیمه‌ییزې اجماع پروګرام په لاره کې خنډ واقع کړ. ځکه سیمه‌ییز هېوادونه د دغې سازشي نظریې له مخې، چې افغان دولت په تېره بیا د ملي امنیت سلاکار وزیر حنیف اتمر او امریکا، په افغانستان کې د داعش پروژې تر شا دي، او عمده موخه یې منځنۍ اسیا او روسیه ناامنه کول دي، په خپلو بهرنیو سیاستونو کې بدلونونه راوستل.

## 6. د سیمې د ناامنه کولو د خېز تخته

اوس‌مهال په عراق او سوریه کې د داعش ټغر په تدریجي توګه ټولیږي. ډېره شونې ده، چې د عراق او سوریې دغه داعشي جهادي ډله د پټنځای په موخه د افغانستان په لور مخه کړي؛ ځکه په مشرقي او اوس د رسنیو د خبرونو له مخې د دغې ډلې خراسان ډلې خپل شتون د افغانستان په شمال کې هم ښودلی. دویم د افغانستان ډېری خاوره د دولت په ولکه کې نه ده او د نورو هېوادونو په پرتله دلته د امنیتي ځواکونو کنټرول کمزوری دی. همدا لامل دی، چې شاید دا ډله د خپلې بقا په موخه دېخوا راښېوه شي.

---

[20] د افغانستان او پاکستان په اړه د امریکا د ملي امنیت شورا مشر مشاور څرګندونې. د لوستلو لپاره وګورئ:
http://www.nytimes.com/2015/03/23/world/asia/for-obama-ghani-offers-hope-of-a-less-fractious-relationship.html

[21] http://dir.pajhwok.com/en/2016/06/16/white-house-hails-ghani-much-better-partner-karzai

د دې ترڅنګ د داعش عراق ډلې کې د روسيې، منځنۍ اسيا او چينايي توکمونو شتون د دې شونتيا نوره هم ډېروي، چې په منځني ختيځ کې د کړۍ پر تنګېدو به دوی د افغانستان پر لور مخه کوي او بيا به له دغه ځايه په خپلو سيمو کې فعاليتونه پېلوي.

## 7. د رقابتونو ډګر او د شيعه-سُني جګړه

که چيرې د ملي يووالي حکومت د واکمنۍ په درېيم کال کې په افغانستان کې د بېلابېلو سيمه‌ييزو رقيبو ځواکونو همکارۍ او اړيکو ته نظر وکړو نو په تېرو اوولسو کلونو کې دا لومړی ځل دی، چې د دغو رقيبو هېوادونو ترمنځ ناهمغږي زياته شوې. د بېلګې په توګه روسيې په افغانستان کې له امريکا سره همکارۍ ته د پای ټکی ايښی او اوس په افغانستان کې د امريکا پوځي حضور يو شمېر اړخونو ته په منفي سترګه ګوري. د سعودي-مصريانو هم له قطر سره يوځای هلې ځلې پېل کړي، چې د خليج په ډيپلوماتيک کړکيچ کې د افغانستان ملاتړ خپل کړي. د سعودي او ايران ترمنځ اختلافات هم زيات شوي او دواړه هېوادونه په تېره بيا د يمن په قضيه کې د سعودي په ملاتړ د افغانستان له اعلامیې وروسته متحرک شوي دي. دغه راز، د ټرمپ د نوې تګلارې له مخې هم، د امريکا په نزد په افغانستان کې د هندوانو رول ارزښت هم زيات شوی دی، چې دا به په بل اړخ کې پاکستان وپاروي. افغان حکومت هم، له پاکستان څخه د بې زاره کېدو وروسته له هندوستان سره نظامي او امنيتي اړيکې غځولې دي.

دغه راز په مذهبي اړخ کې هم، په افغانستان کې د اسلامي نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله مذهبي شخړې په تېره بيا د شيعه-سُني ترمنځ جګړې کمې تر سترګو کېږي، بلکې تر ډېره افغانستان د دواړو د همغږۍ د نمونې په توګه هم کارولی شو. خو له کله نه چې په افغانستان کې داعش ظهور کړی، له هغې ورځې راهيسې په هېواد کې د شيعه پلويانو پرضد بريدونه زيات شوي دي او د داعش تر پاتې کېدو ډېره وېره شتون لري، چې دا ډول بريدونه به دوام وکړي.

## پایله

که څه هم روسيې په افغانستان کې د داعش د ظهور په تړاو انديښنې وښودلې او دا ډول څرګندونې د روسيې د بهرنيو چارو وزير نيولې تر ولسمشر ولادمير پوتين پورې وشوې، خو بيا هم د سيمې د ويشل کېدا وزن هغه مهال زيات شو، چې کله روسيې په رسمي توګه په افغانستان کې د امريکا پر تګلارې نيوکې پېل کړې او په پای کې د خپلو همدغو انديښنو او څرګندولو له کبله يې بيا د ۲۰۱۶ز کال په پای کې يې د افغانستان د

مشارکت پرته د افغانستان په تړاو د مسکو کنفرانس راوغوښت، چې پاکستان، روسیې او چین پکې ګډونوال وو. د مسکو کنفرانس په لومړۍ غونډه کې درې واړه ګډونوال په دې سره سلا شول، چې یو شمېر طالبان د ملګرو ملتونو له تور لیست څخه وباسي[22]. دا په داسې حال کې وه، چې له دغې غونډې څو ورځې وړاندې افغان ولسمشر له ملګرو ملتونو څخه وغوښتل د طالبانو مشر ملا هیبة الله په تورلېست کې واچوي[23].

که څه هم وروسته د مسکو دغې ناستې سیمه‌ییز اړخ خپل کړ او په دویمه ناسته کې د افغانستان او هند په شمول شپږو هېوادونو پکې برخه واخیسته. د دغې پروسې په درېیمه غونډه کې امریکا ته هم بلنه ورکړل شوه؛ خو امریکا بیا دا بلنه رد کړه[24] او په مجموع کې د مسکو کنفرانس په درېیمه غونډه کې ۱۱ هېوادونو برخه واخیسته. د دغې غونډې اصلي موخه یوازې افغانستان وو؛ خو دا تر ډېره د دې معنی نه لري، چې د دغه کنفرانس له کبله نوره سیمه په دوو بلاکونو کې وویشل شوه. زموږ سیمه، چې چین، منځنۍ اسیا او روسیه، ایران او سویلي اسیا پکې راځي، د دوو بلاکونو پر لور روانه نه ده؛ ځکه د هېوادونو ترمنځ رقابتونه او ایتلافونه په ټوله کې یو رنګ نه وي. ځکه سیمه‌ییزې ګټې ډېرې سره پېچلې وي. په یوه سیمه کې د دوو هېوادونو ګټې سره همغږې وي؛ خو په بله سیمه کې بیا په ټکر کې وي.

له همدې ځایه ده، چې وایو سیمه په تدریجي توګه د امریکا د حضور پرضد راپارېږي او له همدې ځایه ده، چې د همدغه موخې تر چتر لاندې سره راټولېږي. په بل اړخ کې هند، د خپلو ګټو له امله د امریکا په محور کې راڅرخي؛ که څه هم افغانستان د امریکا پر مرستو ډېر متکي دی او له امریکا سره ستراتیژیکې اړیکې

[22] د مسکو کنفرانس د لومړۍ غونډې په اعلامیه کې راغلل: "Russia and China, as permanent members of the UN Security Council, reaffirmed their readiness for flexible approaches to the prospect of excluding certain individuals from the list of sanctioned persons as part of efforts to promote a peaceful dialogue between Kabul and the Taliban movement."

Tolo News, Russia, China, Pakistan Call For End to Sanctions Against Taliban, 28 Dec 2016, see it online:< http://www.tolonews.com/afghanistan/russia-china-pakistan-call-end-sanctions-against-taliban>

[23] Reuters, Afghan president asks UN to add Taliban leader to sanctions list, 14 Nov 2016, see it online:< http://www.reuters.com/article/us-afghanistan-taliban-idUSKBN1391LP>

[24] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند مارک ټونر وویل: «دا ډول خبرې اترې زموږ لپاره ناڅرګندې دي، چې د [روسانو] موخه ترې څه ده؟ داسې برېښي، چې دا د روسانو یوه اړخیزه هڅه ده، ترڅو په سیمه کې خپل نفوذ پیچکاري کړي، چې دا بیا زموږ په اند په اوسني وخت کې رغنده کار نه دی»

Russia Today, US snubs 11-state Afghanistan peace conference, says Russia trying to 'assert influence', 14 April 2017, see it online:< https://www.rt.com/news/384774-afghanistan-conference-moscow-us/>

لري؛ خو بیا به هم ونه غواړي، چې یو ځل بیا د سیمه‌ییزو رقابتونو قرباني شي. دغه راز په سیمه کې د امریکا ضد روان اېتلاف دا هم نښيي، چې زموږ په سیمه کې د امریکا هېجمونیک ځواک تر ډېره خدشه دار شوی دی.

پای

# فکري بحثونه

# اسلامپال؛ او د سیاسي ماتې او نه ماتې ماجراء

**محمد زمان مزمل**[1]

**لنډیز**

*[په دې لیکنه کې تر ډېره پر دې بحث شوی، چې آیا اسلامپالو یا په اصطلاح «سیاسي اسلام» ماتې خوړلې ده او که نه؟ د دې لیکنې لیکوال په خپله یو اسلامپال او د افغانستان د اسلامي نهضت غړی او له څلورو لسیزو راهیسې یې د هېواد داخلي او بهرني اسلامپالې ډلې په دقت سره څارلې. دغه مقاله د استاد مزمل د تېرو څلورو لسیزو د تجربې او فکر نچوړ ګڼلای شو.*

*لیکوال په پیل کې د «سیاسي اسلام» معرفي وړاندې کړې، د اسلامپالو او عادي مسلمانانو ترمنځ یې د وېش په تړاو رڼا اچولې، او دا چې «سیاسي اسلام» په افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې لا ماتې نه ده خوړلې، په دې تړاو یې خپل دلایل راوړي دي.*

*خو د دې ترڅنګ لیکوال د اسلامپالو یو شمېر نیمګړتیاوې هم په ننبه کړې او دغه راز د مقالې په وروستۍ برخه کې یې د اسلامپالو د راتلونکې په تړاو بحث کړی او درې لویې ننګونې یا چېلنجونه یې په ننبه کړي، چې اسلامپال اوس او په راتلونکې کې ورسره مخ دي. اداره]*

**کیلي: اسلامپال، سیاسي اسلام، افغان جهاد، د سیاسي اسلام ماتې.**

---

[1] استاد محمد زمان مزمل د افغانستان د پخواني اسلامي نهضت غړی، د حزب اسلامي د سیاسي کمېټې پخوانی مشر، او د افغانستان د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د علمي شورا غړی دی. ښاغلی مزمل له تېرو څلورو لسیزو راهیسې د هېواد او اسلامي نړۍ اسلامپالې ډلې په دقت څارې، په اړه یې لیکنې کوي، او په دې تړاو د ډېرې مطالعې خاوند او د مېداني څېړنې له لارې د راټولو شویو معلوماتو څښتن دی.

## مقدمه

اسلامپالنه د شلمې پېړۍ په اخر او د یوویشتمې پېړۍ په سر کې پر یوې سیاسي پدیدې بدله شوه چې غربي امپراتورۍ ورسره په بد اخ و ډب کې ښکېله شوه. بیا هم د سړې جګړې[2] پرمهال دغه اخ و ډب چې نن یې اسیا او منځنی ختیځ د جګړو کوربه کړی دی، تر دغو بګنوونکو بې ثباتېو څخه په یو نسبي ثبات کې روان و.

اسلامپال د اسلامي خلافت د تأثر او د دغې تشې د ډکولو فکري او جذباتي عکس العمل و. په دوه قطبه[3] پړاو کې د سیاسي مسلمانانو پېل شوې هڅه د یوه سرخوړي اخ و ډب دننه بیا هم نسبتاً ورځ تر بلې مخکې روان و.

پر افغانستان د شوروي له تجاوز او اشغال سره جوخت، د اسلامپالنې نهضت یو نوي پړاو ته ننووت. په دې خاطر چې په افغانستان کې د شوروي تجاوز د سیمې، خلیج او د غرب د ګټو لپاره ګواښ و، او په دا ډول په افغانستان کې د اسلامپالنې نهضت له ښه بخته تر ټولو ژوندی چانس پېدا او شوروي اتحاد یې په ماته ودراوه.

د شوروي د ماتې له نښې نښانو سره جوخت، نور غرب دغې پوستې (اسلامپالو) ته ضرورت نه درلود، بلکې اسلامپال په خپله د غرب لپاره پر یو جدي ګواښ بدل شو[4]. پای امریکا د بلا مقدماتي پلانونو او د اسلامپالو له جنګولو وروسته، د سپټمبر د یوولسمې حادثې په پلمه، د شوروي دغه ماتوونکي فاتحین د همدې حادثې په تأثر او استدلال چېلنج کړل.

---

[2] سړه جګړه د امریکا او شوروي اتحاد او ملګرو ترمنځ یې جیوپولیټیکي او اډیالوژیکي اختلافات وو، چې له ۱۹۴۶ کال څخه پېل او تر ۱۹۸۹ کال پورې یې دوام وکړ.

[3] دوه قطبه نړېوال نظام هغه دی، چې کله د نړۍ ډېری اقتصادي، نظامي، سیاسي، کلتوري او ډیپلوماتیکي اغېزې د دوو هېوادونو په لاسونو کې وي. د دغه نظام عمده بېلګه د سړې جګړې پرمهال د امریکا متحده ایالات او شوروي اتحاد دي.

[4] په دې تړاو د امریکایي نامتو مفکر ساموېل هنټنګټن نظریه د تمدنونو ترمنځ جګړه د پاملرنې وړ ده. ساموېل هنټنګټن دغه اصطلاح او نظریه په لومړي ځل د یوې لیکنې په توګه رابرسېره کړه او بیا یې ورته کتابي بڼه ورکړه. ده په دغه لیکنه او نظریه کې د فوکویاما د تاریخ پای نظریه رد کړه او ویې وویل، تاریخ خپل پای ته نه دی رسیدلی او نه غربي ډیموکراسۍ تلپاتې سوبه ترلاسه کړې، بلکې د سړې جګړې پر ختمېدو به تمدني جګړې پېل کېږي. د ده په اند په نړۍ کې څو ځانګړي تمدنونه دي او په یوویشتمه پېړۍ کې به د دغه تمدنونو ترمنځ جګړې کېږي. د غربي تمدن سره به د اسلامي تمدن او چینایي تمدن جګړې نښلي. دغه هغه څه و، چې په اسلامي او چینایي نړۍ کې یې مفکرین اندېښمن کړل. په دې تړاو وګورئ په فارن آفئیرز کې د ده لیکنه:
https://www.foreignaffairs.com/articles/united-states/1993-06-01/clash-civilizations او کتاب Samuel Huntington, The Clash of Civilizations and the Remaking of World Order, New York: Simon & Schuster, 1996

په دغسې یو نابرابره هجوم کې چې امریکا؛ افغانستان او خلیج تر سینې لاندې کړل؛ د امریکا هجوم ډېرو نورو ته لکه د اولیفر روی[5] لیکوال په څېر د اسلامپالو د ماتې دویم نوم واخیست.

که څه هم اولیفر روی له دې حادثو وړاندې لیکنه کړې؛ ولې په مجموع کې او د یو تاریخي تسلسل له مخې، په دې اړه لیکوالان او د بشري تمدن تفسیر کوونکي د غرب پر سازشونو او هجوم قلم نه کاږي، بلکې له دغه بدغوني او استعماري عمق څخه متاثرې پېښې د اسلامپالو د ماتې په عنوان قلمداد کوي.

له همدې ځایه په دې بحث کې غواړو، د اسلامپالو د سیاسي ماتې یا نه ماتې ماجراء پخپله طریقه وڅېړو.

## سیاسي اسلام؛ یا د مسلمانانو د واحد مرکزیت هڅه

اسلامي نړۍ له خپل جوړښت وروسته تر ټولو لوی او اوږد اخ و ډب له مسیحي اروپا سره درلود.

د فارس امپراتورۍ او د فارس مدنیت په هماغه اول پړاو کې –د خلافت راشده په دوران کې – د ځمکې له سره پورته شوې؛ ولې غرب او یا د روم او بیزنتین امپراتورۍ[6] یا په مجموع کې مسیحي غرب په خپله لومړۍ ماته کې د خپلې امپراتورۍ د ځینو برخو په ورکړه، په اروپا کې د بلا موقتو ماتو باوجود، د اسلامي دعوت او جهاد پر وړاندې خپل تمدني عمق وساته.

د عربو مسلمانانو د مسیحي امپراتورۍ ډېرې برخې په اسیا او اروپا کې د خلافت برخه کړې، او د عربو فاتحینو پر وړاندې مسیحیانو خپلې شرقي برخې بایلودې لکه په شام، فلسطین، مصر کې.  ولې اروپا په دویمه ماته کې د بیزنتین امپراتورۍ او تر شا یې اروپایي برخه د عثماني امپراتورۍ[7] پر مهال، او په تېره بیا د سلطان محمد فاتح[8] په جګړو کې، خپل مرکز او شاوخوا سیمې له لاسه ورکړې.

---

[5] اولیفر روی فرانسوي لیکوال او څېړونکی دی، چې پر اسلامپالو یې ډېرې لیکنې کړې. دلته لیکوال د اولیفر روی مشهور کتاب «د سیاسي اسلام ماتې» ته اشاره کوي.

[6]د بیزنتین امپراتورۍ ته ختیځه رومي امپراتوري هم وایي. دغه امپراتورۍ په ۳۳۰ میلادي کال کې پېل او ۱۴۵۳ میلادي کال یې دوام وکړ.

[7]عثماني امپراتورۍ یو له هغو ځواکمنو امپراتوریو ده، چې تر ډېره یې دوام وکړ. د دغه امپراتورۍ بنسټ په ۱۲۹۹ کال کې کېښودل شو او تر ۱۹۲۲ کال یې دوام وکړ. عثماني امپراتورۍ د منځنې ختیځ، شمالي افریقا او پر ختیځې اروپا تر ٦٠٠ کلونو پورې واکمني وکړه.

[8]سلطان محمد فاتح د عثماني خلافت سلطان و، چې واکمني یې د ۱۴۴۴ کال څخه تر ۱۳۴٦ او بیا له ۱۴۵۱ کال څخه تر ۱۴۸۱ کال پورې غځېدله. سلطان محمد فاتح لومړنی مسلمان و، چې قسطنطنیه یې ونیوله او نوم یې پرې اسلام بول کېښود (وروسته استانبول شو). د سلطان محمد فاتح د قسطنطنیې فتح په تړاو هم، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وړاندوینه کړې وه.

اروپايي مسيحت په خپل لوی هجوم يعنې صليبي جگړو کې وغوښتل چې د مسلمانانو د مخ پر زياتېدونکي نفوذ او پراختيا مخه د اسلامي خلافت په عربي برخه کې په خپل تسلط کې ونيسي؛ ولې صلاح الدين ايوبي د اروپا او بيا متحدې اروپا دغه هجوم په مېړانه مات کړ.

ولې کله چې مغولي هجوم[9] د صليبي هجوم په تعقيب راپورته شو، مغولو وکولای شول چې د عباسي امپراتورۍ مرکز بغداد اشغال او د اسلامي نړۍ ډېرې برخې په خپل اقتدار کې وساتي، خو په اناطوليه کې سلجوقي تُرکانو د چنگېز خان د امپراتورۍ په دغه ليرې څنډه کې، له گاونډي بيزنتين سره پر جگړو اخته وو او د آل عثمان[10] د کورنۍ په ورتگ سره، د جگړې دغې سلسلې په اناطوليه کې د هغه عثماني دولت بنياد کېښود چې څلورنيمې پېړۍ د اروپا پر وړاندې لکه د سکندر دېوال ودرېد، بلکې د اروپا زياتې برخې يې لاندې کړې او اروپا ته يې په يوازې سر په زياتو جگړو کې د غوڅو ماتو ميراثه پرېښوده.

په هند کې د اروپايانو د تسلط سيالېو او بيا پر هند د پرنگي حکومت تسلط، او په عثماني دولت کې نيمگړتياوو او اختلافاتو، او په اروپا کې سياسي او علمي پرمختگونو؛ اروپا ته د عثماني دولت په پرتله هغه نفوذ او د مقابلو توان ورکړ چې د شلمې پېړۍ په سر کې د «لورنس[11]» په وسيله د عربي نشنلېزم په پارولو، او د آل سعود[12] او د ملک شريف[13] د کورنېو خامو سياستونو اروپايي امپراتوريو ته د «سايکس پيکوټ[14]» په تړون کې دا توان او ظرفيت ورکړ چې د اروپا د څلورو پېړيو دغه پياوړی حريف مات او د عثماني خلافت شکېدلې جغرافيه پخپلو کې تقسيم کړي، چې تقسيم هم شوه.

---

[9] د چنگيز خان يرغل ته اشاره ده، چې ډېرى اسلامي نړۍ يې تر خپل يرغل لاندې ونيوله.

[10]د عثماني خلافت بنسټ اېښودونکي عثمان غازي ته اشاره ده، چې له ۱۲۹۹ کال څخه يې تر ۱۳۲۳ کال پورې يې سلطنت وکړ.

[11]تي ايچ لارنس چې يو انگليسي لرغون پېژندونکی، نظامي آفسر، ډيپلومات او ليکوال و، د لومړۍ نړېوالې جگړې پرمهال د عثماني خلافت پرضد د عربانو بغاوت ته لاره هواره کړه.

[12]آل سعود د عبدالعزيز بن عبدالرحمان آل سعود ته اشاره ده، چې د سعودي عربستان لومړی بادشاه او بنسټ اېښودونکی بلل کېږي. ده په لومړي ځل په ۱۹۰۲ کال کې رياض ونيوه او په تدريج يې د سعودي نورې سيمې هم له عثماني خلافت او د مکې شريف څخه ونيولې.

[13]د مکې شريف حسين بن علي گڼل کېږي. دی په خټه هاشمي و، له ۱۹۰۸ کال څخه تر ۱۹۲۴ کال پورې يې د مکې شريف او امير و، او له ۱۹۱٦ کال څخه تر ۱۹۲۴ کال پورې د عربي هېوادونو بادشاه هم و.

[14]د سايکس پيکوټ تړون په ۱۹۱٦ کال کې د انگلستان، فرانسې او په لږه کچه د ايتاليې او روسيې ترمنځ يو پټ تړون و، چې له مخې يې د عثماني خلافت پر ماتېدو د ځمکو پر وېشلو او د اغېزو پر سيمو راڅرخېده.

د عثماني خلافت په سقوط مسلمانان او بیا ملتونه په مجموع کې د خلافت سقوط او تشې ان په هغو سیمو کې چې د خلافت برخې هم نه وې، د مسلمانانو د سیاسي قوي مرکز د تشې پر ناورین پوه کړل او په دې اړه په مصر[15] او هند[16] کې د خلافت د اعادې او د مسلمانانو د بیا یووالي دعوت او سیاسي مبارزه پیل شوه او په نورو هېوادونو کې هم دغه سوچ په سرعت خپور شو چې دې دعوت او مبارزو په کرار کرار د سیاسي اسلام عنوان واخیست او له همدې ځایه هغه مسلمانان چې په دې مبارزه کې شریک شول هغوی ته مخالفینو اسلامپال او پاتې نورو ته د عادي مسلمانانو نوم او تقسیم وکاراوه.

## آیا اسلامپال او مسلمانان په رښتیا د یو تقسیم معنا لري؟

هغه تعلیم یافته مسلمانان چې د متمدن غرب د فرهنګي هجوم او پاتو سیاسي نقشو درک کولای شي؛ هغوی پکې د ډلو جوړولو له لیارې د خپلو مسلمانانو د ژغورلو په خاطر سیاسي مبارزه او د اسلامي ارزښتونو او اسلامي تمدن د بیا ژوندي کولو په تړاو هڅې کوي، او دغه راز د خپلو مخالفینو سېکولرو ډلو پر وړاندې یوې مقابلې ته درېږي. دوی د عامو مسلمانانو د ګټو او شریکو ارزښتونو لپاره مصروف دي؛ ولې محلي سېکولر او تر شا یې غرب غواړي چې دغه سیاسي مسلمانان له عامو مسلمانانو څخه بېل مطرح کړي او د هغوی په هکله په ملتونو کې شکوک پېدا کړي.

د شوروي او د شوروي پلویانو دغو سیاسي مسلمانانو او ډلو ته د «ارتجاع» نوم وکاراوه، او د شوروي پر ماته او انحلال؛ امریکا او غرب وغوښتل چې د دغو مسلمانانو فعالې او ژوندۍ ډلې په جګړو کې اخته او د جګړو په بې توازنۍ کې هغوی هر افراط ته اړ، او پای یې په تروریستانو ونوموي. امریکا د یوویشتمې پېړۍ په سر کې همدغه کار په ټوله اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو په تقسیم په پرنګي ډول پیل هم کړ.

په عراق او افغانستان کې د امریکا له مداخلو او اشغال سره جوخت، امریکا سیاسي مسلمانان په خپلو کې تقسیم کړل او د سیاسي مسلمانانو زیاته برخه یې د ځینو ډلو – القاعده او داعش – د بې تدبیره دریځ او په داخلي جګړو کې د بې ځایه لتاړېدو له کبله تروریستان قلمداد کړل، او مقابل طرف یې معتدل مسلمانان وګڼل. دې تقسیم امریکا او غرب ته د شلمې پېړۍ د سر په شان د یوه بل نا اعلان شوي «سایکس پیکوټ» له لارې د همدغو مداخلو شرائط برابر کړل.

---

15

16 په دې اړه د هند په لویه وچه کې د «تحریک خلافت» خوځښت د یادولو وړ دی، چې د خلافت د ژغورلو په تړاو یې هلې ځلې وکړې.

ولې غرب او امریکا پکې هلته ناکام شول چې افغاني طالب پکې خپل جنگ او مخالف د خپلو ارزښتونو دننه کابو کړ، او د ملت ملگري او حمایه یې تر لاسه کړه. دا د افغانانو یو نسبي ښه تدبیر وه؛ ولې عرب مسلمانان پکې هغه افراط ته ولاړل چې د غرب پر ځای خپله خپلو ملتونو ځواب کړل.

همداسې که د شوروي د مهال مجاهدینو هغه تنازل چې په مسکو کې یې له طالبانو سره د جوړې تازه گډې ناستې او مشترک تصمیم په خاطر وکړه[17]، که دغه کار یې د بُن د غونډې[18] پر مهال او یا یې هم په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۵ کلونو کې ښودلای وای، نو د امریکا حضور به په افغانستان کې لا وختي کمزوری او ختم شوی و.

نن چې د امریکا د حضور په کوربه کابل کې د ظاهر شاه د مهال لس برابره دیني مدارس دي، او د هغه مهال په پرتله پکې حجاب زیات، او جوماتونه په لمونځ کوونکو ځوانانو ډک دي؛ دا ټول ښیي چې روانه مقابله پخپل وار د همدغسې یو کابل په موخه ده.

څومره چې طالب په دې اتلسو کلونو کې زیات سیاسي او له خپلو حریفانو سره تفاهم ته ښوبېدلی، همداسې د طالب مخالفین هم پکې زیات مذهبي او د طالب زغملو ته ښوبېدلي دي. دا یو له بل سره په جگړه اخته طرفونه چې د جگړې پرضد یو بل ته د نږدې کېدو پر لور روان دي؛ همدا ښیي چې هر لوري په ماضي کې اشتباوې کړي، او نن دې جگړې په هر طرف کې ډېر بدلون راوستلی؛ مگر هومره بدلون نه چې وخت او شرایط یې غوښتنه کوي.

که رښتیا مې پوښتې، طالبان او حریفان یې، او بیا عادي مسلمان خاموش اکثریت، په خپلو کې په ډېرو لحاظونو هېڅ توپیر نه لري او په مسکو کې د طالبانو او مجاهدینو ساده یو ځای کېدنه او بین الافغاني تفاهم همدا حقیقت ثابت کړ چې سیاسي اسلام او اسلام دواړه د یوې سکې دوه مخونه دي. دا بېله خبره ده چې ډلو پکې د کمزوري زعامت یا اشتباوو له مخې چانسونه او فتحې بایلودلې؛ ولې د اخ و ډب سلسله لا پکې تر پخوا زیاته په بدغوني شکل روانه ده. روان قطر د دې لوی ثبوت دی.

[17]په مسکو کې هغه ناستې ته اشاره ده، چې افغان سیاسیون له افغان طالبانو سره خبرو ته کښېناستل. دغه ناسته په ۲۰۱۹ کال کې ترسره شوه. استاد محمد زمان مزمل هم د دغې ناستې یو غړی و.

[18]د بُن لومړۍ ناستې ته اشاره ده، چې د افغان طالبانو د امارت د ړنگېدو پرمهال د جرمني په بُن ښار کې ترسره شوه، او په پایله کې یې حامد کرزی د هېواد موقت ولسمشر وټاکل شو. خو په دغه ناسته کې افغان طالبان او د حزب اسلامي (حکمتیار) ډلې غړي نه و رابلل شوي.

د رنېسانس[19] دورې غرب؛ مذهب او کلیسا له سیاسي صحنې څخه گوښې کړه او اوس سېکولر غرب او غربي ټولنې له مذهب څخه په لغړ سیاست باور لري. ولې په اسلامي شرق کې دغسې پلان او طرحه څکه عملي نه ده چې دلته مذهب او سیاست پخپلو کې غوټه خوړلې او مذهب له سیاست څخه جلا کول خپله د یو ټکر او انقلاب لامل گرځېږي. همدا هغه تفاوت دی چې اسلامي شرق یې له غرب سره لري. د همدې تفاوت له مخې غربي او غربي پرگنې په سیاسي ډلو کې مصروفو مسلمانانو ته سیاسي مسلمانان او سیاسي عملیې ته سیاسي اسلام وایي.

د همدې تفاوت له مخې په اسلامي نړۍ کې د عامو مسلمانانو په منځ کې د سېکولرو ډلو یا علماني ډلو د مسلمانۍ خبره پخپله د سیاسي مسلمانانو په منځ کې جنجالي شوې ده. سېکولر مسلمانان په افغانستان کې په تېره بیا «لایک سېکولران[20]» ځانونه مسلمانان گڼي او د شوروي له ماتې وروسته آن ځینې سوسیالیستان هم همدغسې تصور ته پورته شول. ولې سنتي مذهبي ډلو د شوروي له ماتې مخکې «لایک سېکولر» د مسلمانانو طبیعي برخه گڼله؛ خو په افغانستان کې د امریکا او غرب له مداخلو وروسته چې سېکولر افغانان پکې د امریکا کوربانه شول، د دغو مذهبي ډلو ځوانانو هم خپل پخوانی آند بدل کړ.

په دې حساب د اسلامي نړۍ مسلمانان د غربي تهذیب د اغېز له مخې پر څو ډلو وېشل شوي دي:

1. نهضتي مسلمانان چې له یو ډول تصحیح شوي جمهوریت سره گذاره کوي؛
2. سنتي مسلمانان چې پر امارت اسلامي باور لري؛
3. درېیم سېکولر مسلمانان چې د مذهب او سیاست پر بېلتون باوري دي؛
4. څلورم عام مسلمانان چې په همدغو ټولو ډلو کې طبیعي تقسیم دي او دغه تقسیم یو سیاسي تقسیم بولي، نه مذهبي.

## اسلامپال؛ او د یوې پېړۍ سرخوړی جریان او سوابق

د عثماني خلافت د انحلال پر دویم کال د مصر په الازهر کې د الازهر شېخانو د بل خلیفه پیداکولو او د بلې دارالخلافې پېدا کولو په اړه پخپل بحث کې د افغانستان پر امیر امان الله خان تود بحث درلود. د دوی په اند

---

[19]رنېسانس د اروپا په تاریخ کې هغه پړاو گڼل کېږي، چې د تیارو دورې وروسته پېل شو (په تېره بیا په څوارلسمه پېړۍ کې او تر ۱۷مې پېړۍ یې دوام وکړ). په دغه پړاو کې اروپایي کلتور، هنر، سیاست، اقتصاد او علومو بیا احیاء وشوه. د دې ترځنگ د رنېسانس پړاو د تورې دورې او مډرنېزم دورې ترمنځ د یو انتقالي دورې په توگه هم یادېږي.

[20] لایک سېکولران فرانسوي سېکولرانو ته وایي، او د مذهب په اړه د سېکولرانو په پرتله نرم دریځ لري.

هغه د یوازیني مسلمان هېواد مشر دی چې خپل استقلال یې اخیستی؛ نن پر هغه مهال څه کم سل کلونه تېر شول.

که څه هم د وخت پیچلې اوضاع د الازهر دغه بحث او فتواوو ته د ازهر یا قاهرې له محلي مطبوعاتو څخه د وتلو چانس ورنکړ؛ ولې امام حسن البناء[21] او لږ کلونه وروسته امام مودودي[22] د همدغه بحث عملي وجود ته د یوې ایماندارې ډلې پر جوړولو او دعوت پر پېلولو لاره اواره کړه.

که څه هم په مصر کې د جمال ناصر[23] له کودتایي حکومت سره د اسلامپالو ټکر کېدای شي چې له اسلامپالو سره په ملګری یا په تفاهم کې راغلېو افسرانو په تېره جمال ناصر او انور سادات[24] د اشتباوو او خپله د حسن البناء د ځای ناستي قاضي حسن الهضیبي[25] سخت دریځی په ګډه رامنځته کړې وي؛ خو دغه ټکر د شلمې پېړۍ د یو ځواکمن اسلامي تحریک یا د اسلامي تحریکونو د مور تحریک راتلونکی له هغو توطیو سره غوټه کړ چې د دغه نړېوال ځواکمن تحریک د دعوت او تجربو زیاته برخه له دغو افسرانو سره په ټکر کې اوبه شوه او غرب پکې د مغولو ماتوونکي مصر[26] ته دا موقع ورنکړه چې د دغسې یو حزب حکومت پکې جوړ شي.

له مصري افسرانو سره د اخوان المسلمین ټکر اسلامي نهضت دویم خو د مصاېبو پړاو ته انتقال کړ، دغه ټکر پخپل وار اسلامي خوځښت یا د اسلامپالنې خوځښت له مصر څخه د مصر ګاونډېو او هغو هېوادونو ته انتقال کړ چې په ډېری ځایونه کې یې دویم، درېیم او څلورم کاپي تحولات په هغو درجنو تحولاتو ودرول چې

---

[21]امام حسن البناء د اخوان المسلمون اسلامي تحریک بنسټ په ۱۹۲۸ کال کې کېښود او د اسلامپالنې خوځښت د یو سرلاري په توګه یادېږي.

[22]امام مودودي اسلامي مفکر، مفسر او لیکوال دی، چې د اسلامپالنې په تړاو یې ډېر څه لیکلي. ده هم د هند په لویه وچه کې د جماعت اسلامي بنیاد کېښود.

[23]جمال عبدالناصر د مصر دویم ولسمشر و، چې له ۱۹۵۴ کال څخه تر خپل مرګه (۱۹۷۰) یې پر مصر واکمني وکړه. ده د ۱۹۵۲ کال کودتا رهبري کوله.

[24]انور سادات د مصر درېیم ولسمشر و، چې له ۱۹۷۰ کال څخه تر ۱۹۸۱ کال پورې یې په مصر واکمني وکړه. دی د یو اسلامپال له خوا له دې کبله ووژل شو، چې اسراییل یې بې له کوم قېده او شرطه په رسمیت وپېژنده.

[25]حسن الهضیبي د اخوان المسلمین دویم مرشد عام و، چې د حسن البناء له وژل کېدو وروسته وټاکل شو او تر ۱۹۷۳ کال پورې په دغه منصب پاتې شو

[26]د عین جالوت هغې تاریخي جګړې ته اشاره ده، چې په ۱۲۶۰ کال د مصر مملوکو د چنګېز خان مغولو ته پکې ماتې ورکړه، او له همدې ځایه نور د مغولو د ماتو لړۍ پیل شوه.

افغانستان پکې شوروي مات کړ، الجزایر پکې انتخابات یوړل، حماس پکې په انتخاباتو کې ګټیالی شو، او تر ټولو شاته ترکي اسلامپالو پکې له ترکي سېکولرانو څخه تکرار ترکي اکثریت په انتخاباتو کې وګاټه.

حقیقت دا دی چې د افغانستان په جهاد کې اسلامي تحریک په وسیع اندازه کردار اداء کړ، او د جهاد په کامیابی او د شوروي اتحاد د لنبکرو له وتلو سره اسلامپال په درېیم او خطرناک پړاو ودرېدل.

په الجزایر کې د اسلامپالو انتخاباتي بری دا پړاو نور هم خطرناک کړ او داسې له شوروي څخه فارغه نړۍ د امریکا سترګو ته هغه افغانان او سیاسي مسلمانان ازغي ازغي کړل چې هغوی له ځان سره د شوروي د ماتې سوابق او د جګړو تجربه درلوده.

غرب او امریکا درېیمه مرحله پر څو توطیو مصروفه کړه:

**لومړی** دا چې اسلامي ډلې یې په افغانستان کې پخپلو کې اخته او وجنګولې.

**دویم** دا چې چین او د شوروي وارثه روسیه یې اول له مجاهد او بیا له طالب څخه هومره ووېرول چې هغوی د همدې وېرېدلې چین او روسیې په غیر فعال سیاست وکړای شول چې د اسیا قارې په شرق او غرب کې حضور پیدا کړي.

**درېیم**؛ په دغسې یو مهال کې چې سُني مسلمانانو د خېز د یوې تختې په شان د سیاسي مسلمانانو وجودي عمق درلود؛ امریکا او غرب په دغسې یو ظرف کې صدام حسین[27] د عربانو لپاره یو ګواښ وتراشه. امریکا دا کار د سُني مسلمانانو د ماتولو په خاطر وکړ خو ترڅنګ یې د صدام د پورته کولو له لارې ایران ته په مجموعي جغرافیه کې د کردار چانس ورکړ.

په افغانستان کې د طالبانو د حکومت په راتګ او بیا پکې د عربو او غیر عربو بهرنیو مسلمانانو ګڼ حضور او بیا د اسامه او القاعدې تحریک شتون؛ روسیه، چین، خلیج او ټول عربان پر هغې وېرې ودرول چې په افغانستان او عراق کې د امریکا د مداخلو پرته طالب ټولې نړۍ او په تېره بیا چین، روسیې او خلیج ته اول ګواښ دی.

[27]صدام حسین د عراق د البعث ګوند انقلابي رهبر و. دی له ۱۹۷۹ کال څخه تر ۲۰۰۳ کال پورې د عراق ولسمشر پاتې شو.

په دا ډول، سيمې ته د امريکا له راتګ سره، اسلامي تحريک په څلورم او تر ټولو زيات خطرناک پړاو کې واقع شو او دا په دې خاطر چې:

**اول:** دا چې اسلامي تحريک له انشعابونو سره مخامخ شو؛

**دويم:** د اسلامي تحريک قابل ملاحظه ډلې له امريکا سره ملګرې شوې؛

**درېيم:** د اسلامي تحريک مور ډلې اخوان المسلمين او جماعت اسلامي په دې تقسيم کې بې طرفۍ ته ولاړې.

په درېيم او څلورم پړاو کې چې اسلامي تحريک يا اسلامپال تقسيم شول او په ډېرو ځايونو کې يې زاړه ګټلي بايلودل؛ پر دوی ټولو، افغاني تجربې بد اغېز وکړ. ځکه چې د طالب په حکومت کې جهادي تجربه لومړی په خطر کې شوه، او بيا د امريکا په خوا کې د ځينو اسلامپالو له درېدلو، او په درېيمه درجه کې د طالبانو وروستۍ ماتې[28] نړۍ ته دا تصور ورکړ چې د اوليفر روی غوندې کسانو پکې لا مخکې اټکل کړې و چې دا ټول د سياسي اسلامپالنې ماته ده.

په دغسې يو له مايوسۍ ډک پړاو کې، په عربي سيمه کې د عربي بهار[29] خوځښتونه پيل شول، او په مصر کې د دغه خوځښت په سر کې اخوان المسلمين ښه کردار اداء کړ او تر دې پکې لويه خبره دا وه چې مُرسي[30] پکې د انقلاب په پانه نه، د انتخاباتو په پانه د هغه مصر رئيس شو چې د اخوان المسلمين په څنګ کې د همدې تنظيم بل ټيم هم په دويم کمپاين کې ولاړ و او دا د دوی ستره اشتباه وه.

د مُرسي په راتګ سره، خليجي حکمرانانو خپله راتلونکې تته ليدله او هغوی د افغانستان د جهاد د تجربې په استفاده دا ځل په ډېره ننګينه توګه وغوښتل چې خليجي حکمرانانو ته د ورپېښې ګواښ مخه بايد ډېر ليرې ونيسي. په همدې موخه د امريکا او اسرائيلو په همکارۍ يې د مصر منتخب حکومت په هغو مظاهرو او کودتا ړنګ کړ چې دواړه د خليجي دولتونو په ريالونو وچلېدل.

---

[28]دلته د ۲۰۰۱ او ۲۰۰۲ کلونو ته اشاره ده.

[29]عربي پسرلی هغو حکومت ضد مظاهرو او قيامونو ته ويل کېږي، چې په ۲۰۱۰ کال کې په شمالي افريقا او منځنۍ ختيځ کې وشول. د دغو مظاهرو له کبله د يو شمېر هېوادونو مشرانو استعفاوې وکړې. او په نوو ټاکنو کې اسلامپالو بريا ترلاسه کړه.

[30]محمد مُرسي د مصر پنځم ولسمشر خو لومړنی هغه ولسمشر دی، چې د پاکو، رڼو ټاکنو وروسته د څواک په ګدۍ کېښناست. دی له ۲۰۱۲ کال څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې د مصر ولسمشر و.

## یوه واقعي ارزونه

که په یوه دقیقه او علمي څېړنه کې د سیاسي اسلام یا اسلامپالو د یوې پېړۍ ماضي ته ژور نظر واچوو، د کودتا په تور د سید قطب[31] له نیول کېدو څخه د مُرسي تر انتخابه او بیا د هغه پر ضد د ترسره شوې کودتا پورې دا ټول تحولات یو-یو له نظره تېر کړو، نو اسلامي تحریک د درېیو اشتباوو پرته - د امام هضیبي سخت دریځي، د افغان مجاهدینو د کابل جګړې او د طالبانو په دوران کې د یوې جامدې اصلاحګرۍ او د بهرنیانو پرګنو شتون - ټول پړاوونه د هر یو بل په نسبت پر یوه قوي پړاو عوض کړي دي. خو بیا هم، اسلامپالو ته ورپېښ بلا مزاحمتونه هومره چې د غرب او ګاونډیانو توطیې وې، هومره پکې د اسلامپالو خپلو تېروتنو هم دخالت درلود.

که یو قدم له دې نور هم شاته شو، نو د پېښنو په دې لیوني پېر کې به دا هم ومومو چې په اشتباوو کې ښکېل اسلامپالي د خپل حریف غرب او جګړه تېونکې امریکا په نسبت په ډېرو مواردو کې غېر انساني او غېر منطقي روان و، او همدا تریخ حقیقت هم دی، چې سیاسي اسلام خپلو داخلي اشتباوو د شا تګ پر کرښه ودرواه؛ خو د همدې ډلو په محدوده کې نه د ملتونو د مومنو پرګنو انقلابي پیر او نه له اسلام سره د ملتونو رېښتینی تعهد رنګ بایلود، بلکې د اسلامپالو د شعار او عمل پاتې برخه په یو بل پېل کې خپل حضور وښود چې موږ له اشتباوو وروسته دغه دویم پېل پر دې حساب پېلوو چې دلته سړي او ډلې اشتباوې کوي، ماتې خوري، ولې له اسلام سره د ملتونو تعهد د بدیل هغه کرونده ده چې د غرب له بلا توطیو سره یې چا «جوش» مات نشو کړای.

عراق او افغانستان په دې اړه خپله هغه ښېلګې لري چې په خپله اسلامي لیکوالانو او تحقیقي ادارو پکې په زیاتره مواردو کې په خپلو زورورو غلطېو اعتراف کړی دی.

د شوروي پر ماته د اسلام کردار په نړېواله سطحه او بیا په ډېرو هېوادونو کې د نسبي ازادو انتخاباتو پر مهال، لکه په الجزایر، فلسطین، مصر او ترکیه کې د اسلامپالو برو او بیا د عربي بهار په نهضت کې د اسلامپالو تسلط او نیمه تسلط؛ دا ټولې هغه ښېلګې دي چې اسلامپال پکې په نړېواله او سیمه‌ییزه کچه هغسې او هومره فعال حضور لري چې غرب یې د کابو کولو له ناکامۍ وروسته دغه هېوادونه له هغو جګړو سره غوټه کړل چې ډېرې مهال بیا هم غرب خپله ناکامي مني.

---

[31] سید قطب مصری لیکوال، مفسر او مفکر و او د ۱۹۵۰ او ۱۹٦۰ لسیزو پرمهال د اخوان المسلمون له مشرانو څخه یو و. وروسته په ۱۹٦٦ کال کې د مصر د ولسمشر جمال ناصر له خوا اعدام شو.

که پر تېر جریان یو ځل بیا راوګرځو او د اسلامپالو د مبارزو د جذر او مد تکراري پړاوونو ته نظر واچوو، وبه ګورو چې اسلامپال په کومو مواردو کې ښه ځلېدلي او په کومو مواردو کې د اشتباوو او د هغوو اشتباوو مرتکب شوي چې لړو موافقینو او ډېرو مخالفینو بیا پر دغو اشتباوو د سیاسي اسلام د ماتې نوم ایښی دی؟

اسلامپال په مجموع کې په څو مواردو کې د قوي اشتباوو مرتکب شول:

**اول** دا چې هغوی کله هم د یو ټکر طرف شوي یا یې د کودتا هڅه کړې او یا یې د تُندو شعارونو زمزمه تکرار کړې. هغوی پکې د محلي او نړیوال ماحول غبرګون راپارولی دی. البته په استثنا د افغانستان د جهاد اول پړاو چې د دوه قطبه نړۍ د ګټو تضاد هغه ته ځانګړی چانس ورکړ او وروسته یو قطبه نړۍ د مجاهدینو لخوا د شوروي اتحاد د ځای ناستې د اشغال له ویرې مجاهدین پخپل منځ کې او بیا له نړۍ سره په هنرمندانه ډول وجنګول.

که په سیاسي لحاظ د سید قطب او ملګرو مظلومانه اعدامونو د دنیا د مسلمانانو په تېره د ځوانې طبقې پاملرنه اسلامپالو ته راواړوله او د دې پاملرنې وروستۍ ثمره اسلامپالو د محصیلنو په اتحادیو کې د اکثریت په ترلاسه کولو کې ټوله کړه او اسلامپال پکې د سیاسي پرمختګ د عروج څوکې ته پورته شول؛ خو په اتمه او نهمه لسیزه کې له شوروي اتحاد سره په جنګ اخته اسلامپالان یې د نظامي فتحو پر هغه موج سپاره کړل چې له جهاد سره جوخت او وروسته انتخاباتو کې اسلامپالو په زیاتو هېوادونو کې د ملتونو د اکثریتونو له ګټلو سره نړۍ د اسلامپالو د ګواښ او امریکا د شوروي د بدیل له ګواښ سره مخامخ کړه.

که څه هم په افغانستان کې د فتحو او بریو د اغېزو جادو خپله افغانان په نشه اخته کړل، او هغوی د امپریالېزم لېونېو توطیو، چې د همدوی پر ضد پېل شوې وې، غافل کړل؛ ولې د اسلامي نړۍ بلا مشرانو دغو افغانانو ته د وحدت او له امریکا او غرب سره د نرم او متفاهم سیاست او درېځ توصیه وکړه. ولې د کلاشنکوف د یوې لوخړې شاته ولاړ افغاني اسلامپال د خپل ټوپک د ډزو په شور کې د هېڅا اواز یا وانهورېد او یا یې د نصیحت پر ځای دغه توصیې د مبارکۍ او مخکې څه قربان! په حساب واخیستل او کابل ته منتظرې نړۍ او د نړۍ مسلمانانو له شوروي څخه په خالي کابل کې د مجاهدینو خپلمنځي جګړې له اسمان څخه رانښکته کړل.

په کابل کې د مجاهد-مجاهد جنګ او بیا د طالب او مجاهد جګړو، او په تعقیب په افغانستان او عراق کې د امریکا او غرب مداخلو، د اسلامپالو بد تقسیم او ورسره جوخت د طالب د کابل سقوط دې ټولو قدم په قدم د اولیفر روی د سیاسي اسلام ماتې پاتې بېلګې یو پر بل پسې وړاندې کړې.

دا چې تښتېدلي طالب بيا سر راپورته کړ او د دوو کلونو په لړ کې يې د امريکا او ناټو ګوابښوونکی يا ماتوونکی مقاومت ايجاد او په افغانستان کې پر نيمه جغرافيه مسلط شو او د امريکا تر مرګونې بمبارۍ لاندې يې بيا هم پرګنې او ولسونه ساتي دا پکې د ملت په منځ کې د اسلامپالنې د ځپانده نبض یوه ښه بېلګه ده. همداسې دا چې عربي بهار په لنډ واټن کې پېل او اسلامپال د سر په صفونو کې ځای پر ځای کړل، بلکې تونس، مصر او په نورو ځايونو کې اسلامپال بيا ژوندي شول او مُرسي پکې آن د انتخاباتو له لارې د مصر اويا کلن نظامي حکومت مات کړ، دې ټولو پخپلو کې یو ښکاره ژوندی پیغام درلود او هغه دا چې اسلامپال تر پخوا زيات ژوندي او د ملتونو په وجدان او دوستۍ کی زيات مقام لري.

د بوش د دويمې دورې په پوره کېدو چې د هغه د ۱۱ سپټمبر نظامي ګوابښ پکې د ډرامې حد ته راکوز شو او امريکا په عراق او افغانستان دواړو کې هېڅ ترلاسه نه کړل، د سياسي او نظامي جذر همدا تأثر له سره کړ چې اسلامپال په خپل موړ په موړ مسير کې هومره چې د زعامت کمزوريو او اشتباوو له موړونو سره مخامخ کړل، هغوی د امريکا مداخلو او جګړو پخپلو ملتونو او آن د حريف په همت زيات مطرح کړل. همدا وجه ده چې امريکا د سوريې ملت په نيمه لاره کې يوازې پرېږدي او په افغانستان کې يې روحيه تر دغه هم کمزورې ده.

## د ماتې ډېر څه د دعوت طبيعي برخه ده او که نه دا د اسلامپالو سياسي ماتې ده؟!

په دې وروستېو کې په تېره بيا له افغانستان څخه د شورويانو پر وتلو چې نړۍ او خپله مسلمانان ان د درېيم اسلامي بديل په هيله وو او ډېری نورو ډلو پخپلو هېوادونو کې د ملتونو دننه د باورونو او ولاوو په ژور بدلون کې تمه درلوده چې د جهاد پر ځای خپل انتخاباتي کمپاينونه د درېيم اسلامي بديل لپاره ښه چانس دی ولی نه دا چې انتخاباتي کمپاينونه په الجزاير، فلسطين، تونس، مصر او ترکيه کې چيرې له مطلقې ناکامۍ سره مخامخ شول او په ځينو هېوادونو کې لکه ترکيه د کودتا د موج له ويرې پر استعفا ودرېدل او په ځينو نورو کې لکه فلسطين له داخل څخه مداخلو يوه ښه بديل ته چانس ورنکړ او وروستۍ پکې د مُرسي مصر و چې د سعودي او اماراتو اماتورو ولي عهدانو په انقلاب ضد ټيکه او په خرڅ شوو مصري ايله جارو باندې د مُرسي منتخب حکومت د هغه سيسي په کودتا نسکور کړ چې په بې رحمۍ او استبداد کې يې د جمال ناصر د پېښو خاپونه وران کړل او هغوی چې د افغانستان کاپي يې خپلو هېوادونو ته انتقالوله هغوی د پېل مخکې يا پخپلو

هېوادونو کې زندانونو ته ولاړل او یا پخپلو طریقو اول د مجاهدینو افغانستان ته ولاړل او یا د طالبانو افغانستان ته چې ډېری یې د قلعه جنګي تور تونل وخوړل.

دا څه چې په سیاسي مدار یا نظامي مدار کې همدغسې راغلل چې ایله د دغو د مقابلې په پلمه امریکا او غرب خپلې مداخلې په عربي سیمه او افغانستان کې په مواجه طریقه پر اشغال ودرولې، دا ټول پخپل وار،که د اولیفر روی په اند یې ماته ومنو او یا یې له اسلام څخه د سطحي فهم په حساب د سیاسي فهم کمی او کمبود وګڼو، په دواړو حالتونو کې بیا هم پکې دا څرګنده ده چې دغه ماته او کمبود په اسلامي فکر کی نه ده، بلکې دا له یوې خوا د غرب د هغو زورورو توطیو څپه ده چې غرب د یوه قوي پلان تر شا تر اسلامپالو زیات مصروف دی او له بلې خوا دا د اسلامپالو د تجربو نیمګړتیاوې دي چې په هر چا کې همدا ډول پېښېږي او ډېری بیا په شرقي ټولنو کې د مشرانو له پروفیسورۍ څخه پېښېږي؛ هغه چې پخپل هېواد کې د تحول او یا له کودتا مخکې په نورو هېوادونو کې د انقلاب او کودتا هوس کوي.

مونږ مسلمانان د ملتونو په سطحه باور لرو چې اسلام په عملي لحاظ او هم د ټولنیز عدالت له مخې د یو سیاسي نظام او معقول بدیل هغه څه لري چې، که شرایط ورته برابر شي او سیاسي مشران پکې په اخلاص او تدریج قدم کېږدي، اسلام د ملتونو او پرګنو د قناعت او منطق له اخیستلو څخه نیولې د بشري بدمرغېو او د دې عصر د زیاتو ستونزو ښه حل دی او دا په دې خاطر چې د دغو ستونزو ډېری برخه په خپله زموږ حریف فکر او حریف غرب پېدا کړې ده.

دا چې د شلمې پېړۍ په وروستۍ ربعه کې اسلام د اسلامپالو د یوه په ظاهر نزولي او بایلودونکي پړاو سره مخامخ شو، دا پکې د غرب او غربي استخباراتو هغه دسیسې دي چې ډېری یې د همدې سطحي او معامله ګرو مسلمانانو په ذریعه عملي کېږي او له بده مرغه د دغو دسیسو ډېری برخه له اسلام څخه د متفاوت قرائت سیاسي لوبغاړو پر خپلو هغو اختلافاتو کامیابوي چې دوی یې د غرب د مقابلو په عنوان خپله د غرب د دسیسو وسیله ګرځوي.

د اسلامي ډلو په اشتباوو کې په تېره بیا په تېرو درېیو لسېزو کې هېڅا ته سوال نه پېدا کېږي او د دغو اشتباوو زیاته برخه د هغو مشرانو په ابتکار او عظمت طلبېو کې ځاله کوي چې خپلو خلکو او ملګرو ته ماتې د فتحو په حساب وړاندې کوي.

دا چې د دغو ډلو دغه په حساب څربې غلطۍ او اشتباوې د ماتې په حساب ومنو او که د عادي اشتباو په حساب؟ دا نو هغه سوال دی چې د سیاست بازار فعالین پکې له هر فکر او طیف څخه تېندکونه خوري او زمونږ مسلمانان خو د هر کال په سر او اخر کې کېدای شي د دغو اشتباوو زیات تکرار کړي. زما له نظره لوی لاملونه يې دا دي:

**اول**؛ په زیاتو ډلو کې شورایي نظام یا نشته او یا د مذهبي تهذیب په یو بد تأثر کې دویم-درېیم درجه مشران د نېغې او مخامخې مشورې جرائت نه لري. داسې د دوی نېغې یا مخامخ خبرې د یو ډول بې ادبۍ په حساب د خولې او زړه په منځ کې ځوانې مرګې شي او امیران پکې فکر کوي چې نوابغو ته د مشورو او لارښوونو څه ضرورت دی؟!

**دویم**؛ په پالېسېو او ستراتېژیو کې له تدریج څخه کار نه اخلي.

**درېیم**؛ له خپل ماحول او د موجوده وضعیت له صحیح درک څخه تیټ درک لري؛ په دې معنا چې په یوه وړه توانمندۍ کې د یو غټ تحول چېلنج ته درېږي.

**څلورم**؛ سیاسي کار دلته د لومړیتوبونو په حساب له پېله نه دی روان. او داسې نور.

## ایا مونږ پر ماتو د اشتباوو نوم ږدو؟!

دلته غواړو دا خبره له سره وڅېړو چې ځینو په دې وروستېو کې د سیاسي اسلام په اړه چې د افغانستان، الجزایر او نورو قضیو پای یا جګړې شوې او یا له صحنې ووتل، داسې اظهارات وکړل بلکې کتابونه يې ولیکل چې نور سیاسي اسلام پر ماته ودرېد او په دې اړه يې پر څه مستندو پېښو استدلال هم کړی او په ځینو برخو کې يې رښتیا هم د اسلامپالو تېروتنې او پریوتنې سمې ارزیابي کړي چې بیا هم ترې انکار مشکل دی.

مونږ دا قضیه اول د افغانستان په محدوده کې پخپله طریقه او بیا يې په نړېواله کچه څېړو:

### اول افغانستان

افغانان په دې اړه خپل ځواب لري.

د اسلامپالو یا د سیاسي اسلام ماته ډېره په افغانستان کې د یو اسلامي بدیل په اړه د ډلو د ناتوانۍ یا هم فکري او عملي افلاس پورې نړلې ده.

د افغانستان په اړه باید ووایم چې اسلامي نهضت په دغه هېواد کې ایله دوه کلن وو چې د مختلفو ملحوظاتو په سلسله کې پخپلو سپالو سېکولرو ډلو غوڅه برتري درلوده؛ دغه برتري هم د کودتاوو په لاملونو کې ځای درلود.

په هغو دوو کلونو کې چې اسلامي نهضت د خپلو مظاهرو او اسلامي شعارونو له کبله د خلق و پرچم او نورو ډلو له خوا د تجاوز نښه کېده؛ په هر ټکر کې به په خپله متجاوزین پر شا کېدل.

د کودتا په لړ کې د اسلامي نهضت مشران زندان ته وغورځول شول او څو مشران پکې اعدام شول، بلکې پر کودتا[32] پنځه کلونه نه و تېر چې تر تېرې کودتا بله وحشي او خونړۍ کودتا[33] وشوه، او په خپلو اولو درېیو میاشتو کې یې آن د لمانځه په مواردو بلا افسران، محصلین بلکې د نهم او لسمو صنفونو متعلمین زندانونو ته وغورځول[34] او ملت د دغه وحشت پر ضد داسې په مېړانه وپارید چې د کال په پوره کېدو د مقاومت ډزې د بالاحصار دروازې ته ورسېدې او د افغانستان بمبارد ځېلي مهاجرین پر یو مېلیون واوښتل چې پای شوروي اتحاد د افغانستان جنګي اوضاع د خپلو لښکرو د لېږدلو پرته نشوای کابو کولای او پای شوروي اتحاد په دویم کال افغانستان اشغال او د نهو کلونو له جنګ وروسته شوروي مات او لښکرې یې له افغانستان څخه ووتلې.

دې جنګ هغه ځواکمن شوروي مات کړ چې د نړۍ دویمه درجه بلاک و او له ماتې وروسته یې ونشوای کولای خپل پراخ قلمرو سمبال کړي؛ ته ووایه چې په دغسې لویه جګړه کې به پر هغو اسلامپالو څه لېونۍ ورځې نه وې راغلي چې خوارکیانو پکې ایله د دوو کلونو د سیاسي ژوند سابقه درلودله او ورسره جوخت په جنګ کې طرف شو.  هغه د یو ځواکمن شوروي په ماته کې چې د پرسونل او کدرونو څه درلودل، ټول یې قرباني کړل؛ له دې پورته هغه په دې اشغال، وران افغانستان او د جنګ په ورځو کې اصلاً د یو بدیل په اړه فکر او ابتکار پر

---

[32]د سردار محمد داوود خان د سرطان کودتا ته اشاره ده.

[33]د ۱۳۵۷ کال د ثور اوومې ته اشاره ده (د افغانستان پخواني ولسمشر سردار داوود خان پرضد د کمونستانو خونړۍ کودتا، چې له کبله یې داوود خان او د کورنۍ ۱۸ غړي یې د دغه کودتا په لړ کې شهیدان شول).

[34]په دې تړاو وګورئ د هالنډ د یوې محکمې له لوري د ۵۰۰۰ هغو کسانو لېست چې د ثور له کودتا وروسته شهیدان کړای شوي دي. وګورئ په هشت صبح ورځپاڼه کې دغه لېست: https://8am.af/x8am/1392/06/27/revealed-agsa-mass-killing-names/

کومو سرېو او کومو شرایطو کړی وای؟ بیا هم که څه پېغور دی، هغه د کابل د بدرنگه سقوط پېغور دی او دا رسوا ماجراء د څو ډلو او بیا پکې د څو کسانو د منفي عیارۍ پېښه ده، نه د ټولو ډلو مسلمانانو!!

په دې حساب د دوه کلن سیاسي اسلامي نهضت پاتې یوه نیمه لسیزه په جنگ کې تېره شوه او د خپل سیاسي ژوند نوي (۹۰) سلنه کدرونه او مشران یې په زندان او جگړو کې له منځه ولاړل؛ افغانستان په دغسې یوه اوضاع کې اسلامي ډلو ته پاتې شو چې له یوې خوا د نوي فاتح افغانستان په اړه په گاونډیانو کې د افغانستان په تړاو مثبت سوچ نه وو پاتې او نه هم د شوروي د لښکرو پر وتلو امریکا او غرب پخپل زاړه نظر او دریځ ولاړ وو، بلکې گاونډیانو او خپله د مات شوروي پاتې شونو له امریکا سره لاس یو کړ او په سفارتي هڅو یې ډلې پخپلو کې اخته کړې. په دغسې یو ظرف کې چې اتیا سلنه سرې قرباني شول او مونږ په دې نهضت کې تر پنځو زیات سابقه دار پوهنتوني استادان نه درلودل او هغه هم د حزب ملگرو پر همدې لحاظ نه منل چې سابقه نه لري. په دغسې یو طرف کې چې افغانستان د ساړه جنگ دوران په سپېره تبدیلۍ کې د یوه اسلامي بدیل پر ضرورت ودراوه دا پکې طبیعي وه چې د یوه بدیل منطقې توان یې نه درلود؛ دا خو لا پرېږده چې د بدیل مخه لا وختي هغه مهال نیول شوې وه چې مجاهدین؛ خپلو مالي حامیانو په پاکستان کې یوه وحدت ته پرینښودل او د رهبرانو په منځ کې محدودو کسانو د سیاسي حل او د یوه سیاسي بدیل مسله نظامي اینډې ته وسپارله او په پاتې ملت کې هوښیار پرسونل او دویمه-درېیمه درجه سرېو دغو نظامي اخته طرفونو ته چوپه خوله پاتې شول.

منم چې ملت چپ پاتې نشو. د امت ځینو مصلحینو وغوښتل چې اخ و ډب له نظامي مسیر څخه سیاسي مسیر ته واړوي؛ ولې د جنگي ډلو زیات مخکښان په یوه سټنگه عیارۍ کې د کابل په جنگ کې د اسلام عظمت او عُمري حکومت نمونې لټولې؛ خو اوضاع هغه طالب نسبي سیاسي کړه چې د کابل له فتحې وروسته هغه دویم بې تجربې طرف شو چې د پاکستاني ملا په مشوره یې غوښتل چې د تېر جنگ جنگیالي د خپل کور په غولي کې ووژني او دې پارونکي پړاو امریکا ته هغه پلمې ورکړې چې ټوله سیمه یې پخپل تسلط کې کړه.

د اسلامي بدیل لپاره په افغانستان کې هیڅا وخت پېدا نکړ او مسلمانان په یوه تنگه تجربه کې داسې پړاو په پړاو له کودتا او اشغالونو سره مخامخ شول چې له دغو عزیزانو څخه د بدیل تمه په هر صورت کې نه منطقي وه او نه هم په دغسې شرایطو کې هغوی دغه توانمدي درلودله.

دا چې امریکا له خپل لوی ایتلاف سره په اتلس کلن جنګ کې له نیم څخه زیاته ځمکه طالب ته پرېښودله او طالب پخپلو محکمو کې د پرګنو باور تر کابل زیات راخپل کړ او پای طالب د تروریزم له تهمت څخه ځان پاک وکېښ دا پخپل وار د اسلامپالو په ارزونه او په محاسبه کې د ترازو شاهین ځمکې ته نږدې کوي. فکر نه کېږي چې طالب او مجاهد په لنډه فاصله کې عملي بري ته ورسېږي؛ ولې د دغو دوو پړاونو د ولاوو او قربانیو میراثه به په دویم او درېیم تحول کې تر دغو لویې کارنامې ایجاد کړي، ځکه پر اسلامپالو د ملت مصرف شوی دی!

## دویم په سیمه‌ییزه او نړیواله سطحه

اسلام او مسلمانان په داسې مهال د اسلامي بدیل یا د یوه اسلامي حکومت د بیا جوړولو هڅو ته له مجبوری ودرېدل چې شرقي سېکولرانو اسلام هم پر مسیحت قیاس کړ او په خپلو ټولنو کې یې د مذهب پر ضد چا د شوروي د کمونېستي سوچ په تأسي د ښکاره دښمنی کرښه وویستله او چا د غرب «لایک سېکولر» سوچ له مخې د اسلامي ارزښتونو پر ځای د دیموکراسی په عنوان بې بندوباري او د ټیټو اخلاقو د ترویج او په هغه طریقه پټه دښمني پیل کړه چې د شوروي تر یرغله پکې دا قاتله وه لکه په ایران، ترکیه، مصر او نورو کې چې وشول.

دا چې مسلمانان د شلمې پېړۍ په سر کې د بشپړ سقوط تریخ ځوړ ته ودرېدل، نو دې سقوط او مخ په ځوړ روان تاریخ د عقل او عزت خاوندان راتلونکو خطراتو ته متوجه او د خپلو ملتونو پر ویښتیا یې پیل وکړ.

یو څه چې زمونږ معاصر مسلمانان د اسلامي غني ثقافت او کلتور په دننه کې بې شېمې کړل، هغه دا چې د غرب د رنېسانس په پړاو کې اسلامي هېوادونه د داسې مستبدو او وخت او تحول څخه غافلو حکمرانانو په لاس کې وو چې په سیاسي او علمي لحاظ دغه ټول د کاروان په اخر کې کشېدل او هغوی ان د عثماني امپراتورۍ په شمول؛ نه په ربښتیا د سیاسي اصلاحاتو لپاره چانس ورکړ او نه یې هم د خپلو امپراتوریو په دننه کې لکه د غرب د علمي خوځښت نمونې او هڅې پیدا کړې.

په دې خاطر چې په وروستیو پېړیو کې په اسلامي هېوادونو کې سیاسي نظامونه ډېر مبتذل و، د شلمې پېړۍ ویښ او اسلامپال نسل پکې د اسلام د لومړني عصر پرته د یو مقبول سیاسي نظام لپاره نغده او نږدې بېلګه او بېلګه اشخاص نه درلودل، نو له همدې ځایه به دا پکې یوه عادي خبره ومنو چې په دغسې یوه فاصله کې

واقع او له تجربو څخه ليرې نسل بايد هم پخپل پېچلي عصر او د دغه متمدن غرب سره په مقابله کې د يوې مودې لپاره بايد همدغسې د ښوېدنو او اشتباوو مرتکب شي.

د بلې خوا په غرب کې سياسي اصلاحاتو او علمي مسير لنډوونکي پرمختګ د دوو پېړيو په لړ کې غرب هغه ځای ته ورساوه چې نور يې د يو پرمختللي مدنيت او خپلې قوي امپراتورۍ په وسيله خپل غربي سياسي موډل د پاتې بشريت او ټولو لپاره الګو او نمونه کړ. د عثماني خلافت پر سقوط يې پر مسلمانانو د غربي تهذيب تېل پېل کړل، او په داسې تنګ ماحول کې، چې د دويم سوچ لپاره يې چا ته چانس نه ورکاوه.

غرب دغه ځای ته د بلا ماتو، او اشتباوو په تسلسل کې رارسېدلی، يوازې دوه نړېوالې جګړې وګورئ چې د همدې غربي تهذيب مخکښانو او د پرمختللي رنېسانس مخکښو سياسي او علمي مشرانو پکې نړۍ نسکوره او تر نسکورې پکې ډېره بدرنګه کړه.

هېلوکاسټ، د برلېن ديوال، د چين فرهنګي انقلاب، د مسکو د بلشويکانو قرنطين، د سوسياليستي بلاک زبون وهونکې کيسې دا ټولې نن په همدې غرب کې له هديرو څخه باج اخلي.

په دغسې تنګ او قرنطين شرق کې اسلامي بديل يا د سياسي اسلام خوځښت چې له بده مرغه په سرخوړو تحولاتو کې ښکېل دی، هغه کېدای شي تر دې هم سخت پړاوونه شاته پرېږدي. خو چې د ملتونو باثباته تعهد ته ګورو، نو حتماً به يوه ورځ - که څه هم د مؤقتو پرېوتنو په پای کې وي- د نړۍ فوق العاده تحولات او لېوني پړاوونه د اسلامپالو د متاع او وارداتو ته بندې دروازې د ضرورت په حساب پرانېزي.

مونږ ته د مکې وثني[35] جبروت، پرون له خپلو سرکښو مخکښانو څخه عادل عمر[36] او کاغذي فرمان ته ويلی خالد[37] راکړ!!

مونږ ته پرون د چنګيز خان په نسل کې وخت برکه[38]، تيکودار[39]، اوليجاتو[40] او عادل عالمګير[41] غوندې مسلمانان راکړل!!

---

[35] د وثني عقيدې څښتنانو د طبيعت عبادت کاوه او د بېلګې په توګه باور يې درلود چې همدا طبيعي ماده معبود دی، همدا راز په ډېرو معبودانو يې باور درلود.

[36] د اسلام دويم خليفه حضرت عمر فاروق (رض) ته اشاره ده.

[37] د يرموک جګړې فاتح خالد بن وليد (رض) ته اشاره ده.

داسې په ماتو او فتحو کې ګډوډ روان تاریخ؛ اسلامپالو ته د خپلو قربانېو حقه بدله ورکوي چې دا ځل به پکې د بل شوروي له ماتې سره جوخت دنیا ته د خپلې مسلمانۍ د وعدو پاتې ټول پورونه ورپوره کړي.

دا خو د قرانکریم له ارزښتونو سره غوټه تحول دی، دلته به د قوي او پاک پېغام خاوندان خدای ژوندي ساتي او د ناپاک او کمزوري پېغام خاوندان به یا پرمخ پریوځي او یا به د ابو سفیان په شان پخپله طریقه د سلامۍ مراسم اداء کوي!

بیا هم د یوه قوي منطق له مخې دا له وړایه ښکاره ده چې سیاسې اسلام په یو څو منطقي وجوهاتو د مشرانو د درجن درجن اشتباو باوجود ماته نه ده خوړلې:

**اول؛** که اسلامپال یا سیاسي اسلام داسې په اسانه ناکامېدای او یا یې ماته خوړلای، ولې به امریکا د هغه د ماتولو لپاره له اروپا او امریکا څخه هومره لوی لښکر جوړاوه، بلکې دغې امریکا به لا په ۱۹٦٥ز کال کې مات کړي وو چې چا د جمال ناصر له وېرې د اخوان المسلمین د زندانیانو کورنېو ته په شپه کې په غلا دوه کیلو وریجې نشوې ورکولای.

هېڅوک د مات حریف لپاره؛ نه هومره لوی ایتلافونه جوړوي او نه هم هومره اوږدو جګړو ته دوام ورکوي چې نن د ټرمپ امریکا پکې د وتلو هُنر هېر کړی دی.

**دویم؛** مات طرف هېڅ مهال دغسې د قربانۍ سرشاره جذبه نه شي پېدا کولای او نه یې هم ساتلای شي چې د سیاسي اسلام پلویانو دا نیمه پېړۍ له مصر څخه نیولې تر چیچن پورې همداسې غزولې او ساتلې ده.

**درېیم؛** ماته او ربښتینې ماته له باورونو پېل کېږي. د چا باور چې له حریف څخه قوي او غښتلی وي، هغه پر خپل ځای تر حریف زیات د درېدلو توان لري. منم چې د مادي ارقامو تفاوت به کله کله مسلمانان څه کړ- پر ته اړ کړي؛ ولې د قوي باور لرونکي طرف هومره شېمه لري چې په سخته ورځ د تورې قبضه کلکه په خپل لاس

---

[38] برکه د هلاکو خان لمسی او د چنګیرخان کړوسی و، چې وروسته مسلمان شو.

[39] تیکودار د هلاکو خان زوی او د چنګیر خان لمسی و، چې وروسته مسلمان شو.

[40]اولیجاتو د ارغنون زوی، د هلاکو خان لمسی او د چنګیرخان کړوسی و، چې وروسته مسلمان شو.

[41] محی الدین محمد، یا اورنګزیب او یا عالمګیر په هند کې د مغولي سلطنت شپږم امپراتور و، چې په ټول هندوستان یې تقریباً ۴۹ کلونه واکمني وکړه. د ده د واکمنۍ پرمهال د مغولو سلطنت عاید د فرانسې څوارلسم لویس په پرتله لس چنده زیات و. دغه راز د عالمګیر په دوره کې هند په لومړي ځل له چین څخه په اقتصادي برخه کې مخکې شو.

کې وساتي، بلکې کېدای شي چې په لاسونو شوټ او په پښو شل شي؛ خو د ننني مقابل کاوبای غونډې به نه باساره شي او نه به کاناډا ته په درجنونو پناه ويسي.

منم چې مسلمانان هم په همدغسې وضعیت کې امریکا او اروپا ته کاروان-کاروان روان دي؛ ولې دا وضعیت په سیمه کې د شوروي او امریکا د زبر ځواکونو لښکرو د جنګ او ظلم غبرګه نتیجه ده، نه طبیعي حالت!!

**څلورم**؛ سیاسي اسلام نه د جنګ ګټلو په معنی ده او نه هم یو یا څو مېدانه جنګ باېلل د سیاسي اسلام د ماتې په معنی دي. ځکه: شوروي اتحاد په افغانستان کې مات شو ولې مونږ واقعي فتحې ته ونه رسېدو، او د خدای پیغمبر چې د دې لارې مؤسس او الګو و بیا هم په اُحد او حنین کې له ماتو سره مخامخ شو.

که په جګړو کې بایلودنې او له سنګرونو په شا کېدل، په دیني لاره کې د ماتې معنی درلودله، نو د بغداد له سقوط سره به د مسلمانۍ او اسلام ټغر داسې ټول شوی و، چې پرون به شوروي او نن به امریکا د چنګېز د ماتو شویو مسلمانانو پسې دې سیمې ته د راتګ اړتیا نه درلوده.

**پنځم**؛ که معامله ګر او یا ترهګر د اسلام ممثلین وای، نو ولې به ملت په کابل کې په کورنیو جګړو او بیا د امریکا د اشغال په پړاو کې لاره بدلوله، د دغو معامله ګرو او ترهګرو فتحې او ماتې پخپل حساب دي، نه د سیاسي اسلام په حساب!!

**شپږم**؛ د غلطو او معامله ګرو پسې تګ د ځینو مجبوري ده، ولې چې د خط او لارې پر خلاف چا قدم پورته کړ، بیا همدا اسلامپال وو چې د کولاب پر خوا یې د ډېرو تلونکو شا تشه کړه او ډېرې پکې د بیګانه‌وو حمایې ته ودرېدل.

سیاسي اسلام به ځنګه او څوک په ماته تورن کړي، او یا دا چې د هغه په خوا کې په همدې لحاظ خلک ماتېږي؛ مګر هغه چې د لارې او پیغام سره یې تعهد په درواغو  وي، او هغوی په هېڅ صورت نه سیاسي مسلمانان تمثیلوي او نه مسلمانان. او دا په ډېرو ځایونو کې تکرار شوې ده. افغانستان او عراق یې دوه ښې نمونې دي.

**اووم؛** که رښتیا هم سیاسي اسلام غربي ارزښتونو ته د اسلامي بڼې ورکولو په معنی وای، لکه اولیفر روی یې چې وایي، چې سیاسي اسلام خپل ارزښتونه نه درلودل. دا په هر منطق یوه باطله خبره ده، کېدای شي ځینې یې له ناخبرۍ وکړي او ځینې یې د دښمنۍ له کبله.

تاسې یې په ایمان ووایئ چې مسلمانان دومره تیټ خلک دي چې د پردېو ارزښتونو لپاره دغسې قربانۍ ورکړي؟ او داسې قربانۍ چې د دغو ارزښتونو اصلي څښتنان(!) یې نه شي ورکولای؟ او که رښتیا هم مونږ د غرب ارزښتونه د عباراتو په تبدیلۍ کاپي کړي وای، ولې به بیا غرب له دغو مسلمانانو سره دغسې ژوره دښمني کوله چې هغوی د همدغه غرب د کاپي کړیو ارزښتونو لپاره جنګېږي؟ واقعاً دا یو ډېر تیټ تهمت دی. د افلاطون له سیاسي نظریې وروسته چې له جمهوریت څخه پورته جمهوریت بشریت لیدلی هغه یوازې په مدینه کې و.

دا خو غرب ده چې په خپلو استعماري ګټو کې خپل ارزښتونه هم قرباني کوي، د یوه ژوندي مثال په توګه د دیموکراسۍ په پایه بریا ته رسېدلی مُرسي د دیموکراسۍ د مور غرب لپاره دومره ستوغ و چې په خپلو غلامو افسرانو یې په خاینانه ډول زندان ته وغورځاوه.

**اتم؛** څنګه چې نظامي ماته د سیاسي اسلام د ماتې په عنوان مطرح کول یوه نامناسبه خبره ده، همداسې اسلام هم له نظامي عمل سره غوټه کول او بیا په دې معیار ماتوونکي دوران کې چې په ډېرې مسایلو او فیصلو کې مسلمانان د نوي نظر غوښتونکي دي، یوه بې توجیه قضیه ده.

**نهم؛** که په دې اړه کومه ماته د منلو وړ وي، هغه د تېرو پېړیو د مسلمانو حکمرانانو مسلسلې ماتې دي، چې پای د عثماني خلافت په انحلال او د مسلمانانو په ماته منتج شوې؛ ولې د معاصرو مسلمانانو هلې ځلې او مبارزې چې وروستی هدف پکې یو نړیوال ځواکمن ایتلاف جوړول دي، چې لا ورته نه دي رسېدلي؛ ولې په دې منځ ـ منځ کې وړې وړې ماتې او وړې وړې فتحې هم لري، مثلاً که د همدغو وړو وړو فتحو او وړو وړو ماتو په حساب د اسلامپالو په تاریخ راوګرځو، نو دا پکې یقیني ده چې په ځوانه او تعلیم یافته طبقه کې سیاسي اسلام تر نورو زیات اورېدونکي غوږونه پېدا کړي او په همدې حساب د تېرې پېړۍ له اوومې لسیزې څخه نیولې تر نن پورې په زیاتو اسلامي هېوادونو کې په صنف او اتحادیو کې تر ټولو زیات فعال او بااستعداده ځوانان له مسلمانانو سره ملګري کېږي.

او که په همدې لحاظ تېرو سوابقو ته وګورو، نو په یوه ژوندۍ پرتله کې به تېول وموموو چې د قربانۍ، تحول او مال ښندنې له مخې اسلامپال هم تر نورو مخکې وو.

همداسې د ډېری هېوادونو په انتخاباتي کمپاینونو کې – په استثنا د پاکستان – اکثریتونه له اسلامپالو سره ملګري کېږي، لکه پرونۍ الجزایر، اندونیزیا، او په ایران کې. دا هم په داسې حال کې چې حریفان پکې د دغو اسلامپالو دوه برابره عمر او درې برابره تجربه او د غربي سفارتونو لخوا د هغوی د پالللو پشتیبانه لري.

**لسم؛** همداسې که د اسلامپالو تېرو تحولاتو ته نظر واچوو، وبه ګورو چې دغه اسلامپالي په تعلیم یافته طبقه کې او بیا د عصري علومو په مرکزونو کې د بل هر ځای په نسبت زیات راوټوکېدل او په دې جمله کې ډېر مخکښ او جذباتي هغه تعلیم یافته کسان وو چې یا یې تعلیم په غرب کې کړی وو او یا یې یو څه وخت په غرب کې تېر کړی وو. دوی د غرب او شرق پرتلې پر سیاسي اسلام له هر چا زیات باوري کړل.

علامه اقبال  او سید قطب یې ژوندۍ نمونې دي.

دا بېځایه ده که څوک ووایي چې په ملتونو کې د بې سواده طبقې پر عقیده او عاطفه د اسلامپالو سیاسي پانګونه روانه ده؛ ولې دا چې په اسلامي امت کې ملتونه او کم تعلیمه طبقه تر هر چا حساس دي، دا د اسلام هغه تمدني ژورتابه ده چې د غربي استعمار په دوران کې یې د یوه فعال بارلیف[42] رول اداء کړ.

## له تېر څخه په فهم؛ د اسلامپالو راتلونکی

دا چې د بې رقیبه امپریالېزم یو طرفه تجاوزات او مداخلې به نړۍ کوم ځای ته راکښته کړي؟ له اسلام او مسلمانانو سره اخته امریکا به د تروریزم یا افراطي مسلمانانو سره د جګړې په پلمه مسلمانان تر کومه وخته تقسیم او د مسلمانانو یوه برخه به د حکومتونو په سلسله کې په خپل رکاب کې روان کړي وساتي؟ په منځني ختیځ کې به د سُني اکثریت له ځپلو وروسته، آیا ربښتیا هم د خلیج او منځني ختیځ جغرافیه هغسې بدله کړي چې د خلیج د شېخ نشینېو په شان پاتې هېوادونه هم پخپل کم حجمه جغرافیه کې لکه خلیجیان د

[42] د بارلیف کرښې ته اشاره ده. د بارلېف کرښه د اسراییلو له خوا د پوستو هغه ځنځیر و، چې د سویز کانال په ختیځه برخه کې یې هغه مهال جوړ کړ، چې کله د ۱۹٦۷ کال په شپږ ورځنۍ جګړه کې یې له مصر څخه د سینا سیمې ونیولې. وروسته د ۱۹۷۳ کال په جګړه کې مصر د انور سادات په مشرۍ بېرته خپلې دغه سیمې ترلاسه کړې او داسې د بارلیف کرښه هم ورسره ړنګه شوه.

امریکا له سیاستونو سره غوټه کړي؟ دا هغه سوالونه دي چې د اسلامپالو روان اخ و ډب به پکې توري پر حروفو کېږدي.

په مجموع کې غرب غواړي چې په عربي سیمه او اسلامي نړۍ کې د سیاسي اسلام او اسلامپالو مقدر د مصر، سعودي او اماراتو په شان همداسې قرنطین کړي چې په مصر، سعودي او اماراتو کې یې خونړۍ قرنطین پر بې رحمۍ روان دی.

دا او دې ورته ډېرو سوالونو ته له ماضي څخه ځوابونه پیداکول گران دي او د ورځې په نرخ یې ځواب له مصر څخه تر افغانستان پورې ډېر توپیر لري.

که د امریکا په روان قرنطین کې او په عربي سیمه کې چې سیمه یې له صفر څخه ټیټې اوضاع ته ټیټه کړې، او اوس د سُني اسلام له ځپلو وروسته په خلیج کې غواړي شیعه اسلام هماغه د امام خمیني د زهرو د پیالې مهال ته راکښته کړي. که امریکا؛ سعودي او اسراییلو ته خطر ایران خپل حجم ته راکښته کړ، ربښتیا هم چې د سیاسي اسلام راتلونکی پکې ځکه تته ښکاري چې امریکا د حرمېنو سعودي له سیاسي اسلام سره په هغه دښمنۍ کې لټار کړ چې له دې مخکې یې جمال ناصر په مصر کې ورسره لټار کړ او له ټکره یې اسراییلیانو هغه ځای ته ځان ورساوه چې نن د سیسي مصر تر عربو زیات له اسراییلو سره دوست هېواد شو.

نن چې د ملک فیصل سعودي د سیسي له مصر سره او بیا د اسراییلو په پټه ملگرۍ او د امریکا په مشرۍ په گډه له اسلامپالو سره د دښمنۍ پر اوله کرښه ودرېدل، ربښتیا هم د اسلامپالو راتلونکی نه، بلکې د سیمې راتلونکی ډېر تت ښکاري.

که عرب اسلامپالو خپل ماحول سم درک کړی وای، او په دې پېچلې سیمه کې یې د امریکایي یو درجن استبدادي نظامونو په قلمرو کې د اردوگان او اربکان په شان او یا له هغه څخه هم په کمه کچه د رسۍ سر د حکمتونو او کورنېو سره سست کش کړای وای، کېدای شول چې خلیجي دولتونه له دغو مسلمانانو هومره چې وېرېدل نه وو وېرېدلي.

ولې د اسیا په جنوب او د افغانستان په ماحول کې چې امریکا هلته د ظلم پرته د مصر او سعودي په شان غوړور ملگري نه لري، دلته سیاسي اسلام او سیاسي مسلمانانو تر هغوی په یوه نسبي ښه حالت کې دي. دا ځکه چې د سیاسي اسلام پلویان په کابل کې د ټولې کمزورۍ باوجود تر مصر او سعودي لس برابره د تحرک

او حضور چانسونه لري او دا په دې خاطر چې که کابلیانو همدغسې شرایط امریکا ته منلي وای لکه د سعودي، اماراتو او مصر، نو د کابل پاتې ځوانان او مُلایان به لا وختي له مخالف طالب سره ملګري شوي وو.

که په کابل کې ځینې اسلامي ډلو قومي اجنډاګانې پرې ایښې وای، او ځینو نورو د حسن البنا په لار روان طالب خپل ګڼلای وای، او مخالف طالب د همدغو حقایقو - چې مخکې مختصر عرض شول- درک کړی وای او له خپلو مخالفینو سره یې د رابطې پرته د فرعي او سیاسي پوچو اختلافاتو سلسله په اسلامي او پتمن حل درولې وه، دنیا به لیدلې وه چې کابل به دا ځل دا لیرې خلیج لکه د شوروي د تجاوز په دوران کې دا ځل د امریکا له جګړو څخه ژغورلای وای.

که مونږ د سیاسي اسلام راتلونکی د مجاهد او طالب یا په لوی سر کې د سیاسي ډلو د سیاستونو د کردار پورې وتړو، نو یقیناً دا غلطه محاسبه ده؛ ځکه معنی یې دا ده چې سیاسي اسلام هېڅ راتلونکی نه لري.

## ولې سیاسي اسلام تر دې ژورې ریښې لري... او هغه قوي حامي ملتونه دي

اسلام تر هر څه دمخه اول د دغو ملتونو په بستر کې قوي بنیاد لري. د همدغه بنیاد په اساس ملتونه د اشغالګرو پر ضد د مقاومت جرړې د همدې ملتونو په متن کې دي چې هغه د سیاسی ډلو په ماته یا اشتباه ځان ته بله او بدله مجراء په خپله پیدا کوي.

د مثال په ډول هغه مهال چې په کابل کې مجاهدین له خپلو موخو څخه په ټیټه او په ټیټه کورنۍ جګړه کې مصروف شول، په لنډ واټن کې طالب له کندهاره د هغوی پر ضد راپورته شو او په لنډ واټن کې ټول ملت له هغوی سره ملګری شو، د طالب د دوران فتحې هومره له باور پورته وې لکه د شوروي ضد جنګي فتحې.

که هغه مهال طالب په سیاست کې تجربه درلودلای او د کابل له نیولو وروسته یې له خپلو ورونو مجاهدینو سره تفاهم کړی وای، دنیا به لیدلې وه چې کابل له دې ایران او پاکستان څخه څه جوړول. همداسې د بل مثال په ډول په طالب کې د حرکت اسلامي طالبانو مرکزی کردار درلود او لا یې لري هم؛ ولې د امریکایانو له راتګ وروسته او د امریکا د اشغال پر ضد جګړه کی هومره چې دغه مقاومت د استاد سیاف مجاهدینو، د مولوی صیب خالص مجاهدینو، او ان د حزب اسلامي مجاهدینو بدرګه او حمایه کړ؛ خپله د حرکت انقلاب اسلامي مجاهدینو هغسې حمایه نه کړ او نن هم طالبان د تېر جهاد په هغو حوزو کې فعال دي چې هغه د شوروي پر مهال د حزب اسلامي، مولوي خالص او استاد سیاف پورې مربوطې وې.

ژوندی مثال یې هلمند، میدان وردگ، کاپیسا او لغمان دی.

دا ټول یوه معنی لري او هغه دا چې پرګنې د محتوا او موخو پسې ځي، نه د ډلو او قالبونو پسې.

ما د یوه ځوان لغماني زنداني چې اعدام شو او په حزب اسلامي کې و، د خدای بخښلي ملا عمر د مړینې پر مهال د هغه یوه مرثیه شعر ولوست، باور وکړئ چې دغه تاثر چې ده درلود د ملا صیب له خپل زوی سره به هم نه وای.

د امت دننه مبارزې زیاتره وخت د اشخاصو په وسیله او د ډلو دننه پېل کېږي؛ ولې د ملتونو او وګړو ولاوې او باورونه له ارزښتونو سره روان وي او د قوي الګو پر راتلو ولاوې او باورونه پخپله بدلېږي.

پرون د مجاهدینو د مشرانو په نامه عربانو خپل زامن نومول، د جدې د پوهنتون یو استاد له دغو څخه یو دی.

سیاسي مسلمانان یا اسلامپال چې پر کومه لاره روان دي، هغه د مېاشتو او کلونو لاره نه ده؛ هغه د څو نسلونو سرخوړی کشمکش دی.

نن چې ترکان د اویا کلن سېکولر نظام له درانده پیټول څخه سر پورته کوي او له خپلې ماضي سره د پېوندېدو پر لور روان دي او تر ټولو ښه روان دي؛ دا څه عادي خبره نه ده دا د واقعیتونو په حساب د زمانې او پړاوونو د ماتولو داستان دی، دې ته په عادي سترګه کتل نه دي پکار او نه هم دا د بالېوود او هالیووډ د کوم فلم کړی ده.

له همدې ځایه د تاریخ څېړونکي باید هر څه د مذهبي او سیاسي ډلو پورې غوټه نه کړي.

ډلې، کورنۍ او حکومتونه به په دې امت کې ځي-راځي؛ ولې اسلام او له اسلام سره د ملتونو تړاو او باور نه دکومې ډلې ابتکار دی او نه هم د چا په ټېکه دی.

هغه مهال چې صلاح الدین ایوبي له صلیبیانو سره جنګېده، دغه جذبه نه د کوم عرب په سر کې وه او نه هم د خلافت د سړو په سر کې، او که وه هم، نو ډېره کمه وه. پای هغه هم یو کُردی مسلمان و.

مونږ د کابل یا د کابل حکومت دننه قلمرو کې د پرګنو خبره مخکې وکړه، همداسې نن په افغانستان کې د مجاهدینو حریفانو په کورونو کې داسې ځوانان پیدا او لوی شول چې سوچ یې له پلرونو سره توپیر لري او

ډېری یې مدرسو ته لاړ او زیاتو یې قران یاد کړ، په داسې حال کې چې د مجاهدینو او مشرانو زامن بیا ډېری بې بندوبارۍ ته ولاړل.

بیا هم د سیاسي اسلام راتلونکي په اړه باید ووایم چې سیاسي اسلام له درېیو چېلنجونو سره مخامخ دی:

**اول چېلنج:** درې بُعده مذهبي اخ و ډب (سُني، سلفي، شیعه)

**دویم چېلنج:** د سیاسي او جهادي ډلو اختلافات او جګړې

**درېیم چېلنج:** د درېیو لویو قومونو قومي اخ و ډب (عربان، ترکان او فارس)

## سیاسي اسلام؛ او په مخکې پراته چېلنجونه

## اول چېلنج: درې بُعده مذهبي اخ و ډب (سُني، سلفي، شیعه)

مسیحت او مسیحي نړۍ هغه مهال چې مذهب او کلیسا یې له سیاست څخه ګوښې کړه؛ اروپا پکې لومړی د قوي امپراتورېو کوربه شو او په دویم قدم کې د لومړۍ او دویمې نړېوالې جګړو پرته؛ اروپا پکې د یوه نسبي طبیعي اتحاد خوا ولاړه او اختلافاتو او جګړو له اروپا څخه بهر میدان پېدا کړ.

منم چې د دوو نړېوالو جګړو وروسته د ناټو او وارسا تړونونه هم د اروپایي ټولنې په بستر کې وشول چې همېشه د نړېوالو تحولاتو او قضایاوو د پېچلتیا باعث و؛ ولې همدغو تړونونو نړۍ له هغې ګډوډۍ څخه ژغورلې وه چې کله شوروي پکې مات شو او اسلامي نړۍ یو طرفه د غرب د امپریالېزم د مداخلو میدان شو.

په مجموع کې، په اروپا کې د مسیحت مذهبي اخ و ډب له کابو کولو وروسته، اروپا یو ډول تفاهم او لوېو اېتلافونو، بلکې په یو ډول امنیتي کمربند کې داخله شوه او نږدې یوه پېړۍ شوه چې د یوګوسلاویا د جګړو او د اوکراین د مختصر اخ و ډب پرته اروپا په یو ډول سیاسي معافیت کې ژوند کوي.

برعکس په اسلامي نړۍ کې چې اصلاً پکې مذهبي حکومتونه نشته او زیات حکومتونه پکې د اروپایي نمط سېکولرو ډلو په واک کې دي، بیا هم د ملتونو په سطحه او د سیمې په سطحه دلته مذهبي اخ و ډب همغسې روان دی او په ایران کې د مذهبي حکومت په راتګ دې اخ و ډب نوي ابعاد پېدا کړل، په تېره د امریکا له مداخلو وروسته.

په خلیج کې د عثماني خلافت پر ضد غرب هغه مهال وغوښتل چې سلفي فکر د دغه خلافت د ړوټه کېدو په موخه فعال وساتي او په خلیج کې د تېلو پرېمانه عاید د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې سعودي ته د دغه مذهب د خپرولو په برخه کې، په تېره په بې وزله ملتونو کې لکه مصر، پاکستان، افغانستان ښه چانس ورکړ.

نن چې اسلامي نړۍ په تېره خلیج او د اسیا جنوب د امریکا د مداخلو د سیاسي ناورین په ټیټ پړاو کې روانه کړې، ایران او سعودي عربستان له همدغه مذهبي اختلافونو څخه د خپلو تضادونو او د خپلو سیاسي ګټو په موخه ډېره بده استفاده کوي، له همدې ځایه ده چې دې درې بُعده مذهبي اخ و ډب د سیمې او ملتونو په منځ کې هغه نسبي کراري او روابط هم متضرر کړل.

امریکا په عراق او سوریه کې تاریخي سُني بستر چې د تاریخ په اوږدو کې او د صلاح الدین ایوبي له دوران څخه د سیاسي ثبات بستر و، هغه امریکا؛ اول له صدام څخه د سعودي په وېرولو او بیا ایران ته د صدام د بدیل عراق پر جوړولو وځاپه. له بده مرغه سعودي عربستان به د صدام د قادیسیې په اهمیت هلته پوه شي چې که امریکا دا ځل بیا هم په سیمه کې ایران د امریکا له مداخلو مخکې حجم ته راکښته نه کړي.

په مصر کې د مُرسي د حکومت سقوط د همدغه مذهبي اخ و ډب حالات په ډېر بد مسیر کې وغورځول. په افغانستان کې امریکا د همدغو اختلافاتو په وتر لوبه روانه کړې ده.

همداسې په عربي سیمه کې د ایران نوی صفوي سوچ ان افغانان هم د فاطمینو د لښکر برخه کړل چې دا په طویل المدت کې د سیمې او ان د ایران په خېر نه ده.

طالبان یو سُني ځواک دی. هغوی په اول پړاو کې په دې اړه یو څه اشتباوې وکړې؛ ولې د بدو پېښو پېر هغوی تقریباً یو مثبت سوچ ته راوګرځول او اوس د افغانستان او د سیمې په ګټو یې نسبي سر خلاصېږي. که څه هم د یو قوي سیاسي حل په مناسب حد کې نه دي او ممکن حپل ګټلي چانسونه په مُلایي ساده سوچ کې خدای مه کړه بایلي. یوه نمونه یې د کابل د حکومت له استازو سره تر حد زیات حساسیت ښودل دي.

که ایران د طالبانو په اندازه په دې اړه د اُمت په خېر یو متمدن سوچ او د قوي ایران د ګټو په خاطر کړی وای، داسې به ایران نن په عربي سیمه او ان په نورو ځایونو کې د ایران پر ضد د دغو پارېدلو مخالفتونو سره نه مخامخ کېده.

د فلسطين په قضيه کې د ايران دريځ په ظاهر مثبت دی، ولې که ايران همدغه پاليسي د سُني اکثريت له سياسي مسلمانانو سره په ګډه تعقيب کړې وای، ايران به خپل ګاونډيان د امريکا او اسراييلو لمنې ته له غورځېدلو ژغورلي وای.

دا بايد په يقين ووايم، هومره چې ننی ايران د سيمې د بې ثباتۍ په اړه بېباکه روان دی، هومره د شاه سېکولر ايران د سيمې لپاره خطرناک نه وو؛ که څه هم د هغه مهال ايران له اسراييلو سره دوستي او روابط درلودل او ننی ايران له اسرايلو سره د دښمنۍ په اوله کرښه ولاړ دی.

که نن مونږ په افغانستان کې د شيعه اقليت ټولنيز او سياسي ژوند په ايران کې د سُني اقليت د سياسي او ټولنيز ژوند سره پرتله کړو، دا پکې له ورايه ځرګنده ده چې په ايران کې سُني اقليت په هماغه صفوي تنګ قلابند کې مظلوم ژوند لري او ايران هومره چې د کوروش د عظمت دابره غږوي، هومره د شاه اولياء حضرت علي وجيزې او لارښوونې يې په عمل کې هېرې کړې دي.

نن چې مظلوم مسلمانان د خپلو اروپايي حريفانو پر ضد يو ثابت او متحد دريځ نشي نيولی او د اسلامپالو هڅې پکې کم رنګه دي، لوی لامل د ايران او سعودي د حکومتونو هغه بدرنګه سياستونه دي چې هغوی پکې مذهب او مذهبي اختلافات د خپلو تنګو ګټو لپاره استخدام کړي دي او امريکا هم له همدغې اختلافاتو څخه د هرې فاجعې په ايجاد کې کار اخلي.

## دويم چېلنج؛ د جهادي او سياسي ډلو اختلافات

په دې اړه په تېرو برخو کې پوره تفصيل وړاندې شو او همدا د سياسي او جهادي ډلو اختلافاتو امريکا سيمې ته راوستله او اوس هم امريکا د همدغو ډلو د اختلافاتو په چتر کې خپل حضور ساتي.

په دې اړه هغه تېر معلومات کافي دي.

## درېيم چلينج؛ د درېيو لويو او مخکښو ملتونو قومي او سياسي سيالۍ (عرب، تُرک، ايران)

د اسلام په تېر تاريخ کې د اسلام په اړه درېيو قومونو په سياسي او فرهنګي لحاظ مهم او تاريخي کردارونه درلودل: عربانو، تُرکانو، فارس او له فارس سره مربوطه ښاخونه.

په عربانو کې د حضرت محمد ص رسالت او بیا د خلافت راشده دوران او هغه نوراني فتوح چې هغوی اسلام پخپل ژوند کې په غرب کې د فرانسې د پیرني تر غرونو پورې او په شرق کې د چین تر دېواله خپور کړ، هغوی د همدغسې یو تاریخي کردار له مخې همیشه د مسلمانانو په منځ کې یو مخکښ او د قدر وړ ملت دی.

تُرک ملت د عباسي دوران په لړ کې د سلطنتونو په حساب د محمود غزنوي، قزل ارسلان او بیا د آل عثمان په اوږده او ژغورنده خلافت کې هغه کردار اداء کړ چې مسلمانان یې په مجموع کې د اروپایي امپراتوریو له هجوم او شر څخه ساتلي وو.

په همدې لحاظ او نن هم چې د نوي اسلامپالنې دوران دی؛ تُرکانو پکې د بلا صدمو وروسته او له ټولو څخه په وروسته پېل شوې مبارزه کې اردوگان او ملگرو یې بیا تُرکان هماغسې یو تاریخ ته نږدې کړي دي، د مور شېدې یې شه!

فارس د خپل تېر مدنیت له مخې او په اسلامي علومو کې د لوړ کردار له مخې او بیا له فارس سره په نښتو سیمو کې د نصر ابن سامان، محمود غزنوي او احمد شاه ابدالي سلطنتونو او واکمنیو په سیاسي او علمي لحاظ هغه کردارونه اداء کړي چې د عباسي خلافت په دوران کې دا پکې رغنده پړاوونه وو.

په عجمو مسلمانانو کې افغانانو په علمي او په سیاسي لحاظ د اسلامي تاریخ او تحولاتو په لړ کې ژوندي سوابق لري. د ابو مسلم خراساني او بیا د طاهرې پوشانجي، او په تعقیب یي د غوریانو او غزنویانو سلطنتونه چې مرکزونه یي په افغانستان کې وه او د اسلام په سیاسي او علمي پرمختگ کې یې ژوندي کردارونه درلودل؛ او له بلې خوا له دې جغرافیې سره د امام ابوحنیفه، امام احمد بن حنبل، ابو نصر فارابي، ابن سینا او پای د سید جمال الدین غوندې د لوی مصلح تعلق، افغانانو ته هغه جذبه او له اسلام سره د وفا او ولاء هغه میراثه پرېښې چې په وروستېو پېړیو کې له همدې تأثر څخه په دې خاوره کې درې متجاوزې امپراتورۍ انگلیس، شوروي او امریکا په خپلو موخو کې ناکامې شوې.

که د امیر امان الله خان شکلي اصلاحاتو پر هغه چانس نه و بدرنگ کړی، او که مجاهدینو د نجیب په سقوط خپل طلایي چانسونه پخپله نه وو پیکه کړي؛ نن به د دې سیالۍ پر سټیج افغانان د همدغو عربو، ترکانو مخکښان و.

ولې نن چې په سیمه کې عرب، تُرک، فارس او منځنۍ اسیا سیمې ټول په بدرنګ او تېټ تاریخ کې روان دي، له هېڅا سره ځواک او امپراتورۍ نشته بیا هم په سیمه کې د دغو درېیو قومونو په منځ کې سیاسي سیالۍ په داسې چوکاټ کې روانې دي چې د هغوی اختلافات او سیالۍ د امریکا د مداخلو لپاره یوه وسیله ګرځېدلې او اسلامپال د دغو اختلافاتو څخه د تېرېدلو لویه ستونزه لري.

اسلامپال نهضت چې په موخو کې یې یوه لویه موخه د مسلمانانو لپاره د مشترکو ګټو په حساب د یوه مرکزیت ایجاد دی، هغوی په خپل وار که پخپلو هېوادونو کې د ملیتي اکثریتونو او اقلیتونو په منځ کې د یو متوازن سیاست ستونزه لري، د اسلامي نړۍ په سطحه هم د همدغو لویو او مرکزي کردار غوښتونکو ملتونو ترک، عرب او په اوس مهال د ایران د متضادو سیاستونو سره په یوه بې ثباته مبارزه کې ښکېل دي.

په دې خاطر چې سعودي په سیمه کې د یو قوي سیمه‌ییز سیاست مشرتابه په واک کې ولري، هغوی پخپل ماحول او لېرې مصر کې غواړي چې د اسلامپالو د مور ډلې اخوان المسلمین جرړې پخپلو ریالونو او د امریکا او غرب په ملګرۍ وچې کړي.

هغه اخوان المسلمین چې په مصر کې یې مثبت دریځ د دې سبب شو چې همدا سعودي پرون د ناصر له اوړدو لاسونو څخه وژغوره.

همداسې ایران پرون د امریکا د نظامي حضور او د صدام ضد جګړو په چتر کې وکولای شول چې په عراق، سوریه، یمن او نورو ځایونو کې خپل شیعه اقلیتونه متحد او سُني مسلمانان وځپي، او د اخوان المسلمین د قوي ډلې حضور صفر ته راکښته کړي.

دا چې د اردوګان ترکیه نن د یوه اسلامپال تنظیم لخوا رهبري کېږي، له همدې ځایه د اردوګان رول او سیاستونه د سیمې د ملتونو د ګټو سره مطابق او یا تر ډېره مطابق روان دي.

له همدې ځایه اردوګان په سوریه کې غواړي مسایل پخپله طریقه سولې او د سوریې ملت د متحد پاتې کېدو خوا روان کړي.

که پرون د مصر اردو د امریکا او سعودي عربستان لپاره ایله جار رول نه و اداء کړی او د اردوګان ترڅنګ دغه مخکښ مصر د مُرسي په رهبرۍ کې حضور درلودلای، خلیج او منځنۍ ختیځ به داسې بې ثباتۍ ته نه و راکوز

شوی او خلیج او سعودي ته به ټرمپ دا ډرکه نه ورکوله چې که امریکا له سیمې لاړه شي، تاسې دوه هفتې هم دوام نشئ کولای.

نن له سوریې څخه تښتېدونکې امریکا د خلیج او خلیجي دوستانو د روحیې او مورال په خاطر د امریکا لویه کښتۍ راروانه کړې او عربان دغې لویې کښتۍ ته سترګې په لاره دي او له دې څخه اوس یو سیاسي فلم جوړ شوی دی.

په دې خاطر چې د اخوان المسلمین په بې رولۍ کې سعودي سیمه ټوله د هغه ایران د مداخلو میدان کړه چې سعودي پکې پرون په بې تدبیرۍ یمیني شیعه ګان د سنیانو پر ضد څرب کړل.

## یوه لنډه پرتله

په دې کې هېڅ شک نشته چې په اسلامي نړۍ کې ډېرو ډلو سیاسي ماته په دې معنی وخوړه چې په دغو ډلو کې زیاتو په خپلو کې او له خپلو حکومتونو سره په بې تدبیرۍ اخته شوې او ډېرو ډلو د همدې غلط سیاست له مخې امریکا ته مخه کړه او ټوله سیمه یې مداخلو او اشغال ته وسپارله، ولې دا چې په روان جنګي محشر کې امریکا ناکامه ده او د امریکا په پناه کې پاتې حکومتونه پخپل وار د بې ثباتۍ ښکار دي او ملتونه له دغو حکومتونو او پکې د سېکولرو له رول څخه، لکه د شلمې پېړۍ د سر په شان چې په ترکیه، ایران او افغانستان کې ناراض وو، ناراض دي. د ملتونو د بې باورۍ همدا تش سیاسي دهلیز بیا هم کېدای شي د دویم ځل لپاره د اسلامپالو د رول لپاره یو ښه چانس شي؛ خو نه په دې معنی چې دغه زړې ډلې به پکې په همدې تروټه دعوت کې د مثبت رول لپاره چانس پیدا کړي، بلکې په دې معنی چې د ۲۱ مې  پېړۍ د دویمې نیمایي مخکې ـ مخکې کېدای شي په دې هېوادونو کې لکه د اربکان د ډلې په بستر کې چې هوښیار اردوګان راوټوکېده او د مجاهدینو په بستر کې چې طالب راوټوکید، او یا د یوه بې ټکره دعوت په موخه د افغان ځوانانو لخوا چې د جمعیت اصلاح دعوتي ټولنه راوټوکېدله داسې به په یو بل تحول او چانس کې په عربي سیمه او زمونږ په ګاونډ کې یا همدا طالب او مجاهد د خپلو خلکو په متن کې په یو ایتلاف کې ننوځي او که طالب لږ زیات سیاسي او هوښیار شي، په افغانستان کې به اسلامپالان د امریکا پر وتلو پر خپل اتحاد لکه د شوروي د ماتې د چانس په شان د تېرو اشتباوو د تلافي کولو  امتیاز واخلي او له سره به په افغانستان کې اسلامپالان، مجاهدین او طالب مطرح شي او خپل اغېز به نږدې پاکستان، ایران او ان عربي سیمې ته وغځوي.

دا هم د یوې تجربې په حیث لوستونکو ته وړاندې کړو چې روان لوی اخ و ډب د ذهنونو په بدلون کې ژور اغېز لري، په تېره بیا د هغوی لپاره چې واقعاً تحول او مسایلو ته لږ په ژور نظر گوري. د مثال په توگه د حامد ابراهیمي صېب په روایت په اروپا کې جوماتونو ته ډېری د هغو کسانو زامن ځي چې پرون یې پلرونه د مجاهدینو  مقابل طرف و او همدغه ځوانان په سېکولره اروپا کې له یوه رېړرور یا نسبي ملا څخه د دین او مذهب پوښتنه کوي او له بده مرغه برعکس د مجاهدینو او قومندانانو زامن چې اروپا ته دایمي یا مؤقت راځي د هغوی زیاته برخه په نایټ کلبونو او قمارخانو کې جذبېږي. دا که رښتیا هم په یوه ژوره پرتله کې وغورځوو، نو د اول ټیم ځوانان د خپلو پلرونو غلطۍ او په اوس مهال له امپریالېزم سره د هغوی د پلرونو د مقابل طرف د ځینو جنگ او جگړو دغه ځوانان ژور سوچ ته ودرول او هغه مقابل یې چې خپل پلرونه په یوه بې محتوا فتحه کې فاتح او دوی یې ځان میراث خواره گڼي، هغوی یې دغه سطحي ابتذال ته وروغورځول.

اسلام په معینو اشخاصو او مشخصو ډلو ولاړ دین نه دی. د عربانو له اول نسل څخه وروسته څومره چې اسلام عجمو (غیر عرب) په فکري او سیاسي لحاظ پاللی دی، هومره عربانو نه دی پاللی.

دا ټول له دې څخه منشاء اخلي چې په دې دین کې علمي ټولنیز او سیاسي ارزښتونه او ثوابت د هغه مسیر ټاکي.

په شلمه پېړۍ کې چې هابل پخپله رصدخانه کې په نارامۍ  لگیا و چې د کائناتو ورځ زیاتیدونکی وسعت کشف او د فضائي معلوماتو برخه کړي، ۱۴ پېړۍ مخکې په مکه کې د ابوطالب یتیم ته جبرایل امین د وحیې په ژبه ویلي وو :

والسماء بنیناها باید وانا لموسعون

(مونږ پخپلو لاسونو اسمانونه جوړ کړل او نور یې هم پسې پراخوو)

همدا حقایق دي چې د اسلام لپاره سړي، قومونه، ولاوې؛ ټولې پېړۍ په پېړۍ، تحول په تحول پیدا کوي.

داسې به په یو بل تحول او چانس کې په عربي سیمه او زمونږ په گاونډ کې یا همدا طالب د خپلو خلکو په متن کې نوې ډلې او پرگنې په یو ابېتلاف کې ملگري کړي او که طالب لږ زیات سیاسي شي او دغو سیاسي مسلمانانو سره تفاهم او روابطو ته تن ورکړي هغه چې پرون یې دفاع ته اړ کړي، کېدای شي دغه ټول په شرق کې مؤثر ځواکونه یوه اتحاد ته ودروي او له چین، روسیې سره مسلمانان داسې بلاک جوړ کړي چې د چین د

دېوال په شان به د ټولې اسیا دروازې د غرب پر مخ قلف کړي او دا به پکې د چین د دیوال دویمه کاپي وي چې په عکاسۍ کې به نه لېدل کېږي خو اغیز به یې د هغه سل برابره وي. اسلامي ملتونو په تېره کې ثابته کړې چې هغوی د نسبي اصلح پر خوا د تللو ښه تجربه او استعداد لري.

پای

# اعتدال، توازن او منځلارېتوب؛ شرعي معناوې او غلطې انګېرنې

## دکتور مصباح الله عبد الباقي[1]

[يادونه: په دغه ليکنه کې د اعتدال، توازن او منځلارېتوب مفهوم بيان شوی او بيا په قران کريم کې د منځلارېتوب معنی د بېلا بېلو آيتونو په رڼا کې واضح شوې ده. همدارنګه، د منځلارېتوب او اعتدال تر عنوان لاندې پر هغو غلطو انګېرنو هم د اهل سنت او الجماعت د اصولو په رڼا کې بحث شوی، چې زموږ په ټولنه کې شتون لري.

دا چې په اسلام کې د منځلارېتوب نښې او مظاهر څه دي، او دغه راز د هغې غوښتنې څه دي، هم په دې ليکنه کې پرې تفصيلي بحث شوی.]

**کيلي: اسلام، منځلارېتوب، منځلاري، منځلاري مسلمانان، افراط او تفريط**

## مقدمه

هر څېز يوه خاصه ځانګړتيا لري چې هغه پرې پېژندل کېږي، دې ځانګړتيا ته د منطق په اصطلاح خاصه يا الوصف الأخص وېل کېږي. د اسلام الوصف الأخص يا خاصه ځانګړتيا «وسطيت او اعتدال» دی. دا يوه داسې ځانګړتيا ده چې د اسلام په هر اړخ کې رعايت شوې ده، هغه که عقايد وي او که عبادات، اخلاق وي او که معاملات، سياست وي او که تجارت، د معرفت نظريه وي او که عملي اړخ...هېڅ يو اړخ داسې نه دی پاتې چې دا ځانګړتيا پکې په ډېر څرګند ډول رعايت شوې نه وي.

[1] دکتور مصباح الله عبدالباقي د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د علمي شورا رئيس او د تحليل مجلې د مشورتي بورډ غړی دی. د دې ترڅنګ دکتور مصباح په تفسيري مطالعاتو کې د اسلام آباد له نړېوال اسلامي پوهنتون څخه دکتورا لري او اوس‌مهال د سلام خصوصي پوهنتون مشر دی. دکتور مصباح الله عبدالباقي له تېرو دوو لسيزو راهيسې د اسلامي فکر او پېښو او لويديځ پېژندنې په تړاو مقالې او رسالې ليکلې دي.

دا موضوع چې تاسو يې لولئ، د دې اصلي او بنسټيزه موخه دا ده چې لوستونکي پر دې پوهه شي، چې د وسطيت او توازن مفهوم څه دی، او هغه مفهوم څه دی چې له غرب څخه اغېزمن خلک يې له دغو اصطلاحاتو اخيستل غواړي، او دا چې هغه کوم دلايل دي چې دا ثابتوي چې وسطيت، توازن او اعتدال د اسلام يوه بنسټيزه ځانګړتيا ده، بيا هغه کومې غوښتنې دي چې اسلام يې له يو مسلمان څخه غوښتنه کوي چې بايد په خپل ژوند کې يې پياده کړي، او په پای کې هغه کوم سلوکېات دي چې د اسلام له دې ځانګړتيا سره په ټکر کې واقع دي، په دې لاندې کرښو کې د همدې موضوعاتو په اړه يو څه معروضات درنو لوستونکو ته وړاندې کوو. که درست وي نو دا د الله تعالی توفيق او احسان دی، او که خطاء او غلط وي نو هغه زما د نفس او شيطان له خوا دي او له هغه څخه د الله شريعت مبراء او پاک دی. **سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ**(۳۲: البقره)

## 1. د منځلاريتوب او اعتدال معنی او مفهوم

وسطيت (منځلاريتوب) په لغت کې په دوو مفهومو کې استعمال شوی دی: لومړی په مادي مفهوم کې د څيزونو (وسط)؛ په دې استعمال کې (وسط) د څيزونو منځ ته وېل کېږي، د داسې څيزونو منځ ته چې څنډې او اړخونه ولري، لکه عرب چې وايي: «**جلست وسط الدار**» يعنې زه د کور په منځ کې کښېناستم. د کور څنډې او طرفونه او اړخونه شته دي؛ هر هغه ځای چې د دې اړخونو منځ کې واقع دی، هغه ته وسط وېل کېږي.

دويم؛ کله چې له وسط څخه د معنوي وسطيت مراد واخيستل شي، نو بيا ترې د يو څېز تر ټولو غوره، بهتره او افضله برخه مراد وي، او دا ځکه چې په عامه توګه په مادي څېزونو کې د څېزونو منځنۍ برخې تر ټولو غوره، بهتره او افضله وي، او په عامه توګه دا د دوو متضادو صفتونو په منځ کې وي.

## منځلاريتوب ته په اصطلاح کې څه وايي؟

په اصطلاح کې د وسطيت معنی اعتدال غوره کول، او له افراط او تفريط څخه ځان ژغورلو ته وايي. تعريف يې په لاندې ټکو کې شوی دی:

**(هي حالة من التوازن القائم على التوسط بين طرفين متضادين، دون غلو أو تقصير).**

**ژباړه:** وسطیت د توازن هغه حالت ته وېل کېږي چې د دوو متقابلو او متضادو طرفونو ترمنځ د منځلاریتوب پر بنسټ په داسې توګه ولاړ وي چې نه پکې زیاتی (غلو) او نه پکې کمی (تقصیر) وي.

**(الوسطية سلوک محمود ـ مادي او معنوي ـ يعصم صاحبه من الانزلاق الى طرفين متقابلين ـ غالبا ـ أو متفاوتين، تتجاذبهما رذيلتا الافراط والتفريط سواء كان فى أمور دينية أم دنيوية).**

**ژباړه:** وسطیت یو داسې درست تعامل ته وېل کېږي چې انسان د دوو متفاوتو او یا متضادو اړخونو ـ هغه که مادي وي او که معنوي ـ څخه د یو اړخ لور ته د میلان څخه ځان وساتي. داسې اړخونه چې د افراط او تفریط، د کمي او زیاتي ترمنځ واقع وي، دا (اړخونه) که په دیني چارو کې وي او که په دنیاوي چارو کې.

وتلی عالم دکتور قرضاوي منځلارېتوب داسې تعریفوي:

**ژباړه:** وسطیت د متقابلو اړخونو ترمنځ منځلاریتوب ته ویل کېږي، نه په داسې توګه چې یو لوری ټول تأثیر خپل کړي او بل لوری بی‌تأثیره پرېږدي، او یا دا چې یو لوری له خپل حق څخه زیاته ونډه تر لاسه کړي او پر بل لوري تېری او ظلم وکړي. د متقابلو اړخونو ترمنځ د وسطیت مثالونه په لاندې ډول دي: د ربانیت او انسانیت ترمنځ وسطیت، د روحانیت او مادیت، د اخرویت او دنیویت، د وحي او عقل، ماضي ته په انتساب او راتلونکي ترمنځ منځلاریتوب، د واقعیت او مثالیت، د حقوقو او واجباتو، د بدلون او ثبات، د نص او اجتهاد، د ظاهریت او مقصدیت، د روایت او رأی او داسی نورو مواردو ترمنځ وسطیت او اعتدال. د دغو مواردو ترمنځ د وسطیت، اعتدال او منځلاریتوب معنی دا ده چې له دوی څخه هر یو ته خپل میدان پرانېستلای شي، او د زیاتوالي او کموالي پرته هر یوه ته په هغه توګه چې قران کریم وایي خپل حق ورکړلای شي، الله تعالی فرمایي: ( الله تعالی اسمان اوچت کړی دی، او تله یې ایښي ده، (او د دې حکم یې کړی چې) تاسې په تله کې تېری مه کوئ، او (د دې حکم یې کړی چې) په عدل او انصاف سره وزن وتلئ او په تله کې چا ته نقصان مه اړوئ).

نو منځلارېتوب دې ته وېل کېږي چې له زیاتي او کمي پرته د متقابلو اړخونو او لوریو ترمنځ په انصاف سره منځلاریتوب او اعتدال په داسی توګه غوره او وټاکل شي چې یو اړخ پر بل تېری ونه کړي؛ د هغه چا په څېر چې د دنیا او اخرت ښېګڼې جمع کوي، او یا د هغه چا په څېر چې د علم او رڼا دواړه مصدرونه (وحې او عقل) جمع کوي او ترې استفاده کوي.

همدا خبره ابن قیم الجوزیة داسې کوي:

**ما أمر الله - عزَّ وجل - بأمر إلا وللشيطان فيه نزغتان: إمَّا تقصير وتفريط، وإما إفراط وغلو، فلا يبالي بما ظفر من العبد من الخطيئتين**[2]"

**ژباړه:** الله تعالی چې د هر څه حکم وکړی، په هغه کې شیطان انسان ته په دوو ډولو فریب ورکوي او تیر باسي یې؛ یا خو یې په تقصیر او تفریط کې غورځوي، او یا یې په افراط او غلو کې اچوي، بیا یې هېڅ پرواه نه وي چې له دې دواړو ګناهونو څخه یې انسان په هره ګناه کې ور غورځولی وي.

په بل ځای کې همدا عالم فرمايي:

"**والدين كلُّه بين هذين الطرفين - التقصير والمجاوزة - بل الإسلام قصد بين الملل، والسنة قصد بين البدع، ودين الله بين الغالي فيه، والجافي عنه**[3]"

**ژباړه:** ټول دین د دوو څنډو او اړخونو (افراط او تفریط) په منځ کې دی، بلکې اسلام د ټولو ادیانو په منځ کې د اعتدال او وسطیت دین دی، او د اهل سنتو منهج او تګلاره د مبتدع فرقو د افراطي او تفریطي تګلارو په منځ کې یوه تګلاره ده، همدا راز د الله تعالی دین د غلو (افراط) کوونکو او د پرېښودونکو (تفریط کوونکو) ترمنځ یو دین دی.

په حقیقت کې د ژوند په هر اړخ کې د اسلام د احکامو عملي کول، او بیا په کُلي توګه د اسلام تشریعاتو ته غاړه اېښودل همدا توازن او اعتدال رامنځ ته کوي، اسلام چې د هر څه حکم وکړی هغه په حقیقت کې د وسطیت او توازن تر ټولو بهترین معیار دی، بیا که څوک د اسلام یوه برخه واخلي او بله برخه یې پرېږدي، نو بیا هم په ژوند کې اعتدال او وسطیت نه رامنځ ته کېږی. د بېلګې په توګه که څوک په اسلام کې په روحاني او معنوي اړخ عمل کوي؛ خو د دنیا د ابادۍ او تعمیر په اړه د اسلام احکام او تشریعات له یاده وباسي، نو د دغه شخص په ژوند کې اعتدال نه شي راتللی. همدا راز که څوک د سولې په اړه د اسلام تشریعات خلکو ته رسوي او پر هغه ترکیز کوي؛ خو د معتدي او ظالم پر ضد د دربدو او جهاد احکام یې هېر وي، دا هم له اعتدال او

---

[2]- الوابل الصيب من الكلم الطيب (ص: 14) تحقيق: سيد ابراهيم، طبع دار الحديث، القاهرة، الطبعة الثالثة، عام ۱۹۹۹م.

[3] - الروح (ص: 257) ابن القيم، دار الكتب العلمية، بيروت، کال ۱۹۷۵م.

توازن څخه لېرې دریځ دی؛ همدا راز که څوک یوازې د اسلام په اخلاقي اړخ ترکیز کوي او عبادي اړخ یې هېر وي دا هم د توازن او وسطیت څخه لیرې ده.

## د منځلارېتوب نادرست مفهوم

یو شمېر خلک هڅه کوي چې د نورو شرعي اصطلاحاتو په څېر د «وسطیت» اصطلاح هم له خپل حقیقي مفهوم څخه وباسي او په نادرسته معنی یې حمل کړي. د دوی په اصطلاح وسطیت او اعتدال دې ته ویل کېږي چې اسلام تنازل قبول کړي، او له جاهلیت سره جوړ جاړی وکړي، په دی معنی چې یو څه له جاهلیت څخه واخلي او یو څه له اسلام څخه، او په منځ فیصله وکړي، د خپلو اصلي احکامو له جملې څخه له یو څه احکامو تېر شي، او هر هغه څه لغوه کړي چې د استعماري او برلاسو قوتونو د تصوراتو او فکري منظومې سره په ټکر کې وي، ځکه هغه دوی ته وروسته والی ښکاري.

همدا راز څه خلک اعتدال دې ته وایي چې د قران کریم او نبوي سنتو پر نصوصو د اعتماد او استدلال پرځای قوانین او تشریعات د هغو خلکو د نفسي خواهشاتو او ذهني تراوشونو تابع وګرځوي چې له غربي تمدن څخه مرعوب دي. داسې خلکو ته د دوی په اصطلاح کې (Moderate Muslims) یا منځلاري مسلمانان ویل کېږي. دا په حقیقت کې نه مسلمانان دي او نه منځلاري؛ دا هغه څه دي چې قران کریم په ډېر پېل کې په (الکافرون) سورت کې په ډېر وضاحت سره مسترد کړي دي، او داسې څوک چې د اسلام پر یوه برخه عمل کوي او بله برخه یې د نورو خلکو د خواهشاتو او یا هم ذهني شکست خوردګی له امله پرېږدي، قران کریم په دې اړه داسی وایي:

**{أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَفْعَلُ ذَلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ} [البقرة: 85]**

**ژباړه:** ایا د (الله تعالی) د کتاب یوه برخه منئ او بله برخه یې نه منئ، له تاسو څخه چې څوک د دې کار ارتکاب کوي د هغې لپاره د دنیا په ژوند کې د رسوائي څخه پرته بل څه نشته او د قیامت په ورځ به تر ټول سخت عذاب ته ور وګرځول شي.

په دې معنی وسطیت یو داسې کوښښ دی چې د اسلام د دې بنسټیزې ځانګړتیا اصلي مفهوم تشویه کوي او غلطه معنی ور اغوندي، خو دا باید د دې لامل ونه ګرځي چې موږ له دې شرعي اصطلاح څخه لاس واخلو او پریی ږدو، بلکې ښایي چې دغه اصطلاح خپل اصلي مفهوم ته بېر ته راوګرځوو.

## 2. په قران کې د منځلارېتوب معنی

وسطیت، اعتدال او له دې سره مترادف کلمات په قران کریم کې په څلورو ایتونو کې راغلي دي. په دی ټولو ایتونو کې وسطیت د غوره والي، او د دوو متضادو اړخونو په منځ کې په واقع کېدو، او له غلو او افراط او تفریط څخه په ځان ساتنه دلالت کوي، دا ایتونه په لاندې ډول دي:

### منځلارېتوب د غوره والي او له افراط او تفریط څخه د لیرېوالي په معنی

لومړی ایت:(چې وسطیت پکې د غوره والي، خیریت او اعتدال په معنی راغلی دی) د الله تعالی دا وینا ده چې فرمایي:

**{وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا} [البقرة: 143]**

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د «الوسط» تفسیر پر «العدل» (اعتدال) کړی دی[4]، یعنې موږ تاسې (مسلمانان) د وسطیت او اعتدال امت ګرځولي یاست.

ابن جریر طبري وایي:

[4] - مسند الإمام أحمد بن حنبل چ ۱۷ ص ۳۷۲ مؤلف: أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: 241هـ) تحقيق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون، إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي، نشرونکې اداره: مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ، کال ۲۰۰۱م.

**"إنمَّا وصفهم بأنَّهم وسط؛ لتوسُّطهم في الدِّين، فلا هم أهل غلو فيه - غلوَّ النصارى الذين غالوا بالترَّهب، وقيلِهم في عيسى ما قالوا فيه - ولا هم أهل تقصير فيه - تقصير اليهود، الذين بدلوا كتاب الله وقتلوا أنبياءهم، وكذبوا على ربهم وكفروا به - ولكنهم أهل توسط واعتدال فيه[5]"**

**ژباړه:** يعنې الله تعالى دې امت ته د وسطيت صفت له دې امله ورکړی دی چې دوی د دين په لحاظ منځلاري دي، نه په دوي کې د نصاراو (مسيحيانو) هغه زياتوالی شته چې د رهبانيت د خپلولو او د حضرت عيسى عليه السلام ته د الوهيت د نسبت له امله پکې پيدا شوې وه، او نه پکې د هغو يهودانو تقصير او نقص شته، چې د الله تعالى کتاب يې تحريف کړ، انبياء عليهم السلام يې ووژل، پر الله تعالى يې درواغ وتړل او په هغې باندې يې کفر وکړ، بلکې دوی په دين کې د وسطيت او اعتدال خاوندان دي.

## منځلارېتوب د (بهتره اوغوره) په معنی

دويم ايت: الله تعالى قول :- **حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى [البقرة: 238]**؛ ابن السمين الحلبي وايي چې دلته د الوسطى څخه مراد تر ټولو غوره لمونځ دی، ځکه چې (وسطى) د فعل پر وزن دی چې د اوسط مؤنث دی، لکه يو شاعر چې وايي (**يا أوسط الناس طرا فى مفاخرهم .... و أكرم الناس أما برة و أبا**) په دې شعر کې له اوسط الناس څخه أفضل الناس مراد دی، نو په دې ايت کريمه کې وسطى له هغه وسط څخه اخيستل شوی چې د بهتر او افضل په معنى راځي، او له هغه وسط څخه نه دی اخيستل شوی چې د دوو څېزونو په وسط او منځ کې د واقع کېدو په معنى راځي؛ ځکه چې د فعلي وزن د تفضيل لپاره راځي، او د تفضيل معنى هغه وخت متحقق کېږي چې په داسې معنى دلالت وکړي چې زيادت او نقصان مني(مفضل او مفضل عليه په کې وجود ولري). که وسط د غوره او افضل په معنې واخلو، نو زيادت او نقصان مني، خو که

[5] - جامع البيان في تفسير آي القرآن چې په تفسير الطبري مشهور دی، د محمد بن جرير بن يزيد الطبرى کتاب ج ۲ ص ٦٢٦-٦٢٧، تحقيق: عبد الله عبد المحسن التركې، طبع دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والاعلان، کال ۲۰۰۱م، ټول مجلدات (٢٦) چې اخيرى دوه مجلده يې فهرسونه دي.

وسط د دوو شیانو په منځ کې د واقع کېدو په معنی واخلو، نو زیادت او نقصان نه مني، نو له هغه وسط ځخه چې د دوو څېزونو ترمنځ د واقع کېدو په معنی راځي له هغه ځخه د تفضیل صیغه اصلاً نه جوړیږي[6].

دریېم ایت: الله تعالی قول:

**[قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ] ]القلم: 28]، قال الطَّبري: "ويقال: قال: خيرهم[7]" وقال القرطبي: "أمثلهم وأعدلهم وأعقلهم"،[8] وقال الألوسي: "أحسنهم وأرجحهم عقلاً ورأيًا، أو أوسطهم سنًّا[9]"**

**ژباړه:** طبري وايي چې د اوسطهم نه مراد تر ټولو غوره انسان مراد دی، قرطبي هم همداسې وايي چې د اوسطهم نه مراد تر ټولو بهتر، تر ټولو عادل، او تر ټولو عاقل مراد دی، او الوسي وايي چې د اوسطهم نه مراد تر ټولو ښه، د عقل او رأی په لحاظ غوره انسان مراد دی، او دا هم کېدی شي چې د عمر په لحاظ منځنی ورور مراد وي.

## منځلاریتوب د (اعلی او ادنی ترمنځ)

څلورم ایت هغه ایت دی چې وسطیت پکې د دوو معناګانو احتمال لري، د اعلی او ادنی ترمنځ، او د غوره او بهتر په معنی. الله تعالی فرمايي:

**{فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ } [المائدة: 89]**

---

[6] - الدر المصون في علوم الكتاب المكنون ج ۲ ص ۴۹۹، تأليف: أبو العباس، شهاب الدين، أحمد بن يوسف بن عبد الدائم المعروف بالسمين الحلبي (ت: ٧٥٦ه)، تحقيق: الدكتور أحمد محمد الخراط، نشرونکې اداره: دار القلم، دمشق – سورية.

[7] - جامع البيان فی تفسير آی القرآن یا تفسير الطبري ج ۲۳ ص ۱۸۰ مخکېنی مصدر.

[8] - الجامع لاحكام القرآن چې په تفسير القرطبي مشهور دی، ج 18 ص 244 لیکوال: د ابو عبد الله محمد بن احمد بن ابی بکر بن فرح الانصاری الخزرجی شمس الدين القرطبی، تحقیق: احمد البردونی و ابراهيم اطفیش، طبع دار الکتب المصرية، قاهرة، مصر، د طباعت کال ۱۹۶۴م.

[9] - روح المعاني في تفسير القرآن والسبع المثاني یا تفسیر الآلوسي ج 29 ص 32، لیکوال ابو الفضل محمود الآلوسی، نشرونکې اداره: دار احياء التراث العربی، بیروت، لبنان.

**ژباړه:** (نو په قسم کې د حانث کېدو) کفاره لسو مسکېنانو ته د هغه خوراک چې تاسې خپل اهل و عیال ته ورکوی، یا له هغو جامو څخه چې خپل اهل و عیال ته یې ورکوی (بهتر) یا (متوسط) خوراک او جامې ورکول دي.

په دې ایت کې له «من اوسط ما تطعمون» څخه یا منځ کوره خوراک مراد دی، لکه ابن عباس رضی الله عنهما چې وایي:

{ **كَانَ الرَّجُلُ يَقُوتُ أَهْلَهُ قُوتًا دُونًا، وَبَعْضُهُمْ قُوتًا فِيهِ سَعَةٌ، فَقَالَ اللَّهُ:** {**مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُم** }[المائدة: 89]. **الْخُبْزِ وَالزَّيْتِ**}[10]

**ژباړه:** څه خلکو به خپلو کورنۍ ته خراب خوراک ورکاوه او څه خلکو به ښه خوراک ورکاوه، نو الله تعالی وفرمایل چې د خپلې کورنۍ منځکوره خوراک په فدیه کې ورکړئ، یعنې ډوډۍ او تېل.

همدا مفهوم قرطبي هم غوره کړی دی، هغه وایي:

"**هو منْزِلة بين مَنْزلتين، ونِصْف بين طرفين**[11]". یعنې په دې ایت کې له اوسط څخه مراد د ښه او خراب ترمنځ منځکوره خوراک مردا دی.

او یا ترې بهترین خواړه مراد دی، له همدې امله په دې ایت کې یو شمېر مفسرین وایي چې د (من اوسط ما تطعمون) څخه مراد بهترین خواړه مراد دی، نو د دې ایت مفهوم به دا وي چې په کفاره کې باید خپل اهل وعیال ته بهترین خواړه ورکړل شي.

## 3. په قران کې د منځلارېتوب دلائل

په قران کریم کې د ژوند په بېلا بېلو اړخونو کې د اعتدال او وسطیت د غوره کولو حکم ورکړی شوی دی، او انسانان یې دې ته هڅولي چې ځان له افراط او تفریط، تشدد او تساهل، کمي او زیاتي څخه وساتي، دا

---

10 - تفسیر القرآن العظیم ج ۳ ص ۱۷۳، لیکوال: ابو الفداء اسماعیل بن عمر بن کثیر، تحقیق: سامي بن محمد سلامة، نشرونکې اداره: دار طیبة للنشر والتوزیع، د چاپ کال ۱۹۹۹م، مدینه منوره.

11 - الجامع لاحکام القرآن چې په تفسیر القرطبي مشهور دی، ج ٦ ص ۲۷٦ لیکوال: د ابو عبد الله محمد بن احمد بن ابی بکر بن فرح الانصاری الخزرجی شمس الدین القرطبی، تحقیق: احمد البردونی و ابراهیم اطفیش، طبع دار الکتب المصریة، قاهرة، مصر، د طباعت کال ۱۹٦۴م.

وسطیت یوازې په دیني قضایاوو کې منحصر نه دی، بلکې د ژوند په ټولو اړخونو کې شامل دی، د بېلگې په توگه دا لاندې موارد د یادلو وړ دي:

## په انفاق فی سبیل الله کې اعتدال

په قران کریم کې انسانان دې ته رابلل شوي چې په انفاق او د الله تعالی په لاره کې د مصرف او خرچ کولو په اړه باید له اعتدال څخه کار واخلي، یعنی انسان نه باید دومره بخیل وي چې د مال او دولت د موجودیت او نفقه کولو د توانایي سره اصلاً د نورو انسانانو په فکر کې نه وي او نه دومره سخي وي چې خپل ټول مال او دولت نفقه کړي او بیا پخپله فقیر او نورو ته محتاج وي. الله تعالی فرمایي:

{**وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ**} [البقرة: 219]

دا ایت د قرطبي له وینا سره سم، د عمرو بن الجموح په اړه نازل شوی دی، او په دې اړه نازل شوی چې څومره مقدار مال باید د الله په لاره کې نفقه کړای شي، کله چې {**قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ**} (البقره:۲۱۵) نازل شو، عمرو بن الجموح وویل: زه باید څومره مال  د الله په لاره کې نفقه کړم؟ نو دا ایت نازل شو {**قُلِ الْعَفْوَ**} له عفوې څخه څه مراد دی؟ په دی اړه قرطبي وایي: څومره چې د انسان لپاره اسانه وي او د هغه له اړتیاوو څخه زیات وي، او د هغه خرڅ کول یې پر زړه گران تمام نه شي[12]. نو د دې ایت معنی دا شوه: دومره مال نفقه کړئ چې ستاسو له اړتیاوو څخه زیات وي، او نفقه کول یې پر تاسی گران تمام نه شي او د مصرف په پایله کې تاسی فقیر نه شئ.

همدا خبره په یو بل ایت کې په ډېر صراحت سره یاده شوې ده، الله تعالی فرمایي:

{**وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَلِكَ قَوَامًا**} **[الفرقان: 67]**

**ژباړه:** (او د الله تعالی واقعي بندگان) هغه څوک دي چې کله مصرف کوي اسراف نه کوي او نه هم له بخل څخه کار اخلي بلکې د دواړو ترمنځ په وسطیت او اعتدال باندی ولاړ وي.

## په تگ او حرکت کې اعتدال

[12] - الجامع لأحکام القرآن د امام قرطبي لیکنه ج ۳ ص ٦۱، مخکښنی مصدر.

قران کریم انسانان په حرکت او تګ کې هم اعتدال او وسطیت ته رابولي. انسان باید د حرکت په وخت کې ډېر ترور هم نه وي او ډېر سست او کاهل هم نه وي، الله تعالی فرمايي:

**[وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ][القمان: 19]**

**قال ابن كثير: "أي: امش مقتصدًا، مشيًا ليس بالبطيء المتثبط، ولا بالسريع المفرط؛ بل عدلاً وسطًا بين بين[13]"**

**ژباړه:** ابن کثیر وايي: د دې معنی دا ده چې په معتدل حرکت سره حرکت او مزل کوه، نه د لټانو او کاهلو کسانو په څېر ډېر سست او نه هم ډېر زیات تېز، بلکې د دې دواړو ترمنځ حرکت او مزل غوره کړه.

تقریباً ټول مفسرین وايي چې په دې ایت کې له دې څخه منع شوې چې یو انسان دې د مړي په څېر په بې حالۍ کې حرکت وکړي او یا د خپل هیبت او وقار خیال ونه ساتي او عادي تګ یې هم منډه وي. دا د عادي ژوند په اړه د قران کریم هدایت دی، استثنائي حالات له دې څخه جلا دي.

## په خوراک او څښاک کې اعتدال

په قران کریم کې د خوراک او څښاک په اړه چې د انسانانو د ژوند بنسټیزې اړتیاوې بلل کېږي د اعتدال او وسطیت حکم ورکړل شوی دی، الله تعالی فرمايي:

**(وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا )[الأعراف: 31]**

**ژباړه:** یعنې خوراک او څښاک کوئ خو اسراف مه کوئ.

دا ایت هم په څرګند ډول په وسطیت او اعتدال دلالت کوي، یو عالم وايي قران کریم ټول طبابت د دغه ایت په دې یوه جمله کې راخلاصه کړی دی[14].

[13] - تفسیر ابن کثیر ج 6 ص 339، مخکېنی مصدر.

[14] - معالم التنزيل في تفسير القرآن (تفسير البغوي) ج3 ص225، لیکوال: محي السنة أبو محمی الحسین بن مسعوی البغوي، تحقيق: محمد عبد الله النمر، وعثمان جمعة وسليمان مسلم الحرش، نشرونکي اداره: دار طيبة للنشر والتوزيع، د نشر کال: 1997م.

## د قرآن په لوړ اواز لوستلو کې اعتدال

په قران کریم کې پیغمبر علیه السلام ته د دې حکم هم ورکړل شوی دی چې په لمانځه کې د قراءت په لوستلو کې خپل اواز معتدل وساتي، الله تعالی فرمایي:

[وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلًا] [الإسراء: 110]

**ژباړه:** په لمانځه کې د قراءت په وخت کې مه خپل اواز ډېر اوچتوه او مه يې ډېر ټيټوه، او د دې دواړو ترمنځ لاره غوره کړه.

قاضي بيضاوي وايي: د دې معنی دا ده چې په لمانځه کې مه په ډېر لوړ اواز قراءت کوه چې مشرکانو ته يې ورواوروي، ځکه د قراءت په اوريدو هغوی ښکنځلې کوي او شور کوي، او مه يې په دومره ټيټ اواز وايه چې ستا شاته ولاړ مسلمانان يې هم وا نه اوري، بلکې د دې دواړو ترمنځ منځنی حالت غوره کړه، ځکه وسطيت په ټولو کارونو کې ډېر غوره سلوک دی[15].

## د دنيوي اړتياوو او اخروي فکر ترمنځ اعتدال

قران کريم په دې کې هم د اعتدال حکم کوي چې يو انسان د اخرت د فکر په نوم نه دنيوي اړتياؤو له ياده وباسي او نه هم د دنيوي اړتياؤو په نوم د اخرت فکر له ياده وباسي، په دې اړه الله تعالی هغه خلک ستايي چې د الله تعالی څخه دا دواړه غواړي، الله تعالی فرمايي:

{وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ} [البقرة: 201]

**ژباړه:** د خلکو له جملې يو شمېر هغه خلک دي چې وايي ای الله موږ ته په دنيا کې هم نيکي راکړې، او هم مو په اخرت کې د اور له عذاب څخه وساتې.

الله تعالی د دا ډول خلکو ذکر او يادونه د مدحې او توصيف په سياق کې کړې ده، په بل ايت کې د دنيا دارۍ او دين دارۍ ترمنځ د اعتدال د ساتلو صريح حکم راغلی دی، الله تعالی فرمايي: {**وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ**

---

[15] - انوار التنزيل و اسرار التأويل چې په تفسير بيضاوي مشهور دی، تفسير البيضاوي ج ۳ ص ۲۷۰، تحقيق: محمد عبد الرحمن المرعشلي، ناشر: دار احياء التراث العربی، بيروت، لومړی چاپ، کال ۱۴۱۸ه ق.

**الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا}** [القصص: 77] يعنې کوم مال او دولت چې تاته الله تعالی درکړی دی د هغې په نفقه کولو او مصرف کولو باندې د اخرت ثواب او اجر وغواړه، او په دنيا کې هم خپله برخه مه هېروه (چې د دې مال په ذريعه خپلې اړتياوې پوره کړی).

حافظ ابن کثير د دې ايت په تفسير کې وايي: د **(وابتغ فيما آتاک الله الدار الآخرة)** معنی دا ده چې دا ډېر زيات مال او بې شمېره نعمتونه چې الله تعالی تاته درکړي دي له دې څخه د الله تعالی په طاعت کې کار واخله، او له دې لارې په بېلا بېلو داسې ښو کارونو الله تعالی ته تقرب تر لاسه کړه چې د هغه په ذريعه تاته د دنيا او آخرت ثواب ترلاسه کېږي. **(ولاتنس نصيبک من الدنيا)** يعنې له هغو څېزونو څخه چې الله تعالی په دې دنيا کې تاسې ته مباح ګرځولي لکه خوراکي شيان، لباسونه، استوګنځي او نکاح.. ځکه چې په انسان باندې د هغه د رب هم حق دی، او د هغه د نفس هم حق دی، د هغه د اهل و عيال هم حق دی، او د هغه د زيارت کوونکو او ملاقاتيانو هم حق دی، او بايد چې هر حق دار ته د هغه حق ورسېږي[16].

## 4. په احاديثو کې د منځلارېتوب دلائل

په ډېرو احاديثو کې په وسطيت باندې تأکېد شوی دی، په احاديثو کې د وسطيت په دواړو؛ مادي او معنوي اړخونو تاکېد شوی دی. له دغو احاديثو څخه دا لاندې د نمونې په توګه لولو:

### په عباداتو کې منځلارېتوب

1. په سنن أبي داود کې امام ابو داود داسې باب تړلی **( باب ما يؤمر به من القصد في الصلاة)** يعنې په لمانځه کې د اعتدال د غوره کولو په اړه باب او په هغه کې يې دا حديث راوړی دی: **(عن عائشة: أن رسولَ الله - صلَّى الله عليه وسلم - قال: "اكْلَفُوا من العَمَل ما تُطيقونَ، فإن الله لا يمَلُّ حتى تمَلُّوا، فإن أحب العَمَل إلى الله أدْوَمُه وإن قَلَّ"**[17]

[16] - تفسير القرآن العظيم مشهور به تفسير ابن کثير ج 6 ص 253، ليکوال: ابو الفداء اسماعيل بن عمر بن کثير، تحقيق: سامي بن محمد سلامة، نشرونکې اداره: دار طيبة للنشر والتوزيع، د چاپ کال ۱۹۹۹م، مدينه منوره.

[17] - سنن أبي داود ج ۲ ص ۵۱۹، ليکوال: امام ابو داود سليمان بن الاشعث السجستاني، تحقيق: شعيب الأرنؤوط ومحمد کامل قره بللی، نشرونکې اداره: دار الرسالة العالمية، لومړی چاپ، کال ۲۰۰۹م.

د حضرت عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دومره عمل کوئ چې توان یې لرئ، ځکه الله تعالی د ثواب ورکولو څخه نه ستړی کېږي څو چې تاسو له عمل کولو نه ستړي نه شئ، او الله تعالی ته تر ټولو محبوب عمل هغه دی چې همېشه یې انسان وکړي، سره له دې چې لږ هم وي. په دې حدیث کې په اعتدال سره د نېکو کارونو د سرته رسولو حکم شوی دی.

2. موارد الظمآن إلى زوائد ابن حبان په همدی اړه داسې باب ترلی دی ( باب القصد في العبادة) او په هغه کې یې دا حدیث روایت کړی دی: ( **أخبرنا أبو يعلى، حدثنا أبو الربيع الزهراني، حدثنا يعقوب ابن عبد الله الْقمِّي، حدثنا عيسى بن جارية عَنْ جَابِرٍ قَالَ: مَرَّ رَسُولُ الله - صلى الله عليه وسلم - عَلَى رَجُلٍ قَائِمٍ يُصَلِّي عَلَى صَخْرَةٍ، فَأَتَى نَاحِيَةَ مَكَّةَ، فَمَكَثَ مَلِيّاً، ثُمَّ أَقْبَلَ فَوَجَدَ الرَّجُلَ عَلَى حَاله يُصَلِّي، فَجَمَعَ يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ: "أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيْكُمْ بِالْقَصْدِ، عَلَيْكُمْ بِالْقَصْدِ، فَإِنَّ اللهَ لا يمَلُّ حَتَّى تمَلُّوا")**[18].

رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوه داسې سړي ترڅنګ په داسی حال کې تېر شو چې هغه په یوه لویه ډبره لمونځ کاوه، پیغمبر علیه السلام د مکې لور ته راغی او ډېر ساعت هلته پاتې شو، بیا چې بېرته راوګرځېده هغه سړی یې په هماغه حالت کې په لمانځه بوخت ولیده، نو خپل لاسونه یې را یوځای کړل او ویې ویل: ای خلکو! وسطیت او میانه روي اختیار کړئ، میانه روي اختیار کړئ، ځکه الله تعالی له ثواب ورکولو څخه نه ستړی کېږي ترڅو چې تاسې ستړي نه شئ.

3. **عن أنس بن مالك - رضي الله عنه أنه قال: جاء ثلاثة رهط إلى بيوت أزواج النبي - صلى الله عليه وسلم - ، يسألون عن عبادة النبي - صلى الله عليه وسلم - ، فلما أخبروا كأنهم تقالوها، قالوا: فأين نحن من رسول الله صلى الله عليه وسلم، وقد غفر له ما تقدم من ذنبه وما تأخر؟ قال أحدهم: أما أنا فأصلي الليل أبدا، وقال الآخر: وأنا أصوم الدهر ولا أفطر، وقال الآخر: وأنا أعتزل النساء ولا أتزوج أبدا، فجاء رسول الله صلى الله عليه وسلم إليهم، فقال: «أنتم الذين قلتم كذا وكذا أما والله، إني لأخشاكم لله، وأتقاكم له، ولكني أصوم وأفطر، وأصلي وأرقد، وأتزوج النساء، فمن رغب عن سنتي فليس مني»**[19].

---

[18] -موارد الظمآن إلى زوائد ابن حبان ج ۲ ص ۳۹۲ لیکوال: نور الدين الهيثمي، تحقيق: حسين سليم أسد الداراني و عبده علي الكوشک، نشرونکې اداره: دار الثقافة العربية، دمشق، سورية، لومړی چاپ، کال ۱۹۹۰- ۱۹۹۲م.

[19] - صحيح البخاري ج ۷ ص ۲، طبع دار طوق النجاة، د حدیث شمېره: ۵۰۶۳، او صحيح مسلم ج ۲ ص ۱۰۲۰، د حدیث شمېره: ۱۴۰۱ تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقی، طبع دار احیاء التراث العربی، بیروت.

درې تنه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ازواج مطهراتو څخه د یوې کور ته ورغلل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبادت په اړه پوښتنه وکړي. کله چې هغوی ته د پیغمبر علیه السلام د عبادت په اړه خبر ورکړای شو، نو داسې ښکاره شو چې هغوی دا لږ وګاڼه، بیا یې (له ځان سره) وویل: زموږ او د پیغمبر علیه السلام څه تناسب؟ هغه ته خو الله تعالی د هغې مخکې وروسته ټول ګناهونه بخښلي دي، نو یو یې وویل: زه به ټوله شپه د همېش لپاره لمونځ کوم، بل وویل: زه به ټول عمر روژې نیسم او هېڅ به افطار نه کوم، او بل وویل: زه به د ښځو نه لېرې اوسېږم او هېڅکله به واده ونکړم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی ته ورغی، او ورته یې وویل: تاسې هماغه کسان یئ چې دا دا مو ویلي وو؟ د الله قسم زه ستاسې په نسبت له الله تعالی څخه ډېر وېرېږم، او ستاسې په نسبت ډېر متقي هم یم، مګر زه روژه هم نیسم او پرېږدم یې هم، لمونځ هم کوم او ویده کېږم هم، او واده هم کوم، نو چا چې زما له طرز العمل او لارې څخه مخ واړاوه، نو هغه په درسته توګه زما د لارې پیرو نه دی. په دې حدیث کې د دې مخکې ټولو دیني او دنیاوي قضایاوو په اړه د اعتدال حکم دی، او دې ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم تګلاره او منهج ویل شوی دی، او څوک چې دا تګلاره پرېږدي هغه د پیغمبر درست متبع نه دی.

## د منځلارېتوب (وسطیت) غوښتنه او دعاء

پیغمبر صلی الله علیه وسلم به له الله تعالی څخه همېشه د دنیاوي او اخروي امورو په اړه د اعتدال او وسطیت دعاء کوله، رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا دعاء ډېره کوله:

**" اللهم أصلح لي ديني الذي هو عصمة أمري وأصلح لي دنياي التي فيها معاشي، وأصلح لي آخرتي التي إليها معادي، واجعل الحياة زيادة لي في كل خير، واجعل الموت راحة لي من كل شر"[20].**

[20] - صحیح مسلم ج ۴ ص ۲۰۸۷، د حدیث شمېره: ۲۷۲۰ مخکېنی مصدر.

**ژباړه:** ای الله! ماته زما په دین کې خیر او صلاح واچوه چې زما لپاره د هر ډول فتنو او ستونزو څخه ساتونکی دی، او ما ته زما په دنیا کې خیر واچاوه چې په هغې کې زما ژوند او گذاره ده، او ماته زما اخرت ښایسته کړه چې هلته زما ورتگ دی، او ژوند زما لپاره د هر خیر او نیکۍ وسیله وگرځوې، او مرگ راته له هر شر څخه د راحت وسیله وگرځوې.

دا ځومره متوازنه دعاء ده، د دنیا او اخرت ځومره توازن پکې ساتل شوی دی، د دنیا او دین ځومره توازن پکې ساتل شوی دی! هیڅ یو شی هم په کښې اهمال شوی نه دی.

## په نېکو اعمالو کې اعتدال او منځلارېتوب

ډېر ځله خلک تصور کوي چې نېک عملونه هر ځومره ډېر وی بهتر دي، خو زموږ دین په دې اړه هم دا حکم ورکوي چې نېک عملونه هم په اعتدال سره سر ته رسول پکار دي، سره له دې چې الله تعالی په نېکو عملونو خوشحاله کېږي خو په هغې که بیا هم باید اعتدال رعایت شي، په دی اړه په موارد الظمآن کې دا مرفوع حدیث راغلی دی:

**"لِكُلِّ عَمَلٍ شِرَّةٌ وَلِكُلِّ شِرَّةٍ فَتْرَةٌ فَإِنْ كَانَ صَاحِبُهَا سَادًّا وَقَارِبًا فَارْجُوهُ وَإِنْ أُشِيرَ إِلَيْهِ بِالأَصَابِعِ فَلا تَعُدُّوهُ"[21].**

د هر عمل لپاره (په پیل کې) مبالغه او له حد نه زیات نشاط او رغبت موجود وي، او هره مبالغه سړېږي او کمېږي، که چېرته دا رغبت لرونکی انسان له اعتدال څخه کار واخلي، نو د هغې په اړه (د کامیابۍ) امید ولرئ، او که چېرته (په عمل کې او عبادت کې د زیاتې مبالغې له امله) هغې ته اشاره کېدله (په دې یې شهرت پیدا کړ) نو هغه د کامیابانو له جملې څخه مه شمېرئ.

له دې حدیث څخه دا معلومېږي چې د انسان طبیعت دا دی چې هر کار پیلوي، نو هغه مهال د هغه کار په اړه ډېره جذبه او رغبت لري، چې وروسته دا جذبه ورو ورو سړېږي. نو بهتره خبره دا ده چې انسان هر کار په

[21] - موارد الظمآن إلی زوائد ابن حبان د نور الدین الهیثمی لیکنه، ج ۲ ص ۳۹۳، د حدیث شمېره: ٦٥٢، مخکښی مصدر.

اعتدال سره پېل کړي تر څو دوام ورکړلای شي، او پرې استقامت ولرلای شي، همدې قضیې ته د حضرت عمرو بن العاص حدیث[22] هم اشاره کوي.

## د عبادت او حق نفس ترمنځ منځلارېتوب او اعتدال

د عبادت او بدني راحت ترمنځ اعتدال ساتل هم زموږ د مبارک دین لارښوونه ده، عبد الله بن عمرو بن العاص وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته داسې وفرمایل:

---

[22] - حدیث په اکثره کتابونو کې ذکر شوی دی په بخاري شریف ج ٦ ص ١٩٦کې يې الفاظ داسی دي: حَدَّثَنَا مُوسَى حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ مُغِيرَةَ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ أَنْكَحَنِي أَبِي امْرَأَةً ذَاتَ حَسَبٍ فَكَانَ يَتَعَاهَدُ كَنَّتَهُ فَيَسْأَلُهَا عَنْ بَعْلِهَا فَتَقُولُ نِعْمَ الرَّجُلُ مِنْ رَجُلٍ لَمْ يَطَأْ لَنَا فِرَاشًا وَلَمْ يُفَتِّشْ لَنَا كَنَفًا مُنْذُ أَتَيْنَاهُ فَلَمَّا طَالَ ذَلِكَ عَلَيْهِ ذَكَرَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الْقَنِي بِهِ فَلَقِيتُهُ بَعْدُ فَقَالَ كَيْفَ تَصُومُ قَالَ كُلَّ يَوْمٍ قَالَ وَكَيْفَ تَخْتِمُ قَالَ كُلَّ لَيْلَةٍ قَالَ صُمْ فِي كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةً وَاقْرَإِ الْقُرْآنَ فِي كُلِّ شَهْرٍ قَالَ قُلْتُ أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ قَالَ صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْجُمُعَةِ قُلْتُ أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ قَالَ أَفْطِرْ يَوْمَيْنِ وَصُمْ يَوْمًا قَالَ قُلْتُ أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ قَالَ صُمْ أَفْضَلَ الصَّوْمِ صَوْمَ دَاوُدَ صِيَامَ يَوْمٍ وَإِفْطَارَ يَوْمٍ وَاقْرَأْ فِي كُلِّ سَبْعِ لَيَالٍ مَرَّةً فَلَيْتَنِي قَبِلْتُ رُخْصَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَاكَ أَنِّي كَبِرْتُ وَضَعُفْتُ فَكَانَ يَقْرَأُ عَلَى بَعْضِ أَهْلِهِ السُّبْعَ مِنْ الْقُرْآنِ بِالنَّهَارِ وَالَّذِي يَقْرَؤُهُ يَعْرِضُهُ مِنْ النَّهَارِ لِيَكُونَ أَخَفَّ عَلَيْهِ بِاللَّيْلِ وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَتَقَوَّى أَفْطَرَ أَيَّامًا وَأَحْصَى وَصَامَ مِثْلَهُنَّ كَرَاهِيَةَ أَنْ يَتْرُكَ شَيْئًا فَارَقَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ. عبد الله بن عمرو بن العاص رضي وايي پلار می راته یو ښځه په نکاح کړه چې ښه د حسب او نسب خاونده وه، پلار به همېشه د خپلې انګور پوښتنه کوله، او د هغه د مېړه (یعنی د عبد الله بن عمرو) په اړه به یې ترې پوښتنه کوله، نو هغه به ورته ویل: چې ډېر ښه سړی دی خو له کومې ورځې چې زه راغلی یم نه یې زما په بسترې پښه اېښې ده او نه یې پرده پورته کړې ده (یعنی د ښځې او مېړه ترمنځ چې څه کېږي هغه یې هېڅ نه دي کړي) کله چې دا شکایت ډېر شو نو (زما پلار) دا خبره پیغمبر علیه السلام ته یاده کړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې ماته یې راوله، څه وخت وروسته زه د هغوی حضور ته ورغلم نو وویې ویل: ته څرنګه روژه نیسې؟ نو (عبد الله بن عمرو) ورته وویل: هر ورځ (روژه نیسم)، پیغمبر علیه السلام وویل: او څرنګه د قران کریم ختم کوې؟ (عبد الله) ورته وویل: هره شپه (ختم کوم) نو پیغمبر علیه السلام ورته وویل: په هره میاشت کې درې ورځې روژې نیسه، او قرآن کریم په میاشت کې یو ځل ختموه، ما ورته وویل: زه له دې څخه زیات توان لرم، نو ویې ویل: په جمعه کې درې ورځې روژی نیسه، ما وویل: زه له دې څخه زیات توان لرم، پیغمبر علیه السلام وویل: یوه ورځ روژه نیسه او دوه ورځې یې مه نیسه، ما ورته ویل زه له دې څخه د زیات توان لرم، نو بهترینه روژه نیسه چې هغه د حضرت داود علیه السلام روژه وه، یوه ورځ روژه او یوه ورځ افطار، او په هرو اوو شپو کې قرآن ختموه، (عبد الله بن عمرو) وايي کاشکې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم رخصت می منلی وی! او دا ځکه چې زه زوړ شوم او کمزوری شوم، نو د قرآن کریم هغه اومه برخه د ورځې د خپل کور یو چاته تېروله تر څو په شپه کې یې ورته لوستل اسان وي، او کله به یې چې غوښتل چې ځان لږ تقویه کړي، نو څو ورځې به یې پرله پسی توګه روژه نه نیوله، خو دا ورځې به یې حساب کړې تر څو همدومره ورځې بیا روژی ونیسی، ځکه دا یې بد ګڼل چې د هغه عمل او عبادت څخه څه کم کړي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې سرته رساوه. نو عبد الله بن عمرو بن العاص په آخر کې همداسې یوې مرحلې ته رسېدلی وه چې مخکېني حدیث کې ذکر شوی دی.

**«ألم أخبر أنك تصوم النهار وتقوم الليل؟». قلت: بلى قال:« فلا تفعل، فإنك إذا فعلت ذلك هجمت عيناك، ونفهت نفسك، إن لعينك حق، ولنفسك حق، ولأهلك عليك حق، صم وأفطر، وقم ونم »**[23].

**ژباړه:** عبد الله بن عمرو بن العاص وايي ماته پيغمبر عليه السلام وفرمايل: ماته ويل شوي چې ته د ورځې روژه نيسې او د شپې قيام الليل کوې؟ ما ورته وويل: هو همداسې ده. ماته يې وفرمايل: داسې مه کوه، ځکه که داسې کوې نو سترګې به دې ضعيفه شي او ځان به دې ستړی کړې، ستا د سترګو هم پر تا حق دی، او د ځان دې هم، او د اهل و عيال دې هم پر تا حق دی، نو روژه هم نيسه او افطار هم کوه، او قيام الليل هم کوه او ويده کېږه هم.

## خطبه او لمونځ يې هم بايد معتدل وي

تر لمانځه به کوم بل عبادت بهتر وي، خو په دې کې هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت د اعتدال رعايت کول دي، په دې اړه ابن حبان دا باب تړلی دی، چې وايي:

(ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْخُطْبَةَ يَجِبُ أَنْ تَكُونَ قَصِيرَةً قصِدَةً) او دا حديث يې پکښې نقل کړی دی: عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: كُنْتُ أُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَتْ صلاته قصدا وخطبته قصدا[24].جابر بن سمرة وايي: ما به د رسول الله صلى الله سره لمونځ کاوه، د پيغمبر عليه السلام لمونځ او خطبه متوسطه او معتدله وه.

## اعتدال د پيغمبرۍ د صفتونو څخه يو صفت دی

د نبوي احاديثو په بېلا بېلو کتابونو کې دا لاندې حديث روايت شوی دی:

---

[23] - صحيح مسلم ج ۲ ص ۸۱٦، د حديث شمېره: ۱۱٥۹، مخکښنی مصدر، په دی حديث کې دوه کلمی راغلی د هغوی په اړه فتح المنعم شرح صحيح مسلم د دکتور شاهين لاشين ج ٥ ص ۲۷، کې وايي: "هجمت عيناك، ونفهت نفسك" ومعنى "هجمت" غارت ودخلت، ... ومعنى "نفهت نفسك" بفتح النون وكسر الفاء تعبت وكلت.

[24] - صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان ج ۷ ص ٤۱، ليکوال: محمد بن حبان البستی، تحقيق: شعيب الأرنؤوط، طبع مؤسسة الرسالة، بيروت، د چاپ کال ۱۹۹۳م.

**عن عبد الله بن عباس - رضي الله عنهما - : أن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- قال: "إن الهدي الصالح، والسمت الصالح، والاقتصاد، جزء من خمسة وعشرين جزءا من النبوة"**[25]. پیغمبر علیه السلام فرمايي ښه طریقه، او ښه اخلاق او په هر کار کې وسطیت او اعتدال د پیغمبرۍ او نبوت پنځویشتمه برخه ده.

## پر منځلارېتوب (وسطیت) التزام د پیغمبر حکم دی

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل ژوند کې د ټولو اعمالو په اړه د وسطیت او اعتدال حکم ورکاوه، په حدیث کې راځي:

**عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَنْ يُنْجِيَ أَحَدَكُمْ عَمَلُهُ " قَالُوا: وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: " وَلَا أَنَا، إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللهُ مِنْهُ بِرَحْمَةٍ، فَسَدِّدُوا، وَقَارِبُوا، وَاغْدُوا، وَرُوحُوا، وَشَيْءٌ مِنَ الدُّلْجَةِ، وَالْقَصْدَ الْقَصْدَ تَبْلُغُوا "**[26]

ابو هریره رضي الله عنه وایي چې پیغمبر علیه السلام وفرمایل: هیڅ چا ته هم د هغه خپل عمل نجات نشي ورکولی، صحابه‌وو ترې پوښتنه وکړه: او تاته هم (یوازې خپل عمل نجات نشي درکولی)؟ پیغمبر علیه السلام وفرمایل: هو، ماته هم مگر دا چې د الله تعالی رحمت مې په ځان کې راونغاړي، نو خپل نېتونه سم کړئ او خپل موخې ته د نږدې کېدو کوښښ وکړئ، د ورځې په لومړۍ برخه کې، او وروستۍ برخه کې او د شپې په یوه برخه کې (عمل او عبادت وکړئ) او وسطیت او اعتدال غوره کړئ، نو خپل هدف او مقصد (کامیابۍ او نجات) ته به ورسیږئ.

## د جنازې په وړلو کې اعتدال

حتی د جنازې په وړلو کې هم باید له وسطیت څخه کار واخیستل شي. امام احمد بن حنبل په خپل مسند کې د ابو موسی رضي الله عنه څخه روایت کوي، وایي:

**مَرَّتْ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِنَازَةٌ تُمْخَضُ مَخْضَ الزِّقِّ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " عَلَيْكُمُ الْقَصْدَ "** [27]

---

[25] - سنن أبي داود ج ۷ ص ۱۵۵ مخکېنی مصدر.

[26] - صحیح البخاري ج ۸ ص ۹۸ مخکېنی مصدر.

**ژباړه:** د پیغمبر علیه السلام خوا ته جنازه تېره شوه چې د ژي په څېر ښوربېدله، پیغمبر علیه السلام وفرمایل: (د جنازې په وړلو کې) له اعتدال څخه کار واخلئ.

## منځلارېتوب په هر حال کې مطلوب دی

په هر حال کې وسطیت او اعتدال مطلوب دی، همدا خبره په هغه حدیث کې چې حذيفة بن اليمان روایت کړی دی داسې راغلې ده:

**عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَحْسَنَ الْقَصْدَ فِي الْغِنَى، وَأَحْسَنَ الْقَصْدَ فِي الْفَقْرِ، وَأَحْسَنَ الْقَصْدَ فِي الْعِبَادَةِ»**[28]

**ژباړه:** پیغمبر علیه السلام وفرمایل: اعتدال او وسطیت د ثروتمندۍ او فقر په حالت کې څومره ښه صفت دی، او په عبادت کې اعتدال او وسطیت څومره ښه کار دی!

**عن أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " ثَلَاثٌ مُهْلِكَاتٌ: شُحٌّ مُطَاعٌ، وَهَوًى مُتَّبَعٌ، وَإِعْجَابُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهِ، وَثَلَاثٌ مُنْجِيَاتٌ: الِاقْتِصَادُ فِي الْغِنَى وَالْفَاقَةِ، وَمَخَافَةُ اللَّهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ، وَالْعَدْلُ فِي الرِّضَى وَالْغَضَبِ "**[29]

**ژباړه:** انس بن مالک رضي الله وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: درې څېزونه د انسان لپاره هلاک کوونکي دي: يو هغه بخل چې انسان يې تابع وګرځي، او هغه نفسي خواهشات چې انسان يې مني، او د خپل ځان په اړه په تکبر کې اخته کېدل، او درې شيان انسان ته نجات

---

[27] - مسند الإمام أحمد بن حنبل ج۳۲ ص ۴۱۱، مؤلف: أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: 241هـ) تحقيق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون، إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي، نشرونکې اداره: مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ، کال ۲۰۰۱م.

[28] - مسند البزار مسند البزار چې د (البحر الزخار) په نوم چاپ شوی دی، ج ۷ ص ۳۴۹، مؤلف: أبو بكر أحمد بن عمرو بن عبد الخالق بن خلاد بن عبيد الله العتكي المعروف بالبزار (المتوفى: ۲۹۲ه) تحقيق: محفوظ الرحمن زين الله و عادل بن سعد وصبري عبد الخالق الشافعي، نشرونکې اداره: مكتبة العلوم والحكم - المدينة المنورة، لومړی چاپ کال ۲۰۰۹م.

[29] - المعجم الأوسط ج ۱۰ ص۳۲۸، مؤلف: سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (ت ۳٦۰ه) تحقيق: طارق بن عوض الله بن محمد وعبد المحسن بن إبراهيم الحسيني، نشرونکې اداره: دار الحرمين، قاهره، مصر. دا حديث حسن دی، مخصوصا د انس بن مالک له سند څخه.

ورکوونکي دي: په ثروتمندۍ او فقر کې اعتدال او وسطیت، له الله څخه په پټه او ښکاره وېرېدل، او په قهر او خوښۍ کې اعتدال او وسطیت.

## په محبت او بغض کې اعتدال

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَحِبَّ حَبِيبَكَ هَوْنًا مَا، عَسَى أَنْ يَكُونَ بَغِيضَكَ يَوْمًا مَا»**[30]

له چا سره چې محبت کوې له هغه سره په اعتدال محبت وکړه کېدای شي کومه ورځ ستا د قهر او بغض مستحق وګرځي.

همدا خبره د حسن بصري رضی الله څخه داسې نقل شوې:

**عن الحسن قال: «تَنَقُّوا الْإِخْوَانَ وَالْأَصْحَابَ وَالْمَجَالِسَ، وَأَحِبُّوا هَوْنًا، وَأَبْغِضُوا هَوْنًا، فَقَدْ أَفْرَطَ أَقْوَامٌ فِي حُبِّ أَقْوَامٍ فَهَلَكُوا، وَأَفْرَطَ أَقْوَامٌ فِي بُغْضِ أَقْوَامٍ فَهَلَكُوا، فَلَا تُفْرِطْ فِي حُبِّكَ، وَلَا تُفْرِطْ فِي بُغْضِكَ، وَإِنْ رَأَيْتَ دُونَ أَخِيكَ سِتْرًا فَلَا تَكْشِفْهُ»**[31].

**ژباړه:** ملګري، دوستان او مجالس په دقت سره وټاکئ، او په محبت او نفرت کې له اعتدال څخه کار واخلئ، ځه خلکو په محبت کې له افراط څخه کار واخیست؛ هلاک شول، او څه خلکو په نفرت کې له افراط څخه کار واخیست؛ نو هلاک شول، نه په محبت کې افراط وکړئ او نه په نفرت کې، او که په خپل مسلمان ورور پرده وګورئ نو هغه ترې مه لیرې کوئ.

ابن جریر طبري وروسته له دې چې د الله لپاره د یو مسلمان سره د محبت په اړه بېلا بېل آثار نقل کوي وايي: کله چې د الله تعالی لپاره د محبت مرتبه او فضیلت دومره زیات شي لکه چې یادونه مو وکړه او له دې سره

[30] - دا حدیث خرائطي د حضرت علي او حضرت ابوهریرة څخه روایت کړی دی، وګورئ: اعتلال القلوب للخرائطي ج ۱ص ۱۸۰-۱۸۱، مؤلف: أبو بکر محمد بن جعفر بن محمد بن سهل بن شاکر الخرائطي السامري (وفات: ۳۲۷ه) تحقیق: حمدي الدمرداش، نشرونکې اداره: نزار مصطفی الباز، مکة المکرمة-الریاض، دویم چاپ، کال ۲۰۰۰م.

[31] - د حسن بصری دا قول ډېرو خلکو روایت کړی دی چې له دوي څخه یو هم الخرائطی دی په خپل کتاب مکارم الأخلاق ومعالیها ومحمود طرائقها ص ۲۴۲، مؤلف: أبو بکر محمد بن جعفر بن محمد بن سهل بن شاکر الخرائطي السامري (ت ۳۲۷ه) تقدیم وتحقیق: أیمن عبد الجابر البحیري، نشرونکې اداره: دار الآفاق العربیة، قاهرة، مصر، لومړی چاپ، کال ۱۹۹۹م.

سره پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هغه کې د اعتدال حکم ورکوي او په دی اړه له افراط، تفریط او غلو څخه د اجتناب امر کوي، نو د مسلمانانو په ټولو اعمالو کې ـ چې په فضیلت کې له دې څخه کم دي ـ په طریق اولی سره وسطیت او اعتدال رعایت شي، او افراط او غلو باید پرېښودلای شي، هغه که د الله تعالی عبادت وي او که بل څه وي.

بیا د حسن بصري د مخکېنی وینا په اړه وایي: د حسن بصري دا وینا چې یو شمېر خلکو د څه خلکو په محبت کې له افراط څخه کار واخیست، نو هلاک شول، او یو شمېر نورو له خلکو سره په بغض او عداوت کې افراط وکړ نو هلاک شول. د حسن بصري خبره بالکل سمه ده، او همداسې ده لکه چې وایي، نصاراوو د حضرت عیسی علیه السلام په محبت کې افراط وکړ او ویې ویل: عیسی علیه السلام د الله تعالی ځوی دی (الله د دوی د درواغجنې وینا څخه پاک دی) او غلو کوونکو روافضو د حضرت علي رضي الله عنه په محبت کې افراط وکړ تر دې چې یو شمېر خلکو یې وویل چې هغه (حضرت علي) د دوی خدای دی، یو شمېر نورو یې وویل چې هغه پیغمبر دی، او څه نورو یې بیا د حضرت علي په اړه عجیبې نورې خبرې وکړې، او یهودو د حضرت عیسی علیه السلام سره په بغض او عداوت کې غلو او افراط وکړ، تر دې چې د هغه پر مور یې د بد کارۍ تهمت پورې کړ، او یو شمېر بې لارې شوو خوارجو حضرت علي کرم الله وجهه سره په بغض او عداوت کې افراط وکړ تر دې چې هغه یې تکفیر کړ[32].

## په وعظ او نصیحت کې اعتدال او منځلارېتوب

دا له هغه حدیث څخه په ډېر ښه ثابتیږي چې د حضرت عبد الله بن مسعود څخه په صحیح البخاري کې روایت شوی دی، راوي وایي:

**عبد الله بن مسعود كان يذكر الناس في كل خميس، فقال له رجل: يا أبا عبد الرحمن لوددت أنك ذكرتنا كل يوم قال: أما إنه يمنعني من ذلك أني أكره أن أملكم وإني أتخولكم بالموعظة، كما كان النبي صلى الله عليه وسلم يتخولنا بها، مخافة السآمة علينا.** [33]

[32] - تهذيب الآثار وتفصيل الثابت عن رسول الله من الأخبار ج ۳ ص ۲۸۸، مؤلف: ابو جعفر محمد بن جرير بن يزيد الطبري (ت: ۳۱۰ه) تحقیق: محمود محمد شاکر، نشرونکې اداره: مطبعة المدني، قاهره، مصر، د تاریخ نه پرته.

[33] - صحیح البخاري ج ۱ ص ۲۵ مخکېنی مصدر.

**ژباړه:** عبد الله بن مسعود رضی الله عنه به خلکو ته د پنجشنبې په ورځ وعظ او نصیحت کاوه، نو یو سړي ورته وویل: ای ابو عبد الرحمنه! زه دا خوښوم چې ته موږ ته هره ورځ نصیحت وکړې، ابن مسعود رضی الله عنه ورته وویل: زما لپاره د دې کار په لاره کې لوی خنډ دا دی چې تاسې تنگ نه شئ، زه هم تاسو ته کله کله نصېحت کوم لکه چې پیغمبر علیه السلام به موږ ته کله کله نصېحت کاوه.

## 5. په اسلام کې د وسطیت نښې او مظاهر

اسلام په ټوله معنی د وسطیت ښکارندوی دی، د اسلام هر اړخ چې واخلې هلته وسطیت او اعتدال په ټوله معنی رعایت شوی دی، بلکې په اساسي توگه اسلام د همدې لپاره راغلی چې په انساني ژوند کې د افراط او تفریط مخه ونیسي او هغه غرائز چې الله تعالی په انسان کې ایښې دي هغه تهذیب کړي او اعتدال او وسطیت ته یې راولي، په اسلام کې د دې وسطیت یو څه مظاهر او نښې په لاندې ډول دي:

### لومړی: د معرفت مصادر

اسلام نه د هغه چا په څېر دی چې یوازې عقل، یا حواس او تجربه او یا هم حدس د معرفت او علم مصدر گڼي او وحې په بشپړه توگه له یاده باسي، او نه د هغه چا په څېر دی چې یوازې پر وحې او الهام ایمان لري او په عقل اصلاً اعتراف نه لري، بلکې اسلام د معرفت د مصادر، وحې، عقل، حواس او تجربه ټول په خپله ساحه کې د معرفت مصادر گڼي.

اسلام د معرفت په اړه یوازې پر یو مصدر، عقل، یا حواس، یا حدس اتکاء نه کوي، بلکې د معرفت مصادرو ته په تکاملي نظر گوري (د امام غزالي نظر د وحیې او عقل په اړه) او د معرفت هر مصدر په خپل ځای کې معتبر گڼي.

### دویم: د عقیدې په میدان کې

اسلام د عقایدو په میدان کې د وسطیت او اعتدال قایل دی:

اسلام په عقیده کې د خرافاتي نظریاتو چې هر څه د دلیل څخه پرته مني او ایمان پرې راوړي، او د ماده پرستۍ نظریاتو چې د مادې له وجود څخه وراخوا پر بل څه قایل نه دي ترمنځ پر وسطیت قایل دی.

همدا راز نه د هغه ملحدانه نظرياتو او عقايدو په څېر دی چې په هېڅ خدای ایمان نه لري، او نه د هغه خلکو په څېر دی چې هر څه ته د دليل پرته د اله په سترګه ګوري، تر دې چې د غوا او مار په څېر شيانو عبادت هم کوي، بلکې د دليل په رڼا کې پر يو حقيقي اله عقيدې ته خلک رابولي.

اسلام نه د هغه ماده پرستانه نظرياتو په څېر دی چې يوازې مادي کاينات حقيقي وجود بولي، او د محسوساتو وراخوا د بل هېڅ وجود قايل نه دي، او نه د هغه سوفسطائي نظرياتو درلودونکو په څېر په تفريط کې واقع دی چې هېڅ مادي وجود ته د حقيقت په سترګه نه ګوري. اسلام دا افراط نه مني، بلکې دا کائنات يو حقيقت بولي؛ خو تر څنګ يې دا کائنات د هغه د خالق د معرفت وسيله هم بولي.

اسلام نه د هغو خلکو په څېر دی چې د انبياء عليهم السلام څخه يې خدايان جوړ کړل، او نه د هغه چا په څېر دی چې انبياء يې تعذيب کړل او ويې وژل.

همدا راز اسلام نه د هغو فلسفو په څېر دی چې  انسان د الوهيت درجې ته رسوي (غربي هيومانيزم) او نه د هغو فلسفو په څېر دی چې انسان د اقتصادي، اجتماعي او ديني جبر اسير ګڼي (د کميونيزم په څېر)، بلکې اسلام انسان ته د يو مکلف او مسؤول مخلوق په نظر ګوري چې دا نور کائنات الله تعالی د هغه د خدمت لپاره پيدا کړي دي، او هغه يې د خپل عبادت لپاره پيدا کړی دی.

د عقيدې په ميدان کې په تېره بيا د اهل سنت و الجماعت عقيده د وسطيت يوه ډېره عجيبه بېلګه ده، په دې اړه که يوازې دوه درې قضيې ذکر شي نو کفايت کوي:

1. د الله په اړه د تنزيه او اثبات ترمنځ متوازنه او وسطي عقيده.
2. د قضاء او قدر په اړه عقيده بين الجبر والاختيار
3. د تکفير په اړه د اهل سنتو عقيده[34]

## درېيم: منځلارېتوب د عباداتو په ميدان کې

د عباداتو او ديني شعائرو په اړه هم اسلام د هغو اديانو په مقابل کې د وسطيت او اعتدال لاره غوره کړې چې عبادتي نظام يې د تنسک او تأله (الهي جانب) څخه خالي دی او فرائض يې يوازې په اخلاقي او انساني اړخ

[34] - چې د دې هرې قضيې روښانه کول ډېر اوږد بحث ته اړتيا لري.

کې منحصر دي لکه بودائیت، او هغه ادیانو چې هغوی د خپلو اتباعو څخه یوازې عبادت ته د تفرغ غوښتنه کوي لکه د مسیحیت رهبانیت. اسلام په ورځ او شپه کې د یوه مسلمان څخه د یو څو ټاکلو شعائرو د اداء کولو غوښتنه کوي او بیا ترې غواړي چې په ځمکه کې خپاره شي او د دنیا د ابادۍ او حلال رزق د لاس ته راوړلو لپاره کار وکړي.

## څلورم: وسطیت د اخلاقو په میدان کې

د اخلاقیاتو په میدان کې اسلام د وسطیت او اعتدال لاره غوره کړې ده، نه د سخت دریزه مثالیت د پلویانو په څېر چې له انسان څخه فرښته جوړوي، او نه د واقع گرایانو په څېر انسان د نورو حیواناتو په څېر یو حیوان گڼي، بلکې د اسلام تصور دا دی چې په انسان کې د عقل قوت هم شته او بېلا بېلې غریزې هم لري، چې له یوې خوا که دا غریزې انسان د حیوانیت پر لور بیائي، نو عقلانیت یې د اخلاقي لوړوالي پر لور هڅوي. اسلام په اخلاقي میدان کې د انسان دا دواړه اړخونه تهذیبوي او یو معتدل مخلوق منځ ته راوړي.

اسلام د هغو نظریاتو په څېر هم نه دی چې د انسان حقیقي وجود یوازې روح بولي چې په انساني جسد کې قید کړای شوی دی، او دا روح تر هغه وخته پورې د صفاء مرحلې ته نه رسېږي څو چې دا جسد تعذیب نه کړای شي او له دنیاوي لذتونو څخه محروم نه کړای شي لکه براهمن هندوان، او بودایان، او نه د هغو مادي فلسفو په څېر دی چې د انسان له معنوي وجود څخه انکار کوي او انسان یوازې په مادي وجود کې منحصر گڼي.

اسلام انسان ته د روح او مادي جسد د یو مرکب مخلوق په سترگه گوري، چې باید د هغه د بدن او روح دواړو حق رعایت کړای شي.

همدا راز اسلام د دنیا ژوند ته نه د هغه چا په سترگه گوري چې د اخرت له وجود څخه انکار کوي او خپل ژوند یوازې په همدې دنیاوي ژوند کې راخلاصه کوي او شعار یې دا دی چې (بابر به عیش کوش که عالم دوباره نیست). دا په هره زمانه کې د مادي گرا فلسفو شعار پاتې شوی دی، او نه د هغه چا په څېر دی چې د دنیوي ژوند د ښه کولو لپاره له هر ډول کار څخه انکار کوي، د دې نړۍ د ابادولو په فکر کې نه دي، بلکې د فقر، مسکنت او عزلت ژوند غوره کوي، لکه رهبانیت او له هغه څخه متأثر تصورات او افکار.

اسلام د دواړو دنیاوو اهتمام کوي، دنیا د اخرت لپاره وسیله ګڼي، د اخرت د کامیابۍ لپاره د دنیا ابادي یو بنسټیز لامل بولي چې الله تعالی یې حکم ورکړی دی، الله تعالی فرمایي:

**{وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ} [القصص: 77]**

**ژباړه:** په هغه مال او دولت کې چې الله تعالی تاته درکړي دي آخرت وغواړه، او د دنیا (دمال او متاع) څخه خپله برخه مه هېروه، او په هماغه شان احسان وکړه لکه تا سره چې الله تعالی احسان کړی دی، په ځمکه کې فساد مه لټوه، ځکه الله تعالی مفسدین نه خوښوي.

او په دې اړه یې شعار دا دی (ربنا اتنا فی الدنیا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار).

## پنځم: د قانون ګذارۍ او تشریع په میدان کې وسطیت

اسلام په خپل قانوني نظام او اجتماعي تشریعاتو کې د وسطیت قایل دی، چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

اسلام د تحریم او تحلیل په اړه د یهودیت او نصرانیت له تصوراتو سره موافق نه دی، په یهودیت کې په تحریم کې اسراف وه، **{فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيرًا}** [النساء: 160] او په مسیحیت کې په تحلیل کې اسراف وه، د دوی شعار دا دی (**کل شیئ طاهر للطاهرین**).

د کورنۍ په اړه اسلامي شریعت پر وسطیت ولاړ دی، نه د هغه چا په څېر دی چې د بې شمېره ښځو او ودونو قایل دي، او نه د هغه چا په څېر دی چې له یوې مېرمنې څخه د زیاتو مېرمنو سره د واده اجازه نه ورکوي؛ ان که د مصلحت او ضرورت غوښتنه هم وي، بلکې اسلام د اړتیا او شروطو په رعایت کولو سره د تعدد اجازه ورکړې ده. همدا راز نه د هغو نظریاتو په څېر دی چې اصلاً واده کول جرم ګڼي او نه د هغه چا په څېر دی چې اصلاً د واده قایل نه دي. د طلاق په قضیه کې هم د وسطیت قایل دی، چې نه د هغه چا په څېر دي چې اصلاً طلاق درست نه ګڼي؛ ان که د ښځې او مېړه په یوه کورنۍ کې اوسېدل ناممکن وي، لکه کاتولیک او ارتودوکس مسیحیان، او نه د هغه چا په څېر دی چې د کورنۍ تړون ته هېڅ په ارزښت نه دي قایل او د کوم لامل پرته له منځه وړل کېږي. بلکې اسلام طلاق د ټولو کوښښونو څخه وروسته د وروستي علاج په توګه وړاندې کوي.

اسلام په اجتماعي نظام کې هم د (لیبرالیزم) او (مارکسیزم) ترمنځ واقع دی، نه د لیبرالیزم په څېر د دې قایل دی چې انسان یوازې صاحب حق دی، صاحب مسؤولیت نه دی، او دا چې د ټولو حقوقو محور انساني فرد دی، ان که له دې امله اجتماعي او ټولنیز حقوق او ګټې له خطر سره مخامخ شي، او نه د مارکسیزم په څېر دی چې هلته د ګټو محور اجتماع او ټولنه ده، ان که فرد د هغه په پایله کې له خپلو ټولو ګټو، ازادیو او نورو ښېګڼو څخه محرومېږي.

## شپږم: د فرد او اجتماع ترمنځ توازن او منځلارېتوب

په پخوانیو فلسفو کې څه خلک د فرد د محوریت قایل ؤو، چې د دوی له جملې ارسطو مشهور دی، او څه د اشتراکېت او ټولنیز نظام پلویان وو لکه افلاطون، چې دا یې بیا د کتاب (الجمهوریة) څخه ثابتیږي.

همدا راز په پخواني فارس کې د (مأنویت) فرد محوري انتهاء ته رسیدلې وه، او مزدکېت چې د ښځو او مالونو د اشتراک قایل وو، دا شخړه یې جاري پاتې شوه. په اوسنۍ زمانه کې د (لیبرالیزم) چې یو فرد محوره نظریه ده، او اشتراکېت چې یوه ټولنیزه نظریه ده، د دوی ټولو ترمنځ یوازینی دین چې د فرد او ټولنې ترمنځ یې توازن، وسطیت او اعتدال قایم کړی دی هغه اسلام دی. د اسلام په ټولو احکامو کې د فرد غوښتنې هم په نظر کې نیول شوې دي او د ټولنې غوښتنې هم. اسلام احتکار حرام ګڼي چې د ټولنې رعایت وکړي او فرد له استغلال څخه منع کړي، او په عین حال کې تسعیر (د حکومت او نظام له لوري د شیانو لپاره د قېمتونو ټاکل) هم نادرست ګڼي ترڅو د فرد لپاره د کسب لارې چارې پرانیستې پرېږدي.

## 6. د منځلارېتوب غوښتنې

د اسلام د وسطیت ځانګړتیا څه غوښتنې لري؟ د دې سوال مختصر ځواب خو دا دی چې د اسلام د دې ځانګړتیا غوښتنې دا دي چې هر مسلمان خپل ټول ژوند، تصورات، افکار او کړنې له اسلام سره برابرې کړي. که په تفصیل سره دا غوښتنې وړاندې کول وغواړو نو دا به ګران کار وي ځکه چې دا غوښتنې د ژوند ټول اړخونه احاطه کوي او دا ګران کار دی مګر د هغې قاعدې سره سم چې وایي: **ما لایدرک کله لایترک جله**؛ خو بیا هم د یو څو مهمو مسائلو په اړه دا غوښتنې په لاندې ډول وړاندې کوو:

### I. اسلام باید په شامل او کامل ډول وفهمول شي

اسلام داسې پېژندل لکه څرنگه چې په پیغمبر علیه السلام نازل شوی دی، چې عقیده هم ده او شریعت هم، علم هم دی او عمل هم، عبادت هم دی او معامله هم، ثقافت هم دی او اخلاق هم، حق هم دی او قوت هم، دعوت هم دی او دولت هم، دین هم دی او دنیا هم، تمدن هم دی او امت هم.

او د اسلام د تعلیماتو هر ډول تجزیه ردوي، لکه د هغه چا دعوی چې اسلام یوازې اخلاق گڼي له عبادت څخه پرته، او یا برعکس، او یا یې عقیده گڼي له شریعت څخه پرته، او یا یې یوازې سوله گڼي له جهاد څخه پرته، او یا یې یوازې حق گڼي له قوت څخه پرته، او یا یې یوازې دین گڼي له دولت څخه پرته. اسلام دا تصور نه مني، الله تعالی فرمایي:

**{وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ}** [المائدة: 49] او دا چې د دوی ترمنځ د هغه (شریعت) پر بنسټ فیصله کوه چې الله تعالی نازل کړی دی، او د دوی د خواهشاتو تابعداري مه کوه، له دې څخه محتاط اوسېږه چې دوی دې د یو شمېر هغو احکامو او فیصلو څخه منصرف کړي چې الله نازل کړي دي.

که اسلام په شمولي فهم باندې فهم نه کړلای شي او یوه برخه یې پر بلې برخې طغیان وکړي، او یا ترې یوه برخه په بشپړه توگه حذف کړلای شي، نو په دې صورت کې بیا پکې وسطیت او اعتدال نه پاتې کېږي، او دا ځکه چې اسلام یو کل دی، په هغه کې ډېر ثنائیات دي چې دا اعتدال او وسطیت رامنځ ته کوي. د هغې هره برخه چې د بلې برخې سره یوځای شي اعتدال راپیدا کوي، نو کله چې یوه برخه ترې حذف شي بیا دا اعتدال او وسطیت له منځه ځي، د بېلگې په توگه که اسلام یوازې روحانیت شي، او سیاست او دنیویت په کښې نه وي، یا یوازې عقیده وي او عمل ورسره نه وي، همدا راز که د اسلام  هره برخه د هغې له مفهوم څخه و ویستلای شي نو وسطیت او اعتدال یې له منځه ځي، بناء د وسطیت تر ټولو بنسټیزه غوښتنه دا ده چې اسلام باید په شمولي فهم باندی فهم کړای شي.

## II.	د نصوصو د فهم لپاره جامع منهج غوره کړای شي

په دې معنی چې جزیي نصوص د کلیاتو په رڼا کې فهم کړای شي، او کلیات او جزییات یو د بل په مقابل کې و نه درول شي، نه یوازې په کلیاتو اکتفاء وشي او نه یوازې په جزییاتو، همدا راز له یوې خوا باید د حرفي فهم مخنیوی وشي او له بلې خوا د نادرستو تأویلاتو مخ ته بند واچول شي، د یوې مسألې په اړه باید ټول راغلي نصوص جمع کړای شي، په هغه کې عام او خاص، مطلق او مقید، متقدم او متأخر، قطعي او ظني ... ټول

ولټول شي او مسأله د هغې په رڼا کې فهم کړی شي، یوازې پر یو نص خپل ټول فهم بناء کول درست تعامل نه دی او د فهم په میدان کې عدم اعتدال رامنځ ته کوي. همدا راز باید په فهم کې ظاهریت او مقصدیت دواړه رعایت شي، هغه څوک چې د نصوصو او شریعت په فهم کې یوازې د نصوصو پر ظاهر اعتماد کوي هغه هم د اعتدال او وسطیت څخه وځي او که پر افراطي مقصدیت اعتماد کوي هغه هم د وسطیت او اعتدال څخه وتلی دی. د دې ترڅنګ دا هم د تکاملي منهج یوه غوښتنه ده چې پر عقل او وحي دواړو اعتماد وشي او یو د بل تکامل کوونکی وګڼل شي. که پر یو اعتماد وشي او بل بې اهمیته وګڼلای شي، نو بیا هغه وسطیت او اعتدال منځ ته نه راځي چې اسلام یې غواړي، له همدې امله د اهل سنت والجماعة له نظره پر ظاهریت ولاړ عقیدوي او فقهي فهم لکه د ظاهریانو فهم او پر افراطي عقلانیت ولاړ فهم لکه د معتزلیانو او د اوسنیو نوګرایانو او هغو ډلو فهم چې ځان اعتزال ته په اوسني عصر کې منسوب بولي، دواړه د اعتدال او وسطیت څخه لیری مناهج بولي چې د فهم په تکاملي او وسطي منهج باندی ولاړ نه دي.

## III. د معنویت او ظاهري التزام ترمنځ توازن او اعتدال رعایت شي

د یو مسلمان څخه د وسطیت او اعتدال یوه بنسټیزه غوښتنه دا ده چې هغه باید د ظاهري التزام ترڅنګ د معنویت او روحانیت ترمنځ اعتدال رعایت کړي، هم په شریعت کې راغلي ظواهر رعایت کړي او هم هغه معنویت او الله تعالی سره نږدې والی ترلاسه کړي چې د هغه عبادت اصلي موخه او هدف دی. د اسلام دا ځانګړتیا له عباداتو سره داسې تعامل ردوي چې د ظاهري التزام په نامه عبادات یوازې تش کالبودونه ګرځوي چې هېڅ ډول معنویت پکې نه وي، او وچ او بې روحه حرکات ترې جوړ کړي، همدا راز د معنویت او روحانیت په نوم د دې اجازه هم نه ورکوي چې په عقیده کې شرکیات، په عبادت کې بدعات، او په تربیت کې سلبیات ورګډ کړي، او په دا ډول عبادتونه له خپل اصلیت څخه لیرې کړي.

## IV. د شرعي مکلفیتونو ترمنځ تعادل او توازن رعایت شي

په اسلام کې مکلفیتونه خپل درجات او حیثیتونه لري، د وسطیت او اعتدال یوه غوښتنه دا ده چې هر شرعي مکلفیت ته د هغې د حیثیت او درجې په اندازه اهمیت ورکړلای شي. دا هېڅکله درسته نه ده چې اهم غیر اهم وګرځولای شي، او وړوکي مکلفیت ته لوی حیثیت ورکړلای شي او لوی ته وړوکی حیثیت. هغه چې باید مخکې شي وروسته کړلای شي او هغه چې وروسته دی مخکې کړلای شي. عقیده پر عمل مقدمه ده، فرائض

په نوافلو، اصول پر فروعو، متفق علیه پر مختلف فیه، قطعي پر ظني او هغه څه چې پر نص ثابت وي په هغه څه مقدم دي چې په اجتهاد ثابت وي. دی ته د لومړیتوبونو فقه ویل کېږي. که چېرته دا لومړیتوبونه رعایت نه شي، نو اعتدال او وسطیت په بشپړه توگه له منځه ځي. له همدی امله شرعي نصوصو هم په همدی تأکېد کړی دی، او د همدی غوښتنه کوي. الله تعالی د اهمیت په لحاظ د عملونو ترمنځ د رعایت په اړه فرمايي:

**{أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللَّهِ}** [التوبة: 19]

**ژباړه:** ايا تاسې حاجيانو ته څښاک برابرول او (په مادي توگه) د مسجد الحرام ابادول د هغه چا له عمل سره برابر گڼئ چې په الله تعالی او د اخرت په ورځ يې ايمان راوړی او د الله تعالی په لاره کې يې جهاد کړی دی، دا (دواړه عملونه د الله په نزد هېڅکله په خپلو کې سره برابره نه دي).

د دې په څېر بې شمېره نصوص په قران او سنت کې وجود لري چې پر دې دلالت کوي چې هر عمل ته بايد د هغې د اهميت په اندازه اهميت ورکړل شي. که دا کار ونه شي، نو د اسلامي شريعت د اعتدال او وسطيت ځانگړتيا به تر پښو لاندې شوي وي.

## ۷. د اخلاقو او عباداتو ترمنځ منځلارېتوب، توازن او اعتدال غوره کول

اخلاق په اسلام کې ډېر بنسټيز حيثيت لري، په ډېرو نصوصو کې اخلاق د عباداتو ثمره بلل شوې، په حديث کې د پيغمبر عليه السلام د بعثت مقصد بلل شوی (**انما بعثت لأتمم مكارم الأخلاق**). همدا راز د يو لړ اخلاقو ضعف او يا هم نشتوالی د نفاق او بې ايمانۍ له نښو گڼل شوی دی. پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**" أربعٌ مَنْ كنَّ فيه كان منافقاً خالصاً، ومَن كانت فيه خَصلةٌ منهنَّ كانت فيه خَصلةٌ من النفاق، حتى يدعَها: إِذا اؤتُمِنَ خان (وفي روايةٍ: إِذا وَعَدَ أَخْلَفَ)، وإذا حدَّث كذَبَ، وإذا عاهدَ غدَرَ، وإذا خاصَمَ فجَرَ"** (بخاري:۳۴)

**ژباړه:** څلور صفتونه داسې دي، که په چا کې موجود وي، نو هغه مکمل منافق دی، او که له دې څخه يو صفت پکښې وي، نو په هغه کې د نفاق يو صفت وجود لري تر دې چې پرېږدي. دا څلور صفتونه په دا ډول دي کله چې د امانت لپاره پرې اعتماد وشي په هغه کې خيانت کوي، (په يو روايت کې راځي چې کله وعده وکړي په هغه کې وعده خلافي کوي)؛ کله چې خبرې کوي دروغ

وايي، او کله چې عهد او تړون وکړي په هغه کې فريب او دوکه کوي او کله یې چې چا سره جنګ شي په هغه کې د فجور تر حده رسيږي او د هيڅ ډول افتراء، بهتان او ښکنځلو څخه دريغ نه کوي.

بناء د وسطيت او اعتدال غوښتنه دا ده چې یوازې په عبادتي شعائرو التزام هر څه ونه ګڼل شي، سره له دې چې د انسان پر اخلاقو هيڅ اغېزه ونه لري. همدا راز هغه دريځ هم درست نه دی چې یوازې اخلاق هر څه ګڼي او د عبادتي شعائرو هيڅ پرواه هم نه ساتي، بلکې د اسلام د دې ځانګړتيا غوښتنه دا ده چې دا دواړه يو د بل تکميلوونکي وګڼلای شي. پر عبادتي شعائرو التزام بايد په مسلمان کې د اخلاقي سپېڅلتيا وسيله وګرځي، همدا راز یوازې پر اخلاقي ارزښتونو التزام په عبادتي شعائرو د التزام بديل ګڼل د اسلام له دې ځانګړتيا سره مخالفت بلل کېږي.

## VI. د اجتهاد او جمود ترمنځ توازن او اعتدال

د وسطيت غوښتنه دا ده چې نه خو د اجتهاد دروازه په بشپړه توګه وتړل شي؛ ځکه اجتهاد غير مطلق، په فردي توګه، او په جمعي توګه، جريان لري، او درسته خبره هم دا ده چې اجتهاد تجزئه قبلوي او علماء دا کار کوي او کړی یې هم دی او نه دا درسته ده چې هر چا ته  د اجتهاد اجازه ورکړای شي، بلکې درست او وسطي تعامل دا دی چې د اجتهاد وړ جزئي مسائلو کې هغه چا ته اجازه ورکړای شي چې استعداد یې لري او شروط یې پوره کړي وي، او د اجتهاد او فهم د درستو ضوابطو پابند وي، او په هغه څه کې ورته اجازه ورکړای شي چې هغه د اجتهاد مجال دی، او له اسلام څخه هغه جاهل او بی خبره خلک چې د اجتهاد په نامه د اسلام د تحريف کوښښ کوي، او یا هم په هغو مسلماتو او ثوابتو کې اجتهاد کول غواړي چې هغه د اجتهاد مجال نه دي، او یا د اجتهاد په نامه خلکو ته د فرېب او دوکې ورکولو کوښښ کوي. هغوی له دې څخه منع کړای شي، دا هغه وسطي او معتدل دريځ دی چې د اسلام دا ځانګړتيا یې غوښتنه کوي.

## VII. د ثوابتو او متغيراتو ترمنځ اعتدال او توازن

شريعت خپل ثوابت لري، او زمانه د متغيراتو غوښتنه کوي، له اسلام سره دا درست تعامل نه دی چې هر څه یې متغير وبللای شي، او دا هم درست تعامل نه دی چې هر څه ثوابت وبللای شي، او نه هم دا درست دي چې متغيرات د ثوابتو ځای ونيسي او ثوابت د متغيراتو. بناء موږ وايو چې هو! موږ د هر داسې علمي پرمخ تګ هرکلی کوو چې د انسان ژوند لوړ کړي، مګر (غرب ګرايي) نه منو، پرمختګ ښه شی دی مګر د (نوګرايي) په نامه اسلامی امت له خپل هويت څخه پردي کول راته منظور نه دي.

همدا راز د هغو خلکو دريځ هم درست نه دی چې د شريعت په نامه د ژوند څرخ درول غواړي، چې نه پرمختګ مني او نه بدلون، ان په وسايلو کې او په هغو څه کې چې په مصالحو او مفاسدو، ظروفو او احوالو او

عرف او عادت باندی بناء مسائل دي هيڅ ډول بدلون نه مني، بلکې د اسلام د دې ځانګړتیا غوښتنه دا ده چې هغه څه چې پر قطعي الثبوت او قطعي الدلالة نصوصو ثابت وي هغه د اجتهاد میدان ونه ګڼل شي، چې دې ته د اسلام ثوابت ویل کېږي، او څه چې پر داسې نصوصو ثابت وي چې د ډېرو معناګانو احتمال لري او یا پکښې هیڅ نص نه وي وارد شوی هغه د اجتهاد مجال وګڼلای شي چې همدی ته متغیرات ویل کېږي.

## VIII. په فتوی او دعوت کې باید توازن خپل کړو

په فتوی کې تیسیر او اسانتیا او په دعوت کې تبشیر او امیدواري ورکول د وسطیت او اعتدال غوښتنه ده، په فتوی کې د تشدد او شرعي نصوصو د خلکو د خواهشاتو لپاره د استعمالولو ترمنځ دریځ غوره کول پکار دي، چې هغه ته په فتوی کې د تیسیر او اسانتیا دریځ ویلی شو، او په دعوت کې افراط او تفریط ترمنځ دریځ غوره کول په دې ډول چې یو اړخ هم پر بل طغیان ونه کړي، چې یوازې د ترغیب او یا هم یوازې د ترهیب اسلوب غوره کړای شي؛ ځکه که یوازې د وېرولو او سختیو د بیانولو اسلوب غوره کړای شي دا انسان د یأس او نا امیدۍ لور ته وړي، او که یوازې د ترغیب او له حده د زیاتې امیدوارۍ اسلوب غوره کړای شي نو دا انسان ته د حدودو د ماتولو جرأت ورکوي.

## IX. د مادې او روح ترمنځ توازن او اعتدال

د اسلام د دې ځانګړتیا یوه غوښتنه دا ده چې مسلمان باید د مادیت او روحانیت ترمنځ توازن قائم وساتي، د دنیا او اخرت، د الله تعالی د عبادت او د ژوند د مادي اړتیاوو د پوره کولو ترمنځ د وسطیت لاره غوره کړي. نه په بشپړه توګه ماده پرست شي، او نه بشپړ رهبانیت غوره کړي. اسلام انسان دې ته هڅوي چې خپل ټولنیز او اقتصادي ژوند په ټول توان سره پرمخ یوسي، خو همهاله یې له دې هم منع کوي چې الله او اخرت یې له یاده ووځي او په بشپړه توګه په مادیاتو کې ورک شي. قران کریم په روحي اړخ کې انسان ته داسې لارښوونه کوي:

**{يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ (36) رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ}** [النور: 37] په دې ( مساجدو) کې سهار او ماښام د الله پاکي داسې سړي بیانوي چې د الله له یاد، د لمانځه د اداء کولو او زکات له ورکولو څخه یې تجارت او اخیستل او خرڅول غافل کولای نه شي، او دوی د هغې ورځې (د بد انجام) څخه ویریږي په کومه ورځ به چې زړونه او سترګې (د ویرې او خوف له امله) په اضطراب کې وي (او استقرار به نه لري).

او د مادي او په دنیوي اړخ کې د توازن د خپلولو په اړه قران کریم داسې لارښوونه کوي:

**{وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا }** [القصص: 77] الله تعالی چې څه درکړي دي، د هغه په ذریعه د اخرت (کامیابي) ولټوه، او په دنیا کې خپله برخه هم له یاده مه باسه.

او هغه خلک غوره ګڼي چې په دنیا کې هم د الله تعالی څخه د ښه ژوند غوښتنه او دعاء کوي او په اخرت کې هم د جنت دعاء او غوښتنه کوي، او دعاء یې داسې وي: **{وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ (201) أُولَئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِمَّا كَسَبُوا}** [البقرة: 201، 202]. د دوی له جملې څخه یو شمېر کسان هغه دي چې وایي: ای زموږ پروردګاره موږ ته په دنیا کې هم ښه ژوند راکړه او په اخرت کې هم کامیابي او ښه ژوند راکړه او د اور له عذابه مو وساته. د همدې خلکو لپاره د هغو نېکو اعمالو (د اجر څخه) چې دوی کړی دی، یوه لویه برخه ده.

## X. د ربانیت او انسانیت ترمنځ توازن

د وسطیت، اعتدال او توازن غوښتنه دا ده چې د ربانیت او انسانیت ترمنځ توازن رامنځ ته کړای شي، د ربانیت معنی دا ده چې د انسان د وجود اصل هدف او مقصد د الله تعالی عبادت دی، هغه د همدې لپاره پیدا کړای شوی دی لکه الله تعالی چې فرمایي:

**{وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ }** [الذاريات: 56] ما پېریان او انسانان یوازې د دې لپاره پیدا کړي چې زما عبادت وکړي.

د انسان د ژوند موخه او مقصد د الله تعالی رضا ده، همدا په قران کریم کې داسې اعلان شوی دی:

**{قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (162) لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ}** [الأنعام: 162، 163] ووایه ای پیغمبره: زما لمونځ، زما قرباني، زما ژوند او زما مرګ د الله لپاره دی چې د جهانیانو پالونکی دی، د هغه هېڅ شریک نشته، پر همدې ماته حکم شوی دی، او زه تر هر چا دمخه غاړه اېښودونکی یم.

همدا راز د ربانیت معنی دا هم ده چې د هغه قانون چې انسان یې باید په ژوند کې پلي کړي د هغې مصدر یوازې الله تعالی دی، د هغې د تشریعاتو، آدابو، عقائدو، او هر ډول لارښوونو مصدر یوازې یو الله تعالی دی، پیغمبر د تشریعاتو رسوونکی دی، هغه هم د انسان په حیث د  دې شیانو لپاره مصدر نه دی، خو د دې ترڅنګ باید انسانیت هم له نظره ونه غورځول شي، ځکه د دې دواړو ترمنځ هېڅ تعارض وجود نه لري. یعنې

سره له دې چې يو مسلمان بايد د ربانيت مفهوم رعايت کړي په همدې ډول بايد پر دې هم يقين ولري چې دا ټول د دې لپاره دي چې انسان سعادت او نېک بختۍ ته ورسيږي. که د اسلام مصدر رباني او الهي دی، نو د دې پوهيدونکی او عملي کوونکی انسان دی. که ربانيت د مسلمانې ټولنې موخه او مقصد دی، نو د دې مقصد محتوی د انسان سعادت او د الهي جنتونو او نعمتونو لاس ته راوړل دي. که ربانيت انسان ايمان، توحيد، الله ته رجوع، د الله تعالی څخه ويره او اميد ... ته هڅوي او توجيه کوي يې، نو دا په حقيقت کې د انسانيت د معنی تحقق دی، تر هغه وخته يو انسان رباني نشي کېدلای څو چې په حقيقي توګه انساني نه شي او تر هغه وخته انساني نشي کېدلای څو چې رباني نه شي.

همدا راز د وسطيت له غوښتونو څخه دا هم دي چې مسلمان بايد د عقل او زړه ترمنځ توازن قائم کړي. د دنيا او آخرت ترمنځ توازن وساتي. همدا راز د الله حق، نفس ساتل او د نورو انسانانو د حقوقو ترمنځ بايد توازن قائم کړي، او شعار هغه حديث وي چې وايي:

**(إِنَّ لِرَبِّكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَلِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَلِأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا فَأَعْطِ كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ)** ستا د رب پر تا حق دی، ستا د ځان په تا حق دی، ستا د کور د خلکو پر تا حق دی.. نو هر حقدار ته د هغې حق ورکړه.

## XI. د مادي پرمختګ او روحي سپېڅلتيا ترمنځ توازن

د وسطيت او اعتدال له غوښتونو دا هم ده چې مسلمان د مادي اختراعاتو، اقتصادي پرمختګ او اخلاقي او روحي سپېڅلتيا ترمنځ توازن قائم وساتي، هيڅکله هم مادي اختراعات، اقتصادی پرمختګ د دې غوښتنه نه کوي چې د انسان تړاو او اړيکه له الله تعالی سره ضعيفه او کمزورې شي، او يا په اخلاقي لحاظ لويدلی انسان شي، او نه روحي سپېڅلتيا او اخلاقي لوړوالی د دې غوښتنه کوي چې انسان دې په مادي لحاظ وروسته پاتی، کمزوری، فقير او د علمي اختراعاتو له دنيا څخه لېرې وي. په همدې سياق کې محمد اقبال لاهوري وايي:

قوت مغرب نه از چنگ و رباب *** نی ز رقص دختران بی حجاب

نی ز سحر ساحران لاله روست ***نی ز عریان ساق و نی از قطع موست

محکمی او را نه از لادینی است *** نی فروغش از خط لاتینی است

قوت افرنگ از علم و فن است ***** از همین آتش چراغش روشن است

حکمت از قطع و برید جامه نیست *** مانع علم و هنر عمامه نیست

علم و فن را اي جوان شوخ و شنگ *** مغز می باید نه ملبوس فرنگ

اندرین ره جز نگه مطلوب نیست *** این کله یا آن کله مطلوب نیست

فکر چالاکی اگر داری بس است *** طبع دراکي اگر داری بس است

گر کسی شبها خورد دود چراغ *** گیرد از علم و فن و حکمت سراغ[35]

## XII. د سولې او جهاد په اړه د متوازن نظر غوره کول

له دې دواړو څخه هېڅ یو هم د بل ځای نه شي نیولای. په کوم ځای کې چې سوله اړینه وي هلته پر سولې ټینګار، او په کوم ځای کې چې د جهاد د بېلا بېلو ډولونو څخه د هر ډول جهاد اړتیا وي هلته پر جهاد تأکېد کول. د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند د دې توازن یو ډېر ښه او ژوندی مثال دی، له همدې امله د پېغمبر علیه السلام په ژوند کې د بدر، احد، خندق، او حنین غزاګانې هم ګورو او د حدیبیې سولې او میثاق مدینه هم وینو.

## XIII. له کفارو سره د تعامل په اړه د توازن غوره کول

نه له ټولو کفارو سره د محاربینو تعامل کوو، او نه له ټولو سره د ذمیانو تعامل، بلکې هغه څه چې په سورت ممتحنه کې راغلي هغه د وسطیت غوښتنه ده، الله تعالی فرمایي:

**{لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ (8) إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ} [الممتحنة: 8، 9].**

**ژباړه:** الله تعالی تاسې له هغه خلکو سره د احسان او عدل څخه نه منع کوي چې له تاسو سره د دین له امله په جنګ کې نه دي، او تاسې یې له خپلو سیمو څخه نه یي ویستلي، بې له شکه الله

[35] - کلیات اقبال لاهوری ص ٣٦٩ په جاوید نامه کې مقدمه او تصحیح: احمد سروش، از انتشارات کتابخانه سنائی، پنځم چاپ، ۱۳۷۰، چاپ احمدی، صحافی ایرانمهر.

تعالی عدل کوونکي خوښوي، په حقیقت کې تاسې له دې څخه منع کوي چې تاسې له هغه چا سره چې له تاسو سره د دین په سر جنگ کوي او تاسې یې له خپلو سیمو څخه ویستلي اوسئ او ستاسو په ویستلو کې یې (له نورو سره) همکاري کړی ده، چې له هغوی سره دوستي وکړئ، او ستاسو له جملې څخه چې څوک له هغوی سره دوستي کوي همدوی ظالمان دي.

د دغو دوو ایتونو له مضمون سره سم کفار په دوه ډوله دي: یو محارب کافران دي، له هغوی سره دوستي او محبت ناروا کار دی، او که چېرته دا محبت د هغوی د کفر له امله وي، نو انسان د اسلام له دایرې خارجوي. دویم ډول کفار هغه دي چې هغوی غیر محارب دي، دوی که ذمیان وي او که معاهد کافران وي له هغوی سره د ښه سلوک، نېکۍ او عدل او انصاف تعامل پکار دی، همدا هغه معتدل او متوازن دریځ دی چې مسلمان یې باید په خپل ژوند کې غوره کړي.

## XIV. د عقل او نقل ترمنځ توازن د وسطیت غوښتنه ده

د عقل او نقل ترمنځ د وسطیت معنی دا ده چې عقل او نقل اصلاً یو له بل سره سل په سلو کې مخالف نه شي واقع کېدلای، که چېرته عقل او نقل یو له بل سره په تقابل او تعارض کې واقع شي، نو دا به په حقیقت کې ظاهري تعارض وي، او د دې ظاهري تعارض په وخت کې قاعده دا ده:

**(اذا تعارض عقلی ونقلی قدم القطعی علی الظني منهما، واذا کانا ظنیین قدم النقلی حتی یثبت العقلی أو ینهار)**

کله چې عقلي او نقلي په خپلو کې متعارض واقع شي، نو هر یو چې له دې دواړو څخه قطعي وي، هغه به مقدم وي، او بل به پرېښودل کېږي، او که چېرته دواړه ظني وي، نو په دی حالت کې به نقلي مقدم وي تر دې چې عقلي یا ثابت شي او یا له منځه ولاړ شي.

او هغه څوک چې عقل د شریعت په نوم منجمدوي، او خپل ظاهري فهم ته شریعت وایي، او له هغې سره مخالفت ورته له شریعت سره مخالفت ښکاري، او یا عقل ته همېشه پر شریعت ترجیح ورکوي، او په دې بهانه شریعت د خپلو خواهشاتو تابع گرځوي، دواړه له وسطیت سره په ټکر کې واقع دي.

## XV. د ټولنیزو ارزښتونو په اړه متوازن نظر غوره کول

ډېر داسې ټولنيز او انساني ارزښتونه دي چې ډېر مسلمانان يې له کبله نوم ردوي چې دا غربي ارزښتونه دي. په داسې حال کې چې هغه حقيقتاً د اسلام اصيل ارزښتونه دي، لکه په قضاء، سياست، او اقتصادي ميدان کې عدل او انصاف، په ټولنيزو او دولتي چارو کې شورائيت، د انسانانو ازادي او کرامت ته درناوی، د انسانانو حقوق او په ځانګړي توګه په ټولنه کې د مستضعفو اقشارو حقوق، همدا راز ټولنيزه، سياسي او ديني ازادي....

د وسطيت غوښتنه دا ده چې دا بايد په جدي توګه رعايت کړای شي؛ خو په هغو مفاهيمو نه چې غرب يې وايي، او نه له هغو عقيدو سره سم چې د نورو تمدنونو برلاسي تثبيتوي، بلکې په هغو مفاهيمو چې اسلام يې غواړي او اسلام يې ثابتوي.

## XVI. د مېرمنو په اړه د وسطيت غوښتنې عملي کول

د مېرمنو په اړه د غرب هغه دريځ چې زموږ له اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې دی، او د ازادۍ په نوم مېرمنه د خپل کلتور د ترويج وسيله جوړوي، او د اباحيت او بې لاريتوب د ترويج لپاره ترې کار اخلي، او د هغو ناروا او نادرست تعامل چې زموږ په ټولنه کې له مېرمنو سره کېږي وسطي او متوازن تعامل غوره کول. يعنې هغه حقوق مېرمنو ته ورکول چې اسلام ورته ورکړي دي. دا د وسطيت غوښتنه ده، لکه څرنګه چې د هغو کوښښونو په مخ کې درېدل پکار دي چې مېرمنې د غربي بې لاريتوب لپاره د وسيلې په حيث استعمالول غواړي. همدا راز د هغه ظلم مخنيوی هم پکار دی چې زموږ په ټولنه کې د مېرمنو پرضد ترسره کېږي، او په پايله کې يې له مېرمنو سره د وينځې په توګه تعامل کېږي، د څارويو په څېر خرڅېږي او اخيستل کېږي او ورته د ميراث حق نه ورکول کېږي.

## XVII. د تکفير او تفسيق په اړه متوازن نظر؛ د وسطيت غوښتنه

د تکفير او تفسيق په اړه بېلا بېلې فرقې په افراط او تفريط کې واقع دي. خوارج د کبيره ګناه مرتکب کافر ګڼي او معتزله يې له اسلام څخه خارج بولي. د دوی د مذهب برعکس مرجئه د کبيره ګناه ارتکاب له ايمان سره اصلا مضر نه بولي، خو دې دواړو ډلو د اسلام متوازن او وسطي فهم پرېښی دی، او په افراط او تفريط کې واقع دي، چې د دې افراطي او تفريطي نظر په نتيجه کې اسلامي امت له بې شمېره کړاوونو سره مخامخ شوی دی او تر ننه دا کړاوونه جريان لري.

په اوسنیو حالاتو او ظروفو کې لکه څرنګه چې د وسطیت او توازن غوښتنه ده باید د کبیره ګناهونو د ارتکاب له امله نه د چا تکفیر وکړای شي، چې په امت کې د فتنې او قتلونو لامل وګرځېږي، او نه هغه چا ته د براءت سپین چک ورکړای شي چې د ډول ډول کبیره ګناهونو ارتکاب کوي څو دا نظر په امت کې د بې عملۍ د خپریدو او ترویج لامل ونه ګرځي.

## XVIII. د تراث او معاصرو علومو ترمنځ د وسطیت غوښتنه

د اسلام د دې ځانګړتیا یوه غوښتنه دا ده چې نه قران او سنت او تراثي علوم له پامه وغورځول شي او نه معاصر سائنسي علوم، ځکه د بشري ټولنو په معنوي او مادي پرمختګ کې دواړه علوم بنسټیزه ونډه لري، نو دواړو ته باید جدي پاملرنه وشي. هغه څوک چې تراث د معاصرو علومو مقابل ګڼي او په دې نظر ورته ګوري چې دا دواړه د یو بل نفي کوي، دوی په حقیقت کې د اسلام د وسطي او متوازن نظر سره په مخالفت کې واقع دي.

## XIX. د وسطیت او توازن سره متضاد سلوک

د اسلام له دې ځانګړتیا سره څه سلوکېات په ټکر او مقابل کې واقع دي، هر څوک چې د دې سلوکېاتو مرتکب شو، هغه په حقیقت کې د اسلام د متوازن او وسطي فهم او سلوک څخه لېرې دی، څو چې بېرته ورته راوګرځي، دا سلوکېات په لاندې ډول دي:

**لومړی: افراط او تفریط**

په هر څه کې مبالغه او له حد څخه تېرېدلو ته افراط ویل کېږي. هغه که د خوراک څښاک وي او که عبادت، هغه که لباس وي او که د مال مصرف، محبت وي او که نفرت، دوستي وي او که دښمني...او تفریط په هر کار کې تقصیر او د هغې ضائع کولو ته ویل کېږي.

الله تعالی چې د څه حکم کړی دی، او یا یې له څه منع کړې ده، د هغو ټولو لپاره یې یو حد او اندازه ټاکلې ده. په اسلام کې هر څه پر خپل ځای متوازن او معتدل دي، او بیا ټول تشریعات او احکام یې په عامه توګه یو متوازن او معتدل نظام رامنځ ته کوي. د مبالغې، له حد څخه د تېرېدلو او یا هم د تقصیر او په بشپړه توګه د سر ته نه رسولو له لارې د دې توازن او اعتدال له منځه وړلو ته افراط او تفریط ویل کېږي، چې د شریعت بې شمېره نصوص پر دې دلالت کوي. ډېر مفسرین په دې ایت کې چې الله تعالی فرمایي:

**{وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ}** [المائدة: 2]

اثم (ګناه) د تفريط مرادف (يو كتار كې) بولي؛ ځكه چې په دې كې تقصير او د اوامرو ضائع كول دي، او عدوان د افراط مرادف بولي؛ ځكه چې په هغه كې له حد څخه تيريدل وي.

**دويم: ظلم**

ظلم په لغت كې په غير مناسب ځاى كې د يو څه ايښودلو ته وايي، او په اصطلاح كې له حق څخه د باطل لور ته د اوښتلو نوم دى، چې په ځانګړې توګه پكې خلكو ته تكليف رسول او د هغوى حقوق تر پښو لاندې كول شامل دي.

ظلم د اسلام د توازن او وسطيت له ځانګړتيا سره په بشپړه توګه په ټكر كې دى، له همدې امله په قران كريم كې په ډېرو آيتونو كې د ظلم ارتكاب په دې دنيا د امتونو لپاره د عذاب لامل ښودل شوى دى، الله تعالى فرمايي:

**{فَأَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ} [البقرة: 59]**

نو په ظالمانو مې له اسمان څخه عذاب نازل كړ، په دې كې دې ته اشاره ده چې له اسمان څخه د عذاب د نازلولو لامل همدا ظلم وه، همدا راز الله تعالى فرمايي:

**{فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا} [الأنعام: 45]**

هغو خلكو چې ظلم كړى وو هغوى تباه كړاى شول، په دې كې هم دې ته اشاره ده چې د تباهۍ اصلي لامل همدا ظلم وه، داسې ايتونه ډېر زيات دي چې پكې ظلم د امتونو د تباهۍ او په دنيا كې د عذاب سبب ښودل شوى دى. او دا ځكه چې د ټولو ګناهونو په بنياد كې ظلم پروت دى، ظلم په حقيقت كې د هېوادونو او ملتونو د تباهۍ او بربادۍ لامل ګرځي، الله تعالى فرمايي:

**{فَكَأَيِّنْ مِنْ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا} [الحج: 45]**

ډېر داسې كلي دي چې موږ هلاک كړل په داسې حال كې چې هغوى ظالمان وو، هغه اوس (له اوسېدونكو څخه) خالي دي، او چتونه لاندې پراته دي.

او په يو بل ځاى كې الله تعالى فرمايي:

**{فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ أَنَّا دَمَّرْنَاهُمْ وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ (51) فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ} [النمل: 51، 52]**

نو وګوره چې د هغوی د چل او فریب انجام څه شو، هغوی او د هغوی ټول قوم موږ تباه کړل، نو دا يې کورونه دي چې د هغوی د ظلم له امله اوس بالکل خالي دي، په دې کې د هغه چا لپاره چې پوهيږي (د عبرت) نښې دي، ځکه ظلم د ټولو ګناهونو مور ده. له همدې امله د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وینا سره سم ظلم به د قیامت په ورځ د ظالم لپاره د بې شمېره تیارو لامل ګرځي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**"يا أيها الناس، إياكم والظلم، فإن الظلم ظلمات يوم القيامة"**

ای خلکو له ظلم څخه ځان وساتئ ځکه چې ظلم به د قیامت په ورځ بې شمېره تیارو سره مخامخ کېدل وي.

**درېیم: تعصبات**

تعصب دې ته ویل کېږي چې په ناحقه د هغه شي په طرف او تأیید کې ودرېږې چې ته ورسره محبت لرې. همدا تعریف د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په یو حسن حدیث کې داسې روایت شوی دی:

**واثلة بن الأسقع وايي: قلت: يا رسولَ اللهِ، ما العَصَبِيَّةُ؟ قال: "أن تُعِينَ قومَكَ على الظُّلم"**[36]

**ژباړه:** ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه: چې تعصب څه ته وايي؟ هغوی وفرمایل: تعصب دې ته وايي چې په ظلم کې د خپل قوم تأیید او حمایت وکړې.

هر ډول تعصب، هغه که د ژبې لپاره وي، که د قوم، قبیلې او سمت او منطقې لپاره وي، او که د تنظیم او فقهي مذهب لپاره وي، او که د عرق او نسب لپاره وي او که د یو انسان او شخص لپاره او که .... هغه انسان د اعتدال او توازن څخه لیرې کوي، او په افراط او تفریط کې یې مبتلاء کوي، او دا ځکه چې د تعصب په نتیجه کې انسان د متوازن عقلي قوت څخه محرومېږي، له همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**"حُبُّكَ الشَّيءَ يُعْمِي وُيصِمُّ"**[37]

[36] - سنن أبي داود تحقيق: شعيب الأرنؤوط (7/ 440) دا حديث حسن دی.

[37] - مسند أحمد ط الرسالة (36/ 24).

د هر شي سره (ړوند) محبت انسان ړوندوي او کڼوي؛ یعنی له هر شي سره چې انسان د اصولو او ضوابطو پرته محبت کوي (چې همدې ته تعصب ویل کېږي) هغه بیا درسته فیصله نشي کولای. د هغی بد هم ورته ښه ښکاري، او د هغی د مقابل طرف ښه هم ورته بد ښکاري، او داسې څوک چې حق ونه لیدلای شي او حق ونه پېژندلای شي هغه هیڅکله هم متوازن او پر وسطیت او حق ولاړ دریځ نشي غوره کولی.

له الله تعالی څخه دعاء ده چې موږ ته د اسلام د دې بنسټیزې ځانګړتیا له غوښتونو سره سم د خپل ژوند د عیارولو توفیق را په برخه کړي، او د هر ډول افراط، تفریط، ظلم او تعصب څخه مو وساتي.

**وسبحانك اللهم وبحمدك نشهد أن لا إله إلا أنت نستغفرك ونتوب إليك**

# د «اسلامي ثقافت» مضمون؛ د تروریزم او توندلارۍ تر تورونو لاندې[1]

## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د څېړونکو ډله[2]

***لنډيز***

*له تېرو څلورو کلونو راهيسې د اسلامي ثقافت مضمون په تړاو د يو شمېر کړيو له خوا توندې نيوکې کېږي. که څه هم د اسلامي ثقافت مضمون په منځپانګه کې به يو شمېر اصلاحاتو او يا هم د تدريس د مېتود بدلولو ته اړتيا وي؛ خو د دغې ستونزې شتون او اصلاحات بيا يوازې د اسلامي ثقافت تر مضامينو پورې محدود نه دي، بلکې په پوهنتونونو کې د ډېرى مضامينو نصاب او تدريس مېتود رانغاړي.*

*دلته د اسلامي ثقافت پر مضامينو نيوکې تر ډېره پر دغو برخو –په نصاب کې بدلون او يا د تدريس مېتود بدلول– نه وي، بلکې هڅه کېږي، چې دغه مضمون د تروريزم، توندلارۍ او راډيکاليزم د خپراوي مضمون په توګه وپېژني.*

*همدا لامل دی، چې موږ هم، په دغه ليکنه کې، د دوو انتقاد کوونکو، چې يو يې د افغانستان د ولسي جرګې د پخواني غړي عبدالحفيظ منصور ادعاوې دي او بل د افغانستان د ستراتيژيک انستيټوت د يوې سروې پايلې دي، تر خېړ بحث لاندې نيولي. د ښاغلي منصور نيوکو ته له دې ځايه ځواب ويل شوی، چې د توندلارۍ اصلي جرړې بل ځای دي، نه د اسلامي ثقافت په مضمون کې. په بل اړخ کې مو هڅه کړې، چې د افغانستان د ستراتيژيک انستيټوت په سروې کې ځينې تناقضونه په نښه کړو، او له مخې يې ادعا وکړو، چې دغه سروې په سمه توګه پر علمي معيار برابره نه ده، او يو شمېر نيمګړتياوې لري.*

---

[1]په دغه ليکنه کې ډېرى راغلي موضوعات د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د تحليل اوونۍ له دوو ګڼو څخه راغلي، چې د ۲۰۱۶ز او ۲۰۱۹ز کلونو پرمهال د مرکز د دوو څېړونکو احمد بلال خليل او ضياءالاسلام شيراني له خوا ليکل شوي وو. دلته د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د ډلې تر نامه لاندې راغلل. اداره

[2]دغه ليکنه چې د تحليل اوونۍ د دوو ببلو تحليلونو مجموعه ده، د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د دوو څېړونکو له خوا ليکل شوي وو: ضياء الاسلام شيراني او احمد بلال خليل. ضياءالاسلام شيراني د مرکز پخوانی څېړونکی او اوس په کابل پوهنتون کې د پښتو په څانګه کې استاد دی او ښاغلی خليل د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د تحليل ژورنال مسؤل مدير دی.

*کیلي: اسلامي ثقافت، سیاسي اسلام، تروریزم، راډیکالیزم، توندلاري*

## مقدمه

د ۲۰۱۹ز کال د اپریل پر ۱۹مه د افغانستان د ستراتېژیکو مطالعاتو انستیتوت[3] د یوې څېړنې د پایلو په خپرولو سره ادعا وکړه چې د افغانستان په پوهنتونونو کې د اسلامي ثقافت مضمون (د اسلام سیاسي نظام) د سختدریځۍ او توندلارۍ د زیاتوالي لامل شوی دی[4]. د نوموړي مرکز دغې ادعا هغه مهال د خلکو ترمنځ په ځانګړې توګه په ټولنیزو رسنیو کې بحثونه راپورته کړل او خلکو یې پر وړاندې بېلابېل غبرګونونه هم ښودلي وو. د بېلګې په توګه د دغه مرکز د وروستۍ څېړنې د موندنو په هکله، پژواک خبري آژانس له ۱۴ زره کسانو څخه آنلاین نظرپوښتنه کړې او له خلکو یې پوښتي چې د نوموړې څېړنې له موندنو سره موافق دي که مخالف؟ د دغې نظر پوښتنې په پایله کې لس زره (۷۹) سلنه کسانو د افغانستان د ستراتېژیکو مطالعاتو مرکز وروستۍ څېړنه بېبنسټه ګڼلې او په پوهنتونونو کې یې د اسلامي ثقافت د مضمون له تدریسه ملاتړ کړی وو[5].

د اسلامي ثقافت په تړاو دا ډول څرګندونې لومړی ځل نه دی چې کېږي، له دې وړاندې په ۱۳۹۵هـ ش کال کې هم د یو پخواني جهادي تنظیم، د رهبرۍ شورا غړي عبدالحفیظ منصور په ولسي جرګه کې ویلي و چې اسلامي ثقافت او جوماتونه د "ترهګرۍ" زېږنده ځایونه دي؛ خو هغه مهال هم د منصور خبرې له سختو غبرګونونو سره مخ شوې وې.

---

[3] انستیتوت مطالعات استراتژیک افغانستان یک پژوهشکده مستقل پژوهشی و غیرانتفاعی می‌باشد که در سال ۱۳۹۱ تاسیس شده. رییس عمومی این مرکز داکتر داوود مرادیان است.

[4] رامین کمانگر، ریشه یابی رادیکالیسم دینی در نظام آموزش عالی؛ بررسی درسگفتارهای نظام سیاسی اسلام و تاثیر آن بر دانشجویان، انستیتوت مطالعات ستراتیژیک افغانستان، ۱۳۹۸ کال، کابل:
http://www.aiss.af/persian/assets/aiss_publication/Religious_Radicalism_in_the_Higher_Education_of_Afghanistan_Analysis_of_the_political_System_of_Islam_Course_and_its_Impact_of_the_Students(Farsi).pdf

[5] جاوید حمیم کاکړ، نظر پوښتنه: ۷۹ سلنه خلکو د اسلامي ثقافت مضمون ملاتړ کړی، پژواک نیوز، د ۲۰۱۹ کال اپریل ۷مه، په پرلیکه بڼه:
https://www.pajhwok.com/ps/2019/04/07/%D9%86%D8%B8%D8%B1-%D9%BE%D9%88%DA%9A%D8%AA%D9%86%D9%87-%D9%A7%D9%A9-%D8%B3%D9%84%D9%86%D9%87-%D8%AE%D9%84%DA%A9%D9%88-%D8%AF-%D8%A7%D8%B3%D9%84%D8%A7%D9%85%D9%8A-%D8%AB%D9%82%D8%A7%D9%81%D8%AA-%D9%85%D8%B6%D9%85%D9%88%D9%86-%D9%85%D9%84%D8%A7%D8%AA%DA%93-%DA%A9%DA%93%D9%89

که څه هم له یوې پېړۍ راهیسې د اسلام سیاسي اړخ د لویدیځ د ډېری مفکرینو او ناقدینو تر نیوکو لاندې وو؛ خو په دې وروستیو کې په تېره بیا د ۲۰۰۱ز کال راهیسې اسلامي ثقافت، مدارس او مساجد هم تر پراخو نیوکو لاندې راغلي. د دوی په اند په نړۍ او په تېره بیا په اسلامي نړۍ کې د ترورېزم او توندلارۍ اصلي سرچینې همدا ځایونه دي. دا د ډېرې لېوالتیا خبره ده، چې د سړې جګړې پرمهال دغه نوموړي ځایونه د ترورېزم او افراطیت ځایونه نه وو؛ خو له ۲۰۰۱ز کال وروسته بیا یو دم هر څه بدل شول او نور دغه ځایونه د ترورېزم او توندلارۍ راخوټکېدونکې سرچینې شوې؟!

که څه هم په اسلامي ثقافت مضمون کې د محتوا او موضوعاتو له پلوه د بدلونونو په تړاو به ډېرې ملاحظې وي. دغه راز د جوماتونو د مدیریت په تېره بیا د محصلینو، استادانو او نصاب به هم یو څه نیمګړتیاوې ولري. خو دا بیا په دې معنا نه ده، چې د ترورېزم ځالې هم همدا دوه ځایونه دي.

## د لیکلو مېتودولوژي

دغه لیکنه د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د بېلابېلو څېړونکو له خوا د میزي څېړنې پرمټ په دوو برخو کې لیکل شوې:

لومړۍ برخه: اسلامي ثقافت، جوماتونه او د ترورېزم تور

دویمه برخه: اسلامي ثقافت او توندلاري

په لومړۍ برخه کې زموږ ډېری بحث پر دې پوښتنې راڅرخېږي، چې آیا مسجدونه او اسلامي ثقافت په رښتیا هم تروریستان زیږوي؟ او په دویمه برخه کې مو بیا هڅه کړې، چې د اسلامي ثقافت (د سیاسي اسلام مضمون) په تړاو د افغانستان د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز له خوا د ترسره شوې سروې په موندنو کې تناقضونو وښیوو.

## د اسلامي ثقافت مضمون پېژندنه

ثقافت په اصل کې عربي کلمه ده، په پښتو کې کلتور بلل کېږي، ثقافت د بشري ټولنې د تجربو، مادي او معنوي لاسته راوړنو مجموعې ته وايي. د اسلام مبارک دین ټولو مادي او معنوي ارزښتونو او شتمنیو ته اسلامي ثقافت ویل کېږي، په اسلامي ثقافت کې د اسلام مبارک دین د اعتقادي او عملي احکامو ټول اړخونه بیانېږي.

پر افغاني ټولنه د پرديو کلتورونو د پراخ يرغل او د مبتذلو رسنيو د ګرم بازار په پام کې نيولو سره، د اسلامي ثقافت مضمون د ځوانانو لپاره د عصري علومو د زده کړې ترڅنګ، د خپل دين په اصولو د پوهاوي ترلاسه کولو يوازينی مضمون دی، چې د پوهنتون په دوره کې هر سمستر د يوه مضمون په توګه تدريس کېږي.

د افغانستان د لوړو زده کړو په ټولو دولتي او خصوصي بنسټونو کې په اتو سمسټرونو کې محصلينو ته د اسلامي ثقافت په مضمون کې د اسلامي نړۍ ليد، د عباداتو فلسفه، د اسلام اخلاقي نظام، د اسلام سياسي نظام، د اسلام ټولنيز نظام، اسلامي تمدن، قرآن او معاصر علوم او د اسلامي ښوونې او روزنې د څرنګوالي اړخونه د قرآن او حديثونو په رڼا کې تدريس کېږي، چې لږ تر لږه ځوانان مو د خپل دين له اساساتو سره بلدوي او نږدې ساتي.

د اسلامي ثقافت تدريس د لومړي ځل لپاره په اويايمه لسيزه کې، د استاد برهان الدين رباني د حکومت پر مهال د څلورو مضمونونو په توګه په څلورو سمسټرونو کې پېل شو؛ خو وروسته د حامد کرزي د ولسمشرۍ پر مهال د يوه ۲۱ کسيز کميسيون له لوري د اسلامي ثقافت مضمونونه اتو سمسټرونو ته زيات شول. همدارنګه اسلامي ثقافت، هغه مضمون دی چی له ډېرې مودې راهيسې په ډېرو اسلامي هېوادونو کې هم، په يو او بل نوم تدريس کيږی.

## لومړۍ برخه: اسلامي ثقافت، جوماتونه او د ترورېزم تور

مخکې له دې چې له ترورېزم سره د اسلامي ثقافت او جوماتونو اړيکه بحث کړو، اړينه ده چې لومړی په خپله د ترورېزم تعريف وړاندې کړو.

### «ترورېزم»؛ يوه مجهوله او متنازع فيه اصطلاح

د «ترورېزم» اصطلاح يوه مجهوله او متنازع فيه اصطلاح ده، چې په ډېرى توګه د لوېديزوالو لخوا کارول شوې ده. د دغې اصطلاح په تړاو هېڅوک هم په يوه تعريف سره همغږي نه دي او د "ايليکس پي شمېډ" د څېړنې پر بنسټ تراوسه د بېلابېلو لورو لخوا د ترورېزم په تړاو له ۲۵۰ څخه زيات تعريفونه وړاندې شوي دي[6].

که څه هم ډېرى د «ترورېزم» د اصطلاح پر تعريف همغږي نه دي؛ خو بيا هم يو شمېر تروريستي کړنو او پېښو ته د تروريستي کړنو يا پېښو پر ويلو همغږي دي. د بېلګې په توګه د ملکي يا بې‌ګناه کسانو وژنه، سرې تښتونه، ترڅو په ټولنه کې وېره خپره کړي او يا دولت وپاروي، يا حکومت، يا نړېواله ټولنه په دې مجبوره کړي،

---

[6] Alex P. Schmid, The Routledge Handbook of Terrorism Research, Routledge: New York, 2011, see it online:< https://www.routledgehandbooks.com/doi/10.4324/9780203828731>

چې داسې کار وکړي، چې د کار په دايره کې ورته سم نه وي او داسې نور. له دې سره او د يو شمېر خلکو او ملګرو ملتونو د هڅو باوجود په نړېوال قانون کې د تروريزم اصطلاح تر اوسه پورې په سمه توګه نه ده تعريف شوې[7].

په نړېواله کچه د تروريزم داسې تعريف وړاندې کول، چې ټولمنلي وي، ستونزمن برېښي. ځکه د تروريزم له اصطلاح سره تر ډېره سياسي او جذباتي چلند کېږي. د وروستيو دوو پېړيو تاريخ هم په همدې خبرې شاهدي وايي، ډېرى استعماري او اشغالوونکو ځواکونو دغه اصطلاح د خپلو هغو دښمنانو پرضد هم کارولې، چې د آزادۍ او خپلواکۍ مبارزې يې پرمخ بېولې.

د بېلګې په توګه نېلسن منډيلا په پېل کې د يوه تروريست په توګه پېژندل کېده، د شورويانو پرضد د خپلواکۍ په جګړه کې افغان مجاهدين او د آزادۍ مبارزين په همدغې اصطلاح تورنېدل، د فرانسې پرضد د الجزائر د خپلواکۍ مبارزين هم په ورته تور تورنېدل او داسې نور. له همدې ځايه ده، چې په نړېواله کچه دا خبره تر ډېره ومنل شوه او د تروريزم په علومو کې يې بحثونه هم راپورته کړل، چې "د يوه تروريست د بل د خپلواکۍ اتل وي!".

## آيا جوماتونه او اسلامي ثقافت رېښتيا هم تروريستان زېږوي؟

عبدالحفيظ منصور په پارلمان کې د خپلو خبرو پرمهال په هېواد کې د تروريزم دوې اصلي سرچينې مساجد او ثقافت اسلامي وګڼل. ده وويل:«اکثريت مساجد ما فکر افراطی پخش می‌کند، ثقافت اسلامی همين اکنون در افغانستان تروريست تربيه می‌کند».

په اکاډميک او علمي بحث کې دا تر ډېره ناممکنه ده، چې موږ په کُلي ډول د ثقافت اسلامي مضمون د تروريستانو پر روزنې تورن کړو؛ خو که د دې پرځاى داسې ويل شوي واى، چې د اسلامي ثقافت د محتوا يا د مضمون د ځينو مفرداتو په تړاو د بحث اړتيا ده او يا هم ځينې استادان په دې تورن کړاى شي، چې د اسلامي ثقافت تر مضمون لاندې خپل فکر وړاندې کوي، نو چا به ورسره ډېره ستونزه نه واى لرلې. البته په بشپړه توګه او بې له علمي دلايلو، څېړنو او احصائيو څخه ډېرى مساجد او د اسلامي ثقافت مضمون د تروريستانو په روزنه تورنول تر ډېره سياسي او جذباتي اړخ لري.

[7] Human Rights Voice, there is no UN definition of terrorism, see it online:
http://www.humanrightsvoices.org/eyeontheun/un_101/facts/?p=61

په تاریخي توګه هم، دغه ادعا چې مساجد او د اسلامي ثقافت مضمون د تروریستانو د روزنې مرکزونه دي، تر ډېره ناسمه برېښي. که څه هم په افغانستان کې د توندلارۍ پدیده له شلمې پېړۍ راهیسې رامنځته شوې؛ خو له هغې وړاندې د مساجدو او اسلامي ثقافت مضمون په شتون کې (د اسلامي ثقافت مضمون ډېری مفردات به تر نورو عنوانونو لاندې د افغانستان په مساجدو او مدرسو کې تدریسېدل) افغانستان د توندلارۍ له اغېزو پاک و. بلکې همدا مساجد او پکې تدریسېدونکي مضامین وو، چې د هېواد د تاریخ ځلانده تمدنونه یې رامنځته کړل، د بېلګې په توګه د غزنویانو، غوریانو، تېموریانو پرمهال د هرات، بلخ او غزني تمدنونه.

## د تروریزم اصلي رېښه چېرته ده؟

په اسلامي نړۍ کې توندلاري او تروریزم د شلمې پېړۍ له لومړۍ لسیزې راهیسې پېل شوه، چې تر ډېره په منځني ختیځ کې د انګلستان او امریکا له سیاستونو سرچینه اخلي، په تېره بیا د عثماني خلافت پرضد د دوی هڅې، د سایکس پیکوټ تړون، په فلسطین کې اسرائیل هېواد ته زمینه برابرول او نور.

وروسته، د سړې جګړې پرمهال د لوېدیځ لخوا په اسلامي نړۍ کې له دکتاتورو، تېل شویو او د ولس له ملاتړه بې‌برخې واکمنانو څخه ملاتړ وشو. په دغو هېوادونو کې دغه حالت په خلکو د سیاسي مبارزې ماحول تنګ کړ. او کله چې ځینې مسلمانان په افغانستان کې د شورویانو پرضد جګړه کې له برخې اخیستلو وروسته خپلو هېوادونو ته وګرځېدل نو دوی تعقیب شول او بالاخره یې ځای زندانونه شول. دغو کړنو هم ډېری د توندلارۍ او تروریزم په لور مایل کړل. دوی په تدریجي توګه دې ته وهڅول شول، چې سیاسي مبارزه یوه ناکامه پروسه ده، دوی له دغو ډیموکراتیکو لارو خپلو موخو ته نه رسېږي، او له همدې کبله باید د تشنج او زور لاره خپله کړي.

له ۲۰۰۱ز کال وروسته، په افغانستان او عراق کې د امریکا جګړه او هلته د دوی کړنې هغه څه وو، چې په افغانستان کې یې د طالبانو بیاراپورته کېدو او په عراق کې یې د داعش رامنځته کېدو ته لاره هواره کړه. له همدې ځایه ده، چې موږ وایو په اسلامي نړۍ کې تروریزم یا افراطیت په طبیعي ډول د لوېدیځ په تېره بیا د امریکا د تګلارو له کبله رامنځته شوی دی. دغه راز که څه هم دغه تروریزم او توندلاري به یو شمېر کورني عوامل هم ولري؛ خو تروریزم او توندلارۍ ته انګیزه ورکوونکي عوامل بیا تر ډېره بهرني دي.

په افغانستان کې د توندلارۍ او «تروریزم» تر شا اساسي لاملونه مساجد او اسلامي ثقافت مضمون نه، بلکې دلته د توندلارۍ او په اصطلاح د تروریزم تر شا د امریکا پوځي شتون، د امریکا هغه کړنې چې په بګرام او

ګوانتنامو زندانونو کې یې وکړې، شپني عملیات او د مسلمانانو مقدساتو ته سپکاوی بلل کېږي. همدا لامل دی، چې د ملي اردو ځینې سرتېري هم دې ته اړ کېږي، چې امریکایي او نور بهرني سرتېري په نښه کړي. دغه راز ناپوهي، له اسلامه ناخبري، فقر او بې‌کاري یې نور عوامل دي؛ خو دا بیا تر ډېره جزوي عوامل ګڼل کېږي.

په افغانستان او عراق کې د امریکا د ترورېزم پر تګلارې خپله امریکایان او د امریکا اوسني ولسمشر هم نیوکې کړې او هم د اسلامي نړۍ په هره برخه کې د دوی د دغې جګړې پرضد اوازونه پورته شوي. ان پخواني افغان ولسمشر حامد کرزي هم د امریکا د ترورېزم پرضد جګړې توندې نیوکې کړې، او ځینې مهال یې د امریکا د ترورېزم ضد تګلارې ځینې اړخونه د «طالب جوړونې فابریکې» هم بللې دي[8].

په بل اړخ کې که څه هم د افغانستان د ولسي جرګې غړي عبدالحفیظ منصور په ولسي جرګه کې په خپله وروستۍ وینا کې د ترورېزم پرضد د افغانستان پر تګلاره کلکه نیوکه وکړه او ویې ویل:«استراتیژي مبارزه با تروریزم در طول سال‌های اخیر ناکار آمد بوده، و در ناکار آمدیش هم جانب حکومت و هم شورای ملی به خصوص ما، دخیل و سهیم استیم»؛ دلته ډېره هېښونکې ده چې د ښاغلي منصور نیوکه بیا پر دې ده، چې د ترورېزم پر وړاندې د حکومت تګلاره تر ډېره ناکامه ده او حکومت باید د ترورېزم پرضد نور کوټلي ګامونه پورته کړي؛ څکه د ده په اند «تروریست‌ها بیش از این که مواد منفجره باشند فکر افراطی و تروریستی دارند. پولیس و امنیت می‌تواند که جلو بمب را بگیرند آما جلو فکر که ذهن به ذهن می‌گردد و زبان به زبان توزیع می‌شود و از سوی رسانه‌ها پخش می‌شود آن‌ها را پولیس گرفته نمی‌تواند...»[9].

له همدې ځایه ده، چې دا ډول څرګندونې به د ترورېزم پرضد جګړه کې ګټورې ثابتې نه شي، بلکې توندلارۍ او په اصطلاح ترورېزم ته به نوره هم لاره پرانیزي.

د دې ترڅنګ یوه بله مهمه موضوع هم دا ده، چې توندلاري له ترورېزم سره تړل کېږي او ځینې مهال بیا دا دواړه د مترادفو کلمو په توګه هم کارول کېږي، چې دا ناسمه ده. کېدای شي، ځینې مهال توندلاري هم له ترورېزم سره تړاو ولري؛ خو په ډېرو نورو برخو کې بیا له ترورېزم سره تړاو نه لري. دغه توندلاري یوازې په

[8] بي بي سی پښتو، کرزی: بګرام زندان د طالب جوړولو فابریکې ده، ۲۵ جنوری ۲۰۱۴، په پرلیکه بڼه:
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2014/01/140125_karzai_conference

[9] سپوتنیک افغانستان، حفیظ منصور: تفکر تروریستی در مساجد و ثقافت ها است، ۲۳ نومبر ۲۰۱٦، انلاین:
https://af.sputniknews.com/world/20161123992839/

نظریاتو کې وي، نه په کومو کړنو یا پېښو کې. که د افغانستان د وروستۍ یوې پېړۍ تاریخ ته ځیر شو، نو دلته توندلاري یا په اصطلاح ترورېزم تر ډېره د تفریط له کبله رازیږېدلی، چې دغو برخو ته بیا ځوک ډېره پاملرنه نه کوي.

که په لنډه توګه ووایو، په افغانستان او عراق کې د امریکا د ترورېزم ضد تګلاره تر ډېره د محسن حامد د انګریزي ناول د «نازړه بنسټپال» (Reluctant Fundamentalist) په څېر ده، چې د چنګیز په نامه یو کرکټر په زوره او زړه نازړه د نورو د کړنو او چلند له کبله بنسټپال یا ترورېست کېږي. ورته کار په اسلامي نړۍ او افغانستان کې هم له خلکو سره کېږي او دوی د نورو د تګلارو له کبله په نازړه توندلاري، بنسټپالنې یا ترورېزم ته مخه کوي.

## دویمه برخه: اسلامي ثقافت او توندلاري

## د اسلامي ثقافت مضمون په اړه ترسره شوې څېړنه

د افغانستان د ستراتېژیکو څېړنو مرکز د "لوړو زده کړو په نظام کې د دیني راډیکالیزم رېښه موندنه." تر عنوان لاندې یوه څېړنه کړې ده. په دغه څېړنه کې د اسلامي ثقافت مضمون د اسلام سیاسي نظام اړوند درسونه او پر محصلینو یې اغېزې څېړل شوې دي. په څېړنه کې د هرات، ننګرهار او کابل پوهنتونونو ۳۷۳ محصلین او ۸ استادان پوښتل شوي.

د دغې څېړنې د موندنو عمده ټکي په لاندې ډول دي:

**لومړی:** په پوهنتونونو کې د اسلام سیاسي نظام تر عنوان لاندې مضمون له کبله په محصلینو کې دیني راډیکالیزم زیاد شوی دی!

**دویم:** ۹۲٫۸ سلنه محصلینو ویلي چې اسلام یو تر ټولو بشپړ دین دی چې ټول یې باید پیروي وکړي.

درېیم: ۸۸ سلنه محصلینو ویلي چې موږ د "امر بالمعروف و نهی عن المنکر" یعنې ښو کارونو ته را بلل او له بدو کړنو منع کولو له تطبیق سره موافق یو.

**څلورم:** ۸۴٫۷ سلنه محصلینو ویلي، اسلام یو بهترین دین دی چې باید د ژوند په هر پړاو کې د هغه اصول په پام کې ونیول شي.

**پنځم:** ۵۲،۱ سلنه محصلینو ویلي چې د اسلام سیاسي نظام، اسلامي خلافت او یا هم اسلامي امارت دی[10].

پورته ذکر شوو موندنو ته په کتلو سره څېړونکي د دغې څېړنې په پایله کې ویلي چې د افغانستان په پوهنتونونو کې توندلاري او سخت دریځي مخ پر زیاتېدو ده او پورتني موارد یې توندلاري بللې ده؛ خو د څېړنې پایلو ته په کتلو سره، د یوه مسلمان او یوې اسلامي ټولنې لپاره دا توندلاري نه شي کېدای، چې یو ځوک د خپل دین له اساساتو او ارزښتونو ملاتړ وکړي او یا هم هغه یو بشپړ دین وګڼي!

په څېړنه کې له محصلینو یوازې دومره پوښتل شوي، چې ایا اسلام سیاسي نظام لري او که نه؟ اسلام تطبیق شي او که نه؟ امر بالمعروف و نهی عن المنکر منې او که نه؟ اسلامي خلافت غواړې او که نه؟ دا ډول پوښتنې چې له هر مسلمان څخه وشي، طبیعي خبره ده چې یوازینی ځواب به یې "هو" وي؛ دا نه توندلاري ګڼل کېدای شي او نه هم د دې دلیل کېدای شي چې په دې برخه کې یوازینی اغېز د اسلامي ثقافت مضمون دی، بلکې، دا هغه بنیادي خبرې دي چې د لږ اسلامي سواد لرونکی انسان هم ورباندی پوهیږي او وربادنې باور لري.

که چېرې دا څېړنه په یوه کفري ټولنه کې ترسره شوې وای او په دومره لوړه فیصدي یې پایلې راوتلې وای، نو ښایي د هغوی لپاره به دا حیرانوونکې وه؛ خو د افغانستان په شان یوه اسلامي هېواد کې دا حیرانوونکې نه ده او نه هم د تشویش وړ خبره ده؛ ځکه، طبیعي ده چې هر مسلمان باید د خپل دین اساساتو ته ژمن واوسي او د ژوند په هر پړاو کې ترې ګټه واخلي.

په دغه څېړنه کې چې په کومو مواردو نقد شوی له لویه سره څېړنیزه بڼه نه لري او تر ډېره یوازې د همدې مرکز د چلونکو شخصي خرګندونې دي. د څېړنې له غیر علمي تګلارې، داسې ښکاري چې نوموړي مرکز هڅه کړې، ترڅو له وړاندې یوې فرض کړل شوې نظریې د اثبات لپاره، د سروې په نوم مشروعیت ورکړي؛ خو له بده مرغه دې موخې ته  نه دي رسیدلي.

په څیړنه کې په لاندې مواردو باندې باور لرل، د محصلینو د توندلاریتوب او رادیکالیزم د دلایلو په حیث راوړل شوي دي:

---

[10] رامین کمانگر، ریشه یابی رادیکالیسم دینی در نظام آموزش عالی؛ بررسی درسگفتارهای نظام سیاسی اسلام و تاثیر آن بر دانشجویان، انستیتوت مطالعات استراتیژیک افغانستان، ۱۳۹۸ کال، کابل:
http://www.aiss.af/persian/assets/aiss_publication/Religious_Radicalism_in_the_Higher_Education_of_Afghanistan_Analysis_of_the_political_System_of_Islam_Course_and_its_Impact_of_the_Students(Farsi).pdf

- امر بالمعروف و نهی عن المنکر ته ژمنتیا او هغه دیني واجب ګڼل
- دا چې اسلام د ژوند په ټولو برخو باندې شامل دین دی
- اسلام له نورو دینونو څخه غوره دی او په نورو دینونو کې باید ژوند ترسره نشي
- د اسلام خپراوي او دعوت ته ژمنتیا
- په اسلامي سیاسي نظام باندې باور لرل

که څه هم پورته ذکر شوي ټول موارد د اسلام برخه دي؛ خو نه پوهیږو چې دا څېړنه څه شی ردول غواړي او څه شی ثابتول؟ آن که چېرې دغه پوښتنې له عامو خلکو څخه هم شوې وای، چې اسلامي ثقافت یې په پوهنتونونو کې نه دی لوستی، نو دوی به هم دغو پوښتنو ته مثبت ځواب ویلای وای. آیا دوی به بیا هم په پای کې ویلي وای، چې دغه ټول توندلاري او راډیکاله دي؟!

## د اسلامي ثقافت په تړاو د سروې تناقضات

د افغانستان د ستراتیژیکو مطالعاتو انستیتوت دغه سروې یو شمېر تناقضونه لري او  له کبله یې ستونزمنه برېښي، چې د هېواد علمي حلقې دې د دغې سروې هغه موندنې او د سروې فرضیه، چې د اسلامي ثقافت او راډیکالیزم ترمنځ تړاو په نښه کوي، ومني. موږ به دلته د نوموړې سروې د تناقضاتو یو شمېر بېلګې وړاندې کوو:

**لومړی**؛ د یوې پوښتنې په ځواب کې چې «که اسلام د سیاسي نظام درلودونکی دی نو ستاسو په اند کوم یو نظام اسلامي دی؟» د ننګرهار پوهنتون څخه ۴۵,۴ سلنه محصلینو «امارت» او ۹,۳ سلنه «خلافت» اسلامي نظامونه ګڼلي دي. خو ورپسې په بله پوښتنه کې، چې آیا ستاسو په اند د افغانستان اوسنی سیاسي نظام اسلامي دی؟ د ننګرهار پوهنتون یوازې ۳,۱ سلنه د هېواد اوسنی سیاسي نظام «غیر اسلامي» بللی او ۸۱,۴ سلنه محصلینو  بیا «اسلامي» او ۱۵,۵ سلنه «تر یوه حده اسلامي» ګڼلی دی. دلته پوښتنه زیږي، چې دا څرنګه ممکنه ده، چې په یوه پوښتنه کې دې د ننګرهار پوهنتون  ۵۴,۷ سلنه محصلین یوازې «امارت» او «خلافت» اسلامي نظامونه وګڼي او په بله پوښتنه کې دې بیا د همدغه پوهنتون  تقریباً ۸۱,۴ سلنه محصلین بیا «اوسنی جمهوري نظام» اسلامي وبولي؟!

ورته وضعیت د هرات په پوهنتون کې هم دی. په لومړۍ پوښتنه کې د هرات پوهنتون ۵۵,۵ سلنه محصلینو «خلافت» او «امارت» اسلامي نظامونه ګڼلي؛ خو دا بیا په داسې حال کې ده، چې د نوموړي پوهنتون د همدغو محصلینو ۱۴,۳ سلنه بیا په یوه بله پوښتنه کې اوسنی جمهوري نظام غیر اسلامي ګڼي!

**دویم**؛ دغه سروې هغه مهال نوره هم غیر معیاري کېږي، چې کله له محصلینو پوښتي، «دا چې د هېواد اوسنی نظام اسلامي نه گڼئ، آیا په سیاسي نظام کې د بدلون غوښتونکي یاستئ؟ که هو، نو د کوم نظام غوښتونکي یئ؟». په دغه پوښتنه کې دغه سروې د دوو دلایلو له کبله غیر معیاري بولو. لومړی، د محصلینو ډېری برخه دغه پوښتنه نه ځوابوي، نو ځکه موږ په محدوده کچه پر راغلو ځوابونو دا استناد نه شو کولای - که چیرې د سروې ترسره کوونکو دا فرضیه ومنو - چې محصلین د اسلامي ثقافت مضمون له کبله رادیکاله شوي دي. د مجموعي سروې په کچه دغه پوښتنه ۲/۳ برخې بې ځوابه پاتې شوې. د ننگرهار او هرات په پوهنتونونو کې بیا د ځواب نه ورکوونکو سلنه ۸۴ سلنې ته رسېږي. دویم؛ دغه سروې له دې کبله هم متنازعه او غیر معیاري ده، چې د دغې پوښتنې موندنې د نورو اړوندو پوښتنو له موندنو سره اختلاف لري. د بېلگې په ډول، د ننگرهار په پوهنتون کې هغه محصلین چې اوسنی سیاسي نظام اسلامي نه گڼي، یوازې ۸٫۳ سلنه یې امارت، او ۲٫۱ سلنه یې بیا خلافت غواړي. دا په داسې حال کې ده، چې لومړی د ننگرهار په پوهنتون کې تقریباً ۵۵ سلنه محصلینو امارت او خلافت اسلامي نظامونه گڼلي وو. بیا د همدغه پوهنتون له ۸۰ سلنه څخه ډېری محصلینو په یوه بله پوښتنه کې اوسنی نظام سیاسي گڼلی وو. یو ځوک چې یوازې امارت او خلافت اسلامي نظامونه وگڼي، څرنگه ممکنه ده، چې اوسنی جمهوري نظام دې هم اسلامي وبولي. دغه راز، هغه ځوک چې اوسنی نظام اسلامي نه گڼي، او په ورته حال کې امارت او خلافت اسلامي نظامونه گڼي، ولې بیا په یوه بله پوښتنه کې دا چې د هېواد اوسنی نظام اسلامي نه گڼئ، آیا په سیاسي نظام کې د بدلون غوښتونکي یاستئ؟ که هو، نو د کوم نظام غوښتونکي یئ؟ چې کله ترې غوښتل کېږي نو  په ډېره کمه کچه امارت او خلافت غواړي؟!!

د افغانستان د ستراتیژیکو مطالعاتو انستیتوت د سروې د موندنو تناقضونه یوازې د همدغو پورتنیو یادو شوو بېلگو پورې محدودې نه دي، بلکې په ډېرو نورو پوښتنو کې هم موندل کېږي. خو په ډېری توگه دغه تناقضونه د پورته یادوو شوو تناقضونو په څېر دي او دلته یې موږ له راوړلو څخه ډډه کړې.

## د سروې له پامه غورځول شوي مثبت ټکي

د افغانستان د ستراتیژیکو مطالعاتو انستیتوت په سروې کې یو شمېر مثبت ټکي هم دي، چې له بده مرغه ډېره پاملرنه ورته نه ده شوې. د بېلگې په ډول:

**لومړی**؛ هغه محصلین چې د امر بالمعروف و نهی المنکر په تړاو موافق دي، تقریباً ۳۸٫۳ او ۳٦٫۵ سلنه یې غواړي چې دا باید د وعظ و خبرو، او د نشراتو (ورځپاڼې، مجلې، ټولنیزې شبکو) له لارې پلي شي.

**دويم**؛ له نيمايي زيات محصلين د امر بالمعروف و نهی المنكر پلي كوونكې ډله دولت ګڼي؛ له نيمايي كمې بيا ببلابېلې وسله والې او دعوتي ډلې ګڼي.

**دريیم**؛ په داسې حال کې، چې يو شمېر کړی دا استدلال کوي، چې د اسلامي ثقافت د مضمون تدريسولو پرمهال استادان د اسلام د لومړني سياسي او حکومتولی نظام (خلافت) د بيا ژوندي کولو په تړاو خبرې کوي. خو د دغې سروې د يوې پوښتنې موندنې تر څه حده دغه استدلال هم کمزوری کوي. په دغه سروې کې له ٦٨ سلنه څخه زياتو محصلينو وويل، چې د درس پرمهال دوی ته هېڅ مهال هم اسلامي خلافت د حکومتولۍ د يوې غورې الګو په توګه نه معرفي کېږي.

**څلورم**؛ په محصلينو کې د ببلابېلو ډلو د موجوديت په تړاو زغم او د يو بل منل. د نومورې مرکز د يوې پوښتنې په ځواب کې چې که تاسو د ببلابېلو ډلو له شتون سره موافق نه ئې نو دوی سره بايد څه وکړای شي؟ که څه هم تقريباً ۸۰,۲ سلنه محصلينو د دغو ډلو له شتون سره موافقت ښودلی وو؛ خو بيا هم هغه چا چې مخالفت ښودلی وو، ډېرو کمو يې په فزيکي ډول د خپلو مخالفينو لرې کول (۳,۲ سلنه) او د هغوی پرضد تبليغات (۱,۱ سلنه) له هغوی سره د مبارزې لارې چارې ښودلې وې[11].

دغه ټکي په حقيقت کې دغه مفروضه غلطه ثابتوي، چې اسلامي ثقافت د تروريزم اصلي سرچينه يا توندلارۍ ته لاره پرانېزي. د دغو پوښتنو له موندنو داسې معلومېږي، چې د اسلامي ثقافت لوستونکي زغم په يوه داسې چاپېريال کې چې په سيستماتيکه توګه د توندلارۍ پر لور ټېل وهل کېږي خومره دی؟!

## د اسلامي ثقافت ردول او پکې اصلاحات؛ دوه بېل مفاهيم!

د اسلامي ثقافت مضمون په اړه درې خبرې شته دي:

لومړی؛ هغه څوک چې دا مضمون تدريسوي

دويم؛ په خپله او په کلي توګه دغه مضمون

دريیم؛ د دغه مضمون محتوا يا مفردات

[11] رامين کمانګر، ريشه يابی راديکاليسم دينی در نظام آموزش عالی؛ بررسی درسګفتارهای نظام سياسی اسلام و تاثير آن بر دانشجويان، انستيتوت مطالعات ستراتيژيک افغانستان، ۱۳۹۸ کال، کابل:
http://www.aiss.af/persian/assets/aiss_publication/Religious_Radicalism_in_the_Higher_Education_of_Afghanistan_Analysis_of_the_political_System_of_Islam_Course_and_its_Impact_of_the_Students(Farsi).pdf

لومړي او درېیم مورد کې اصلاحات غوښتل یا پکې بدلونونه راوستل کومه ستونزمنه او بده خبره نه ده او ډېری به ورسره همغږي هم وي. موږ هم د بیاکتنې اړتیا محسوسوو. خو دا چې په بشپړه توګه د ثقافت اسلامي مضمون بیخي له پوهنتوني نصاب څخه حذف کړای شي، لانجمنه او بحث راپورته کوونکې ده؛ ځکه:

**لومړی**؛ په دغه نصاب کې په ټولیز ډول د اسلام پر نړېوالتوب، هر اړخیزوالي او عباداتو بحثونه شوي، چې په ځینو برخو کې به یې یو څه اجتهادي مسایل وي، چې په بله طریقه هم تفسیرېدلای شي؛ خو دا د دې معنا نه لري، چې ټول نصاب یا په خپله دا مضمون تروریزم یا توندلارۍ ته لاره هواره کړې.

**دویم**؛ نړېوالتوب په دې پړاو کې، چې له هرې خوا له سیاسي او اقتصادي یرغل سره فکري او کلتوري یرغل هم روان دی، د اسلامي ثقافت مضمون به زموږ ځوانانو ته یو ډول فکري او رواني خوندیتوب هم ورکړي او په دغه عصري پړاو کې به د هغو پوښتنو د ځوابولو په لاره کې هم مرستندوی واقع شي، چې مستشرقینو او ځینو په اصطلاح روڼاندو لخوا وړاندې شوې دي.

## سپارښتنې

- افغانستان چې اوس د وروستۍ یوې پېړۍ په پرتله له تر ټولو بدو شرایطو تېرېږي، باید پکې روڼاندي او لوړ پوړي چارواکي د دیني حساسیت له پارولو څخه په جدي ډول ډډه وکړي.
- د اسلامي ثقافت بشپړ نصاب او مضمون د تروریزم د مرکز په توګه تورنول به هېواد د نور تاوتریخوالي په لور بوځي او د نورې توندلارۍ لپاره به لاره پرانیزي.
- موږ هم په ځینو مواردو کې د اصلاحاتو غوښتونکي یو؛ خو دا باید په سمه طریقه وشي. اصلاحات باید په احساساتو ولاړ نه وي، نور تاوتریخوالی ونه زیږوي او د اصلاحاتو د وړاندې کولو او عملي کولو تګلاره هم پر افراط یا توندلارۍ ولاړه نه وي.
- د دې ترڅنګ دا چې د اسلامي ثقافت په مضمون کې د مفرداتو د بدلون په تړاو کومه جلسه یا پروګرام جوړېږي، نو باید چې د اسلامي ثقافت متخصصین پکې ونډه واخلي او دا کار د اسلامي ثقافت متخصصینو ته وسپارل شي. د اسلامي ثقافت د مفرداتو له بدلون سره باید سیاسي، ذوقي او جذباتي چلند ونه شي.